

# دی د پښتون د درناوي نوی تصویر دی

لیکوال او ژباړونکی: **محمد اقبال وزیري**
دوردرېخت، هالنډ ۲۰۲۲

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library






# دی د پښتون د درناوي نوی تصویر دی


لیکوال او ژباړونکی: **محمد اقبال وزیري**

چاپکال: ۱۴۰۰ل/ ۲۰۲۲ ز

چاپشمېر: **۱۰۰۰ ټوکه**

ډیزاین: **سپین سهار**

خپروونکی: **پښتانه مترقي لیکوال**

(c) ketabton.com: The Digital Library









دا کتاب د پښتنو د خپلواکۍ د غورځنګ شهیدانو ارمان لوڼي، عارف وزیر او عثمان کاکړ ارواوو ته ډالۍ کوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سرلیکونه

یادونه ........................................................................ 7
لومړۍ برخه .......................................................................... 8
د PTM او د هغه لاربنود منظور پشتین په اړه د بهرنیو ډله یزو خپرونو یو شمېر لیکنې........................................................................ 8
پنځه لاملونه دي، چې تاسو باید منظور پشتین وپېژنی.......................... 9
۱-دی د پښتون د درناوي تصویر دی ............................................ 9
۲-هغه یو سوله یز کمپاین پرمخ بیایي .......................................... 9
۳-هغه د ځواکمن پوځ سره ډغرې وهي........................................ 10
۴-د ده ټوپۍ یو سیمبول شوه .................................................. 10
۵-هغه کولی شي د اپوزیسیون ګروپونه راغونډ کړي.................... 10
د جنرال ناسم کار (General dysfunction) ................................ 11
هلته په پاکستان کې د پښتنو یوه پرله پسې نسل وژنه روانه ده ............ 13
د پاکستان نوی صدراعظم خپل شویو پښتنو ته (لږ څه) هیله ورکوي ..... 15
زما خپل پلار په قهر و. هغه وویل: «مورږ به ټول ووژل شو.» ........... 17
منظور پشتین د اعتراضونو نوښتګردی ........................................ 17
لسګونه زره مړه او ترې تم شوي.............................................. 18
ایا خان به مرسته وکړي؟....................................................... 18
غوښتنلیک:.......................................................................... 20
د بشر د حقونو نړیواله شورا (IRCH) .......................................... 20
د قضیې تفصیل:.................................................................. 20
زیاتې مالومات.................................................................... 22
په پاکستان کې د پښتون ولس ځواک پوځي اداره لړزوي .................. 24
نوې ابادي .......................................................................... 27
د پښتون ژغورنې غورځنګ PTM د یو کلنی په درشل کې ............... 30

(c) ketabton.com: The Digital Library



د منظور پشتین مرکه........................................................... 33
ایا د خان حکومت به چارې په بل ډول ونه کړي؟......................... 36
د منظور پشتین انځور.......................................................... 37
د ټینګې ارادې فعال باید خپله خبره وکړي..................................... 37
ژوندی دې وي منظور پښتون ................................................. 39
د یو قومي تعصب د زمانې پای ................................................ 41
وزیریستان......................................................................... 43
دوهمه برخه...................................................................... 45
د اقبال وزیري یو شمېر مقالې.................................................. 45
د ډاکټر کبیر ستوري د مړینې لومړي تلین...................................... 46
د اجمل خټک د شخصیت د جوړېدو چاپېریال.................................. 53
د اجمل خټک سره زما پېژندګلوي ............................................ 60
افغانستان څنګه د دې وضعې نه وتلای شي؟.................................... 63
د پښتو د نړیوالې ورځې د نمانځنې په مناسبت ................................. 73
د پښتو نړیواله ورځ ............................................................ 83
ملي ګټې.......................................................................... 85
د لوی افغانستان د جوړېدو مبارزې ........................................... 93
په ختیځ کې د لوی افغانستان مبارزې............................................ 94
روښاني غورځنګ ............................................................. 95
د ایمل خان مومند مبارزې .................................................... 98
په لوېدیځ کې د لوی افغانستان مبارزې ........................................ 99
هوتکیان او میرویس نیکه ................................................... 101
د شاه محمود هوتک واکمني ................................................. 104
د شاه اشرف هوتک واکمني................................................... 106
د شاه حسین هوتک واکمني ................................................. 108
احمد شاه بابا.................................................................... 108

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتونستان ........................................................................ 112
د جمهوري نظام نه د ملاتړ اړتیا................................................. 131
دریمه برخه ........................................................................ 135
لیف تولستوی؛ انا کارېنینا ........................................................ 135
انا کارینینا ......................................................................... 136
د لیکوال ژوند لیک................................................................. 173

(c) ketabton.com: The Digital Library



# یادونه

دغه کتاب د یو شمېر مقالو ټولګه او د لېف تولستوي د رومان "اناکارینینا" د کوچنۍ برخې ژباړه ده. دا مقالې ما لیکوال په هالنډ کې د استوګنې پر مهال یو وخت بل وخت لیکلي یا ژباړلې دي. خو په دغه ټولګه کې د پښتون ژغورنې غورځنګ د ملاتړ په اړه د ډاکټر عبدالمحمد درمانګر دوې لنډې لیکنې او په امستردام کې د جمهوري نظام نه د ملاتړ په اړه د نازنین سالارزۍ د وینا متن هم ځای شوي دي. دا ټولګه درې برخې لري چې لومړۍ برخه یې هغه لیکنې دي چې د PTM او د هغه لاربنود منظور پشتین په اړه د بهرنیو ډله یزو خپرونو او یا په اروپا کې میشتو افغانانو خپرې کړې دي. دوهمه برخه یې زما لیکوال یو شمېر مقالې چې په اروپا کې مې په بیلو بیلو غونډو کې لوستې دي. دریمه برخه یې د لېف تولستوی د ادبي شاهکار «انا کارینینا» یوه کوچنۍ برخه ده چې ما لیکوال ژباړلې ده.
د نازنین سالارزۍ نه ډېره مننه کوم چې د دي کتاب په ترتیبولو کي یي ډېره مرسته راسره کړي ده . د بریالي وزیری او ننګیالي وزیري نه مننه کوم چي د دي کتاب لګښت یي په غاړه واخیست. د ډاکټر لونګ یوسفزي څخه هم مننه کوم چي د دي کتاب په لګښت کي یي ونډه اخیستي ده. په پاي کي د خپلي میرمني تورپیکي وزیري نه مننه کوم چي زما په ټولو لیکنو کې زما هڅوونکې او د کورني هوسا او ښه چاپیریال په برابرولو سره زمامرستندویه وه.

محمد اقبال وزیري

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لومړی برخه

## د PTM او د هغه لاربنود منظور پشتین په اړه د بهرنیو ډله یزو خپرونو یو شمېر لیکنې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا لیکنه د هالنډ د «خلکو ورځپانه» د ۲۰۱۸ کال د می په ۱۱مه خپره کړې ده.
ژباړونکی: محمد اقبال وزیري
هالنډ، دوردرېخت، ۲۰۱۸ کال د جولايي ۱۶مه

# پنځه لاملونه دي، چې تاسو باید منظور پشتین وپېژنی

منظور احمد پشتین (۲۶) یو پاکستانی کارکونکی دی. دی د تري تم شویو او د ناقانونه زندی کولو په وړاندې بریالی کمپاین پرمخ بیایي.

**۱-دی د پښتون د درناوي تصویر دی**

دا جذاب پشتین د سوویلي وزیریستان د یوه بې وزلې کلیوال تعلیم کړې سړي زوی دی. **دی د پښتون د درناوي نوی تصویر دی.** پښتون یو توکمیز لړه کی دی، چې کلونه د پاکستان د حکومتي پوځ او طالبانو (پښتانه په کې زیات دي) تر منځ د جګړې په سختو شرایطو کې پروت دی. ده په ۲۰۱۴ کال کې، چې د ویترنری محصل و، د ماینونو ضد یو کمپاین پرمخ بیوه. هغه د دې کال په پیل کې کله چې په کراچي کې یو ځل بیا یو بې ګناه پښتون ځوان د پولیسو له خوا ونیول شو او ووژل شو، د واکمنو په وړاندې یې د پښتون ژغورنې غورځنګ تر جوړېدو پورې یو پراخ کمپاین پرمخ بوت. دوی د واکمنو په وړاندې د مارشونو او ناستو اعتراضونه وکړل، چې په هر پښتون کې یې یو تروریست لیده.

**۲-هغه یو سوله یز کمپاین پرمخ بیایي**

پشتین، چې د یوې ویاړلې قبیلې د جنګیالانو نه راوتلی دی په دې ټینګار کوي، چې هغه د پاکستان د قانون په چوکاټ کې فعالیت کوي او په بشپړه توګه یو سوله یز کمپاین پرمخ بیایي. دا کمپاین کله چې پوځ د اسلامي سخت دریځو سره په قبایلي سیمو کې، چې د فیدرال واکمنو له خوا اداره کیږي، جګړه کوي، هلته د پوځ له خوا د واک نه د ناوړه ګټه اخیستنې او د بشر په حقوقو د تېریو په وړاندې متوجه دی. دوی د زرګونو د تري تم شویو او د ناقانونه زندي کولو په اړه رونتیا، د ټولو بندیانو خوشي کول او د یوه سوله یز پخلاینې کمیسیون د جوړولو غوښتنه کوي. هغه وایي سیاسي ارزوګانې

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه لري او په راتلونکو ټاکنو کې، چې د جولايي د میاشتې په پای کې کيږي، ځان نه کاندیدوي.

**۳-هغه د ځواکمن پوځ سره ډغرې وهي**

په پاکستان کې هېڅ څوک په خپله خوښه زړه نه کوي چې په ښکاره په پوځ باندې، چې په دولت کې دولت دی، نيوکې وکړي. خو پشتين يې کوي. دی وايي چې د پوځ دهشت او د مرګ د ګواښونو څخه نه وېريږي. دا ګواښونه په ټولنيزه ميډيا کې په پوره ډول هم شته. پوځيان دی په دې خاطر ملامتوي، چې يو خو دی په پرله پسې ډول د بشر په حقونو ټينګار کوي او بل په ده د بهرنيو استخباراتو د ايجنټ ټاپه لګوي. کله چې، په لاهور کې ده ته ۸۰۰۰ پلويان په پښو ولاړ وو، واکمنو د مظاهرو ډګر د ويالې ناولې اوبو نه ډک کړی و.

**۴-د ده ټوپۍ يو سيمبول شوه**

پشتين هر وخت سره توره ګنډل شوې پښتني ټوپۍ، چې د ده د قبيلې يوه ملګري نه د ډالۍ په توګه ترلاسه کړې، په سروي. دا ټوپۍ د (چې ګوارا) د خولۍ په شان يو سيمبول شوه. د ده ځوان پلويان په عام ډول په ښارونو کې دا ټوپۍ په سروي. په مينګوره او د سوات په دره کې واکمنو هټيوال اړ کړل، چې په بازار کې دا ټوپۍ د خرڅلاو نه راټوله کړي. خو سره له دې په سوات کې د PTM مظاهرې ته لس زره کسان راغلي وو. په پېښور کې د PTM په مظاهره کې شپېتو زرو تنو ګډون کړی وو.

**۵-هغه کولی شي د اپوزيسيون ګروپونه راغونډ کړي**

که څه هم پشتين په اول کې د خپلې قبيلې مسعودو او بيا د ټولو پښتنو له پاره راپورته شو. د ده غورځنګ دا ظرفيت پيدا کړو، چې د ټول پاکستان ناراضي ګروپونه راټول کړي. دا د نورو ځپل شويو قبيلو لکه د پښتونخوا او پاځېدلي بلوچستان په اړه هم صدق کوي. د لوړو زده کړو ځوانان په ښارونو کې د سياسي انارشۍ، د ميډيا د سانسور او د پوځ د ځواکمن دريځ نه ستړي دي. دوی په جادو کې په ترانو کې دا وايي: د ترهګرو تر شا پوځي يونيفورم دی. دا څنګه ازادي ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د جنرال ناسم کار ( General (dysfunction

ژباړونکی: محمد اقبال وزیري
هالنډ، دوردرېخت، ۲۰۱۸ کال جون ۲۶

دا مقاله د اکانومیست مجلې د اسیا څانګې «د جنرال ناسم کار» (General dysfunction) تر سرلیک لاندې د ۲۰۱۸ کال د جون په ۲۳مه خپاره کړې ده. په دې مقاله کې د پښتون ژغورنې غورځنګ په اړه لاندې مطلب لیکل شوی دی:

په رښتیا، ډېرو پاکستانیانو په دې وروستیو کې په پوځ باندې په ایرانونکې توګه نیوکې پیل کړې دي. یو نوی د مدني-حقونو تنظیم، د پښتون ژغورنې غورځنګ (PTM)، چې په دې کال کې جوړ شوی دی د اسلامي یاغیانو پر ضد کمپاین کې د پاکستان د پوځ پر تاکتیک اعتراض کوي. PTM پوځ په دې ملامتوي چې له یوه سره کلي ورانوي. دا د ملګرو ملتونو څخه غواړي، چې د هغو شلو زرو ورک شویو خلکو د سرنوشت پلټنه وکړي، چې تري تم شوي دي او غږ پرې کوي، چې په قبایلي سیمو کې، چې د پاکستان دېرش میلیونه پښتنو ډېری یې هلته ژوند کوي، د پوځ د تلاشۍ پوستې او په تګ راتګ باندې دې بندیز لیرې کړي.

د پوځ غبرګون سخت و: د PTM اوه دېرش فعالین یې د «بلوا» په تور نیولي دي. منظور پشتین د غورځنګ جذاب ۲۴ کلن مشر په دې وروستۍ میاشت کې د کراچې په سوېلي ښار کې په یوې غونډې کې د ګډون د مخنیوي په خاطر الوتکې ته ختلو ته پرې نه ښودل شو. د دې پر ځای هغه پوره دوه ورځې موټر وچلوه چې هلته ځان ورسوي. کله چې، دی راورسېد د هغه لس زره پلویان په تیاره کې په ډاګ ناست وو. هغه کمپنۍ، چې د دې غونډې له پاره یې د چوکیو او رڼا د برابرولو تړون کړی و، د هغه نه سمدلاسه پر شا شوه. نن دا د داسې تړونونو د ماتولو یوه بله بېلګه ده داسې پېښنې ډېرې کیږي کله چې په غونډو کې په پوځ باندې نیوکې شاملې وي.

غیرو پښتنو هم د PTM نه ملاتړ پیل کړی دی، چې د پوځ له پاره د ځانګړې اندېښنې سرچینه ده. د کراچې په غونډه کې له بلوچستان نه یوې ۶۶ کلنې بوډۍ، چې د هغه ځای خلک هم د ډېرې مودې راهیسې د پاکستان د پوځ د ناوړه چلند نه سر ټکوي، د کېمرې په وړاندې د خپل زوی تصویر نیولی، چې د یوه کال راهیسې تری تم دی. ځینې جنرالان د نرم غبرګون مشوره ورکوي. د PTM فعالین محکمې ته سترګې په لاره دي او ضمانت یې ځنډول کیږي، شونې ده چې دا د پوځ د نرمښت نښه وي. خو داسې نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښکاري، چې پوځ دې دا زړه وکړي چې، د سیاست نه په پراخه توګه د ځان ګوښه کولو په اړتیا پوه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا مقاله د ARUTZ SHEVA د اسرایلو نړیوال خبري سایټ د ۲۰۱۸ کال د جولای په ۱۱مه خپره کړې، چې مېرمن دانا سوفي لیکلې ده.
ژباړونکی: محمد اقبال وزیري
هالنډ، دوردرېخت، ۲۰۱۸ کال جولایي ۱۳

# هلته په پاکستان کې د پښتنو یوه پرله پسې نسل وژنه روانه ده

پښتنو په ټوله نړۍ کې خپل غږ په دې هیله پورته کړی، چې د دوی کمپاین به د نړیوالو پام او ملاتړ وګټي، او په دې وروستیو کې یې د امریکا او اروپا په ګوټ ګوټ کې زیات شمېر اعتراضونه ترسره کړل.
د نړۍ د یوه سر نه تر بله پورې دا د پښتنو د اعتراضونو اوسنۍ څپه زموږ د وخت د یوې تر ټولو سترې تراژیدۍ یاني په پاکستان کې د پښتون نسل وژنې غمیزې ته د نړیوالو پام اړول دي. د ډېرو کلونو راهیسې د پاکستان رژیم د هېواد د لړکي پښتون توکم اتباع د برمته کولو، شکنجه کولو او وژلو له پاره د هېواد پوځ کاروي.
د ۲۰۱۸ کال په جنوري کې وروستۍ وژنه د وزیرستان د یوه ۲۷ کلن ځوان نقیب الله مسعود وژنه وه. نقیب الله د تحریک طالبان د تروریستي تحریک سره د اړیکو په تور د پولیسو سره په مقابله کې ووژل شو. د هغه یوازې ثبوت شوی ګناه دا و، چې په ښکاره یې د ادارې په وړاندې د غږ جګولو نه وېره نه درلوده. د نقیب الله مړینې د ډیورنډ کرښې دواړو خواوو د پښتنو په منځ کې د قهر لمبې بلې کړې.
په سلګونو زره خلکو په سوله یزو اعتراضونو کې ونډه واخېسته، چې د پښتون ژغورنې غورځنګ (PTM) له خوا، چې د پښتنو د بشري حقونو تنظیم دی، په لاره اچول شوي وو.
د PTM مشر منظور احمد پشتین د وزیرستان نه یو ۲۶ کلن ځوان د ټولو پښتنو غږ وګرځېد. دغه جذاب ځوان په ښکاره د دغو وروستیو سوله یزو اعتراضونو موخې څرګندې کړې هغه دا چې، د پاکستان پوځ دې ناقانونه وژنې ودروي، د پښتنو د قانوني حقوقو درناوی دې وکړي او ټول بندیان د خوشي کړي. په هغو کسانو، چې د تروریستانو سره د اړیکو تور پرې لګول کیږي د هغوی سره دې قانوني چلند وشي او د دوی جرم دې په محکمه کې ثابت شي.
د جون په ۲۵مه د دوشنبې په ورځ د پاکستان د پوځ د بې رحمیو په وړاندې په ژینو کې د ملګرو ملتونو د دوهم تر ټولو ستر دفتر مخ ته یو بل

(c) ketabton.com: The Digital Library



اعتراض وشو. په همدې وخت کې په یوه نیمه خالي کوټه کې ښاغلي اورنګ زېب زلمي د پښتون د حقونو یو فعال او د پښتون ټایم د خبري سایټ جوړونکی او مشر چلونکی د ملګرو ملتونو د بشري حقونو د کمیسیون په وړاندې وینا وکړه. ښاغلي خان زلمي په خپله وینا کې د پښتون په سوله یز طبعیت باندې ټینګار وکړ، هغه اوسنی مقاومت د «هوښیاری ناخاپي جګېدلو» په څېر توصیف کړ، چې د ټولو قبایلي سیمو او د هغوی د باندې د واقعي وضعې شتون منعکسوي.

د ډېرو کالو راهیسې پښتانه له ترور نه کړیږي. دوی د بل هر چا نه زیات په دې خوشالیږي، چې د دوی خاوره دې د جنایتکارو باندونو نه پاکه شي. متاسفانه دا ښکاره ده، چې جنایتکار تروریستي تنظیمونه ، افراد او لوړ اشخاص په یوه امن ځای کې ازاد اوسیږي، چې د پاکستان پوځي جهادي ډلګۍ له خوا جوړ شوي دي. د پښتنو ټولنې نفوذمن کسان، دودیز ملکان، روحاني مشران او نور په سیستیماتیک ډول وژل کیږي، شکنجه کیږي او د خپلو کورنیو نه وړل کیږي. ښاغلی خان د نړیوالې ټولنې د لاسوهنې غوښتنه کوي او غواړي، چې د دوی کړول شوی ملت دې د نږدې کېدونکې کورنۍ جګړې نه وژغوري.

د جون په ۲۷مه پاکستان په رسمي توګه د FATF ( Financial Action Task Force) په خړ لېست کې شامل شو. FATF د نړیوالو دولتونو کمیټه ده، چې اساسي دنده یې د تورو پیسو د سپینولو په وړاندې جګړه ده. دا کمیټه په ۱۹۸۹ کې جوړه شوې، په ۲۰۰۱ کال کې د تروریزم د تمویل څارنه د دې کمیټې د صلاحیت په دایره کې شامله شوه. [د پاکستان په خړ لېست کې شامېلول] دا ښه خبر دی، خو کافي نه دی، موخه دا ده چې، پاکستان د تروریزم د ملاتړي هېواد په توګه د FATF په تور لېست کې شامل شي.

یاداښت: د دې مقالې نور مطالب چې په دې موضوع پورې یې اړه نه درلوده ونه ژباړل شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا لیکنه د هالنډ NOS خبري اژانس د ۲۰۱۸ کال د اګست په نولسمه چې د الپتا اندرې له خوا لیکل شوې خپاره کړه.
ژباړن: محمد اقبال وزیري
دوردرېخت، هالنډ، ۲۱-۰۸-۲۰۱۸

# د پاکستان نوی صدراعظم ځپل شویو پښتنو ته (لږ څه) هیله ورکوي

د پاکستان نوی وزیراعظم عمران خان نن سهار لوړه وکړه. د ده ټاکل، چې په خپله په لږکي پښتون توکم پورې اړه لري، PTM ته، چې د پښتنو اعتراضیه غورځنګ دی، احتیاطي هیله ورکوي. دوی غواړي، چې د پاکستان پوځ د افغانستان سره په پوله قبایلي سیمو کې د طالبانو او نورو ټوپکوالو سره په جګړې کې د پښتنو سره ناسم چلند ته د پای ټکی کیږدي. هلته د دوی په اند زیات بې ګناه خلک وژل کیږي.
عبدالروف مومند اوس هم هغه شېبه، چې د خپلو درې زامنو بندي کول ورپه یادوي، احساساتي کیږي. دی وایي: «نیمه شپه وه، چې دوی راغلل.» «دوی»، هغه سړي، چې په ملکي جامو کې د وسلې سره وو. «زه د دوی په پښو کې پرېوتم. ما فکر کاوه، چې دوی موږ وژني. له هغه وروسته دومره تر فشار لاندې وم، چې ړوند شوم.»
دا زوړ سپین ږیری یو کال وروسته هم څه نه شي لیدلی. هغه په لاهور کې، په یوه کارګري ناحیه کې، چې هلته ټول پښتانه اوسیږي، پخپله د اوسېدو په کوټه کې د مزرو په پېرلې کټ ناست و. په دغه ناحیه کې نږدې ټول یو بل پېژني او په دې پوهیږي، چې څوک تری تم شوی دی. دلته ستونزمنه ده، چې د کومې کورنۍ غړی ومومی، چې خبرو ته حاضر شي.
د قبایلي سیمې پښتون ژورنالېست روف یوسفزی وایي، چې «دوی وېرېږي.» دوی ته زیات وخت تلیفون کیږي، چې د دوی زوی یا مېړه به زر بېرته کور ته راستون شي. ځکه دوی د دې خطر له امله نه غواړي میډیا سره خبرې وکړي. د مومند دوه زامن دوې اوونۍ وروسته کور ته راغلل. دی خپل دریم اتویشت کلن زوی امجد خان په اړه درې میاشتې په خطر ناک او غیر تسلي بخش حالت کې ناست و. هغه سمدلاسه پوه شو، چې د ده زوی د لاهور نه درې میله لرې د وسلې د لرلو په تور بندي دی. خو هغه بې ګناه دی. دوی هېڅ ثبوت نه لري. خو تر اوسه د ده په اړه هېڅ قانوني ګام نه دی اخېستل شوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مومند دا وېره، چې زوی به بیا ژوندی ونه ویني، بې بنسټه نه ده. یوسفزي د داسو پېښنو بې شمېره بېلګې لیدلې دي. هغه ډېره مشهوره بېلګه یې ۲۷ کلن نقیب الله مسعود دی، یو ځوان، چې د پاکستان په سوویلي یو میلیوني ښار کراچي کې د کالیو جوړولو په فابریکه کې کار کولو او د موډل جوړونکي په حیث یې د کار کولو خوب لیده. ده په جنوري کې د خپلو ملګرو سره په یوه رسټورانټ کې ډوډۍ خوړله، چې ونیول شو. د هغه کورنۍ ته دوې اوونۍ وروسته خبر ورکړ شو، چې مسعود د تروریستانو په یوه پټنځای کې د پولیسو په برید کې وژل شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زما خپل پلار په قهر و. هغه وویل: «مورږ به ټول ووژل شو.»

# منظور پشتین د اعتراضونو نوښتګر دی

د مسعود وژني، چې د خپل ځای هر ګوټ په دې پوهېدل، چې د تروریزم سره هېڅ اړیکه نه لري، په رښتیا یو توده اي غورځنګ په حرکت راووست. PTM د پښتون ژغورنې غورځنګ له ۲۰۱۶ نه موجود و، خو د مسعود تر وژنې پورې لږ خلک ورسره ولاړ وو.

۲۳ کلن پشتین راته وویل: «ما په ۲۰۱۴ کال کې لومړی اعتراض تنظیم کړو.» پشتین یو د مخکښو او اغېزمنو ویناکوونکو څخه دی، چې په تېر نیم کال کې یې د غورځنګ څېرې ته وده وکړه. «زما ټولو ملګرو ته پلارونو تلیفون کړی و»، چې «د منظور د څنګ نه لیرې شي، هغه لېونی دی.» زما خپل پلار په قهر و. هغه وویل: «مورږ به ټول ووژل شو. ته په خپلې کوچنۍ خور هم هېڅ زړه نه سوزوې.»

پشتین مني، چې د دوی په وړاندې درېدل خطر لري. د ده په نظر نه شي کېدای، چې په دې کې د مسعود وژنه استثنا وي. «هغه څوک، چې مقاومت کوي د تروریست ټاپه پرې لګي. زما یوه ملګري په خپل کور باندې د هوایي برید په پایله کې خپله ټوله کورنۍ د لاسه ورکړه. د ده دوه لمسي هم په کې ووژل شول. بله ورځ پوځ څرګنده کړه، چې په دې کور کې اته تروریستان وژل شوي دي. تاسو نه شی کولی، چې د دې په وړاندې اعتراض وکړی، ځکه چې، بیا د تاسو وار دی.»

پشتین د سوویلي وزیریستان څخه دی. دا سیمه د افغانستان سره په پوله کې پراته ده، چې په ۲۰۰۴ کال کې د تروریزم سره په نړیواله جګړه کې د مبارزې ډګر وګرځېده. د پاکستان پوځ په دغه سرحدي سیمه کې د القاعده د ښکار کولو په موخه، چې د پولې رااوښتل، د امریکایانو یو متحد و. سمدلاسه به د پاکستان د طالبانو او نورو سیمه ییزو وسله والو سازمانو سره جنګېدل. د پشتین په اند خو هغه څوک، چې د هغو مخالف و، هغه سیمه یز خلک هم وژل کېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لسګونه زره مړه او تري تم شوي**

PTM اټکل کوي، چې د ۲۰۰۴ کال راهیسې لږ تر لږه شپېته زره کسان وژل شوي دي. نږدې دېرش زره تنه تري تم شوي دي، دا څه مانا لري، چې د محکمې پرته دوی په ناقانونه ډول بندي شوي او په یوه نامالوم ځای کې ساتل کیږي او پوښتل کیږي. پوځ دا لوړ شمېر نه مني، بې پرې اټکل هم نه شته ځکه چې، ژورنالستان او نړیوال د بشري حقونو سازمانونه دغو سیمو ته ننوتلی نه شي. د بشر د حقوقو د څار کمیسیون په تکراري ډول د خلکو د وژنو په اړه خپل تشویش د هغو مشاهدینو د ویناوو پر بنسټ، چې د سیمې نه راتښتېدلي دي، څرګند کړی دی.

پشتین غواړي، چې نوره نړی مسؤلیت ته راوبولي. د پاکستان پوځ ډېر غښتلی دی. هغه د امریکې او نورو هېوادونو نه په سخاوت مندانه توګه ډېرې پیسې ترلاسه کوي. هر یو غواړې چې د تروریزم په وړاندې د جګړې له پاره پیسې ورکړي. ځکه [د دې له پاره، چې دا پیسې همداسې ورروانې وي-ژباړن] د پاکستان پوځ ته دا ګټه نه لري، چې طالبان مات کړي. د هغو پر ځای موږ وژني. هلته ټول هېوادونه په غیر مستقیم ډول د دې مسؤل دي.

د پیل کړي موډلېست مسعود د وژنې وروسته پشتین او د هغه ملګرو د فېسبوک او ډله ییزو خپرونو له لارې زرګونو تنو ته بلنه ورکړه، چې اسلام اباد ته ورشي. پشتین په موسکا سره وویل: «موږ د ماک ځوکربرګ څخه منونکي یو» «موږ په ټولنیزه میډیا کې دومره ځواک نه لرو لکه چې، په خپله یې ځواکمن پوځ لري.»

د اسلام اباد اعتراضیه ته، چې په فبروري کې پیل او لس ورځې اوږده شوه په زرګونه خلک راغلل. د هغې نه راپه دې خوا PTM د ټول پاکستان په ښارونو کې اعتراضیه مظاهرې وکړې، چې په هغو کې زرګونو پښتنو کورنیو هغه تصویرونه وښودل، چې غړي یې تري تم شوي، وژل شوي یا بندي شوي وو. پشتین وویل: «د کال په پیل کې مې فکر کاوه، چې زیات عمر به ونه کړم. ځکه په تلیفون کې ګواښونه راته کېدل. خو پوهېږم چې دومره پلویان لرم، چې اوس راباندې څه نه شي کولی.»

**ایا خان به مرسته وکړي؟**

دی د نوي وزیراعظم نه احتیاطي هیلې لري. خان په خپله یو پښتون دی، که څه هم په پنجاب ایالت کې زیږېدلی او لوی شوی دی. په اپرېل کې هغه وویل، چې د PTM غوښتنې په زیاته اندازه برحقه دي. هغه ژمنه وکړه، چې د پوځ سره به په سیمه کې د کرل شویو ماینونو د لیرې کولو او تري تم شویو له پاره، چې په اړه به یې رښتینی قانوني چلند وشي، وغږیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



«خو»، پشتین وویل، چې ټول سیاسي مشران د ټاکنو په جریان کې خوشبینه مالومیږي. موږ هیله لرو، چې مرسته به راسره وکړي. موږ هیله لرو، چې ملګري ملتونه به هم مرسته راسره وکړي. خو د پاکستان پوځ ډېر ځواک لري، یوازې، چې هغه اجازه ورکړي بیا کېدای شي، چې زموږ د شرایطو په اړه خبرې وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا لیکنه د بشر د حقونو نړیوالې شورا-هانک کانګ د ۲۰۱۸ کال د اګست په ۲۴مه خپره کړې ده.
ژباړونکی: محمد اقبال وزیري
دوردرېخت، هالنډ، ۲۰۱۸-۰۸-۲۶

**غوښتنلیک:**
د پاکستان وزیراعظم: پاکستان یو بلوګ لرونکی په ډېرو تورونو نیولی، ضمانت یې رد شوی دی

# د بشر د حقونو نړیواله شورا (IRCH)

د بشري حقونو نړیواله شور-هانک کانګ (IRCH-HK) دا غوښتنلیک د پاکستان د وزیراعظم ته لیږلی دی.
د بشر د حقونو نړیواله شورا-هانک کانګ (IRCH-HK) مالومات ترلاسه کړي، چې د خیبر پښتونخوا د ایالت د ټولنیزو خپرونو او همدارنګه د پښتون ژغورنې غورځنګ (PTM) د مخکې لیکې فعال ښاغلی محمد حیات خان پریغل د استخباراتو ادارې او سرو په خاکیس کې نیولی دی.
هغه د څو ورځو له پاره د پټو ادارو په ناقانونه زړه بوږنوونکي بندیتون کې ساتل شوی و. وروسته په پریغل د الکترونیکي جرمونو ۲۰۱۶ قانون لاندې د دولت ضد فعالیتونو تور ولګېد. هغه په دې تورونو نیول شوی، چې د هغه نوم لومړي اطلاعاتي راپور (First Information Raport) یا (FIR) نه دی یاد کړی. هغه چا، چې دا راپور ورکړی و، چې پریغل د دولت ضد فعالیتونو کې لاس لري په اسلام اباد کې لوړې محکمې ته سوګند لیک وړاندې کړ، چې په کې یې ومنله، چې هغه پولیسو او د استخباراتو ادارې ISI ته هیڅ کله داسې راپور نه دی ورکړی.
د قضیې په وروستۍ اورېدنه کې د لوړې محکمې یو کسیزه محکمه د بدنامې استخباراتي ادارې ISI په لاربښوونه بدله شوه.

**د قضیې تفصیل:**
ښاغلی حیات پریغل د پښتونخوا د ایالت د ټولنیزو خپرونو یو نامتو او برجسته فعال او همدارنګه د پښتون ژغورنې غورځنګ (PTM) ویاند دی.
هغه درمل پوه دی او په دوبۍ کې یې په یوه درملتون کې کار کاوه. په خیبر پښتونخوا، فاټا او په ځانګړې توګه په سوویلي او شمالي وزیریستان کې ترینګلو حالاتو د هغه په شعور دروند بار اچولی و، چې د ۲۰۰۱ کال

(c) ketabton.com: The Digital Library



راهیسي هلته پوځي عملیات او هوايي بمبارۍ رواني دي، چې په هغو کې په زرګونو سړي، ښځې او ماشومان تري تم شوي یا وژل شوي دي.

پوځي افسران، چې بشپړ مصؤنیت لري د ترهګرو په پلمه د خلکو کورونو ته ننوزي او څوک یې منع کولی نه شي. دوی بزګرانو ته اجازه نه ورکوي، چې د خپلې خوښې غله وکري یا حیوانات وروزي. پرېغل هم د پښتون ژغورنې غورځنګ او د هغه مشرتابه څخه، چې په مېړانې د غاصبېینو سره مبارزې کوي، اغېزمن دی. په وروستیو کې پرېغل بېرته پاکستان ته راستون شو او د ټولنیزو خپرونو له لارې یې خپل فعالیت پیل کړ.

د ۲۰۱۸ کال د جولایي په ۶مه حیات پرېغل د خیبر پښتونخوا د ایالت په ډېره اسماعیل خان کې په خپل کور کې پټو پولیسو ونیو. د قانون پلي کوونکي اداري کسانو په وروستیو ساعتونوکې په زور سره د پرېغل کور ته ننوتل. د کور غړو هڅه وکړه، چې د دغو کسانو په وړاندې، چې دوی یې په زور یرغمل کړي وو، مقاومت وکړي، د کورنۍ نارینه غړو سره یې سخت چلند وکړ او ویې وهل.

د ده د نیولو وروسته د کورنۍ غړي یې د پولیسو دفتر ته لاړل، چې پولیسو ته د پلټنې له پاره د سړي تښتونې راپور ورکړي. د دې سره سره پولیسو د لومړي اطلاعاتي راپور (FIR) د ثبتولو نه ډډه وکړه په دې، چې شونې ده پټو ادارو په کې لاس درلود. د ډېره اسماعیل خان ځایي خلکو او د سوویلي وزیریستان نه خلکو د پرېغل د خلاصون له پاره د دولتي ودانیو په ګډون د ISI او نورو پټو ادارو په دفترونو اعتراض پیل کړ.

د ده د تري تم کېدو ۶ یا ۷ ورځو وروسته پرېغل خپل ورور ته تلیفون وکړ او ورته یې وویل، چې هغه د اسلام اباد په ادیالا بندیتون کې دی او هغه د دولت ضد فعالیتونو او سایبر جرمونو په تور د پلټنو فیدرال ادارې (FIA) له لوري، چې هغه ټولنیزې خپرونې د فاټا د خلکو د حقونو له پاره کارولې دي، راجسټر شوی دی.

د ده د PTM ملګرو او فعالینو سمدلاسه د اسلام اباد لوړې محکمې ته د ضمانت له پاره درخواست ورکړ. دوی په همدغه وخت کې د ځان سره لومړی اطلاعاتي راپور (FIR) یوه کاپي هم واخېسته، چې ناڅرګنده وه او ویل یې، چې «ځینې نامالوم کسان د فېسبوک د لنډو شرحو او ټویټر د حساب له لارې د پورته کولو، لېږدولو، واضح کولو او بې خنده خپرونو» پروپاګنډ کوي. لومړی اطلاعاتي راپور پسې وايي، چې «د نامالومو خلکو ناقانونه کړنې کولی شي ټولنیزې ناکرارۍ او همدارنګه د ټولنې د بیلو بیلو ډلو او ټولنو تر منځ توکمیز ټکرونه او شخړې راپاروي او په دولت کې ګډوډې را منځ ته کوي او ورڅخه غوښتنه شوې، چې د ټینګو قانوني کړنو نوښت وکړي.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا د یادولو وړ ده، چې پرېغل په لومړي اطلاعتي راپور (FIR) کې یاد شوی نه و. د پلټنو فېدرالي اداري د یوه شاهد بیان ښکاره کړ، چې ادعا یې کوله، چې د پرېغل د د دولت ضد فعالیت شاهد دی. سره له دې، چې هغه د اسلام اباد د لوړې محکمې په لومړۍ اورېدنه کې پلټنو فیدرال ادارې (FIA) ته د شاهدی بیان یا شاهدي ورکول رد کړي و. هغه همدارنګه یو سوګند لیک وړاندې کړ او خپل بیان یې رد کړ.

د پرېغل د تري تم کېدو څو ورځې وروسته هغه د پلټنو فیدرال ادارې (FIA) ته وسپارل شو او هغې دی د الکترونیکي جرمونو ۲۰۱۶ قانون د ۹مې او ۱۰مې مادو په اساس رجسټر کړ.

د پرېغل ملګرو او خیر غوښتونکو د هغه د نیولو وروسته د هغه د خوشي کولو له پاره د اسلام اباد لوړې محکمې ته د ده د ضمانت درخواست وړاندې کړ. د ځلورو ورستیو اورېدنو په جریان کې محکمې ونه کړای شو، چې د قضیې په اړه پرېکړه وکړي. هر سند د شاهد د سوګند لیک په ګډون، چې د پرېغل په ضد یې بیان ورکړی و، چې محکمې ته وړاندې شو د پرېغل بې ګناهي یې ثابتوله. اوس محکمه د ده د خوشي کېدو په اړه زړه نازړه ده.

د اګست په ۱۰مه د قضیې وروستۍ اورېدنه کې د اسلام اباد لوړې محکمې یو کسیزه محکمه ړنګه کړه او د سپتمبر په لومړۍ اوونۍ کې به نوې قضایي محکمه جوړېږي، چې دا قضیه واوري. خو دلته داسې راپورونه شته، چې ISI غواړي دی په جېل کې وساتي.

په عدلي سیستم کې په پراخه توګه د ISI لاس وهنه ښکاره ده. یوازې په دې ورستیو کې د اسلام اباد لوړې محکمې یوه مشر قاضي ښاغلي صدیقي د قضیې د اورېدلو په جریان کې څرګنده کړه، چې پټې ادارې او په ځانګړې توګه ISI د محکمې په پرېکړو کې لاس وهنه او نفوذ کوي او واک لري، چې د خپلې خوښې محکمې جوړې کړي.

## زیاتي مالومات

د خپلو بدنامو قضایي قانونونو لکه د حاکمیت د حدودو قانون، د سپکاوي قانون او د پاکستان د ساتنې قانون په وضع کولو برسېره د پاکستان حکومت اوس د الکترونیکي جرمونو د مخنیوي ۲۰۱۶ قانون ورباندې زیات کړ تر څو، چې د خلکو د بنسټیزو ازادیو په وړاندې د قوانینو لست اوږد کړي.

د حقونو د ډلو په وینا د الکترونیکي جرمونو قانون داسې شیطاني مادې لري، چې د خلکو بنسټیزې ازادۍ تر پښو لاندې کوي، چې اساسي قانون تضمین کړې دي. دغه وړاندیز شوي قانون په ټولنیزو خپرونو کې د رسېدونکي د رضایت پرته د متن د پېغام لېږل، د دولت په کړنو نیوکې کول، د جریمې او اوږده بند جزاګاني په نظر کې نیولې دي. د صنعت استازي استدلال کوي، چې دا قانون به سوداګري زیانمنه کړي. د مذهب، هېواد، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه محکمې او پوځ باندې انلاین نیوکې هغه موضوعات دي، چې کولی شي د رسمي لاسوهنې غوښتنه وکړي.

د ژباړونکي یادښت: د بشر د حقونو شورا ـ هانک کانګ وړاندیز کوي، چې نور دې هم د دوی د غوښتنلیک په شان، چې متن یې د لیکنې په پای کې «وړاندیز شوی عمل» تر سرلیک لاندې شته، د پاکستان د وزیراعظم، د پښتونخوا اعلی وزیر، د کورنیو چارو فېډرال وزیر، د بشر حقونو فېډرال وزیر، د پېښور د لوړې محکمې مشر قاضي، د خیبر پښتونخوا د پولیسو عمومي مفتش او د بشر د حقونو عمومي رییس ته غوښتنلیکونه ولېږي او غږ دې پرې وکړي، چې «سمدلاسه ښاغلی محمد حیات خان پرېغل خوشی کړي او د ده پر ضد ټول تورونه لغوه کړي. واکمن باید د هغو بدنامو پټو ادارو افسرانو په وړاندې جدي ګامونه پورته کړي، چې شکمن یې په ناسمو مالوماتو نیولي او دی په ناقانونه توګه په بندي تون کې ساتي او په خپله جوړو شویو تورونو دوسیه یې ورته جوړه ده.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا لیکنه د ۲۰۱۸ کال د اکتوبر د میاشتې په ۲۹مه نېټه د واشنګټن پوست ورځپاڼې خپره کړې ده او د ښاغلي ابوبکر صدیق له خوا لیکل شوې ده.
ژباړونکی: محمد اقبال وزیري
هالنډ، دوردرېخت، د ۲۰۱۸ کال د اکتوبر ۳۱ نېټه

# په پاکستان کې د پښتون ولس ځواک پوځي اداره لړزوي

یو نوی غورځنګ، چې د پاکستان د لړه کې پښتون توکم له پاره امنیت غواړي، د هېواد په مشرانو غږ کوي چې هغه وېجاړونکي سیاستونه پرېږدي، چې کورنی بې ثباتي یې ژوره کړې، ګاونډی افغانستان یې رنګ کړی او د امریکا په تاریخ کې تر ټولو اوږده جګړه توده ساتي.

د فبروري د میاشتې راهیسې د پښتون ژغورنې غورزنګ، چې د اردو مخفف یې PTM دی، په لسګونو زره ځایي ځوانو فعالینو کمپاین په لاره اچولی تر څو د پاکستان جنرالان اړ کړي، چې د تېرو څلوېښتو کلونو وېجاړونکی سیاست پرېږدي.

PTM په اصل کې د اسلام اباد نه غواړي، چې د دېرشو میلیونو نه د زیاتو پښتنو بنسټیزو حقونو ته درناوی وکړي، چې د پاکستان د ۲۰۷ میلیونو نه زیاتو اوسېدونکو دوهمه لویه ډله جوړوي. غورځنګ په اسلام اباد زور اچوي، چې د هغو زرګونو قربانیانو له پاره، چې د محکمې د سیستم له لارې تري تم شوي، عدالت پرځای کړي او د هغو لسګونو زرو له پاره، چې د محکمې پرته وژل شوي دي، پلټنې وکړي.

پوځي مشرانو د PTM لږې غوښتنې لکه په تګ راتګ د بندیز نرمښت، په لرو غرنیو سیمو کې د ماینونو د پاکولو پروګرامونه او د پلټنو په پوستو کې د تېري کوونکو پلټنو پای ته رسول منلي دي. خو جنرالان نه غواړي، چې یو اساسي بدلون وکړي، چې د واک په کارولو کې نرمښت روالي، د هېواد د قوانینو او اساسي قانون ته درناوی وکړي او د تري تم کېدو او غیر قانوني وژنو نه لاس واخلي. ډېره خطرناکه یې دا ده، چې دوی په ځانګړې توګه د دې مخالفت کوي، چې د افغانستان په جګړه کې خپل ګډون پای ته ورسوي.

دوی کوښښ کوي چې PTM بې اعتباره کړي، چې ګویا دوی د یوې «بربېښنایي جګړې» غږ پورته کوي. دوی د غورځنګ د ځوانو مشرانو وطنپالنه تر پوښتنې لاندې نیسي، د دوی فعالین بندي کوي او ځوروي، او هڅه کوي، چې د دوی اعتراضونه سبوتاژ او ګډوډ کړي. په غورځنګ

(c) ketabton.com: The Digital Library



باندي د ډله یزو خپرونو د پوښښ په ناویل شوي بندیز باندې هر ځای د پوځیانو د ګوتو چاپ ښکاري. دوی په ډله یزو خپرونو کې د شیطاني بلاګانو یو لښکر خوشې کړې، چې غورځنګ د دولت ضد دسیسو او د بهرنیو دښمنو قوتونو له خوا په ملاتړ بدناموي.

د پاکستان ځواکمن پوځي ماشین ډېر زیات کار کوي، چې دا غورځنګ په افغانستان پورې وتړي، هلته پښتانه اکثریت دي او نخبه ګان یا ممتاز کسان یې په تاریخي لحاظ د پیوستون په ادعاوو لنګر اچوي. د دوی د ځورونې سره سره کابل په پاکستان کې د پښتنو ویښتیا ته هرکلی وایي او هیله لري، چې د اوږدې مودې ځورېدلې پرګنې به د راولپنډۍ، چې د اسلام اباد څنګ ته د پوځي چاونۍ ښار دی، چې د پوځ درستیز په کې پروت دی، تاونکی لاس ونیسي، چې هیله لري په افغانستان کې د طالبانو غوندې د سخت دریځو اسلامي نماینده ګانو له لارې تسلط ومومي.

د پاکستان په ۷۰ کلن تاریخ کې PTM شاید د ځایي خلکو تر ټولو پیاوړی غورځنګ وي، چې په مستقیم ډول یې په پوځي یونیفورم کې سړي وننګول. د پوځ څلورو جنرالانو نږدې ۳۵ کاله یا د پاکستان د نیم تاریخ په اندازه واکمني وکړه. د دوی واک د ملکي کمزورو ادارو لاندې هم د ننګونو پرته پاتې شو او دوی د هېواد بهرنی او دفاعي سیاست او د هستوي وسلو د جوړولو چارې ټاکي. د ډموکراسۍ په زیان او د پاکستان د اکثریت خلکو د هیلو پرخلاف دوی هېواد د کورني سخت دریځی د ژورتیا، د نړیوال ګوښه توب، زورواکۍ او بېوزلۍ په لور بیایي.

د دوی ځواک د پیسو په انګېزې ډډه لګوي. د جنرالانو د نسلونو وروسته پوځ د هېواد د ننه تر ټولو لوی مالي او صنعتي متمرکز ځواک باندې بدل شو. د دوی وروستی شرکت د غوښې د بسته بندۍ کولو فابریکه ده، چې غیر منقوله شتمني یې اوس هم په زړه پورې پاتې کیږي.

د دغو ثابتو ګټو په لیدو سره ګرانه نه ده، چې ووینو ولې د PTM ګړندۍ ودې د پاکستان جنرالان ولړزول. د دوی د نیوکو زیاته برخه پوځ په نښه کوي، چې په دغه شعار کې «د دغه تروریزم ترشا یونیفورم دی» خلاصه کیږي.

اوس د جنرالانو ټاکټیکي او ستراتیژیکي مانورونه د دوی کړنلاره پرمخ بیایي. د ۱۹۷۰ کلونو راهیسې اسلام اباد په سختدریځو اسلامي ډلو باندې درنه پانګونه وکړه، چې د پښتنو د سیکولر غورځنګونو او د پاکستان او افغانستان د رژیمونو په وړاندې مقابله او جګړه وکړي. په ۱۹۷۱ کال کې د بنګله دیش د جوړېدو وروسته په راولپنډۍ کې پوځي پلان جوړونکي د پښتنو د جلاتوب وېرې ناارامه کړل چې داسې غورځنګ به د کابل په مرسته پاکستان تجزیه کړي. په دواړو هېوادو کې د څلوېښتو میلیونو نه زیات

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتانه په ژبې، توکم او تاریخي یادونو سره تړلي او په سوله کې ګډې ګټې لري.

د ۱۹۷۰ کلونو په پیل کې د پاکستان مشرانو ناسمه لار وټاکله چې د دغه خیالي ګواښ په وړاندې د اسلامیستانو ملاتړ او د پښتنو اتباعو په وړاندې توپیري چلند کوي. دوی غواړي پښتانه د جګړه غوښتونکو په څېر وښیي په داسې حال کې، چې د دوی حقونه، موډرنتوب او سوکالی نه انکار کوي.

د څلورو لسیزو او د میلیونو پښتنو د وژلو او بې ځایه کولو نه وروسته، پاکستان لړه ګټه کړې ده. داسې ښکاري، چې PTM د پښتنو د ټولنیزې ویښتیا یوه ننداره ده او د یوه ستر سیاسي لوبغاړي په حیث پاتې کیږي. پاکستان په افغانستان کې خپل ملګري له لاسه ورکړل. زیات افغانان اسلام اباد ته د دوی د بدبختۍ د لومړنۍ سرچینې په سترګه ګوري.

په راولپنډۍ کې جنرالان اوس یوه موقع لري، چې خپلې تاریخي تېروتنې ومني او سمه کړنلاره غوره کړي. د PTM غوښتنو ته د یوه رښتیني او پخلاینې د کمیسیون د جوړولو له لارې، چې غورځنګ یې غږ کړی، رښتیني ځوابونه ووایي. دا به یو ښه پیل وي.

یوه ستراتیژیک بدلون ته اړتیا ده، چې د نه ختمېدونکې جګړې پرځای د پاکستان په سوکالۍ تمرکز وشي. داسې ښکاري، چې دغه کوښښونه، چې خلک د ګواښ له لارې تر فشار لاندې ونیسي پایلې به یې د بې ثباتۍ او د پښتنو او نورو لږکیو پردې توب لا زیات کړي.

د پاکستان د جنرالانو د پاره دا موقع ده، چې د خپلو ګټو پرځای د خپل هېواد له پاره ښه لاره غوره کړي. دوی باید د پاکستان د اساسي قانون لوړتوب او د قانون واکمني ومني.

پای

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډاکټر درمانګر

# نوې ابادي

د ښاغلي ډاکټر منظور پښتين په سروالی د پښتون ژغورنې غورځنګ د څه کم یو کال راهیسې د پاکستان دولت تر اداري لاندې څلورګونو ایالتونو کې پرمخ روان ده، داسې ښکاري چې د خپل موجودیت په دې لړه موده کې د خلکو خدایي زور یې هم په لازمه چټکی د لارې مل ګرځي. غورځنګ که له یوې خوا په ټول پاکستان او په ځانګړې توګه د پښتنو په سیمو کې د پاکستانی حاکمانو او پوځیانو له خوا د قومي مشرانو، منورینو او د سر کسانو د ترور، اختطاف، زنداني کولو، کور ورانولو، کډواله کولو او د منل شویو قوانینو څخه د سرغړولو روان بهیر ختمول غواړی؛ له بلې خوا د نورو هېوادونو په کورنیو چارو کې د پاکستاني دولت د لاسوهنو په ربښتیا بندولو ټینګار کوي.

پښتون ژغورنې غورځنګ د اوسنۍ نړۍ شریکو ستونزو د حل له دې فرمول سره مطابقت لري، چې د هغه له رویه عمل باید د محلی اړتیاوو او نظر له نړیوالو فکري نورمونو سره برابر وکارول شي. ځکه نو که غورځنګ د پاکستان په د ننه کې د ظلمونو او بېعدالتیو څخه د خلکو د خلاصون هلې ځلې کوي، په نړیواله کچه د جهاني سولې او عدالت د ملاتړو د جریان یو مهم برخه وال شمېرل کیږي.

د دې ولسي خوځښت په زړه پورې ښایست دا ده، چې د ازادۍ، سولې او د انسان له عزت سره د برابر ژوند تمنا لري او دغو اهدافو ته د رسېدو په هیله د پاکستان اساسی قانون ته درناوی کوی او د عدم تشدد له فلسفې څخه د شریفانه وسایلو په توګه کار اخلي.

د عدم تشدد فلسفه له پخوا زمانې څخه بیا تر اوسه پورې د پیغمبرانو، فیلسوفانو، طبیعی، ټولنیزو علومو عالمانو او متفکرینو د ګډو هلو ځلو محصول ده، چې په شلمه پېړۍ کې یې د یوه مکمل نظام څېره پیدا کړه. د دې انساني فلسفې په مقابله کې د پیسو او قدرت لېونیو مینانو د تشدد شیطاني او وحشت فلسفه او نظام په پښو ودرول، چې تر دا ننه پورې یې بشریت له بې حسابه تباهیو سره مخامخ کړی ده. د عدم تشدد فلسفه موږ ته په میراث رارسېدلې، غفار خان په کابل کې «باچا خان د اسلام بې تشدده سرتېری» کتاب د لیکونکي، ایکنات اسوارن سره په یوه مرکه کې وویل چې «تاسو وینی چې نړۍ د تباهی او تېری په لور روانه ده، تېری د خلکو کرکه او وېره زیږوي، زه په عدم تشدد عقیده لرم او زه وایم، چې تر هغه به د نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



په خلکو کې سوله او ارامی را نه شي تر څو، چې تشدد روان وي»۱ د عدم تشدد فلسفې په شاوخوا د مختلفو قومونو او عقیدو خلک په یوه واحد سنګر کې د راټولېدو امکانات تر لاسه کوي دغه فلسفه همدا نن په یوه نړیوال ځواک بدله شوې ده. په هندویت کې مها تما ګاندي په عیسویت کې لوتر کینګ او په اسلامي نړۍ کې باچا خان د عدم تشدد د فلسفې د سر کسان شمېرل کیږي.

که څه هم د تشدد خونخوارانو ګاندي او لوترکینګ ووژل او غفار خان یې تر ځلوېښتو کلونو زیات د زندان په تیارو کې وساته؛ ولې د دوی د فکرونو پاک میراث ته همدا اوس هم د قدر په سترګو کتل کیږي. د پیسو او قدرت په لېونۍ مینه اخته کسانو، چې له جګړې څخه د ګټورې سوداګرۍ د وسیلې په توګه کار اخلي، له پخوا راهیسې، له مختلفو لارو، د ازادۍ، عدالت او انسانیت پر مینانو مرګوني ګذارونه کړي دي. «مغولي یرغلګرو د اخوند درویزه او د هغه په شان نور دیني مشران، خانان او ملکان په بیه واخېستل او پیر روښان غوندې په ازادۍ مین وطنپال، باعمله عالم او سوچه مسلمان باندې یې د کفر فتوی ولګوله او د ده زامنو، لمسیانو او مخلصانو ته یې د سرو مال زیات خسارات ورسول».۲

همدې ته څه نا څه ورته کانه د پښتون ژغورنې غورځنګ په هکله روانه ده. د روان کال د جون د میاشتې په دریمه نېټه د جنوبي وزیرستان مرکز وانه کې د غورځنګ په یوه سوله یزه غونډه ګولۍ وارول شوې چې د هغو له امله د نوموړي غورځنګ اوه تنه شهیدان او تر پنځوسو زیات کسان زخمیان شول.

د پاکستاني پوځیانو لویه اندېښنه دا ده، چې مبادا دغه غورځنګ په یوې داسې ډېوه بدل شي، چې رڼا یې نه یوازې د پاکستان ټول نجیب اولس روښانه کړي، بلکې د سیمې او نړۍ په ازادۍ، سولې او انسانیت مینو انسانانو د نړیوال خوځښت د لارې مل وګرځي.

د پښتون ژغورنې د غورځنګ لوی کمال دا ده، چې د خپل مرام او تګلارې په بیانولو سره یې د یوه ښایسته، ګټور او ضروري مرام او ارمان مهندسي سر ته رسولې ده. د یوه ارمان په شاوخوا د خلکو راټولېدلو هر راز مشکل د حل تر نیمایي زیاته برخه جوړوي. د انساني ژوند د دوام له پاره د مرام شته والی حتمي ده.

زموږ هلمندي خویندو او ورونو هم د جګړې اورونو ته په نرمو اوبو د سزا ورکولو کاروان په پښو درولی ده. که چېرې د پښتون ژغورنې غورځنګ او هلمندیانو د سولې کاروان په شان له جګړو او بدبختیو څخه د خلاصون کارونه د هېواد او سیمې په هر ګوټ کې ترسره شي او د دوی ترمنځ د دوستۍ او خواخوږۍ اړیکې، چې د غمونو د زیاتوالي په مهال قوي کیږي، ټینګوالی ومومي، دا کار به نه یوازې د روان محشره د راوتلو تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولو مهمه وسیله وګرځي، بلکې د تاوتریخوالي په کمولو کې بې سارې مرسته وکړي.

ځکه نو ټول بشریت دا جبري او اخلاقي مسؤلیت په غاړه لري چې د پښتون ژغورنې غورځنګ، هلمندیانو د سولې کاروان او دوی ته ورته اولس پالو خوځښتونو د ملاتړ له پاره خپلې سیاسي، معنوي او مادي مرستې او لورینې ونه سپموي. د افغانستان د سولې ملي جبهې او د افغانانو ترمنځ د تفاهم نهضت غړي د دغه راز اولس پاله خوځښتونو طبیعي اندیوالان او د لارې مل کسان دي.

ازادی، سولې، عدالت، قانونیت او عدم تشدد ته د لومړۍ درجې اهمیت قایلېدو له برکته دغه راز غورځنګونو او سوله یزو کاروانونو د خلکو زړونو ته لاره غځولې او خدایي شانته نه ماتېدونکی زور ورپه برخه شوی ده. د همدغه شانته زور په مټ به د ظلم او ستم لوبې خامخا له ماتې سره مخامخ کیږي. دا کار به د یوې داسې انساني ټولنې د جوړېدلو پیلامه وګرځي چې په هغې کې د ساینس، صنعت، اقتصاد، ټولنیز عدالت، پوهې او اخلاقو د پرمختګ لارې د تل له پاره خلاصه وساتل شي.

د همدې هیلې د تحقق په امید

۱-د باچا خان اندونو او مبارزې ته لنډه کتنه، ۲۸ مخ د محترم محمد اقبال وزیري لیکلی کتاب

۲-همدغه کتاب ۳۲ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمد اقبال وزیري
۲۰۱۸ کال د دسمبر ۲۶ نېټه

# د پښتون ژغورنې غورځنګ PTM د یو کلنی په درشل کې

د پښتون ژغورنې غورځنګ PTM د ۲۰۱۸ کال د جنوری په میاشت کې د ډاکټر منظور پشتین په مشری منځ ته راغی. د PTM منځ ته راتلل کومه ناڅاپي پېښه نه وه، بلکې دا غورځنګ د پښتنو د خپلواکی د اوږدې تاریخي مبارزې د زړې نه زرغون شوی دی.

په شپاړسمه پېړی کې کله چې د هېواد لوېدیځه برخه تر کندهار پورې د پارس د صفوي واکمنو، شمالي برخه یې د ازبکو خانانو او ختیځه برخه یې له اباسینه تر کابله او کلاته د هند مغولو واکمنو د واکمنی لاندې وه، د هند د مغولو امپراتوری په وړاندې د پښتنو د خپلواکی غورځنګ د سوویلي وزیریستان د کانیګرم نه د روښان پیر په مشری پیل شو. دا غورځنګ، چې په ملي او اسلامي اصولو ولاړ و، نږدې یوه پېړی یې د هند د مغولو امپراتوری په وړاندې د خپلواکی جګړه پرمخ یووړه.

د روښاني غورځنګ د ناکامی وروسته په اولسمه پېړی کې ستر شاعر او مبارز خوشال خان خټک، ایمل خان مومند او دریاخان اپریدي د هند د مغولو امپراتوری په وړاندې د پښتنو د خپلواکی غورځنګ ته دوام ورکړ. په پای کې ختیځ پښتانه د خپلواک دولت په جوړولو کې پاتې راغلل خو د دوی مبارزو په لوېدیځو پښتنو لوی اغېز واچاوه.

لوېدیځو پښتنو د اتلسمې پېړی په پیل کې د میرویس نیکه په مشری په کندهار کې د افغان خپلواک دولت بنسټ کېښود او بیا یې د پنځویشت کلن ځوان احمد خان ابدالي په مشری د امو نه تر اټکه خپلواک ملي دولت جوړ کړ. احمدشاه بابا بیا په کشمیر، پنجاب، سند، بلوچستان او پارسي خراسان یا پخوانی پارتیا کې د واک په غزولو سره امپراتوري جوړه کړه. «د احمد شاهي دولت په رامنځ ته کېدو کې د ختیځو پښتنو ونډه اساسي وه. په دې ډول، چې دوی په خپلو جګړو سره نه یوازې د احمدشاه له پاره ډګر هوار کړی و، بلکې له هغه سره یې د ملکونو په نیولو او د امپراتوری په جوړولو کې هم مرسته وکړه».۱

خو په نولسمه پېړی کې د یوې خوا د احمدشاه بابا د لمسیانو، د سدوزو او محمدزو او بیا د بارکزو وروڼو تر منځ د تخت او تاج پر سر کورنیو جګړو او نااندریو او د بلې خوا د دوو سترو اروپایي امپراتوریو یاني د لویې

(c) ketabton.com: The Digital Library



برېتانيي او تزاري روسيې د ستري لوبې د سیالۍ له امله لومړی د افغانستان امپراتوري له منځه لاړه او بیا افغانستان کمزوری او کوچنی شو او د ډېورنډ کرښې نږدې نیم کړ.

د دې وروسته د وزیرستان خلکو د نورو پښتنو د قومونو سره په ګډه د حاجي میرزاعلي خان په مشرۍ لومړی د برتانوي هند نه او بیا د پاکستان د جوړېدو وروسته د پاکستان نه د خپلواکۍ د لاسته راوړلو له پاره ټینګې مبارزې وکړې، چې په پای کې نابریالي شول. «د ایپي فقیر د خپل سلف میا روښان په شان، چې هغه هم د وزیریستان د کاني ګرم و، په خپل ژوند کې په مقصد ونه رسېد، خو د هغه په شان یې د پښتنو د خپلواکۍ غورځنګ په میراث پرېښود. د میا روښان غورځنګ تر یوه حده خوشال خان خټک، ایمل خان مومند، دریاخان اپریدي، میرویس نیکه او تر پوره حده ستر احمدشاه سرته ورسوه. یوه ورځ به د ایپي فقیر غورځنګ هم د بري درشل ته ورسول شي.» PTM د حاجي میرزاعلي خان د دغه میراث منطقي ادامه ده.

د پاکستان په ۷۰ کلن تاریخ کې د دې هېواد پنجابي واکمنو د پښتنو، بلوڅو، سندیانو، بنګالیانو او نورو قانوني حقونه تر پښو لاندې کړي دي. بنګال خپلواک شو، خو نور قومونه همداسې د پنجاب د واکمنو د ظلم او ستم لاندې شپې او ورځې سبا کوي.

د پاکستان رژیم او په ځانګړې توګه پوځ او ای اس ای په افغانستان باندې د شوروي یرغل وروسته په سخت دریځو اسلامي ډلو باندې لویه پانګونه وکړه، چې د یوې خوا د هغو څخه د افغانستان په وړاندې جګړه کې ګټه پورته کړي او د بلې خوا په پاکستان کې د پښتنو په توکم وژنه کې ورڅخه کار واخلي.

د ۲۰۰۱ کال راهیسې د پاکستان پوځ د تروریزم سره د جګړې په پلمه د پښتون توکم وژنه په پراخه توګه تر لاس لاندې نیولې ده. له هغه مهاله تر اوسه د پاکستان پوځ له خوا په قبایلي سیمو کې عملیات او بمبارۍ روانې دي، چې په هغو کې په لسګونو زره ناینه، ښځې او ماشومان تري تم شوي یا وژل شوي دي. په ټول پاکستان کې د پاکستان پوځ په پرله پسې ډول د پښتنو د نفوذمنو کسانو، دودیزو ملکانو، روحاني مشرانو او نورو په برمته کولو، کړولو، کډه کولو، بندي کولو او وژلو لګیا دی. محمد افضل خان لالا، ملاله یوسفزۍ، بشیر بلور، ملک فرید الله، مشال او نور یې د فردي ترورځرګندې نمونې دي. د پېښور د پوځي ښوونځي د زده کوونکو ډله ایزه وژنه او په کوېټه کې د واکیلانو ډله ایزه وژنه یې د پښتنو د ډله ایزې وژنې روښانه بېلګې دي. د روان کال په جنوري کې په کراچۍ کې نقیب الله مسعود ووژل شو. د ډاکټر منظور پښتین په مشرۍ د اسماعیل خان د دېرې نه د اسلام اباد په لور اعتراضیه مارش پیل شو، چې په لاره کې د پښتونخوا

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ټولو سیمو نارینه او ښځو پراخ ګډون په کې وکړ. د دې اعتراضیه مارش پایله د پښتون ژغورنې غورځنګ منځ ته راتګ شو.

د پښتون ژغورنې غورځنګ PTM د پاکستان د اساسي قانون په چوکاټ کې سوله یزه مبارزه کوي او د باچا خان د بې تشدده فلسفې نه الهام اخلي. د پښتون ژغورنې غورځنګ PTM موخه دا ده، چې د پاکستان پوځ دې د پښتنو ناقانونه وژنې ودروي، د پښتنو قانوني حقونو ته دې درناوی وکړي، ټول بندیان دې خوشې کړي او د هغو لسګونو زرو کسانو له پاره، چې د مجکمې پرته وژل شوي یا تري تم شوي دي، پلټنې وکړي.

د پښتون ژغورنې غورځنګ PTM د اسلام اباد د اعتراضیه غونډې وروسته د پاکستان په نورو لویو ښارونو لکه لاهور، کراچي، پېښور او د پښتنو په ټولو ښارونو او په قبایلي سیمو کې پراخ لاریونونه او اعتراضیه غونډې جوړې کړې، چې په هغو کې زرګونو کورنیو هغه تصویرونه وښودل، چې غړي یې تري تم شوي، وژل شوي یا بندیان شوي وو. PTM په لنډ وخت کې په ټول پاکستان او په ځانګړې توګه په پښتنو سیمو کې په یوه پیاوړي سیاسي غورځنګ بدل شو، چې د پاکستان تروریستي پوځ یې وننګوه.

د پښتون ژغورنې غورځنګ PTM په ملاتړ پښتنو په اروپا، امریکا، استرالیا او د نړۍ په ګوټ ګوټ کې پراخ لاریونونه او غونډې په لاره واچول ترڅو د نړیوالو پام د پاکستان د پوځ له لوري د پښتون د نسل وژنې غمیزې ته واړوي. اوس د پښتون ژغورنې غورځنګ PTM نړیوال ملاتړ ورځ په ورځ زیاتیږي او په نړۍ واله میډیا کې د دوی مبارزې زیات انعکاس مومي. په اروپا، امریکا،استرالیا او نورو هېوادونو په میشتو افغانانو او په تېره د پښتنو په منځ کې د دوی ملاتړ په بېساري توګه زیات شوی او لا ډېرېږي.

زه په دې باوري یم چې د پښتون ژغورنې غورځنګ PTM به د ډاکټر منظور پشتین په مشرۍ د حاجي میرزاعلي خان د خپلواکۍ غورځنګ د برې درشل ته ورسوي.

د پښتون ژغورنې غورځنګ PTM د بري په هیله

۱- پوهاند ډاکټر محمد حسن کاکړ، زما غوره لیکنې ۹۶ پاڼه

۲- پوهاند ډاکټر محمد حسن کاکړ، ډېورنډ د واحد ملت د بیلتون کرښه، د مقالو ټولګه،۲۰۰۷ کال پېښور، ۲۷-۲۶ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا لیکنه د هالنډ یوې وتلې ورځپاڼې (de volkskrant) د ۲۰۱۹ کال د جون په ۴مه خپره کړې او د هالنډي خبریال بېن فان رای لیکلې ده.

ژباړونکی: محمد اقبال وزیري

دوردرېخت، هالنډ، ۲۰۱۹ کال د جون ۷مه

# د منظور پشتین مرکه

منظور پشتین په پاکستان کې د ډموکراتیک مقاومت سیمبول شو: «دا پوځ دی، چې سخت دریځي کړي.» ځوان منظور پشتین او د هغو ځوانو پلویانو په سوله یز مقاومت سره د پاکستان پوځ قدرت وننګوه. خو دوی به څومره وکړای شي، چې نور مخ ته لاړ شي؟ پوځیان په شمالي وزیریستان کې ټینګ کمپاین کوي، چې د [PTM] د فعالینو سره مقابله وکړي. پشتین په دې باور دی، چې نرم قوتونه به میدان ګټي.

د پاکستان پوځ هوښیار دی. پوځیان هر وخت په ظاهره داسې ښيي، چې ګواکې دوی په ټینګه د تروریزم سره په جګړه بوخت دي تر څو دوی ته د لوېدیځو هېوادو مالي ملاتړ جاري وي. ځکه دوی موږ د سخت دریځو او تروریستانو په څېر انځوروي. خو دوی په دې کې بریالي کېدای نه شي.

نن د پېښور نه د سکایپ د اړیکې له لارې د بشر د حقونو فعال پشتین (۲۴) د مبارزې ډک غږ را ته. دی دا اوس د یوه پرلت نه بېرته راغلی و، چې په شمالي وزیریستان کې تېره اونۍ د پاکستان پوځ د یوې پوستې له خوا د ۱۴ فعالینو د وژلو او د پارلمان د دوو غړو د نیولو پر ضد اعتراض وکړي. دا پرلت د ورځې په پای کې د زور په کارولو سره ړنګ شو.

پشتین د پښتون ژغورنې غورځنګ (PTM) مشر دی او په لنډ وخت کې په تېره د ځوانانو په منځ کې د ډموکراتیک مقاومت په سیمبول بدل شو. د PTM بنسټ د ۲۰۱۸ کال په پیل کې کېښودل شو. د پښتون ژغورنې غورځنګ د پښتنو د نه تشدد یو مدني غورځنګ دی، چې د پنجاب وروسته د پاکستان د اوسېدونکو ډېره کی جوړوي. دوی په ځانګړي ډول د افغانستان سره د کرښې په اوږدو او د خیبر پښتونخوا په ایالت کې اوسيږي.

PTM په قبایلي سیمو کې د پاکستان د ځواکمن پوځ د تیري په وړاندې اعتراض کوي، چې هلته پوځیان او سخت دریځي (تر ټولو د مخه د پاکستان طالبان) یو د بل سره جنګیږي او خلک یې بیه پرېکوي. PTM د پاکستان د پوځ له خوا په ارادي ډول د خلکو د بندي کولو، په نا قانونه توګه د زندۍ کولو او د تري تم کولو د زور زیاتي پر ضد اعتراض کوي. د پشتین په وینا «زموږ تر ټولو مهمه غوښتنه تل دا ده: چې که دلته کومه پېښه کيږي نو ټول خلک مه جزایان کوئ» او «موږ تل د قانون په چوکاټ کې عمل کوو.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتين وويل، چې د تېرې اوونۍ پېښه د تېر يو نيم کال په جريان کې تر ټولو خطرناکه او جدي وه. پوځ وايي چې د دوی په پوسته باندې وسله وال برید شوی، خو د پښتين په وينا : د PTM يوه ډله، چې په هغې کې د پارلمان دوه غړي وو، يوې غونډې ته روانه وه، چې د کنټرول پوستې څخه د شا ډزې پرې وشوې. «په وزيريستان کې خلک نه شي کولی چې وسله وګرځوي. زموږ کسان د سفر په جريان کې په شلو پوستو کې کنټرول شوي دي. د پوځ د وياند له خوا کيسه بې مانا ده او په پاکستان کې دی تر ټولو لوی دروغجن دی.»

پښتين د دغه ټکر د پېښېدو نه وروسته سمدلاسه غبرګون نه دی ښوولی «ځکه چې زما دا عادت دی د مخه تر دې چې څه ووايم لومړی پلټنه کوم چې څه پېښ شوي دي.» د پېښې نه وروسته پوځيانو نبغ په نبغه انټرنېټ، د موبايل شبکه او د تليفون لاينونه بند کړل لکه چې دوی ټل دغسې کوي. دوی دا د دې له پاره کوي چې څوک ونه شي کړای د رښتيا نه خبر شي او دوی يوازې خپل پروپاګنډ خپور کړي.

د خړ کمر د وينې د حمام په اړه راپورونه په بشپړه توګه توپير لري.

د شمالي وزيريستان په ضلع کې، چې د پېښور د سوېل په ۲۰۰ کيلومتری کې پراته ده، هغه څه چې تېره اوونۍ د جمعې په ورځ په کره توګه د خړ کمر په پوسته کې پېښ شول په دې اړه لري چې تاسو د هغې په هکله د چا نه پوښتنه کوئ. هلته د پاکستان د حکومتي پوځ او د پښتنو د مدني غورځنګ PTM د فعالينو تر منځ مقابله وه چې مرګ ژوبله په کې وشوه، دا رښتيا ده. خو د دې ټکر په اړه ټول روايتونه په بشپړه توګه توپير لري.

د پوځ په نظر د تلاشی پر پوسته وسله والو سخت دريځو برید وکړ، چې په هغه کې درې تنه مړه او پنځه پوځيان ټپيان شول. د مظاهره کوونکو په نظر، چې په هغو کې د وزيريستان دوه د پارلمان غړي او د PTM مشران هم وو، د فعالينو يوه ډله په سوله يز ډول يوې پرلت ته، چې د پوځ د ناوړه چلند په اړه وه، پوځيانو نابېره وربانديې ډزې وکړې، چې په هغې کې ۱۴ فعالين ووژل شول او په لسګونو ټپيان شول.

د انټرنېټ ويډيو ګانو ښوولې چې ملکيانو د پوځيانو سره خبرې اترې کولې او چې په يوه پاټک يې د تېرولو هڅه کوله او بيا هرې خوا ته منډې شوې. يوازينی سياستوال علي وزير د اتو نورو کسانو سره ځای په ځای ونيول شول، هغه بل سياستوال محسن داوړ د پنجشنبې په ورځ پوځ ته ځان تسليم کړ. دا سيمه تر اوسه همداسې بنده ده، هلته په ګرځېدو بنديز ټينګ دی او انټرنېټ او ټليفون پرې شوي دي.

پښتين موسکی شو او وويل: «په دغه وخت کې دا ستراتيژي يوازې مهربان خدای ته مالومه ده.» په ټولنيزه ميډيا کې د وينې د حمام په اړه خبرونو په پاکستان کې ملي شورماشور جوړ شو او کله چې پوځ د

(c) ketabton.com: The Digital Library



اپوزیسیون نه ناهیلی شو نو د پشتین په وینا بیا یې د عمران خان لاسپوځی حکومت مرستې ته راوبلو. دوی پرېکړه وکړه چې د فعالینو د مړو هره کورنۍ ته ۱۵۰۰۰ یورو او د ټپیانو هرې کورنۍ ته ۶۰۰۰ یورو تاوان ورکول ومني.

پشتین وویل چې «موږ هېڅ پیسې نه غواړو، موږ عدالت غواړو برسېره پر دې دوی زموږ د پارلمان دوه غړي علي وزیر او محسېن داوړ نیولي دي، چې یوازې دوی په پارلمان کې د پوځ د رول په اړه نیوکې کولې. موږ یوه خپلواکه پلټنه غواړو، د بندیانو خلاصول او د پېښو مسؤلینو ته جزا غواړو. او موږ دا غواړو چې په قبایلي سیمو کې د پوځ نه اداري واکونه حکومت ته ولېږدول شي.»

داسې ښکاري چې حکومت هم مقابله کوي. د حکومت یوه ویاند تاسو د حکومت ضد جاسوسان وبللئ او وویل چې د تاسو وروستۍ ګړۍ په تېرېدو ده.

واکمنو موږ هر وخت په سره ورځ زیان رسوونکي بللي یو. دوی وایي چې موږ د اسلام پر ضد یو، په دې چې موږ ښځو ته اجازه ورکړې، چې زموږ سره په مظاهرو کې ونډه واخلي او چې موږ سخت دریځي تیري کوونکي یو، او عادي خلکو ته وایي چې زموږ فعالین د CIA او هندوستان د پټو ادارو اجنټان دي.

«خو خلک د دوی په خبرو هېڅ باور نه کوي. ولې؟ ځکه چې خلک زموږ فعالیتونه چې PTM د یو نیم کال په جریان کې مو تنظیم کړي دي تر اوسه یو موټر وېجاړ کړی نه دی او نه مو کومه تیږه وراچولې ده. موږ یو سوله یز غورځنګ یو. موږ هر ډول سخت دریځي که هغه مذهبي سخت دریځي وي او که د پوځ ترور او بربریت وي ردوو.» پشتین وویل چې دا ټول پروپاګند دی. «دا د پاکستان پوځ دی، چې د بربر په شان کاروایي یې وکړه او زموږ په قبایلي سیمه کې سخت دریځي کړي.» ما په خپل کلي کې په خپلو سترګو لیدلي دي چې پوځ څنګه طالبان روزل چې افغانستان ته لاړ شي او هلته افغانان او لوېدیځ سرتیري ووژني. خو موږ PTM د دوی دغه کار ته د پای ټکی کېښود. موږ د دولت له لوري دا ضمانت شوی تروریزم نور نه منو.

«د پاکستان پوځ داسې ښیي چې ګویا دوی تروریستان وژلي دي. خو د طالبانو د ۸۸ قوماندانانو نه ۸۷ د امریکا بې پیلوټه الوتکو مړه کړي او یو تن یې په خپل بم مړ شوی دی. د پوځ له خوا هېڅ یو نه دی مړ شوی. د تروریستانو پر ځای د پاکستان پوځ ملکي خلک وژلي دي. دوی په دې کار کې اوږد تاریخ لري. دوی یو میلیون او درې لکه بنګالیان، بلوڅ، سیندیان او پښتناه وژلي دي. پرته له دې چې نړیوالې ټولنې یې لاس نیولی وي.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ایا د خان حکومت به چارې په بل ډول ونه کړي؟**

«عمران خان د خلکو سره د نوي پاکستان وعده وکړه، خو هغه دروغ وویل. هغه د خلکو نه رایې واخېستې او بیا یې خپله اصلي څېره وښوده. هغه ویلي و چې هېڅکله به IFM ته ورنه شي خو هغه ورغی. هغه ویلي و چې د سخت دریځی سره مبارزه کوي خو هغه مبارزه ورسره ونه کړه. هغه ویلي و چې د خلکو تري تم کولو ته د پای ټکی ږدي خو اوس یې په خپله د پارلمان دوه غړي تري تم کړل. خلکو ویل چې عمران خان د دوی وروستۍ هیله ده. او اوس څه روان دي.»

تاسې اوس د دغه حکومت نه هیله نه لری؟

زه د بېوزلو او مظلومو خلکو ملاتړی یم او په دې ډول د هر چا نه دا هیله لرم. خو افسوس دی چې د وزیراعظم د هغو خبرو، چې د ټاکنو په مهال یې د خلکو سره کولې او د هغو کړنو چې اوس یې کوي، تر منځ لوی واټن دی.خو موږ کوښښ کوو چې څومره شونې وي د قانون په چوکاټ کې د خلکو له پاره کار وکړو، او پوځیانو ته اجازه نه ورکوو چې موږ زور ته اړ باسي ځکه چې دا به دوی ته بخښنه وي چې زموږ سره حساب وکړي.

تاسې د دوی نه ډار نه لرئ چې دوی به PTM یو څه کمزوری کوي؟ یا تاسو په خپله؟

دا لومړی ځل نه دی چې دوی غواړي په موږ پسې راشي، زموږ خلک ونیسي او ویې وژني. څه چې په ما پورې اړه لري مرګ موږ ته یوه ورځ په خپله رائې.

ولې به زه په دغه وخت کې د سولې او رښتیا له پاره ونه جنګېږم؟ موږ به انشا الله خپل هېواد بدل کړو او په بل حالت کې به زموږ راتلونکي نسلونه دا کار وکړي. زه په خپل زړه کې سوله لرم. دوی کولی شي چې ما غلی کړي خو زه په هر صورت د هغه څه له پاره جګ شوی یم چې باور پرې لرم.

پای

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا لیکنه د Trouw هالنډي وتلي ورځپاڼې د ۲۰۲۰ کال د جنوري په ۲۹ مه د چهارشنبې په ورځ خپاره کړې ده
ژباړونکی: محمداقبال وزیري
هالنډ، دوردرېخت ۳۱-۱-۲۰۲۰

# د منظور پشتین انځور

# د ټېنګې ارادې فعال باید خپله خبره وکړي

په خبرونو کې راغلي چې دغه جذاب فعال په دې بندي شو چې په مېړانه يې د پاکستان ځواکمن پوځيان تر نيوکو لاندې نيولي دي.

څو کاله وړاندې کله چې منظور پشتین د پاکستان د ځواکمنې امنيتي ادارې په وړاندې خپل لومړنی لاريون تنظيم کړ پلار يې په اړه په خفګان سره غبرګون وښود. پلار يې وېرېده چې د دې اعتراضونو له امله به يې د کورنۍ ټول غړي ووژل شي. خو پښتين نه شو کولی چې د حق غږ پرېږدي. هغه په ۲۰۱۸ کال کې د «Trouw» (باور) ورځپاڼې ته وويل «زه د ټېنګې ارادې ښښتن يم.»

پشتين ۲۶ کلن ځوان نری سړی دی چې نرمه وړه رېږه لري.هغه د پاکستان په سخته قبايلي سيمه کې، چې د افغانستان سره د کرښې په اوږدو کې پراته ده، د شاهور د کلي په يوه کورنۍ کې چې اته ماشومان يې درلودل لوی شوی دی. د هغه پلار ښوونکی و او پشتين هم وکولی شول چې ښې زده کړې وکړي. هغه په پای کې د وېټرنري ډاکټري پای ته ورسوله.

د پښتون کورنۍ په پښتون توکم پورې اړه لري، چې په پاکستان او افغانستان کې ژوند کوي او د کرښې په غرنۍ لړۍ کې مسلط توکم دی. همدارنګه د طالبانو ډېره کی هم پښتانه دي. له دې امله دا سيمه د ډېرو کلونو راهيسې د خونړۍ جګړې په ننداره بدله شوې ده. ځکه د پاکستان پوځ د طالبانو په وړاندې جګړه کوي [زما ژباړونکي په نظر طالبان د پاکستان پوځ جوړ کړي او د طالبانو سره د جګړې په پلمه هلته پښتنانه وژني.] او برسېره پر دې په زياتې بې رحمۍ سره په ځايي خلکو هم تېری کوي.

هره ورځ په منظم ډول خلک تري تم کيږي، کړول کيږي او په بې قانونی توګه زندی کيږي. پشتين د «Trouw» اخبار ته وويل : «زما د يوه ملګري ټوله کورنۍ د دوو ماشومانو په ګډون د هغه په کور باندې په يوه هوايي بمبارۍ کې له منځه ولاړه.»

پشتين په ۲۰۱۸ کال کې د نورو ځوانانو سره يوځای د امنيتي ځواکونو د وحشيانه تېريو په وړاندې اعتراضونه تنظيم کړل. د دغو تېريو يو مستقيم

(c) ketabton.com: The Digital Library



لامل د کراچۍ په بندري ښار کې د یوه پښتون بې قانونه وحشیانه وژنه وه. په ډېره لنډه موده کې دغه مقاومت د پښتون ژغورنې غورځنګ (PTM)، یوه پراخ ایتلاف ته وده وکړه چې جذاب منظور پشتین یې مشر شو. د پښتون ژغورنې غورځنګ فعالانو په زرګونو پښتنانه واټونو ته راوایستل چې لاریونونه وکړي.

پشتین او د هغه د مبارزې ملګري غواړي چې په قبایلي سیمو کې دې کرل شوي ماینونه لیرې شي، د تري تم شویو کسانو په اړه دې روښتیا منځ ته راشي او د ربښتیا موندنې له پاره دې یو کمیسیون جوړ شي. دوی د فېسبوک او ټویټر نه د لاریون کوونکو د تنظیمولو له پاره ښه کار اخلي. پشتین په ۲۰۱۸ کال کې د CNN ټلویزیون ته وویل: «موږ هغه څه چې غواړو په ټولنیزه میډیا کې خپرو.»

د دې له پاره چې ازاد پښتون په کنټرول کې وساتي پوځیان، چې په پاکستان کې ډېر زورمن دي د لاریونونو ضد موزیک غږوي. برسېره پر دې دوی میډیا اړه کوي چې د PTM اعتراضونه خپاره نه کړي او د پشتین ملګري د دوو پارلماني غړو په ګډون ګواښوي او بندیانوي.

اوس یې د دوشنبې سهار وختي په خپله پشتین هم د شپږو ملګرو سره ونیو. دغه مېړنی فعال په دې تورن دی چې ده په یوه بیان کې چې په دې میاشت کې د مخه کړی و دولت کمزوری کوي او توکمي ګروپونو یو د بل په وړاندې دروي. د دغې سرغړونې له پاره به هغه په پرنسیب کې عمري بند ترلاسه کړی یا به درنې سزا ته سترګې په لاره وي. هغه د مخه CNN ته په خپله ویلي و چې هغه که څه هم اوسنی مخکښ رول لري بیا هم هېڅ سیاسي لوړه ارزو نه لري. که چېرې زموږ غوښتنې پلې شي زه غواړم چې پرمخ تګ وکړم او لوړ استاد شم. هغه وویل «زه غواړم بېرته د عادي ژوند ته وګرځم.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډاکټر درمانګر

# ژوندی دې وي منظور پښتون

له ډېرې مودې راهیسې، استعماري جګړو، بهرنیو یرغلونو، په خپل سره واکداریو او عالمګیره جهل او غفلت د افغانستان او پاکستان په زړونو پاک او خواریکښ ولسونه د تورتم په اسارت شانته حالاتو کې را ایسار کړي دي. د یوویشتمې پېړۍ په درشل کې یو بل شانته نوی تمدن زیږېدلی دی چې شل کاله د مخه یې په خوب او خیال کې هم څرک نه لیدل کېده. په نوموړي تمدن کې که په نورو د سپین سهار غوندې رڼا په خپرېدو ده؛ د افغان او پاکستان ولسونه د تورو شپو د دوام له خطر سره مخامخ ښکاري.

دا ولې؟ دا ځکه چې خدای تعالی (ج) انسانانو ته بیولوژیکي موجوداتو بڼه او مزاج وربخښلی ده. هر هغه مهال چې دغه موجودات یوه نوي چاپېریال ته ور د ننه شي ، هلته د دوی د ودې پرمختګ او له ستونزو د ژغورنې د ظرفیت څارنه او ازموینه سرته رسول کیږي. د ازموینې په پای کې کامیابانو ته د ژوند د دوام او پرمختګ او ناکامانو ته د بربادۍ او زوال نصیب او قسمت ور په برخه شي. همدغه دود د ارتقا او تکامل په نامه شهرت لري. سیاسي ولسپالو د سر کسانو ته له یاد شوي دود سره اشنایي یوه مهمه اړتیا ده. له بلې خوا د افغانستان او پاکستان په څېر ولسونو ته چې له یوه جادویي درانه خوبه د راویښېدو په حال کې دي، د داسې سیاسي مشرانو موجودیت حیاتي اهمیت لري چې د نظر له رویه نړیوالو منل شویو قانوني او اخلاقي نورمونو او فکرونو سره همرازه وي او د عمل له رویه د ستونزو حل د ستونزو په محل کې لټوي.

په پاکستان کې د پښتون ژغورنې او په افغانستان کې د سولې کاروانونو د غورځنګونو مشران د خپلو ولسونو په انګړو کې رالوی شوي د اولسونو بچیان دي. دوی د ارتقا او تکامل له دود سره اشنایي لري او د نظر او عمل له رویه د نړۍ د خلکو او خپلو ولسونو له هیلو سره برابرې هلې ځلې سرته رسوي. همدا علت دی چې د ګران ډاکټر منظور احمد پښتون بندي کېدل د نړۍ ډېر خلک او پاکستان او افغان ولسونه ډېر خپه کړي دي. د پاکستاني واکدارانو دغه عمل د روانو کړکېچونو سلسلې ته یوه بله ناشولته (کرغیړینه) کړۍ ور اضافه کړې ده.

د پښتون ژغورنې غورځنګ د هلو ځلو فکري محتوی د پرګنو د زړونو په تل کې ځای نیولی او له همدې امله د سولې، عدالت، انصاف او قانونیت د ملاتړ او د جګړې، ظلمونو او ناروااوو پرخلاف په یوه نه ماتېدونکي سنګر بدل شوې ده. همدا علت دی چې د افغانستان، پاکستان او د نړۍ په ګڼ شمېر

(c) ketabton.com: The Digital Library



هېوادونو کې د خلکو او بشري حقوقو ملاتړو سازمانونو پیاوړی ګډ بهیر ، له بند څخه د ګران منظور احمد پښتون، دغه شریف او خلکو خدمتګار انسان، ژر تر ژره د ازادېدو غوښتنه کړې ده. په لوېدیزه اروپا کې د تفاهم نهضت او امریکا په متحده ایالاتو کې د افغان سولې ملي جبهه د نوموړې غوښتنې ټینګ ملاتړ کوي.

ژوندي دې وي خلک

ژوندی دې وي منظور پښتون

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیکوال: فرهاد دریا
ژباړونکې: نازنین سالارزۍ
هالنډ، دوردرېخت ۲۰۲۱-۶-۲۸

# د یو قومي تعصب د زمانې پای

وخت حساس او د شور نه ډک دی! د سیمې د هر ګوټ نه د قضا او عدالت غږ پورته شوی دی. د ظلم لاندې قشرونه، قومونه او ملیتونه ورځ په ورځ همغږي کیږي. د بشري حقونو د دغه عدالت غوښتنې په متن کې نه شو کولای چې د «منظور پشتین» رول او نوم په پام کې ونه نیسو. پشتین نه سیاسي لارښود او نه کوم حکومتي مقام دی. هغه د یوه عادي کس په توګه د پاکستان د پوځي او استخباراتي دستګاه د ظلم په وړاندې پاڅېدلی دی، او اوس دغه د عدالت غوښتنې ادعا د پولو نه وتلې ده. هغه ډېر ځله د بدخشان، تخار، هرات، ننګرهار، لوګر او غزني له پاره اوښکې تویې کړې، او د هزاره ګانو د توکم وژنې او د برچي د بشریت ضد جرمونو له پاره یې غږ اوچت کړی دی. په یاد مې دي کله چې د افغانستان مدني فعاله فرشته کوهستاني په کاپیسا کې ترور شوه، منظور پشتین په یوه فارسي ټویټ سره د دغه جنایت په وړاندې غږ پورته کړ. که څه هم د پشتین غورځنګ په پاکستان کې د ظلم لاندې پښتنو له پاره عدالت غواړي، خو دی په دوو ګاونډیو هېوادو کې هم د هزاره ګانو، ازبکو، تاجکو، پښتنو او نورو مظلومو قشرونو د درد غږ جګوي.

د هزاره ګانو په وړاندې د جنګي، د بشر ضد جنایاتو او توکم وژنې د عدالت غوښتنې غږ او د منظور پشتین غورځنګ په اسانۍ سره کولای شي هم غږي او یو موټی شي په دې چې زموږ درد او دښمن یو دی، او پشتین د ټولو ستونزو سرچینه په ښه کړې ده. هغه په پاکستان کې د افغانستان د بدبختۍ او جنګ اصلي لوبغاړی یاني د پاکستان «حکومت» په وړاندې غږ اوچت کړی دی. د هغه شعار ډېرې خبرې لري. پشتین وایي «د ترهګرۍ تر شا پوځي یونیفورم دی.» یاني په سیمه او افغانستان کې د جګړې او بدبختیو مسوله د پاکستان استخباراتي او پوځي دستګاه ده.

په زړه پورې ده هغه خولۍ چې پشتین یې په سر کوي او په سلګونو زره پلویان یې د پشتین غورځنګ سیمبول بولي، په اصل کې زموږ د ګران بدخشان څخه ده چې د پشتین د غورځنګ نه وروسته یې بیا نړیوال شهرت وموند.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لنډه دا چې نن یو قومي او یو ملیتي تعصب پای ته رسېدلی دی. هېڅ قوم او ملیت نه شي کولی چې پر نورو باندې د لوړتوب ادعا وکړي او انسانیت هېڅ پوله نه پېژني. زموږ د شاعر ملګري نجیب بارور عزیز په وینا «هر کجا مرز کشیدند، شما پل بزنېد».

په درنښت

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا لنډ متن په هالنډ کې د میشتو افغانانو د بچیانو د مورنۍ ژبې د زده کړې د درسي موادو په موخه لیکل شوی دی.

لیکوال: محمد اقبال وزیري
هالنډ، ۲۰۲۱

# وزیریستان

د وزیریستان مانا د وزیرو ټاټوبی او د وزیر مانه د پاچا لومړی مرستیال ده. د افغانستان د تاریخ سره سم د وزیرو د قوم نوم د دوی د ډېر پخواني نیکه د نوم نه اخېستل شوی دی. په هغه مهال کې چې د وزیرو قوم په غور کې اوسېده د دوی نیکه د غور د پاچاهانو وزیر او سیاسي لارښوونکی و. دوی د غور نه سوکه سوکه د افغانستان نورو سیمو او په تېره وزیریستان ته لاړل او هلته میشته شول.

وزیریستان د باجوړ، مومندو، کاکړستان او کویټې غونډې د چترال نه د سووېل په لور د اوسني افغانستان شمال ختیځ ته غځېدلې سیمه ده. وزیریستان تر دغو ټولو سیمو غرنی دی. درې یې تنګې او ژورې او د کر کیلې مځکې یې لږې دي. د وزیریستان د اوسېدونکو شمېر اټکل یو میلیون ته رسیږي. تیمورشاه دراني د دوی شمېر ۱۰۰ زره کورنۍ ښوولی دی. تیمورشاه زیاتوي چې دغه قوم ښځي یو خپلواک قوم دی، هېڅ ته یې مالیه نه ده ورکړې، د هېڅ حکومت نه مني او هېڅا ته سر نه ټیټوي.

وزیریستان دوې برخې لري چې یوه یې سوویلي وزیریستان او بله یې شمالي وزیریستان دي. دواړه برخې یې د ډیورنډ د کرښې په اوږدو کې دواړه خواو ته پراتې دي. د سوویلي وزیریستان مرکز وانه او د شمالي وزیریستان مرکز میرام شاه نومیږي چې دواړه یو څه لوی ښارونه دي. په وزیریستان کې وزیر، مسعود وزیر، ګوربز وزیر، داوړ، اورمړ، بټني دوتاني او نور اوسیږي.

د وزیریستان خلک ټینګ ډموکرات دي او خپلې چارې د پښتونوالۍ له مخې په جرګو سره هواروي. که څه هم د دوی ژوند عصري او شتمن نه دی خو څنګه چې دوی په خپل ملک کې بهرنیان نه دي پرې ایښي، او لویو سوبمنو د دوی ملک نه دی لاندې کړی، پر ځان ډېه او د لوړو معنویاتو خاوندان دي.

د وزیریستان خلک د تاریخ په اوږدو کې د پردیو د نیواک په وړاندې په مېړانه جنګېدلي دي. په شپاړسمه پېړۍ کې کله چې د افغانستان ختیځه برخه د هند مغولي امپراتورۍ لاندې کړې وه د پښتنو د خپلواکۍ غورځنګ د هند د

(c) ketabton.com: The Digital Library



مغلو امپراتورۍ په وړاندې د سوويلي وزيريستان د کاني ګرم نه د روښان په مشرۍ پیل شو. د روښان پير دا غورځنګ د هند د مغولو د امپراتورۍ په وړاندې نږدې یوه پیړۍ جګړه په مخ یوړه.

د افغانستان د خپلواکۍ په جګړه کې جنرال محمد نادر ټل او وانه د وزیریستان د خلکو په مرسته د انګریز د پوځ نه ونیول. دوی وروسته له جنرال محمد نادر سره د سقاو د زوی په نسکورولو کې اغېزمنه مرسته وکړه.

د وزيريستان خلکو د حاجي ميرزعلي خان په مشرۍ لومړی د برتانوي هند نه او بيا د پاکستان د جوړېدو وروسته د پاکستان نه د خپلواکۍ د لاسته راوړلو له پاره ټينګې مبارزې وکړې. د ایپي فقير هم د روښان پير غوندې په خپل ژوند کې په مقصد ونه رسېد خو د هغه په شان يې د پښتنو د خپلواکۍ غورځنګ په ميراث پرېښود. د روښان پير غورځنګ تر یوې اندازې خوشال خټک، ایمل خان مومند، درياخان اپريدي، ميروېس نيکه او تر پوره اندازې احمدشاه بابا سرته ورسوه. یوه ورځ به د ایپي فقير غورځنګ د بري درشل ته ورسول شي.

د پښتون ژغورنې غورځنګ د حاجي ميرزاعلي خان د دغه ميراث منطقي ادامه ده. د پښتون ژغورنې غورځنګ د ۲۰۱۸ کال د جنوري په میاشت کې د ډاکټر منظور پشتين په مشرۍ منځ ته راغی. د پښتون ژغورنې غورځنګ د پاکستان د اساسي قانون په چوکاټ کې سوله يزه مبارزه کوي او د باچاخان د بې تشدده فلسفې نه الهام اخلي. د پښتون ژغورنې غورځنګ موخه دا ده، چې د پاکستان پوځ دې د پښتنو ناقانونه وژنې ودروي، د پښتنو قانوني حقونو ته دې درناوی وکړي، ټول بنديان دې خوشې کړي او د هغو لسګونو زرو کسانو له پاره، چې د محکمې پرته وژل شوي يا تري تم شوي دي، پلټنې وکړي. هيله ده چې د پښتون ژغورنې غورځنګ به د منظور پشتين په مشرۍ د حاجي ميرزاعلي خان د خپلواکۍ غورځنګ د بري درشل ته ورسوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دوهمه برخه

## د اقبال وزيري يو شمېر مقالې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیکوال محمد اقبال وزیري
هالنډ، دوردرېخت، ۲۰۰۶

# د ډاکټر کبیر ستوري د مړینې لومړي تلین

په قوم، وطن او مورنۍ ژبې پښتو مین ډاکټر کبیر ستوري د مړینې څخه پوره یو کال، دوه میاشتې او څلور ورځې تېرېږي چې دی زموږ په منځ کې نشته او ځای یې تش دی. خو د کبیر ستوري نوم ژوندی دی دا ځکه چې ده خپل قوم، وطن او مورنۍ ژبې پښتو ته ډېر څه کړي دي. هیله مند یم چې په راتلونکي کې به پوهان، لیکونکي او څېړونکي د نوموړي په علمي او ادبي میراث باندې کار وکړي او هغه به وارزوي.

ډاکټر کبیر ستوري د خپل ژوند په اوږدو کې او په ځانګړې توګه هغه وخت چې د لوړو زده کړو له پاره اروپا ته راغی او دلته د نړۍ د علمي، تکنالوژیکي، اقتصادي او ټولنیز-سیاسي پرمختګ او ودې سره بلد شو نو یې دې ټکي ته پام شو چې ولې زموږ قوم، وطن او ژبه دومره پاتې دي، د دې وروسته پاتې والي علتونه څه دي او د کومو لارو کولای شو چې خپل قوم، وطن او مورنۍ ژبه پښتو د دې حالت څخه راوباسو او د نورو پرمختللو قومونو په لیکه کې ودرېږو او د دوی سیالان شو. ډاکټر کبیر ستوري د خپلو زده کړو او څېړنو په جریان کې ډېر کوښښ او هاند کاوه چې دغو پښتنو ته ځوابونه ومومي.

کبیر ستوری خپلې موخې ته د رسېدو لاره د قوم په ګډو هڅو او منظمه مبارزه کې لټوي او په دې هیله قوم یووالي ته رابولي. خو د دې له پاره چې قوم یو موټی کړي او د هغه مادي او معنوي ځواک د وطن د ابادی په موخه سره را غونډ کړي نو د یوه سیاسي ګوند د جوړېدو فکر ورسره پیدا شو او په جرمني کې یې د پښتون سوسیال-دموکرات ګوند بنسټ کېښود چې د ژوند تر وروستی سلګۍ یې د دغه ګوند مشرتوب وکړ.

کبیر ستوري دې ټکي ته پام وکړ چې د قوم د وروسته پاتې والي یو علت د علم او پوهې څخه د قوم لیرې ساتل دي. نوموړی په دې برخه کې د افغانستان د واکمنو بې توپیری ته ګوته نیسي او هغوی یې پړه ګڼلي دي. له دې کبله ستوري هڅه کړې ده چې په خپلو لیکنو کې د قوم او خلکو پام په جدي توګه د علم او پوهې اړتیا ته واړوي.

ستوری د پښتو ژبې وروسته پاتې والي ته هم جدي پام اړوي او په دغه برخه کې د تیمورشاه څخه نیولې تر محمد داود خانه پورې د پښتنو هغه واکمنې کړې پړې ګڼلي چې په وینه پښتانه خو د ژبې او کلتور له پلوه پردي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د پردو د کلتوري ښکېلاک عاملین دي. نوموړی انګریزي استعمار او د ځینو ګاونډیو هېوادو له خوا د فرهنګي ښکېلاک هڅې د ژبې د وروسته پاتې والي بهرني لاملونه ګڼي.

ستوري د پښتو ژبې د پرمختیا او غوړېدو په هیله د پښتنو پام دې ته اړولی دی چې پښتو ژبه باید دفتر ته ننوزي او د پښتنو بچیانو له پاره دې په مورنۍ ژبه د زده کړې شرایط برابر شي. همدارنګه پښتانه روښنفکران دې خپله د پښتو ژبې د ودې له پاره کار وکړي یاني دوی دې په پښتو ژبه علمي لیکنې او ژباړې وکړي ترڅو د هغې علمي پانګه زیاته شي او د نورو ژبو سیاله شي. کبیر ستوري په خپله په دې لار کې عملي ګام پورته کړ. نوموړي د مقالو او بیانونو په څنګ کې، چې په مجلو، ورځپاڼو او نورو ډله ایزو وسایلو کې خپاره شوي دي، په پښتو ژبه یو شمېر علمي او ادبي لیکنې د پښتو ژبې د علمي پانګې د جوړېدو په موخه وکړې چې هغه په دوو ګروپو وېشلی شو.

لومړی د ډاکټر کبیر ستوري هغه علمي لیکنې دي چې د لوېدیځې ساپوهنې د څېړنو د ورستیو پرمختګونو پربنسټ ولاړې دي او د پښتو ژبې د علمي پانګې په جوړولو کې د قدر وړ ځای نیسي. د ده د دغو لیکنو یوه ځانګړتیا دا ده چې حجم یې لږ ولې د منځپانګې او مضمون له مخې ډېرې غني دي او زیاتې موضوع ګانې یې په کې را نغښتې دي. د دغو لیکنو بله ځانګړتیا دا ده چې دغه علمي لیکنې په روانه او اسانه ژبه لیکل شوې دي چې نه یوازې د هغو څخه مسلکي کسان، بلکې نور لوستي کسان، چې د خپلې پوهې د زیاتوالي سره مینه لري، ګټه پورته کولای شي.

د ساپوهنې په برخه کې د ډاکټر کبیر مهم اثار: وېره (د ساپوهنې په رڼا کې)، ژبساپوهنه، د هوښیارتیا تله، د هوښیارتیا کلتوري بې پلوه تله او نور دي.

ستوری د« وېره» (د ساپوهنې په رڼا کې) د کتاب په «یادونه» کې د پښتو ژبې واحد لیک دود اهمیت ته پام اړوي او پښتنو ژبپوهانو ته په لاتینو تورو د پښتو د لیک دود د ګام په ګام اړولو وړاندیز کوي. نوموړی په دغه کتاب کې د ساپوهنې په رڼا کې د وېرې د پېژندګلوی، د وېرې پیمانې او درملنه تر څېړنې لاندې نیسي چې د خپل علمي ارزښت برسېره زموږ د هېواد د خلکو د اروایي ناروغیو اوستونزو په موندلو او درملنې کې عملي ارزښت هم پیدا کوي.

کبیر ستوری په خپل بل ارزښتناک اثر کې چې «ژبساپوهنه» نومیږي د ژبې پیدایښت، د بشري ټولنې د پیل څخه تر ننه د هغې وده په ګوته کوي. نوموړی ژبه نه یوازې د پوهوي بلکې هغه د تفکر او سوچ د ودې وسیله هم بولي چې د ټولنې په وده کې ډېر رول لري. دی د دې علمي سپړنې (تحلیل) په نتیجه کې دې پایلې ته ورسېد چې زموږ د هېواد ټولو میشتو قومونو او په

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه جمله کې د هېواد د ډېرکي قوم پښتنو بچیانو ته هم په مورنۍ ژبې پښتو د زده کړې شونتیاوې برابرې شي. دی لیکي: «پخپله مورنۍ ژبه زده کړه نه یوازې د فکر چې د سرېتوب کره برخه ده د سمې ودې مانا لري، بلکه د قام د سوکالۍ او ودانۍ نښه هم ده چې د نورو قامونو سره یې د سیالۍ جوګه کوي.»۱

کبیر ستوري د ژبساپوهنې د علمي څېړنې له مخې چې د یوې ژبې ظرفیت او توان د هغې د تورو د شمېر له مخې او د هغې وده د لغتونو د پانګې څخه چې لري یې ټاکل کېږي د پښتو ژبې د ودې توان او ظرفیت ښکاره کړ. د دې څېړنې په نتیجه کې نوموړي دا جوته کړه چې د پښتو ژبې ظرفیت(توان) د جرمني او انګلیسي ژبو څخه زیات دی یاني د ودې ډېر قابلیت لري خو پښتو ژبې ته کار نه دی شوی نو ځکه وروسته پاتې ده.

کبیر ستوری وايي چې ده د پښتو ژبې په مرسته دا واقعیت وپېژانده چې د انسان په وجود کې د سایزو پېښو دوه مرکزونه دي چې یو یې دماغ او بل زړه دی. په داسې حال کې چې د لوېدیځو په ساپوهنه کې د ټولو سایزو یا نفسي توکو مرکز دماغ ګڼل کېږي. خو که سړی د پښتو ژبې پر بنسټ د شیانو او پېښو جاج واخلي نو دماغ د عقل او فکر او زړه د احساساتو، جذباتو او غوښتنو مرکز دی.۲

ستوري د «هوښیارتیا تله» په اثر کې د افغانانو له پاره د هوښیارتیا تله جوړه کړه چې د هغې په مرسته د هوښیارتیا کچه تللی شي. د زده کړې په سیستم کې د هلکانو او نجونو د هوښیارتیا د کچې د تللو له مخې کولای شو چې د زده کړې په یون کې د نورو زده کړو له پاره بااستعداده کسان په ګوته شي او د بېځایه لګښتونو مخه ونیول شي. خو دا تله، چې اساس یې د ارثي استعداد پر تللو ولاړ دی، یو څه نیمګړتیاوې لري چې هغه د یوې ټولنې د ننه او هم د باندې د نورو ټولنو د کلتور اغېز د هوښیارتیا د تلې په کچ باندې په نظر کې نه دی نیولی. له دې کبله ده بل کتاب ولیکلو چې د «هوښیارتیا کلتوري بې پلوه تله» نومېږي چې په هغې کې پورتنۍ نیمګړتیاوې لیرې کړای شوې دي.

څرنګه چې د پیدایښت (ارثي) او کلتور تضاد د هوښیارتیا کلتوري بې پلوه تلې د موادو په ټاکلو کې رول لري نوکبیر ستوري په دغه اثرکې د افغانانو له پاره د هوښیارتیا کلتوري بې پلوه تله جوړه کړه چې په هغې کې د یوې ټولنې د ننه او هم د نورو ټولنو د کلتوري اغېز اندازه یوهومره کړې. دا د هوښیارتیا بې پلوه تله نه یوازې د افغاني ټولنې له پاره ارزښناکه ده بلکه نړیوال ارزښت هم لري . د ستوري په وینا «د هوښیارتیا کلتوري بې پلوه تله نه یوازې په مختلفو کلتورونو کې د هوښیارتیا د تللې له پاره یوه اړینه وسیله ده بلکه د ژوند په ډېرو برخو کې په تېره بیا د ښوونې او روزنې په برخه کې د لوړو زده کړو او پوهنتونونو له پاره د زده کوونکو او په

(c) ketabton.com: The Digital Library



موسسو او تنظیمونو کې د ټاکلو دندو له پاره د مناسبو کسانو د نیولو مهمه وسیله ده. د کلتوري بې پلوه تلې نړیوال ارزښت ورځ په ورځ زیاتیږي ځکه چې د وګړو تر منځ تماسونه زیات شوي او نور هم زیاتیږي.» ۳

دوهم د کبیر ستوري شعري ټولګې دي چې په هغو کې یې د خپلې ټولنې د ژوند بېل بېل اړخونه انځور کړي دي او خپل قوم ته یې د خپلو افکارو او احساساتو د رسولو ښه وسیله ګرزولې ده. دغه ټولګې به د ادب او شعر څېړونکي په راتلونکې کې د کره کتنې لاندې ونیسي او هغه به وارزوي.

کبیر ستوری په دې باور دی چې ادب د ادب له پاره نه بلکې ادب د ټولنې د خدمت وسیله ده.

ادب ځان پرست نه دی چې تش خپل خدمت کوي
ټولنې د خدمت نه هغه ځان نه بېلوي
ادب چې وسیله د پښتنو د ابادی شي
دا ستوری له اسمانه پرې ګلونه وروي

کبیر ستوری د مادې او مانا وحدت ژوندون او ماده د انسان تن او مانا یې ساه بولي.

د مادې او د مانا وحدت ژوندون دی
ماده تن دی د انسان او مانا ساه ده

ډاکتر کبیر ستوری انسان د اختیار څښتن بولي او په دې باور دی چې انسان ته خدای تعالی اختیار ورکړی او د خپلو کړو وړو مسؤل دی.

خدای اختیار ستوری انسان ته دی ورکړی
خو یې مخکې له هر کار دی خبردار

ستوری ازل ګناه ګار نه ګڼي اوباور لري چې دا حالات دي چې قسمت بدلولی شي.

ګناه د ازل نده هسې تور دی پرې لګیږي
خبره د حالاتو ده په دې که څوک پوهیږي
انسان خو د ازله بدبخت نه دی پیدا شوی
بدبخته یې حالات کړي بدقسمته شي کړیږي
چې زړه د وکه زړه نو بدلولی شي حالات
حالات چې شي بدل قسمت په خپله بیا بدلیږي

کبیر ستوری دنیا د تضادونو نه جوړه بولي او خپل ټاکلي هدف ته په رسېدو پوره باور لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د تضادو جوړه شوې دا دنیا
د رڼا وجود تورتم نه دی پیدا
دا تیارې د ژوند ورکیږي سبا کیږي
د سبا ستوری را خیږي خامخا

ستوری د خپل قومي ژوند د بدلولو له پاره د ذهن اوښتون غواړي.
اوښتون ذهني په کار دی د قامي ژوندون له پاره
چې سیاسي تاریخ ژوندی کړي نهضتونه را پیدا کړي

بل ځای وایي:
نوې وده نوی سوچ او اند غواړي
پوهه مې د سر د زړه جذبو سره پیدا کړله
رسي به منزل ته قافلې د ژوند
ستوري چې رڼا تورو تیارو سره یو ځای کړله

ډاکټر کبیر ستوری د فکر په ازادی، سوله او وروروی باندې د سر ورکولو تر پولې حاضر دی.
په سوله او وروروالی کې مې سر لاړ شي لاړ دې شي
د سوچ په ازادی کې مې سر لاړ شي لاړ دې شي

کبیر ستوری د قام د پېژند یو مهم عنصر ژبه او کلتور ګڼي. هغه قوم چې خپلې ژبې ته شا کړي او د هغې د ودې له پاره کار ونه کړي نو هغه قوم په خپله ورکیږي.
د هر قام پېژند پخپله ژبه کیږي
په برکت د ژبې قام هسک شي جګیږي
چې په خپله پښتو ژبه نه پوهیږي
ستوری څه پرې چې په سل ژبو پوهیږي
عاقبت یې ورکېده دي ستوری وایي
چې د خپل کلتور او ژبې پردی کیږي

دلته به بې ځایه نه وي چې په دې هکله د پښتو ژبې د نامتو شاعر عبدالعلي مستغني د دغه بیت یادونه وکړم.
ښه ده ښه ده چې په سل ژبو دانا یې
مګر مه کېږه نادان د خپلې ژبې
ستوری د قوم، وطن او پښتو ژبې سره بې کچه مینه لري او دا هغه څه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي چې د ده په شعري ټولګې کې زيات ځای نيسي.

د قام سره د مينې په هکله
په لفظونو يې تصوير انځوروم‌ه
څو خيالونه يې له سره زاروم‌ه
چې د قام د مينې ياد په کې خوندي کړم
خيال ته رنګ د زړه د وينې ورکوم‌ه

د وطن د مينې په هکله
ميخانه وتړه راځه د ګودر غاړې ته ځو
نشه د ميو خو کنړ د سيند اوبو کې شته دی

بل ځای وايي
څوک يورپ کې په بنګلو کې خوښ دي
د ستوري خپله پښتونخوا خوښه ده

يا
وطن باندې مين يم پښتونخوا مې معشوکه ده
په عشق کې د وطن سر ځارولو کې ثواب دی
د پښتو ژبې سره د مينې په هکله
که زما ستوري په قبر چېرې راشې
په پښتو را ته دعا کړه پرې مين يم

ډاکټر کبير ستوری د پښتو ژبې د وروسته پاتې والي پړه په خپله په پښتنو اچوي.

مونږه پښتو نه ده پاللې ملامت خپله يو
له خپل دفتره مو ايستلې ملامت خپله يو
واکمن په وينه پښتانه دي خو پښتو نه کوي
نه يې ليکلې نه يې ويلې ملامت خپله يو
ستوری په خپله مونږ پړه يو پردي ګرم مه ګڼه
پښتو په خپله مونږ ځپلې ملامت خپله يو

ما چې د کبير ستوري پاسني بيتونه ليکل نو د لايق زاده لايق دا دوه بيتونه مې سترګو ته ودرېدل چې وايي:

بل د دې به د حالاتو جبر څه وي
په خپل کور کې د پردو سندرې وايو
مونږ د مړه قوم په غوږونو کې لايقه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د غورځنګ او پاڅېدو سندرې وایو

کبیر ستوری د سولې د فلسفې پلوي کوي، د سولې نه ځان ځاروي او د زور او زیاتي دښمن دی.

د زور زیاتي دښمن دی او د سولې نه ځاریږي
بس دا یې فلسفه ده او په دې اصول چلیږي

ډاکټر کبیر ستوری هغه څه چې په خپل قام یې لوروي هغه نورو قومونو ته هم غواړي او زموږ د هېواد ټولو میشتو ورونو قومونو ته د برابرو حقوقو غوښتنه کوي.

زموږ ملک د ګڼ قامونو شریک کور دی
په دې ملک کې هر یو قام د بل قام ورور دی
د خپل شمېر په کچ حق هر قام ته په کار دی
هسې نه چې د یو تش د بل ډک شکور دی

پای

**اخځونه**


۱- کبیر ستوری، ژبساپوهنه، ۵۰ پېښور ۲۰۰۰
۲- کبیر ستوری، ژبساپوهنه، ۴۴ پېښور ۲۰۰۰
۳- کبیر ستوری، د هوښیارتیا کلتوري بې پلوه تله،۱۲ پېښور۲۰۰۴

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیکوال: محمد اقبال وزیري
هالنډ، دوردرېخت، ۲۰۰۸

د خوشال د خاورې پورته یوه لمبه شوم
بل مشال په اباسین او تاتره شوم

# د اجمل خټک د شخصیت د جوړېدو چاپېریال

شخصیت د ټولنیزو اړیکو مجموعه ده او د هر ادبي، ټولنیز او سیاسي شخصیت او په هغه جمله کې د اجمل خټک د شخصیت په سپړنه کې د هغه ژوند لیک او هغه چاپېریال چې پرې راتاو شوی دی زیات ارزښت لري. اجمل خټک د پښتو ژبې یو نامتو، ادبي، ملي، انقلابي او سیاسي شخصیت دی چې د افغانانو د شلمې پېړۍ په دوهمه نیمایي او د یوویشتمې پېړۍ د لومړی لسیزې په ادبي او سیاسي ژوند یې ژور اغېز شیندلی او په راتلونکې کې به هم زیات اثر وغورزوي. د اجمل خټک په ادبي او سیاسي شخصیت باندې هراړخېزه لیکنه په داسې چاپېریال کې چې سړی د وطن څخه لیرې او د هغه د ډېرو اثارو او د هغه په هکله د تحقیقي لیکنو څخه بې برخې وي ستونزمنه خبره ده. خو بیا به هڅه وکړم د هغه څه نه چې زما په لاس کې دي په ګټې اخېستنې سره لږ تر لږه د هغه چاپېریال، چې د اجمل خټک د استعداد او وړتیا په روزنه او وده کې یې مهم رول درلود، ځینې اړخونه لوستونکو ته وړاندې کړم.

اجمل خټک په ۱۹۲۵ کال کې د خټکو د اکوړې په کلي کې په یوې بې وزلې کورنی کې زیږېدلی دی چې لسم پښت یې خوشال بابا ته رسي. له دې کبله د خوشال بابا د وینې او ادبي بڼ یو ښکلی او زړه وړونکی ګل بوټی دی چې د هغه په رنګ او وږمو به د افغانانو ادبي بڼ تل ښایسته او د خوند نه ډک وي.

خوشال بابا په داسې وخت کې د قلم او تورې په مټ د افغانانو د ملي ازادې بخښوونکي غورزنګ لارښوونه کوله چې د هېواد ختیځه برخه د هند مغولي واکمنو لاندې کړې وه. خو اجمل خټک په داسې مهال د قلم او سیاسي مبارزې له لارې د افغانانو په ملي ازادي بخښونکي غورزنګ کې خوځنده ونډه واخېسته چې د برېتانیا امپراتورۍ د هند نیمه وچه لاندې کړې او د افغانانو د ټاټوبي ختیځه برخه یې د ډېورنډ د تش په نامه کرښې په ذریعه د هېواد د وجود څخه بېله کړې وه. اجمل خټک لومړی د هند د نیمې وچې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ازادۍ له پاره د انګرېزانو پر ضد او بیا د پاکستان د جوړېدو وروسته د پاکستان د مظلومو قومونو پر ضد د پنجابي واکمنو د زور او زیاتي او هم د افغانانو د خاورې د بیا یوځای کېدو په موخه د مبارزې ډګر د قلم او سیاسي مبارزې له لارې تود او ګرم وساته.

د اجمل خټک د شخصیت په سپړنه کې یو د هغه طبیعي استعداد او وړتیا ده چې د هغې پرته څوک شاعر، د هنري ادب لیکوال او هنرمن کېدای نه شي. خو که طبیعي استعداد او وړتیا ونه روزل شي، وده ونه کړي نو د مېنځه ځي. د خواښینی ځای دی چې زموږ په ټولنه کې چې بې سوادي او بې وزلي یې لمن نه خوشې کوي ډېر استعدادونه او وړتیاوې د خاورو لاندې شوې دي. خو د ښه مرغه د اجمل خټک د استعداد او وړتیا د روزنې او ودې له پاره ټاکلی چاپېریال موجود و چې د ده «قیصه زما د ادبي ژوند» او « قیصه زما د سیاسي ژوند» اثارو کې چې د لومړي کتاب لومړی ټوک چاپ شوی او دوهم ټوک او دوهم کتاب یې تر چاپ لاندې دي لوستونکو ته به د یوې خوا د هغه چاپېریال په هکله چې د اجمل خټک د طبیعي استعداد او وړتیا د روزنې او ودې له پاره موجود و پوره مواد په لاس ورکړي او د بلې خوا به د لرې او برې پښتونخوا د شلمې پېړۍ د دوهمې نیمایي او یوویشتمې پېړۍ د لومړی لسیزې د ادبي او سیاسي بهیر د نېټه لیک په روښانه کولو کې مهم رول ولوبوي.

اجمل خټک په کوچنیوالي کې د اکوړې خټکو په کلي کې د یو شمېر ځوانانو او سپین ږیرو لکه هاشم بابا او په ځانګړې توګه د هغه کلي ملک محمدزمان خان بابا چې « یو ښه عالم، فاضل، ادیب او شاعر هم و» او د هغه سره د ناستې او ولاړې له کبله یې «د قبیلوي سیاست، علم، ادب او حکمت مجلس نصیب شو» او نورو په کړی کې واقع و چې د ده د فطري استعداد او وړتیا په روزنه او وده کې ښه رول لوبولی دی.

همدارنګه اجمل خټک د خپل پلار له خوا د اکوړې د کلي جومات ته د دیني زده کړو له پاره بوتل شو. نوموړي په جومات کې د زده کړې په یون کې د یوې خوا د فارسي نظم د کتابونو سره اشنا شو چې د نورو زده کوونکو له خوا د فارسي ژبې د نظمونو د لوستلو په وخت کې به یې د نظم او وزن خوند په ذهن اغېز شینده او د بلې خوا د خپلې ترور د اغېزې لاندې چې د خپل کلي نجونو ته یې د پښتو ژبې کتابونه لکه نوم نامه، وفات نامه، فالنامه، جنګ نامه او رشیدالبیان لوستل او اجمل به ورسره ناست و او دا کتابونه به یې د هغې څخه زده کول او بیا به یې په خپله او هم به یې په حجره کې نورو کسانو ته لوستل، د پښتو نظم او شعر یې په ذهن کې انځورېده چې د هغه شعري استعداد او وړتیا د روزنې او ودې باندې خپل اغېز او اثر اچاوه.

د اجمل خټک د ادبي استعداد په وده او روزنه کې د پښتو ژبې کلاسیک

(c) ketabton.com: The Digital Library



شعر او ادب او په ځانګړې توګه د خوشال بابا، رحمان بابا او نورو شاعرانو د شعرونو د دیوانونو لوستل هم اغېز درلود.

اجمل خټک د جومات د زده کړې وروسته د اکوړې خټک د ښوونځي په دوهم ټولګي کې شامل شو او د دې ښوونځي د سرته رسولو وروسته د خپل لیاقت او پوهې له کبله د پېښور په ګورنمنټ هايي سکول کې ومنل شو چې لږ وروسته د سیاسي فعالیت له کبله د دې ښوونځي څخه وایستل شو. د بده مرغه د دغه لایق او پوه زده کوونکي د زده کړې یون پرې شو او د ده د اکاډمیکو زده کړې جریان یې ډب کړ. که څه هم وروسته ده خپلې لوړې زده کړې پای ته ورسولې او په فارسي ژبه کې یې د ماسټرۍ ډیپلوم واخېست. اجمل خټک د زده کړې د ډب کېدو وروسته د خپلې کورنۍ د ساتنې او یوې خولې ډوډۍ د پیدا کولو له پاره د ښوونکي دنده پیل کړه چې دی یې «د مطالعې ، فکر، او تجربې دور» بولي چې د ده « په فکر او عمل، ژوند او مستقبل یې ډېر اغېز» کړی دی. ده د ښوونکي په څېر په ښوونځیو کې د «لوبو،ادب او ثقافت سرګرمو» کې هم خوځنده ونډه واخېسته.

د اجمل خټک د ادبي او شعري استعداد او وړتیا په روزنه او وده کې د پښتو ژبې بډای فولکلور ډېر رول درلود. د پښتو فلکلوري کیسي لکه ادم خان درخانی، بهرام شهزاده، لیلی مجنون، موسی خان ګل مکی، فتح خان محبوبه، چهاردرویش او نور به یې په حجرې کې خلکو ته لوستل او همدارنګه د پښتو ژبې لنډۍ، متلونه، ضرب المثلونه او نور د ده د شعري استعداد او وړتیا په روزنه او وده کې زیات رول درلود. پښتو ژبه چې د خپل طبیعت له مخې سندریزه ژبه ده او د دې ژبې په فولکلور کې لنډۍ چې د نړۍ په ژبو کې یوازې د پښتو ژبې د خلکو د ادب ځانګړې پانګه ده او د پښتنو د ژوند بېل بېل اړخونه په کې انځور شوي دي په پښتنو کې د شاعر کېدو له پاره یوه اغېزمنه شتمني ده. افغان نامتو تاریخپوه پوهاند ډاکټر محمد حسن کاکړ په یوې مقالې کې چې «پښتو د شعر ژبه ده» لیکي: «لنډۍ چې پښتو یې شاید بې جوړې ژبه ګرزولې وي په شاعر کېدو کې اساسي ونډه لري.» اجمل خټک «دافغان ننګ » کتاب کې «که پښتون د وطن نه ورک شي هم پښتون دی» کیسه کې لیکي چې: «او رښتیا خبره ده چې پښتون د خپل وطن نه ورکېدای شي خو د وطن مینه د هغه د وینې نه ورکېدای نه شي او په دغه لنډۍ یې پای ته رسوي.»

زما به خپل وطن یادیږي،<br>
که د جنت په منارو ولاړه یمه!

د اجمل خټک د شعري استعداد او وړتیا په روزنه او وده کې د پښتونخوا ښکلي طبیعت او زړه وړونکې منظرې ځانګړی اغېز لري. د پښتونخوا ښکلی طبیعت په سړي کې د وطن سره د مینې احساس را پیدا کوي. د

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتونخوا د طبیعت ښکلا د پښتو ژبې په بهیر کې تل موجوده وه. ستر احمدشاه بابا د پښتونخوا ښکلا د ډهلي تخت څخه زیاته بلله.

د ډیلي تخت هېرومه چې را یاد کړم
زما د ښکلي پښتونخوا د غرو سرونه

د اجمل خټک له پاره د پښتونخوا غرونه، ځپاند سیندونه او ابشارونه، ښکلې هوارې دښتې، په غرونو، درو او دښتو کې د شپنو د دروو او شپلیو د زړه وړونکو نغمو انګازې، د الوتونکو زړه وړونکې سندرې، د دنګو او جګو غرونو په هسکو څوکو د سپینو واورو ځلا، د شنو ځنګلونو د ونو شنهار، د اباسین د سیند د څپو زوږ، د امیرو د کلي ښکلي منظره، د پښتنو پېغلو د ګودرونو مېلې او د منګیو ټنګار او نورو ده ته « د تفکر، تخیل، مطالعې، تلاش اوپرواز ولولې» ورکولې.

د اجمل خټک په ادبي او سیاسي شخصیت په روزنې او ودې باندې عوامي مېلې چې د ده په وینا «هنري رنګ یې درلود»، د شاعرانو سیالی، د خدایي خدمتګاری د استعمار ضد ملي ازادي بخښونکي غورزنګ، د هند د نیمې وچې د ازادۍ ملي غورزنګ ستر مبارز او د پښتنو مشر خان عبدالغفار خان مبارزې او د هغه هراړخېز شخصیت، د بېلو بېلو ادبي ټولنو منځ ته راتګ او د هغوی فعالیت، د خوشال بابا، رحمان بابا او نورو لیکوالو په قبرونو او د پښتونخوا په مختلفو سیمو کې د شاعرانو مشاعرې چې د هغه وخت وتلو شاعرانو به په کې ګډون کاوه زیات اغېز درلود. اجمل د پښتو ژبې د غزل پلار حمزه شینواري دې خبرې ته کلکه پاملرنه وکړه چې ورته ویلی یې و: «هر شعر یو فکر معنی او نظر هم لري». اجمل وایي: « بیا ما تشو الفاظو تړلو ته شاعري نه ویله، بلکه یو فکر، نظر، معنی، خیال، واقعه او منظر په ښکلي، فنکارانه او اثرناکو الفاظو کې بیانول راته شعر ښکارېدو».

اجمل خټک د خپل سیاسي فعالیت په جریان کې څو ځله بندي شو . اجمل خټک د جېل سخت چاپېریال په خپل کتاب کې «دا زه پاګل وم؟» ډېر په ییناز (هنر) انځوروي چې د ده د هنري نثر یوه روښانه بېلګه ده . نوموړی په جېل کې د بېلو بېلو سیاسي شخصیتونو سره لکه خان امیر محمد خان بلد شو چې د هغوی د پوهې او د ژوند د تجروبو څخه یې ګټه پورته کړه. دی په جېل کې د یوه انګرېز نظربند سره هم اشنا شو چې د ده سره یې د انګلیسي ژبې په زده کړې او همدارنګه د نړۍ د ستر انګلیسي لیکوال شکسپیر ډرامې په لوست کې مرسته کوله. په دې ترتیب اجمل خټک د پښتو، فارسی او اردو د ادب برسېره د نړیوال ادبي بهیر سره بلدېږي چې د ده د تجربې ژورتیا او پوهې د پراخوالي سره مرسته کوي.

همدارنګه اجمل خټک ته په جېل کې د میا شاهین په ذریعه د مترقي

(c) ketabton.com: The Digital Library



اثارو د لوستلو زمینه برابریږي. خو د یوه پوه پښتون خان امیرمحمد خان لالا دا پند تېنګ په غوږ کې نیسي چې ورته ویلي یې و: «یوه خبره مې واورئ چې دا کتابونه لولی نو د خپل قوم حالت نظر کې ساتی» او اجمل خټک په دا خبره ټینګ عمل کوي: «د ده دا وینا ماته د عمل سبق شوه».
اجمل خټک د بند څخه د ایله کېدو وروسته هم د استخباراتو تر څارنې لاندې و او دی خپل احساس په دې هکله داسې بیانوي: «په دې خپله ازاده، اباده، پراخه او رنګینه دنیا کې دا احساس راکولو چې زه ازاد نه یم او دا هغه احساس و چې زما شعر کې یې د ازادی روح او ولولې را بیدارولې.

ما د خپل زړه ته سر وربښکته کړلو
ده په اوترو سترګو بره کتل
دې شین اسمان ته غورېدو ویل یې
ما اورېدل ترې دا یو څو لفظونه
ویل یې اې د لا مکان خاونده
په خپل مکان کې خپل اختیار جنت دی
ګني د دغه لېونتوب په نامه
که نار وي نار که دار وي دار جنت دی

د اجمل خټک د ادبي او سیاسي شخصیت په جوړېدو کې د پېښور په راډیو کې د هغه پنځه کلن چوپړ هم ټاکلی رول درلود. په دغه دوره کې ده د شعر برسېره ډرامې، افسانې (کیسې) ولیکلې او همدارنګه د یوه تکړه ژورنالست په توګه هم وځلېد. پښتو ژبه یې د ډرامې او ادبي نثر په ګاڼه نوره هم سینګار کړه.
اجمل خټک د هندوستان د ترقي خوښوونکو لیکوالو ټولنې سره اړیکې ټینګې کړې او د دې لارې د هغه وخت د مترقي ادب د یو شمېر نامتو لیکوالو، شاعرانو، سیاسي شخصیتونو لکه فارغ بخاري، خاطر غزنوي او نورو سره پېژندګلوي پیدا کړه چې د ده د فکر او تجربې په ژوروالي او پراخوالي کې یې ځانګړی اغېز درلود.
د اجمل خټک د ادبي او سیاسي شخصیت په جوړولو کې د برې او لرې پښتونخوا ترمنځ ادبي بهیر چې د داود خان د صدارت په وخت کې د غلام حسن صافي په هاند چې په پېښور کې د افغان قونسل په توګه دنده اجرا کوله، چلېده او د پښتنو لیکوالو، شاعرانو اونورو ترمنځ اړیکې پراخې او ژورې شوې چې د اجمل په وینا «د پښتو د ادب په بڼ کې ادبي او سیاسي وږمې په تېزی سره چلېدل شروع » کړل خپل اغېز اچاوه.
اجمل خټک افغانستان ته په خپلو سفرونو کې د برې پښتونخوا د نامتو لیکوالانو، شاعرانو، ټولنیزو، سیاسي شخصیتونو او روښنفکرانو لکه محمد ګل خان مومند، عبدالرؤف بېنوا، صدیق الله رښتین، غلام حسن صافی،

(c) ketabton.com: The Digital Library



نورمحمد تره کي، قیام الدین خادم، غلام محمد فرهاد، سلېمان لایق، میراکبر خیبر، حفیظ الله امین، صدیق پسرلی، عبد الله بختانی، نصرالله حافظ، سېلاب ساپی او نورو سره لیدنې اوکتنې وکړې او اړیکې یې ورسره ټینګې کړې. اجمل خټک افغانستان ته د لومړي سفر په هکله داسې لیکي: «دا جذبه او بیداري نو دلته زوړ سیاسي چوکاټ کې نشي پاتې کېدای ... افغانستان کې بدلون راروان دی ... حقیقت دا دی چې موږ د کابل نه پس تلو نو د نوي جوش نوې ولولې او نوي جرأت سره واپس شوو چې هغه زموږ په ژوند او ادب کې ښکاره دي». په دې ترتیب د ده ملي احساس، د ازادی روح او د زیارکښ انسان سره مینه او همدردي پخیږي چې د «غیرت چیغه» او «ګل پرهر» یې وزیږول.

اجمل خټک د ذوالفقار علي بوټو د زور او زیاتي او ظالمانه کړو وړو له مخې اړویستل شو چې خپل پلرنی ټاټوبی پرېږدي او افغانستان ته لاړ شي. په افغانستان کې ده ډېر وخت تېر کړ. فکر کوم هغه چاپېریال چې اجمل خټک په کې ژوند کاوه دهغه د کتاب «قیصه زما د ادبي ژوند» په دوهم ټوک او « قیصه زما د سیاسي ژوند» کې به انعکاس ومومي. خو دومره باید ووایم چې په افغانستان کې د ده د اوږدې مودې شته والی او هغه تجربه چې د افغانستان د وروستیو درې لسیزو غمجنو پېښو څخه یې لاس ته راوړې ده د نوموړي په ادبي او شعري جوړونو کې یې اغېز څرګند دی.

اجمل خټک په افغانستان باندې د شوروي وسله وال یرغل وروسته د درملنې له پاره شوروي اتحاد او یو شمېر د ختیځې اروپا هېوادو ته سفر وکړ. په دغه سفر کې ده د شوروي اتحاد او ختیځې اروپا د هېوادو ځینې مهم ښارونه ولیدل. په دغو ښارونو کې نوموړی د دغو هېوادو د خلکو د ژوند سره، چې د افغانانو پرتله ډېر ښه و اشنا شو. اجمل چې د دغوخلکو سوله ایز ژوند، ښکلي ښارونه ، ښایسته او زړه وړونکې طبیعي منظرې، د ځوانانو ښکله او ښایست، مینه او نور ولیدل او هغه یې د خپل وطن د خلکو د ستونزمن ژوند سره پرتله کړل نو د ده غوندې حساس شاعر باندې بې اغېزې پاتې نه شو او «ګلونه تکلونه» یې را وزېږوه.

ماحول له مینې ډک دی جنان خاندي ګل موسیږي
د زړه په باب مې شعر لکه پرخه راوریږي
په دې ښکلې فضا کې چې هم حسن شته هم مینه
رباب که دلته کېږدي نو په خپله به ټنګیږي

اجمل خټک د وطن څخه لیرې په ښکلې او اباده اروپا کې خپل ملي ارمانونه، د خپل ټاټوبي او خلکو سره ژوره مینه هېر کړې نه دي او دا احساس ورسره دی چې یوه ورځ به داسې هم راشي چې افغانان هم د داسې ژوند خاوندان شي چې هلته جګړه نه وي، مینه، ورورولي او ملي یووالی

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي، خپل رنګ هېواد بیا اباد او نورې دنیا سره د سیالی جوګه شو.

خټکه دا ورې د وسوسو خبرې پرېږده
وختونه د دنیا په لوی میدان کې د سیالۍ دي

اجمل خټک په مهاجرت کې د افغانانو ډېر ربړوونکي او د ستونزو ډک ژوند ډېر ځوروي چې دوی د مهاجرت په وخت کې ورسره لاس په ګرېوان و. اجمل خټک په هغو غیر انساني سختو شرایطو کې د افغانانو غیرت، عزت نفس، ننګ، د ستونزو په وړاندې د دوی ټینګه اراده، ناموس ساتنه او نورو څخه ډېر متاثر شوی چې د ده د «افغان ننګ» د کتاب په ډېرو کیسو کې په ډېر بینار(هنر) سره انځورشوي دي. زه باور لرم چې د اجمل خټک په ادبي او سیاسي میراث باندې به ادب پوهان، لیکوالان او کره کتونکي کار وکړي او د اجمل خټک ځای به د افغانستان په ادبي او سیاسي تاریخ کې وټاکي.

پای

په دې مقاله کې د لاندې کتابو او مقالو څخه استعفاده شوې ده:
۱-: اجمل خټک :قیصه زما د ادبي ژوند
۲-:اجمل خټک : د غیرت چیغه
۳-: اجمل خټک : ګلونه تکلونه
: اجمل خټک : د افغان ننګ
۵-: عابدالله جان عابد :اجمل خټک : شخصیت اور فن
۶-: غني او اجمل : د مقالو مجموعه ،د قامونو او قبایلو وزارت ۱۳۶۵
۷-:پوهاند دوکتور محمد حسن کاکړ : مقاله، «پښتو د شعر ژبه ده»، د پښتونخوا د انټرنټ سایټ څخه

لیکوال: محمد اقبال وزیري
هالنډ، دوردریخت، ۲۰۰۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



«خټکه» تا چې په پښتو کې شاعري شروع کړه
یوه سره لمـــــبه د را پیدا کړه د کلام په شفق

# د اجمل خټک سره زما پېژندګلوي

زه د خوشال د لیسې د څلورم ټولګي زده کوونکی وم چې یوه ورځ مازدیګر د دې لیسې د مدیریت له خوا اعلان وشو چې د دې لیسې زده کوونکي دې د لیلې په غولي کې راټول شي. په اعلان کې دا وویل شول چې اجمل خټک راځي او د دې لیسې د زده کوونکو سره ګوري.

هغه وخت د خوشال د لیسې زده کوونکي د بابر بڼ په تاریخي ودانۍ کې اوسېدل. موږ د اعلان د اورېدو سره سم په بیړه د دې لیسې په غولي کې سره راغونډ شوو او د اجمل خټک راتګ ته سترګې په لاره وو . تر هغه ځایه چې ماته په یاد دي دا ګړی لمر لوېدلی و او نږدې ماښام و چې اجمل خټک د لیسې د مدیر تاج محمد وردګ، یو شمېر ښوونکو او مېلمنو په منځ کې د لیلې د ودانۍ غولي ته راننووت او د خوشال خان د لیسې د زده کوونکو له خوا یې تود هرکلی وشو.

بیا د ستېژ د سر څخه یوه زده کوونکي اعلان وکړ چې اوس د پښتو ژبې انقلابي شاعر ښاغلی اجمل خټک تاسو ته خپل شعر اوروي. اجمل خټک د درنو لاس پړکه په زوږ کې د ستېژ سر ته وخوت. هغه یو ځوان زلمی و چې دنګه نری ونه یې درلوده، پر مخ یې د ږیرې تور نری خط لیدل کېدو او توره ښکلې لنګی یې په سر کړې وه. اجمل خټک په ډېر جوش او خروش سره خپل شعر د دې لیسې زده کوونکو ته واوراوه چې په تودو او ګڼو لاس پړکه سره بدرګه شو.

اجمل خټک د ستېژ څخه د دې لیسې د زده کوونکو د تودو او د مینې ډکو ولولو د څرګندولو په زوږ کې را ښکته شو او د ملي اتڼ د کتلو نه وروسته د لیسې د مدیر، ښوونکو او زده کوونکو په بدرګه د ښوونځي د دروازې څخه ووت او اوس مې هم د هغه د څېرې انځور په ذهن کې نقش دی. په همدې ورځ مې د لومړي ځل له پاره اجمل خټک ولید، د هغه نوم او د هغه په اواز کې مې د هغه شعر واورېد. په دې توګه د اجمل خټک نوم، لیدنه او د هغه شعر اورېدل زما له پاره همزولي دي.

بیا مې اجمل خټک په ۱۳۴۵ کال په کابل کې ولید چې د پښتنو د ستر شاعر او ملي مبارز خوشال بابا د مړینې د ۲۸۶ تلین د نمانځنې په علمي سیمینار کې د ګډون له پاره کابل ته راغلی و. دغه سیمینار ته د اجمل خټک برسېره د پښتو ژبې د غزل پلار حمزه شینواری، سید رسول رسا، پریشان خټک او نور د لرې پښتونخوا څخه راغلي وو. همدارنګه د پخواني شوروي

(c) ketabton.com: The Digital Library



اتحاد ځخه ن. ا. دوریانکوف او عثمانوف ته هم بلنه ورکړ شوې وه چې په دغه علمي سیمینار کې ګډون وکړي. ن. ا. دوریانکوف د روغتیايي ستونزو له کبله کابل ته رانغی خو سیمینار ته یې لیکنه رالیږلې وه .عثمانوف کابل ته راغلی و او خپله مقاله یې ولوستله.

دا ځل مې اجمل خټک د خپلو ملګرو سره یو ځای ځو واره ولید او د نږدې ځخه مو سره وپېژندل. زه نوی د خوشال د لیسې ځخه فارغ شوی وم او د لوړو زده کړو له پاره شوروي اتحاد ته روان وم. دا وخت ما د اجمل خټک د «غیرت چیغه»، د غني خان د« غني پلوشې» لوستې او د لرې پښتونخوا د ځینو نورو شاعرانو د شعرونو سره لږ لږ اشنا وم.

اجمل خټک اوس زموږ له پاره نه یوازې یو ملي، مترقي او انقلابي شاعر و چې په خپلو شعرونو کې یې د پښتنو د ازادۍ، د افغانانو د ټوټو شوې خاورې د بیا یوځای کېدو، د ملي یووالي او د پښتنو د مظلومو او بېوزلې پرګنو د ستونزمن ژوند بېل بېل اړخونه انځورول، بلکه یو سیاسي پېژندل شوی شخصیت هم و. اجمل خټک په دغه سیمینار کې خپل شعر «ملګرو ته» په ډېر جوش سره ولوست چې د سیمینار د ګډونکوونکو د تودو او ګرمو احساساتو په ځرګندولو سره بدرګه شو او د هغه وروستی مصرع مې اوس هم په ذهن کې پاتې ده.

زما شعرونه به ګلونو سرې لمبې درکړي

زه فکر کوم چې د اجمل خټک شعرونه او نورې ادبي جوړونې د افغان ځوانانو په ویښولو، بیدارولو او انقلابي مبارزې ته په هځولو کې زیات رول لوبولی او په راتلونکې کې به یې هم ولوبوي.

اجمل خټک مې بل ځل په ۱۳۴۸ کال کې چې د مسکو ځخه په رخصتی راغلی وم په پېښور کې ولید. په پېښور کې مې درې ورځې د نېشنل عوامي پارټۍ په دفتر کې ورسره تېرې کړې او د بېلو بېلو مسلو او په هغه جمله کې د افغانستان د خلک دموکراتیک ګوند کې د خلق او پرچم د بېلتون په هکله هم خبرې وکړې او د هغه په نظر مې ځان پوه کړ.

په ۱۳۵۲ کال کې مې په شوروي اتحاد کې خپلې زده کړې د مسکو په دولتي پوهنتون کې پای ته ورسولې او کابل ته راستون شوم. دغه وخت د پښتنو د مشرانو پر ضد د ذولفقار علي بوټو د حکومت د ناوړه چلند له مخې اجمل خټک مجبور شوی و چې خپل مورنی ټاټوبی پرېږدي او کابل ته لاړ شي. په کابل کې مې زیات وخت د اجمل خټک سره لیدل او کورنی تګ راتګ مو سره درلود. زه د ۱۳۵۸ د جدي په شپږمه نېټه په افغانستان باندې د شوروي اتحاد د وسله وال یرغل سره جوخت بندي شوم. زما د بند په ټوله موده کې اجمل خټک زما د کورنۍ او بچیانو پوښتنه کړې، مرسته او خواخوږي یې ورسره کړې او زه یې په زیاتې مننې سره یادوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اجمل خټک د ډېرو کلو وروسته د ځینو سیاسي مجبوریتونو له امله د هند له لارې بېرته پلرني ټاټوبي ته راستون شو. زه چې د اوږدې مودې د بند څخه ایله شوم بیا به اکوړې ته د ده د لیدو له پاره تلم او د افغانانو د پرابلمونو په هکله به یو د بل سره ږغېدو تر څو هالند ته راغلم.

په ۲۰۰۷ کال کې د خپل کتاب «د ثور پاڅون، د کې جي بي دسیسي او شوروي یرغل» د چاپولو له پاره پېښور ته لاړم بیا مې اجمل خټک دوه ځله په داسې حال کې ولید چې ډېر ناروغه و خو د دې باهمته سپین ږیري اراده تر پخوا لا ډېره کلکه او ټینګه وه او د افغانانو د ټوټې شوې خاورې د بیا یوځای کېدو او د دوی د ملي شعور د ویښتیا او ملي یووالي په موخه یې د لیکنو او عملي سیاست په ډګر کې د خپلو هیلو او ارمانونو د پلي کولو له پاره خپل ګرم او مهربانه زړه په سینه کې ټوپونه وهل.

یاداښت: د دې لیدنې وروسته مې په منظم ډول ټیلیفوني اړیکې ورسره ساتلې. د ده د ژوند په وروستي کال مې د کوچني اختر په ورځ ټیلیفون ورته کړ چې د اختر مبارکي ورته ووایم. ټیلیفون یې نږور واخېست او راته وویل چې بابا ویده دی او غږېدی نه شي او د ستا د اختر مبارکي به ورته ووایم. یو ساعت وروسته دټیلیفون زنګ راغی چې غوږ ئ مې واخېسته ایمل خان د اجمل خټک زوی د اختر مبارکي راته وویله او وویل چې بابا مې غواړي چې درسره وغږیږي. اجمل خټک وو یل چې اقباله زه ښه یم. دا د ده اخېرنی خبره وه چې ماته یې په ټیلفون کې وکړه. په لوی اختر کې مې بیا ټیلیفون ورته وکړ. نږور یې ټیلیفون واخېست او وویل چې بابا خبرې نه شي کړای. څه وخت وروسته د خیبر په ټلویزیون کې دا بیړنی خبر خپور شو چې د پښتو ژبې ستر شاعر او سیاسي شخصیت اجمل خټک د فاني نړۍ نه سترګې پټې کړې. روح دې ښاد وي!

پای

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیکونکی: محمد اقبال وزیري
د اپرېل میاشت ۲۰۱۱

# افغانستان څنګه د دې وضعې نه وتلای شي؟

دا د محترم پير محمد باوري پوښتنه ده چې د يو شمېر افغانانو مخې ته يې ايښې وه او زما نه يې هم هيله وکړه چې په دې اړه خپل نظر ورواستوم.
دا يوه اساسي او ډېره مهمه پوښتنه ده تر څو افغانان او په تېره پښتانه دې پوښتنې ته يو علمي ځواب ونه مومي نو د خپلو ستونزو په حل کې به پاتې راشي. دا ډېره پېچلې موضوع ده او ژوره څېړنه غواړي. لومړی باید هغه لاملونه په ګوته شي، چې زموږ ټولنه يې د دې ستونزو سره مخامخ کړې ده، بيا هغه لارې چارې ولټول شي، چې زموږ د هېواد د ستونزو د حل له پاره تر ټولو اغېزمنې وي تر څو د دې شونتيا ومومو، چې په چټکی سره خپله ټولنه د دې وضعې نه وباسو. زه به په لنډ ډول د دې مهمې او حياتي موضوع په هکله خپل نظر وړاندې کړم.
زموږ هېواد په خپل تاريخ کې د يوې خوا د خپل حساس جيوستراتيژيک او جيوپوليټيک موقعيت له مخې زيات وخت د پرديو يرغلګرو او نيواک ګرو لکه لوی سکندر، چنګېزخان، سترې برېتانيا، تزاري روسيې بيا شوروي اتحاد او نورو د تېريو او يرغلونو او د بلې خوا د خپل منځي جګړو، تربوريو او ګونديماريو ډګر ګرځېدلی دی. له دې کبله زموږ د هېواد سياسي تاريخ ډېر ډيناميک، ډېر ورانوونکی او لږ ودانوونکی دی.... له ويدي دورې راهيسې دغه هېواد د خونړيو جنګونو ډګر شوی ... چې په بهير کې يې ورانۍ ډېرې او ودانۍ لږ شوې او دغه لږ ودانۍ هم، چې د سمندرې لارو د موندلو نه د مخه په ځينو سيمو کې شوې وه د باندينيو يرغلګرو له خوا ونړول شوه.۱
په دې لړ کې زموږ په هېواد باندې د چنګېزخان تړاکونه ډېر ورانوونکي وو. (د چنګېز په تاړاکونو سره د اباد افغانستان ډېر ښاري مرکزونه په کنډوالو بدل شول، د کرنې سيستم يې تر ډېره حده پورې وران شو، د وګړو ډېره برخه يې تباه شوه او له پاتې ژونديو نه ډېرو يې د سلېمان غرو درو ته کډه وکړه. په دې ډول افغانستان په خپل ډېر اوږده تاريخ کې د لومړي ځل له پاره په يوه ستر معلوم مصيبت واوښت. په دغه حال کې له ديارلسمې پېړۍ نه تر اتلسمې پېړۍ پورې د افغانستان تاريخ د پرديو تاريخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



شو که څه هم په شپاړسمه پېړۍ کې پیر روښان او په اوولسمه پېړۍ کې خوشال خان ختک، ایمل خان مومند او دریا خان اپریدي د مغولو په برابر کې د خپلواکۍ د ګټلو په لار کې په ټینګه پر له پسې مبارزې وکړې خو په پای کې ټول نابریالي شول).۲

د اتلسمې پېړۍ په لومړۍ نیمایي کې افغانانو لومړی د میرویس نیکه په مشرۍ په کندهار کې د لومړي افغان دولت بنسټ کېښود او بیا د ستر احمدشاه دراني په سروالۍ یې د امو او اباسین تر منځ هېواد کې خپلواک دولت جوړ کړ، چې بیا په سیمه ایزه امپراتورۍ واوښت.

خو د بده مرغه په همدغه وخت کې د یوې خوا انګرېزانو په هند کې د حتیځ هند د کمپنۍ په وجود کې خپل نفوذ ته پراختیا ورکوله او د بلې خوا تزاري روسیې د سوویل لوېدیز او سوویل په لوري خپل پرمختګ ته دوام ورکاوه. د نولسمې پېړۍ په اوله نیمایي کې د سوویل لوېدیز او لوېدیز په لور د تزاري روسیې پرمختګ د انګرېزانو ګټې په هند او مدیتراني کې په خطر کې واچولې او د دوی تر منځ ستره لوبه پیل شوه. چې مرکز یې زموږ ګران هېواد افغانستان وګرځېد.

د نولسمې پېړۍ په اوږدو کې افغانانو د یوې خوا د دغو دوو سترو اروپایي امپراتوریو تر منځ د سترې لوبې د سیالۍ او د بلې خوا د احمدشاه بابا د لمسیانو، د سدوزیو او محمدزیو او بیا د بارکزیو ورونو تر منځ د تخت او تاج په سر د کورنیو جګړو او نادریو له امله ګام په ګام نه یوازې د خپلې امپرتورۍ د خاورې هغه برخې ، چې د نورو څخه یې نیولې وې، بلکې د امو او اباسین تر منځ د خپل هېواد ځینې برخې هم د لاسه ورکړې.

په دغه پېړۍ کې د انګرېزانو، روسانو او ایرانیانو تېري، دسیسې او لمسونې او هم د افغانانو کورنۍ بې اتفاقۍ د دې سبب شوې، چې د افغانستان یو شمېر برخې د پنجدې په شمول روسان، یو شمېر برخې د افغاني سیستان د یوې برخې په شمول ایرانیان او یو شمېر برخې لکه سند، پنجاب، کشمیر، بلوچستان، غازي خان دېره، اسماعیل خان دېره او پېښور انګرېزان ونیسي. د دې وروسته انګرېزانو لومړۍ او دوهمه افغان-انګلیس جګړې په افغانانو وتپلې. بیا یې په (۱۸۹۳ ز) کال کې په افغانستان باندې د ډیورنډ د کرښې په تپلو سره د پښتون تر منځ بیلتون راوست او زموږ لرغونی هېواد یې ټوټې کړ، چې د افغانستان په راتلونکي سیاسي، اقتصادي، کلتوري او ټولنیزې ودې یې ډېر ناوړه اغېز وکړ.

د شلمې پېړۍ په پیل کې د لومړۍ نړیوالې جګړې په جریان کې په ۱۹۱۷ کال کې په روسیه کې د اکتوبر انقلاب بریالی شو او نړۍ په دوو متضادو سیستمونو ووېشل شوه او سترې لوبې په بله بڼه دوام وموند.

په ۱۹۱۹ کال کې افغانانو د امان الله خان په مشرۍ د انګلیسانو څخه د افغانستان د یوې برخې ازادي وګټله. امان الله خان د افغاني ټولنې د مدني

(c) ketabton.com: The Digital Library



کولو او عصري کولو له پاره د بنسټیزو او پراخو سمونو پلي کولو ته ملا وتړله . خو امان الله خان د یوې خوا د ساتنپالو، روحانیونو او جمهوریت غوښتونکو د دسیسو او د بلې خوا د دوو سترو امپراتوریو د سترې لوبې د سیالۍ له امله واک وبایله.

د دوهمې نړیوالې جګړې وروسته د افغانستان ګاونډیو ایران او پاکستان په لوېدیز ډډه ولګوله او د هغوی د ستراتیژیکو پلانونو سره یې ځانونه اعیار کړل، د دوی سره یې په پوځي تړونو کې ګډون وکړ، د هغوی پراخه همکاري یې ترلاسه کړه او زموږ د هېواد پرتله یې په بې ساري توګه پرمختګ وکړ. خو زموږ هېواد شوروي اتحاد ته په نږدې کېدو او هم د بې پرې سیاست له امله د خپلو ګاونډیو نه ډېر وروسته پاتې شو. دغه وروسته پاتې والی د افغانستان شته والی او پایښت د ګواښ سره مخامخ کړ او زموږ ګاونډیان په دې فکر شول، چې افغانستان لاندې کړي.

په دې لړ کې شوروي اتحاد د (۱۳۵۹ ه) کال د جدي په شپږمه نېټه په افغانستان وسله وال یرغل وکړ او زموږ هېواد یې ونیو. د شوروي اتحاد سره د جګړې په پایله کې نږدې یو نیم ملیون افغانان ووژل شول، نږدې پنځه ملیونه افغانان د نړۍ په ګوټ ګوټ کې مهاجرت ته اړویستل شول او هېواد په کنډواله بدل شو. خو په پایله کې د افغانانو د سترو سربښندنو او د هغوی سره نړیوال پراخ ملاتړ روسان اړ کړل، چې خپل وسله وال ځواکونه د افغانستان څخه وباسي.

د افغانستان په تباه کولو کې د شورویانو نه وروسته د پاکستان او ایران رول ډېر ستر و. پاکستان او ایران او په دوی پورې تړلي اسلامي ګوندونو له لارې د افغانستان په چارو کې پوره لاس بري شول او د افغانستان خپلواکي یې د ګواښ سره مخامخ کړه. ایران خو ډېر لا د مخه د پښتنو سیاسي ناتوان کولو له پاره متې را نغړلي دي او پاکستان خو د شوروي د یرغل وروسته د افغانستان د لاندې کولو په منظور د ستراتیژیکې ژورتیا پلان جوړ او تر لاس لاندې ونیو. په دې ترتیب زموږ ګاونډیو روسیې، پاکستان او ایران او نورو په خپلو لاس وهنو سره د افغانستان کورنۍ جګړه اوږده کړه، زیات افغانان یې د مرګ خولې ته ورکړل او د افغانستان د لاندې کولو هڅې یې ګړندۍ کړې.

د افغانستان د لاندې کولو په موخه د دغو ټولو هېوادونو هڅې د افغانستان د جوړولو او ساتلو اساسي ځواک یاني د پښتنو کمزوري کولو ته متوجې وې او دي. په معاصر مهال کې د پښتنو پر ضد دسیسه لومړی انګرېزانو جوړه کړه او د ډیورنډ د کرښې په تېرولو سره یې د دوی تر منځ بیلتون راوست. د شورویانو او د دوی د مریانو دسیسه دا شوه چې لږکي د پښتنو په وړاندې جګ کړي. دا دسیسه اول په وړه پیمانه اول ایران شروع کړه او د اسلامي تنظیمونو په وخت کې یې په ټینګه پرمخ بیوله. د دوی د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولو مقصد یو و هغه دا، چې د پښتنو په وېشلو او په ناتوان کولو د هغه مینه ټوټه ټوټه او لاندې کړي. دوی ټول پو هېدل، چې افغانستان په لومړۍ درجه دوی جوړ کړی او په اوله درجه دوی ور نه دفاع کړې ده.۳

په دې ترتیب د خپلو غښتلو ګاونډیو د دښمنیو په کړۍ کې د یوه بې وزلي او ناتوانه هېواد په توګه راګیر شوی دی. د وروستیو درې لسیزو غمجنو پېښو د دې ادعا شاهد دي، چې زموږ ګاونډیانو د خپلو غیر مشروع او ناروا ګټو په خاطر زموږ د لرغوني هېواد نابودولو او تباه کولو له پاره ټینګه ملا تړلې ده. خو موږ باید د تاریخ نه دا زده کړو، چې زور تل په نړیوالو بدلونو کې ستر رول لوبولی دی. هر څوک چې زورور شوی دی بیا یې هاند کړی دی، چې په نورو واکمن شي او خپل واک ته پراختیا ورکړي. زه ګومان نه کوم، چې زموږ ګاونډیان به تر هغه مهاله، چې په زور اړ نه شي، د افغانستان نه لاس واخلي.

اوس افغانانا باید فکر وکړي، چې د هغو ګواښونو په وړاندې، چې د خپلو ګاونډیو او د سیمې د هېوادو له خوا د هېواد مځکني تمامیت او کورني امنیت ته متوجې دي څنګه مخنیوی وکړي؟

زما په اند افغانان د دې ګواښونو د مخنیوي له پاره باید یوه داسې پرمختللې او بسیا ټولنه جوړه کړي، چې بې سوادۍ او بې وزلۍ ته د پای ټکی کښېږدي او داسې مادي او معنوي ځواک جوړ کړي، چې زموږ ګاونډیان دې ته اړ کړي، چې زموږ هېواد ته په کږه سترګه ونه ګوري.

ایا افغانان د دې توان او وس لري، چې دا کار په یوازې توګه ترسره کړي؟ فکر کوم، چې نه دا ځکه لکه پورته مې یادونه وکړه، چې د یوې خوا زموږ هېواد د بیلو بیلو لاملونو له امله ډېر وروسته پاتې او هم یې د وروستیو درو لسیزو په جګړو کې د مادي او معنوي شتمنۍ زیاته برخه له لاسه ورکړې ده او د بلې خوا د خپلو بدنیته غښتلو ګاونډیانو په کړۍ کې د یوه بې وزله، ناتوانه او بې وسه هېواد په توګه راګیر شوی دی. او دوی په کړو سره ثابته کړه، چې د خپلو ناروا ګټو له پاره زموږ هېواد نابودولو ته یې ټینګه ملا تړلې ده.

زه فکر کوم، چې افغانان داسې ټولنه یوازې هغه وخت جوړولای شي، چې په داسې سترو نړیوالو اتحادونو کې ورګډ شي، چې زموږ ملي ګټې په ښه توګه په کې خوندي او وساتل شي او په دې توګه د دغو ځواکونو سره د ځانګړو اړیکو په پرانېستلو سره د هېواد د سیاسي خپلواکۍ د ټینګښت، د خپلې د لاسه وتلې خاورې د بېرته لاسته راوړلو، د هېواد اقتصادي پرمختګ او عصري کولو ته لار پرانېستل شي. د داسې اتحادونو له لارې په سیمه او نړۍ کې د ځواکونو داسې انډول منځ ته راتلای شي، چې د هغې په پایله کې به هېڅوک دې ته زړه ښه نه کړي، چې زموږ په هېواد کې نامشروع ګټې ولټوي. په دې هکله د ډېرې مودې راهیسې د (لوړو دریځونو افغانانو) فکر

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړی دی، چې (د هېواد ساتنه یوازې او یوازې له کوم لوی ځواک سره په ګډه مرسته کې نغښتې ده.)۴

د داسې لوی ځواک سره د ګډې مرستې شرایط ورو ورو برابر شول. لومړی د شلمې پېړۍ په پای او د یوویشتمې پېړۍ په پیل کې د نړیوال اقتصاد مرکز اسیا ته انتقال شو. د چین او هند اقتصادي پرمختګ د اسیا د بازار اهمیت لا زیات کړ. د لوېدیز له پاره د امریکا د متحده ایالاتو په مشرۍ په اسیا او په ځانګړې توګه په منځنۍ اسیا او منځني ختیځ کې د خپلو ستراتیژیکو ګټو د خوندي کولو اړتیا لا ژوره شوه. دوهم هغه تشه، چې د شوروي اتحاد د پاشلو په پایله کې منځ ته راغله د هغې د ډکولو له پاره هم مبارزه روانه ده. روسیه غواړي، چې په منځنۍ اسیا کې د شوروي مهال نفوذ د هم ګټو هېوادو د سازمان له لارې بېرته لاس ته راوړي، د سیمې ګاونډي هېوادونه چین، ایران، ترکیه، پاکستان او هندوستان هم هڅه کوي، چې په منځنۍ اسیا کې خپل نفوذ زیات کړي او دغې سیمې بازار ته لار پیدا کړي. لوېدیز هم په منځنۍ اسیا کې د خپل نفوذ له پاره هلې ځلې کوي. تر ټولو مهمه دا ده، چې په دغه سیمه کې د انرژۍ سترې زېرمې پراتې دي، چې په هغو باندې لاس برۍ په سیمه ایزه او نړیواله توګه د ستر اهمیت وړ دی. د انرژۍ د دې زېرمو نه د لاس برې په موخه د سیمې او نړۍ په کچه د سیالۍ له امله زموږ د هېواد جیوپولیټیک اهمیت نور هم لوړ شوی او د نړۍ پام یې ځان ته راواړولی دی. دا اوس افغانستان نه یوازې منځنۍ اسیا ته د ننوتو ور ګڼل کیږي بلکې افغانستان په خپله د کانو سترې زېرمې هم لري. د افغانستان د کانو زېرمې د افغانستان جیواکانومیک اهمیت هم لوړ کړ. په دې ترتیب د امریکا د متحده ایالاتو په مشرۍ د لوېدیز له پاره د افغانستان جیوپولیټیک، جیوسترتیژیک او جیواکانومیک موقعیت د زیات اهمیت وړ وګرځېد.

افغانستان د یوې خوا د نړیوالې همکارۍ د پراختیا له امله، چې د ګلوبالیزم یا جهاني کېدو د پروسې نه تومنه اخلي او د بلې خوا د سیمه ایزې همکارۍ د پراختیا له کبله، چې د سیمې د اقتصادي پرمختګ د اړتیا څخه خړوبه کیږي د منځنۍ او سوویلي اسیا د تړلو له پاره د ترانزیټ د لنډې لارې د مرکز په توګه سر راپورته کوي. او بیا د پخوا غونډې د ورېشمو د لارې اهمیت ترلاسه کوي.

امریکا د افغانستان د دغه ستراتیژیک موقعیت په نظر کې نیولو سره غوښتل، چې د طالبانو سره د همکارۍ له لارې په سیمه کې خپلې ستراتیژیکي ګټې خوندي کړي. خو طالبانو د پردیو په لمسون د اسامه بن لادن په مشرۍ بهرني تروریستان تر خپل وزر لاندې ونیول او دغو تروریستانو د ۲۰۰۱ کال د سپتمبر په یوولسمه نېټه پر امریکا تروریستي برید وکړ، چې نږدې درې زره امریکایان په کې ووژل شول. امریکې هم د

(c) ketabton.com: The Digital Library



وسلي په کارولو سره د طالبانو رژیم رانسکور او په افغانستان کې یې د ملګرو ملتو په چوکاټ کې د ناټو پوځونه ځای پر ځای کړل. نږدې لس کاله کیږي، چې دا ځواکونه د تروریزم په وړاندې په جګړه او هم د افغانستان د بیا رغونې په چارو بوخت دي.

افغانستان باید د امریکا د متحده ایالاتو، انګلستان، اروپایي اتحاد، ناټو، جاپان او نورو سره ستراتیژیکي اوږدمهاله تړونونه لاسلیک کړي. افغانستان به د دغه اوږدمهاله تړونونو په پایله کې وکړای شي،چې د ګاونډیو او د سیمې هېوادو له خوا د ګواښونو په وړاندې د خپلې خپلواکۍ، د خاورې د تمامیت، د کورني امنیت ساتنه وکړي او د هېواد ټولنیز پرمختګ ته لاره پرانیزي.

په دغو لسو کلونو کې، چې نړیواله ټولنه په افغانستان کې شتون لري د پوهنې، د بیان د ازادۍ، مخابراتو، د لارو د جوړولو، روغتیا، د دولتي ادارې د جوړولو، د ښځو د حقوقو د تامین او ځینو نورو برخو کې د پام وړ کارونه سرته رسېدلي دي. افغانان د دغو لاسته راوړنو نه باید ساتنه وکړي او دغه نظام نور هم غښتلی کړي. خو د دغه لاسته راوړنو سره سره په هېواد کې بې امني لا زیاته شوې، په دولت کې فساد لوړې کچې ته رسېدلی او د نشه یي توکو د کښت، قاچاق، سوداګرۍ او انتقال مافیا را منځ ته شوې، چې هېواد یې د سترو ننګونو سره مخامخ کړی دی.

د دغو ننګونو اساسي لامل په فساد ککړ چارواکي دي، چې د خپلو شخصي، ګروپي او ان د پردیو ګټو د تامین له کبله د هېواد ملي ګټې تر پښو لاندې کوي، د قانون پروا نه کوي او د خلکو او دولت تر منځ واټن زیاتوي. دا یوه مهمه ننګونه ده، چې که چاره یې ونه شي نو هېواد به د سترو ستونزو سره مخامخ شي. د امنیت د ټینګښت، د نشه یي توکو سره د مبارزې او په دولت کې د اداري فساد د مخنیوي په موخه باید په اداره کې بنسټیز سمون را منځ ته شي. د وړتیا د پرنسیپ پر بنسټ دې په دولتي پوستونو کې داسې مسلکي کسان وټاکل شي، چې لوړې زده کړې یې کړې، د هېواد ملي ګټو ته ژمن، د هېواد په دوارو لویو ژبو ویل، لیکل او لوستل وکړای شي تر څو ناروا زور کارونې ته د پای ټکی کېښودل شي، په دولت کې د قانون واکمني ټینګه شي، د بډې خوړلو، درغلۍ او هر ډول فساد مخه ډب کړي، د خلکو مال، جایداد او ناموس خوندي شي او د هېواد بیا رغونه په اغېزمنه توګه د متوازینې ودې له مخې په ټول هېواد کې تر سره شي.

دوهم لامل په افغانستان کې د بهرنیو پوځونو شتون په ګوته کیږي. یو شمېر افغانان او د دولت مخالفین وایي، چې د بې امنۍ اساسي لامل په هېواد کې د بهرنیو پوځونو شتون دی او تر هغه، چې دا ځواکونه د افغانستان څخه ونه وزي امنیت به هېواد ته راستون نه شي. بل نظر دا دی، چې تر څو افغان وسله وال ځواکونه د هېواد د ساتنې جوګه نه شي د باندینیو پوځونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



وتل به د هېواد پایښت د ګواښ سره مخامخ کړي. دوی وايي، چې د شوروي یرغلګرو پوځ د وتلو وروسته په افغانستان کې بهرني پوځونه نه وو خو کورنۍ جګړه د طالبانو د رانسکورېدو پورې روانه وه. دا نظر سم دی ځکه، چې لکه د مخه مې پوره دلایل وړاندې کړل، چې افغانستان د یوه لوی ځواک سره د اوږدمهاله ستراتیژیک اتحاد پرته د دې وضعې نه ځان نه شي ایستلای. نو ځکه د بهرنیو پوځونو شتون د افغانستان له پاره یوه اړتیا ده تر هغه، چې د افغانستان وسله وال ځواکونه په پښو ونه دریږي د بهرنیو ځواکونو وتل به د هېواد له پاره بدې پایلې ولري.

خو د لزبون د پرېکړې پر بنسټ بهرني ځواکونه به د ۲۰۱۴ کال تر پایه ووزي. د بهرنیو پوځونو وتل د افغانانو پر ځای اندېښنې رابرسېره کړې. هغه دا، چې ایا نړیواله ټولنه به بیا افغانان یوازې پرې نه ږدي؟ ایا افغانستان به بیا د خونړیو حګړو ډګر نه شي؟ ایا د افغانستان ګاونډي به بیا د افغانستان د لاندې کولو ته بډې ونه وهي؟

خو د افغانانو دغې پر ځای اندېښنې ته بیا هغه مهال ځواب وویل شو، چې د افغانستان او د امریکا د متحده ایالاتو په ستراتیژیکي تړون کې د امریکا اوږدمهاله پوځي اډو د جوړېدو موضوع په ډاګه شوه. د امریکا د متحده ایالاتو د پوځي اډو د جوړېدو موضوع د افغانانو پراخ بحث راوپاروه. افغانانو په زغرده خپل نظریات څرګند کړل او د دې موضوع مثبت او منفي اړخونه یې په ګوته کړل. د امریکا د اوږدمهاله اډو په هکله هم دوه ډوله نظرونه څرګند شول. یو نظر دا دی، چې د امریکا اوږدمهاله اډې د افغانستان استقلال او ملي واکمني له منځه وړي او د سیمې او ګاونډي هېوادونه په افغانستان کې لاسوهنې ته لمسوي. دوهم نظر دا دی، چې د بهرنیو پوځونو په نشتوالي کې به د سیمې او ګاونډي هېوادونه د افغانستان شته والی او پایښت د ګواښ سره مخامخ کړي. ما په دې هکله خپل نظر لا پخوا په خپل کتاب «د باچاخان اندونه او مبارزې ته لنډه کتنه» کې څرګند کړی دی. زما په نظر افغانستان تر هر چا د مخه خپلو ګاونډیو اړ کړی دی، چې د امریکا متحده ایالاتو ته په خپل هېواد کې د اوږدمهاله اډو د جوړولو سره موافقه وکړي. د امریکا متحده ایالاتو پوځي اډې د نړۍ په نورو هېوادو کې لکه المان، جاپان او نورو کې شتون لري. د امریکا پوځي اډې د دې هېوادو استقلال او د مځکې تمامیت د ګواښ سره نه دی متوجه کړی او نه زموږ خپلواکۍ او د مځکې تمامیت ته ګواښ دی. د امریکا د متحده ایلاتو اوږدمهاله پوځي اډې د امریکا او افغانستان د دواړو په ګټه دي. زه باور لرم، چې د افغانستان خلک به د لویې جرګې له لارې د هېواد د ملي ګټو د ساتنې په خاطر د دواړو هېوادو تر منځ یو متوازن ستراتیژیک تړون ته، چې د امریکا اوږدمهاله پوځي اډو شتون به یې یوه برخه وي قانوني بڼه ورکړي تر څو افغانان د ګاونډیو او د سیمې د هېوادو په وړاندې د خپلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپلواکی، مځکني تمامیت، ملي امنیت د خوندي کولو جوګه شي او د هېواد چټک پرمختتګ ته لاره پرانیزي.

افغانان او په تېره پښتانه باید د تاریخ د یون د لوري سره په سمون کې ګامونه پورته کړي او په دې پوه شي، چې هغه هېوادونه او خلک چې د ټولني د پرمختتګ او تمدن په وړاندې درېدلي دي د هغو ژوندیو موجوداتو غوندې، چې د چاپېریال سره د سمون وړتیا نه لري، د منځه تللي دي. نن د ګلوبالیزم یا جهاني کېدو پروسه په ګړندی توګه روانه ده او د اقتصادي، تخنیکي، ډله ایزو خپرونو بې ساري شونتیاوې او کلتوري پرمختتګ په پایله کې نړۍ په یوه کلي بدلیږي. نن هېڅ هېواد که هر څومره ستر او پیاوړی وي په یوازې توګه نه شي کولای خپلې ټولې ستونزې هوارې کړي. ننۍ نړۍ د داسې سترو ننګونو سره لاس او ګرېوان ده لکه د چاپېریال ککړتیا او ناولتیا، د مځکې د اوسېدونکو ګړندی زیاتوالی، یو پر بل اقتصادي تکیه او د نړیوال امنیت د ټینګتیا په موخه د ذروي، کیمیاوي، بیالوژیکي او نورو تباه کوونکو وسلو نه د نړۍ پاکول، د بې وزلۍ سره مبارزه او نور داسې مسلې دي، چې د نړیوالو او سیمه ایزو همکاریو او ګډو هڅو پرته حل کېدای نه شي. نو ځکه موږ باید راوبښ شو او د خپل هېواد او خلکو په ګټه د دې بې ساري موقع نه، چې د سپتمبر د یوولسمې نېټې وروسته د افغانانو لاس ته ورغلې ده، تر ټولو زیاته ګټه پورته کړو تر څو خپل هېواد د تمدن په لورۍ روان کړو او خلک د بې سوادۍ او بې وزلۍ څخه وژغورو.

نن افغانان د یوې خوا د تروریزم ضد جګړه کې د القاعدې، بهرنیو طالبانو او بهرنیو تروریستانو د جګړې او د خپلو بدنیته ګاونډیانو او سیمې د هېوادود لاس وهنې سره لاس او ګرېوان دی او د بلې خوا د هېواد د بیا جوړولو او ابادولو په چارو لګیا دی. په دغو شرایطو کې د ټولو افغانانو، چې د نړۍ په هر ګوټ کې ژوند کوي، تاریخي، ملي او وجداني دنده ده، چې په افغانستان کې د امن او سولې په ټینګولو او د هېواد بیا جوړولو په چارو کې ټول توان او ځواک وکاروي.

افغانان په خپل وار د خپل توان او وس په کچه ملي دنده لري، چې د تاریخي واقعیت او د دې حقوقي اصل له مخې یاني قومونو او ملتونو ته د خپل سرنوشت د ټاکلو حق له مخې د ډیورنډ کرښې هغې خوا د پښتنو او بلوڅو ورونو لاس نیوی وکړي تر څو دوی د سوله ایزو لارو له مخې په خپلو جغرافیایي واحدونو کې خپل قومي یووالی تامین کړي او د سوله ایزو لارو چارو او د نړیوالې ټولنې په مرسته د ملتونو او قومونو د سرنوشت د ټاکلو د حق د اصل له مخې خپل سرنوشت وټاکي. د ډیورنډ د کرښې هغې خوا پښتانه او بلوڅ دې د خپل سرنوشت د ټاکلو د حق پر بنسټ پرېکړه وکړي، چې خپلواک دولتونه جوړوي او یا د خپل پخواني هېواد افغانستان سره یوځای کیږي. د محمد افضل خان دې ټکي ته باید کلک پام وشي، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وایي کوم قومونه ، چې ښکېلاک ګرو د خپلو ګټو په موخه ټوټې کړي دي د هغو د بیا یو کولو له پاره، چې د دوی ګټې هم په کې خوندي وي د یوځای کولو لارې چارې پرانېستلای شي.۵

افغانان باید د خپل هېواد د دغه جیوپولیټیک او جیو اکانومیک موقعیت نه د خپل اقتصاد د ودې په موخه زیاته ګټه پورته کړي. څرنګه چې افغانستان د یوې خوا د اوبو پرېمانه او کانونو سترې زېرمې لري، چې د دغو زېرمو نه د ګټې اخېستلو له پاره د دغو بې ساري شونتیاوو نه، چې د ۲۰۰۱ کال د سپتمبر د یوولسمې نېټې د پېښو وروسته زموږ په ګټه منځ ته راغلې دي زیاته ګټه پورته کړي تر څو خپل اقتصادي انفراستروکتور جوړ او پیاوړی کړي او د بلې خوا د هند، چین، روسیې، منځنۍ اسیا او ایران تر منځ د اقتصادي ظرفیتونو تبادله زموږ د هېواد اقتصادي توان د لوړوالي له پاره زمینه برابروي. په دې ترتیب افغانستان د خپلو طبیعي زېرمو په کارولو او هم د منځنۍ اسیا، سوویلي اسیا، منځني ختیځ او د نړۍ د ترلو د اساسي کړۍ په توګه به په سیمه او نړۍ کې د دې ظرفیتونو د راکړې او ورکړې نه د ګټې پورته کولو له امله زیات اقتصادي توان ترلاسه کړي. د افغانستان اقتصادي توان لوړوالی په خپل وار د افغانستان د اږودې مودې ګټې سمبالوي او د هېواد جیوستراتیژیک اهمیت لوړوي.

د بن د پریکړو نه وروسته دا کار د امریکا، انګلستان، اروپایي اتحاد او ناټو سره د افغانستان د ستراتیژیکو تړونونو له امله شونی کیږي او دغه ستراتیژیکي اړیکي زموږ هېواد ته شونتیا ورکوي، چې د بهرنیو لاس وهنو د مخنیوي له پاره امنیت سمبال شي. افغانان او په ځانګړې توګه حامد کرزی او د ده ټیم باید دې ته ښه ځیر شي، چې زموږ ملي ګټې د نړیوالې اغېزمنې همکارۍ په منځ ته راتګ کې نغښتې دي او له دې امله د امریکا د متحده ایالاتو، اروپایي اتحاد، ناټو، جاپان او نورو سره ښو اړیکو ته کلک پام وکړي او د سیمې د هېوادو سره د سیمه ایزې همکارۍ د پراختیا زمینه جوړه کړي. خو اغېزمنه سیمه ایزه همکاري هغه مهال منځ ته راتلای شي، چې د سیمې هېوادونه خپلې لانجې د نړیوالو منل شوو نورمونو او اصولو له مخې حل، یو د بل مشروع ګټو ته متقابل درناوی وکړي تر څو د دې زمینه مساعده شي، چې د اروپا اتحاد په څېر سرحدي پولې یو بل ته پرانیزي او خلک په ازاد ډول د ویزې پراته تګ راتګ او خپل فعالیتونه ترسره کړای شي.

دا اوس ښې ښیي، چې په سیمه کې د ۲۰۰۱ کال د پېښو وروسته نوي ژور بدلونونه را روان دي. لر او بر افغانان د خپلو ستونزو د حل او د هېواد د لوړو ملي ګټو د تامین له پاره یوه اوږدمهاله ملي ستراتیژي جوړه کړي، چې د هغې پرله پسې هدفمند پلي کولو له پاره څو پراخ بنسټه ملي ګوندونه او نور ټولنیز سازمانونه جوړ کړي او د دې لارې د قوم ټول مادي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



معنوي ځواک يو موټی کړي.

**اخځونه:**

۱-محمد حسن کاکړ، د ثور کودتا او د هغې ژورې پایلې، ۱، کابل ۱۳۸۹ش
۲-محمد حسن کاکړ، د پاچا امان الله خان واکمنۍ ته نوې کتنه،۹، پېښور ۲۰۰۵ع
۳-محمد حسن کاکړ، زما غوره لیکنې، کابل ۱۳۸۹ش
۴-لودویک ادامیک، د شلمې پېړۍ تر نیمايي د افغانستان د بهرنیو اړیکو تاریخ، ۳۹۵ ، پېښور ۱۳۸۹ش
۵-محمد افضل خان، پښتون قامي وحدت، ۴۲ ، پېښور ۱۹۹۶ع

پر دې برسېره مې په دې مقاله کې د خپلو دوو اثارو: (د ثور پاځون، د کې جي بي دسیسې او شوروي یرغل) او (د باچاخان اندونو او مبارزې ته لنډه کتنه) څخه هم استفاده کړې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمد اقبال وزیري
می ۲۰۱۵

# د پښتو د نړیوالې ورځې د نمانځنې په مناسبت

درنو او قدرمنو خویندو او وروڼو ته د پښتو د نړیوالې ورځې د نمانځنې په مناسبت مبارکي وایم. پښتو د پښتنو ژبه ده او پښتانه د پښتو پرته او پښتو د پښتنو پرته تصور کېدای نه شي. ژبه د ټولنې په وده او پرمختګ کې زښته زیات اهمیت لري. ا.سپیر وایي چې: «ژبه د مادي کلتور تر ډېرو ابتدایي انکشافاتو نه د مخه موجوده وه او دغه انکشافات په واقعیت کې تر هغو ممکن نه وو چې ژبې د مهمې افادې د وسیلې په توګه شکل او صورت نه و غوره کړی.» ۱

ژبه نه یوازې د پوهاوي را پوهاوي د وسیلې په توګه چوپړ کوي بلکې ژبه د فکر د ودې وسیله هم ده. په خپله مورنۍ ژبه زده کړه د فکر په وده کې مهم رول لري. که د چا نه په مورنۍ ژبه کې د زده کړې حق واخېستل شي نو دا کار په اصل کې د دوی د فکري ودې مخنیوی دی او دا یوه ستره بې عدالتي او یو لوی ظلم دی.

زموږ واکمنو د پېړیو په اوږدو کې د فارس د فرهنګي ښکېلاک په پایله کې پښتانه پخپله مورنۍ ژبه د زده کړو نه بې برخې کړي او د دوی د فکري ودې مخه یې ډب کړې ده. د دې پایله دا شوه چې د دوی استعدادونو ښه وده ونه کړه.

فکر کوم چې فضل احمد غر شاید لومړی پښتون وي چې پښتانه یې خپلې مورنۍ ژبې پښتو ته د بې توپیرۍ او نه پاملرنې ناوړه پایلو ته متوجې کړي دي. دی وایي «د ملک [او] قوم ترقي د خپل مذهب او د خپلې ژبې په حفاظت پورې تړلې ده. نن د دې ډېر ضرورت دی چې موږ خپله قومي ژبه د پستۍ نه وباسو او که نه زموږ د غفلت دا حال وي نو یوه ورځ به د فارسي او اردو پوځونه د پښتنو ملک په خپلو مینځو کې تقسیم کړي... »۲ په دې توګه فضل احمد غر ژبه د یوه قوم په ټینګېدو او شړېدو کې یو مهم اصل ګڼي.

مېجر روز انګرېز شاید لومړی خنیځ پېژندونکی وي چې د پښتنو کلک پام یې دې موضوع ته اړولی دی. دی لیکي: «افغانستان په تعلیمي جهت تر هغې نه کامیاب کیږي چې ...خپلې ژبې ته توجه و نه کړي. افغانستان خپل ځان په ازادو هېوادو کې شماري، مګر د ژبې په لحاظ ربښتونی غلام د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ایران دی، ځکه چې قوم یو، دفتري نظامي ژبه بله وایي، مګر څو پورې چې افغانستان کې تعلیم پخپله ژبه کې نه شي، علم ډېره ګرانه خبره ده، بویه چې عالم شي، مقابله به ملل دیګر وکړي، ضرورت امر دی چې افغانستان خپله ژبه یعني افغاني یعني پښتو ژبه د علوم وګرځوي.»۳

ژبه نه یوازې د پوهوي راپوهوي او د فکر د ودې وسیله ده بلکې د ځان پېژندنې او هویت سرچینه هم ده. «هویت یوه کلتوري پدیده ده او کلتور په ژبه ولاړ دی»۴ . د یوه قوم هویت د هېواد د ننه د هغه «د تاریخ جوړونې په پروسه کې خپله ښه ښکاره کوي.»۵

د پښتنو د ببرته پاتې کېدو یو مهم لامل د دوی له خوا د پښتو پرېښوول یاني د خپل هویت د لاسه ورکول دي. دوی ډېرو د تاریخ په بهیر کې خپله ژبه پرې ایښې ده او په پایله کې یې خپل هویت او پښتونوالي د لاسه ورکړي دي.

پښتانه که غواړي چې په بشپړه توګه تباه نه شي نو باید خپل هویت ټینګ وساتي. پوهاند کاکړ لیکي «د پښتنو د هویت توکي پښتو، پښتونوالي او نور غوره ارزښتونه دي. په دغو کې پښتو تر ټولو نه مهمه ده... پښتانه د ژبې له برکته پښتانه دي او که یې پښتو له لاسه ورکړه بیا نو پښتانه نه دي که څه هم احساس به یې د پښتانه وي.»۶ دی زیاتوي چې د پښتو ستر اهمیت په دې کې دی چې پښتانه په پښتو سره یو بل پېژني او سره یو کوي یې. په پښتو کې د پښتنو کلتوري ارزښتونه، د دوی تاریخ، د دوی افسانې، د دوی روایتونه یا په نورو ټکو د دوی ټولې معنوي او روحي شتمنۍ پراتې دي

مونږ باید دې ټکي ته کلک پام وکړو چې یو قوم د فزیکي وژنو له لارې نه شي د مینځه وړل کېدای بلکې یو قوم هغه وخت وژل کیږي او د مینځه وړل کېدای شي چې کلتور او په ځانګړې توګه ژبه یې د مینځه یوسي.

پښتو یوه لرغونې او توانمنه ژبه ده چې نه یوازې یې د نورو شمېر ان د نړۍ د ډېرو پرمخ تللو ژبو لکه انګلیسي او جرمني نه زیات دی بلکې د افادې غښتلی توان هم لري. پښتو د خپل ګرامري جوړښت له امله ډېره بډایه ده. پښتو د خپل طبعیت له مخې یوه سندریزه ژبه ده چې مسته او د جوش نه ډکه موسیقي لري.

پوهاند ډاکټر محمد حسن کاکړ وایي چې «داسې ښکاري چې د پښتو لومړنې جوړونکي ساکا وي، ځکه چې پښتو هغومره چې د ساکي ژبې سره نږدې ده ، له بلې ژبې سره دومره نږدې نه ده.»۷ مارګن ستړن لا وایي «پښتو بې له دې چې له ساکي ژبې سره وتړله شي بل کېدون نه لري.» ۸

پښتو بډای فلکلور لري خو د پښتو ژبې لیکلي اثار لږ دي او پښتنو زیات علمي اثار په نورو ژبو او په ځانګړې توګه په پارسو لیکلي دي. الفنسټون وایي چې: «هغه څه چې په پښتو کې لیکل شوي دي، باید د پښتون ملت د علمي سویې د ښکارندوی په توګه د اعتبار وړ ونه ګڼل شي، ځکه چې دوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر اوسه هم په دري [فارسي] ژبه لیکنې کوي او نړدې ټول علمي کتابونه په دغې ژبې لیکل شوي دي.»۹

د پښتو ژبې لرغونی کتاب چې څرک یې تر موږ را رسېدلی دی د «ملینده پڼهو» په نوم یادیږي چې اصلي نسخه یې تر اوسه لاس ته نه ده راغلې. د یونان نامتو سالار مناندر چې د مخزیږدې په دوهمه پېړۍ کې د هند ډېرې سیمې ونیولې او د هند په تاریخ کې د مالیندا پاچا وبلل شو او بودایي دین یې ومانه. د مالیندا پڼهو په کتاب کې د یونانیانو پاچا ملیندا او د هندي راهب ناګه سینا تر منځ د هغو خبرو اترو جریان لیکل شوی دی چې په ساګاله (ننې سیالکوټ) کې د دوی تر منځ شوې وې. دا کتاب د بودایي دین شرحې او بیانونه لري.

د ملیندا پڼهو دا متن پوهاند سیتارام پنډت په زړه پښتو بللی دی او وایي چې « د ملیندا پڼهو اصلي متن په زړه پښتو کښلی چې اوس یې اصلي نسخه نه ده پاتې.»۱۰ خو خطي نسخې یې په برما، سیام او سیلون کې لیدل شوې او یوه پخوانۍ نسخه یې د سوویلي هندوستان په پالي ژبه چې په څلورمه میلادي پېړۍ کې خطاطي شوې ده، د جاپان د یوه بودایي عبادتځای نه په لاس راغلې او اوس د جاپان د میکاډو په کتابتون کې خوندي ده. دا نسخه د پښتو د اصلي کتاب ژباړه ده. شاید د پښتو ژبې نه نورو ژبو ته د ژباړې د تاریخ پیل پاسنۍ ژباړه وي.

د پښتو ژبې لومړی مرکز غور و. د غور ځایي واکمنو د واکمنۍ په مهال پښتو یوه داسې ادبي ژبه وه چې ښه او پاخه اشعار یې درلودل چې امیر کروړ، شیخ اسد سوري، ښکارندوی، ملکیار غرشین،تمین کاکړ، قطب الدین بختیار کاکي د دې دورې غوره شاعران دي چې د اشعارو نمونې یې په پټه خزانه او د سلیمان ماکو تذکراة الاولیا کې خوندي دي. پښتو د غوري واکمنو په وخت کې د دربار ژبه وه.

د غور برسېره پښتنو د سلېمان غره او ورځېرمه سیمو کې د قبیلوي نظام لاندې سوله یز ژوند کاوه. دوی هم د خپل بډای شفاهي فرهنګ په څنګ کې لیکلي ادبیات هم جوړ کړي دي چې د بېټ نیکه، شیخ اسماعیل، خرشبون، شیخ متي خلیلي، هوتک بابا، شیخ ملکیار هوتک، اکبر زمینداوري، زرغون خان نورزی، زرغونه کاکړه، نېکبخته او نور یادولی شو.

د پښتو ژبې د ودې بل مرکز ملتان و. شیخ حمید لودي د ملتانه تر لغمانه واک چلاوه. د ملتان د لودي کورنۍ د دوو غړو شیخ رضا لودي او نصر لودي چې لومړی د شیخ حمید وراره او دوهم یې زوی و د شعر نمونې په پټه خزانه کې خوندي دي. د لودیانو لومړۍ واکمني د سلطان محمود غزنوي له خوا لکه چې د مخه یې د محمد غوري واکمني را نسکوره کړې وه هم را نسکوره کړه او د پښتو ژبه یې وځپله. خو بیا څلور پېړۍ وروسته په هند کې لودي پښتنو د نهمې پېړۍ په دوهمه نیما یي کې د بهلول لودي په مشرۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



حکومت تشکیل کړ. لودي واکمنو د خپلې مورنۍ ژبې پښتو سره مینه درلوده او د دوی په دربار کې یې خپل ځای درلود. د بهلول لودي او نیازي د شعر نمونې د درباري ادبیاتو نمونې ګڼلی شو.

د لودیانو د نسکورېدو وروسته په هند کې مغولي بابر واکمن شو خو د بابر د مړینې ورسته پښتنو د خپل هوښیار او مدبر مشر فریدخان په مشرۍ د بابر زوی همایون ته ماتې ورکړه او د شیرشاه په لقب یاد شو چې په هند کې یې د پښتنو واکمني بیا راژوندی کړه. شیرشاه به ویل «پښتون ټول یو قوم دی زما په دربار کې د قبیلو ذکر مه کوئ».۱۱ د شیرشاه په دربار کې هم پښتو خپل ځای درلود.

په هند کې د لودي او سوري دولتو د نسکورېدو وروسته افغانانو په پښتونخوا کې د هند د مغولي واکمنو، چې د هېواد ختیځه برخه یې لاندې کړې وه، پر وړاندې خپل ملي ازادي بخښوونکی غورځنګ د روښان پیر په مشرۍ پیل کړ چې په تاریخ کې د روښاني نهضت په نوم یادیږي. روښان پیر خپل اثار لکه صراط التوحید، مقصود المومنین، فخر الطالبین، حالنامه، خیرالبیان، تذکرة، فرحت المجتبی او نور په پښتو، پاړسو، هندي او نورو ژبو ولیکل. ده او د ده مریدانو پښتو ژبې ته هم خدمتونه وکړل. د اخوند دروېزه پښتو اثار او په ځانګړې توګه «محزن اسلام»، د هغه د زوی کریمداد پښتو اثار او نورو یادولی شو.

د روښان پیر او د هغه د پلویانو او د اخوند دروېزه او د هغه د پلویانو تر منځ مشاجرو او بحثونو پایله دا شوه چې «د اسلام د چوکاټ د ننه نوي نظریات منځ ته راغلل او دغه مشاجرې چې په پښتو ژبه کېدې د هغې د ودې سبب شوې.»۱۲

د ستر مبارز او شاعر خوشال بابا، ایمل خان مومند او دریاخان اپریدي په مشرۍ د هند د مغولو پر ضد د پښتنو د ملي ازادي بخښونکي نهضت سره سم د پښتو د ودې بل پړاو پیل کیږي. دغه دوره د پښتو ژبې په وده کې داسې مرحله ده چې ساری یې تر اوسه نه دی لیدل شوی. په دې دوره کې د پښتو ژبې ستر شاعران لکه خوشال بابا، رحمان بابا، حمید بابا، عبدالقادر خان خټک، اشرف خان خټک، علي خان خټک، کاظم خان شیدا او نور منځ ته راغلل چې د پښتو ژبه یې د نورو سیمه یزو ژبو سیاله کړه. راورټي وایي چې د دغو پښتنو شاعرانو په اشعارو کې چې ویونکي یې د یوه ښکلي هېواد د پرتمینو غرونو په تکو شنو درو کې لوی شوي دي د وطن پالنې قوي احساس، د ازادۍ ربنتیني روحیه او د هېواد مینه څپې وهي.

پښتنو د اتلسمې پېړۍ په پیل کې د ملي او مدبر لارښود میرویس خان په مشرۍ د صفوي فارس نه هېواد وژغوره او په کندهار کې د خپلواک دولت بنسټ کېښود چې وروسته د میرویس زوی شاه محمود هوتک او وراره شاه اشرف هوتک څو کاله په پارس واکمني وکړه. هوتکیانو هم فرهنګي چارو

(c) ketabton.com: The Digital Library



او په ځانګړې توګه پښتو ژبې او ادب ته د قدر وړ خدمتونه وکړل.

میرویس نیکه، شاه محمود هوتک، شاه حسین هوتک او شاه اشرف هوتک او په ځانګړې توګه شاه حسین هوتک د پښتو ژبې او پښتو ادب ودې ته پام اړولی وو. شاه حسین هوتک د خپلې پاچاهۍ په دوران کې د نارنج په مانۍ کې د پوهانو، شاعرانو او ادیبانو غونډې رابللې او یو کتابتون یې هم جوړ کړی و. د ده په امر محمد هوتک د پټې خزانې نامتو اثر ولیکه. په دې دوره کې د پښتو ژبې لومړۍ شاهنامه (محمود نامه) د ریدي خان مومند له خوا ولیکل شوه چې څلور زره بیتونه یې درلودل او شاه حسین یو زر طلاوې د انعام په توګه ورکړې. د پښتو ژبې دوهمه شاهنامه چې «جګړه د محمود افغان، نیول د اصفهان نومیږي» محمد امین سر پرېکړي هغه وخت لیکلې ده. د دې دورې لوړو شخصیتونو لکه لوی جنرال سیدال ناصر، بابوجان بابي، ملا زغفران، بهادرخان، ملا پیرمحمد میاجي، داودخان هوتک، مېرمن زینبه او نورو په پښتو ژبه لیکنې او شاعري کوله.

په دې توګه د هوتکو واکمنو په پښتو ویناوې او لیکنې کولې او د هوتکو دولت د پښتو ودې او پراختیا ته د قدر وړ چوپړ کړی دی. پښتو د هوتکو په دوره کې د رسمي او دفتري ژبې حثیت درلود او د دربار ژبه وه.

کله چې نادرشاه افشار د فارس په خبوشان کې ووژل شو. نو احمد خان، د خپلو ملګرو سره کندهار ته راوګرزېد. دلته پښتنو مشرانو چې د نادر افشار په واکمنۍ کې یې پوره سیاسي تجربه تر لاسه کړې وه پرېکړه وکړه چې خپل هېواد خپلواک کړي. دوی په ۱۷۴۷ کال کې د کندهار په شیر سرخ کې سره جرګه شول او د نهو ورځو نه وروسته د صابر شا پیر په وړاندیز احمد خان د افغانستان د پاچا په توګه وټاکل شو. په دې ترتیب د نوي افغانستان بنسټ کېښودل شو.

احمد شاه بابا لومړی د امو نه تر اباسینه خپلواک افغانستان جوړ کړ. بیا یې د خپلو نورو لښکرکشیو په پایله کې په کشمیر، پنجاب، سند، بلوچستان او پارسي خراسان یا پخوانۍ پارتیه کې د واک په خپرولو سره امپراتوري تاسیس کړه. احمد شاه دراني پاړسي دفتري ژبه کړه او پاړسیوان یې دفتري مامورین کړل. په دې ترتیب پښتنو د پارس نه سیاسي ازادي وګټله خو د کلتوري ازادي په لاس ته راوړلو کې پاتې راغلل او تر ننه د پارس د فرهنګي ښکېلاک په زنځیرونو کې پراته دي.

احمدشاه بابا که څه هم پاړسو رسمي ژبه کړه خو بیا هم خپلې مورنۍ ژبې پښتو ته بې توپیره نه و. نوموړي شاعر و او د خپل نیکه کامران خان غونډې چې «کلید کامراني» کتاب یې په پښتو لیکلی دی خپل شعر په پښتو ژبه ووایه او نن یې خپلو پښتنو ته د شعر دیوان په نیکات پرې ایښی دی.

د احمد شاه بابا د واکمنۍ په اوږدو کې د «فتوای احمدشاهي» کتاب په پښتو ژبه ولیکل شو، قاضي محمدغوث، چې د خان علوم لقب ورکړل شوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



و، په پښتو ژبه پر تصوف رسالې وکښلې، حافظ ګل محمد مرغزي د پښتو ژبې دريمه شاهنامه ياني احمد شاهي شاهنامه وليکله چې يوازينۍ مالومه خطي نسخه يې اوس په برېټش موزيم کې خوندي ده، ملا پيرمحمد کاکړ د پښتو ژبې د زده کړې (درسي) لومړنی کتاب چې «معرفته الافغاني» نوميږي وليکه. ملا پيرمحمد کاکړ دا کتاب خپل شاګرد شهزاده سلېمان ته د لنډې دوه مياشتنۍ واکمنۍ (۱۱۸۶) په دوره کې وړاندې کړی و.

ښاغلی حبيب الله رفيع وايي چې «دا اثر د دې له پاره ليکل شوی و، چې درباريان، منشيان او ميرزايان د پښتو جملو جوړول او ليکل زده کړي او بيا د همدې اثر په مرسته د دفتر او دربار ټولې چارې په پښتو راواړوي څو پښتو د دفتر او ديوان ژبه شي او لکه د نورو ژبو غوندې د دربار په ملاتړ او حمايت پراختيا او پرمختګ وکړي.»۱۳ برسېره پردې احمد شاه بابا د پښتو ژبې شاعران په ځان راټول او د شعر ويلو مجلسونه به جوړېدل او په دربار کې پښتو ژبه ويل کېده.

تيمور شاه په خپل دربار کې د پښتو پرځای فارسي رواج کړه. په دې ترتيب د پارس فرهنګي ښکېلاک يقيني شو او تر ننه دوام لري.

د پښتو د رسمي کېدو لومړی حرکت د امير شيرعلي خان په دوهمه واکمني کې پيل شو. پوهاند ډاکټر محمد حسن کاکړ وايي چې د امير شيرعلي خان د مهمو سمونونو نه يو دا و چې پښتو يې د لومړي ځل له پاره د هېواد ملي او رسمي ژبه اعلان کړه.

امير شيرعلي خان د نورو سمونونو په څنګ کې د پښتو د رسمي کولو له پاره کوښښ دا څرګندوي چې د ده ملي شعور ډېر غښتلی او قوي و. امير غوښتل چې پښتو د يوې رښتينې ملي ژبې په توګه وده او پرمختګ وکړي او د فارسي ځای ونيسي. د دغه مقصد له پاره د پښتو کتابونو ليکل او ژباړل پيل شول، د پښتو سيند (قاموس) د لاربنود په توګه حتمي شو، عسکري تعليم نامې په پښتو ژبه برابرې شوې، واړه او لوی ماموران په القابو وياړل شول او په پای کې د پښتو بولۍ (قوماندې) د افغان جنګياليو د ګڼو صنفونو له پاره جوړې شوې. ليتوګرافي مطبعه په کابل کې په کار ولوېده او د شمس النهار اخبار په همدغې مطبعې کې چاپ شو. د قاضي عبدالقادر له خوا «قواعد پلټن پياده» په پښتو وژباړل شو چې تشريحات يې په پاړسو و. علم قواعد لشکر د دريا خان نيازي له خوا، قواعد عسکري د محمد ابراهيم له خوا وليکل شول. «دغه مشکور واکمن ځان ژر پداسې حال کې ومونډ چې ادعا وکړي چې پښتو د هغه د هېواد والو ملي ژبه شوې وه. د دغه امير په نظر فارسي امانتي ښکې وې.»۱۴ د غوث خيبري په اند د امير شيرعلي خان له خوا د پښتو ژبې د رسمي کولو اصلي موخه د ايران د فرهنګي ښکېلاک د ماتولو په لور يو اغېزمن ګام و.

امير عبدالرحمن د امير شيرعلي خان د پښتو سمون ترک کړ. د پښتو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملکي القاب ترک شول، فارسي د دفتر یوازینۍ ژبه شوه، خو د امیر شیرعلي خان د وخت پوځي القاب تر زیاتې اندازې پر ځای پاتې شول. برسېره پردې چې په دې وخت کې یو شمېر تألیفات په پښتو وشول، د ختیځو پښتنو سره د امیر مراودې او هغو ته د ده فرمانونه اولیکنې په پښتو وې. د دربار په دارالانشأ کې د پښتو ځانګړې څانګه پرانېستل شوه چې مشر یې ملا محمدخان افغاني نویس د عبدالله خان افغان نویس پلار و.

د امیر حبیب الله خان په وخت کې هم پاړسو د هېواد یوازنۍ رسمي ژبه وه او پښتو ژبه یوازې په ښوونځیو او مدرسو کې د پوهنې په نصاب کې شامله شوه خو د غبار په وینا د حبیبیې په لیسه کې انګلیسي ژبه یې د پښتو په وړاندې کېښوده چې زده کوونکي د دواړو ژبو نه په خپله خوښه یوه ټاکلی شي. نور ټول مضامین په پاړسو ژبه وو. که څه هم په دولتي کچه پښتو ژبې ته پاملرنه نه ده شوې خو په ولسي کچه بیا هم لږ لږ کار کېده.

د کاکړ په وینا د امیر امان الله خان په وخت کې دپښتو د رسمي کېدو دوهم حرکت د لومړي حرکت نه چې امیر شیرعلي خان په خپله دوهمه واکمني کې پیل کړی و نږدې نیمه پېړۍ وروسته په کندهار کې پیل شو ده په کندهار کې د هغه ځای اړوندو چارواکو ته لارښوونه وکړه چې «د کندهار زده کوونکو ته دې په پښتو کې د زده کړې کتابونه برابر او د زده کوونکو شمېر د زیات شي.»۱۵

امان الله خان په اساسي قانون کې د پښتو ژبې د رسمي کېدو او تعمیم ته ځای ور نه کړ که څه هم د جرګې زیات غړي پښتانه وو خو دوی د امیر په شمول د امیر شیرعلي خان غوندې قوي ملي شعور نه درلود چې د خپلې ژبې د رسمي کېدو او تعمیم په اهمیت وپوهیږي. خو امان الله د پښتو ژبې د ودې په موخه د «مرکه پښتو» اداره جوړ کړه.

د پښتو د علمي کېدو او غني کېدو له پاره لومړنی اساسي ګام د پاچا محمد نادر خان په وخت کې د «ادبي انجمن» په تاسیس سره واخېستل شو په کندهار کې د ادبي انجمن بنسټ په ۱۹۳۲ کال کې د محمد نادر خان په اجازه د کندهار تنظیمه رییس محمد ګل خان مومند کېښود او د هغه ولایت دفترونه یې په پښتو واړول. په دې ډول د پښتو دغه حرکت د باچا نادرخان او وروسته د پاچا محمد ظاهر شاه د واکمنۍ په لومړیو وختو کې په قوت روان شو او د هغه له پاره په رسمي او علمي برخو کې کار کېده.

په ۱۹۳۷ کال کې د سردار محمد هاشم خان د صدارت په وخت کې کله چې محمد نعیم د پوهنې وزیر و د اصلاح په ورځپانه کې یو پاچایي فرمان خپور شو چې ویل یې چې پښتو دې د فارسي په څنګ کې په دولتي دفترونو کې جاري شي او د هغه له پاره د درې کلونو په موده کې پښتو دومره زده کړي چې پرې خبرې او هم لیک ولوست وکړای شي او د ولس او حکومت تر منځ مفاهمه حقیقي شي او ملي پیوستون ټینګ شي. دا حرکت د شاهي

(c) ketabton.com: The Digital Library



کورنۍ د نه پاملرنې له امله ناکام شو.

د پاچا ظاهر شاه په مشروطه پاچايي کې د ۱۳۴۳ کال په اساسي قانون کې «د افغانستان د ژبو نه پښتو او دري رسمي ژبې دي سربېره پردې څنګه چې پښتو د افغانستان د اکثرو خلکو ژبه ده د افغانستان د ملي ژبې په حيث منل شوې ده.» خو بیا د همدغې شاهي کورنۍ د نه پاملرنې له امله دا حرکت ناکام شو.

په دې ترتیب د دغې پېړۍ په پیل سره دربار او واکمنې کورنۍ پښتو ورو ورو پرېښوه او دولت ورته په دفترونو کې ځای ورنه کړ. پښتو په عمل کې رسمي نه شوه. واک فونډېشن دې پایلې ته رسېدلی چې«د افغانستان امپراتوري او دولت جوړونکی پښتون قوم په کلتوري لحاظ په تاریخ کې یو ډېر زیات مسخ کېدونکی او ورک کېدونکی قوم دی.»۱۶

د واک فونډېشن په موندنې سره په سلو کې اتو پښتنو په افغانستان کې خپله مورنۍ ژبه پرې ايښې ده. له افغانستان نه د باندې د پښتو نه لاس پر سرکېدل تر دې هم ګړندي دي. په دې ډول پښتو مخ په پرېښدو ده او پښتانه د هويت د بحران سره مخامخ دي.

په ایران او پاکستان کې «دغه نظر څرګند دی چې څنګه چې پښتنو د افغانستان په جوړولو، ساتلو او تنظیمولو کې اساسي رول لرلی دی، پرعکس د پښتنو کمزوري کېدل به افغانستان هم کمزوری کړي چې په دې حال کې به دوی په اسانی سره وکولی شي هغه تر خپل نفوذ لاندې راولي.»۱۷ د دوی ټول کوښښونه دې ټکي ته متوجه دي چې افغانستان دې د دوی په مشرۍ سره یو خپلواک هېواد نه وي. ټول هغه مصیبتونه چې افغانستان ته اول د شوروي په یرغل سره او وروسته د همدغو ګاونډيو هېوادونو له خوا پېښ شوي دي د همدغه نظر په اساس دي.

کاکړ وایي چې په دغو هېوادونو او په خاص ډول ایران کې دغه کوښښونه روان دي چې د هغو په موجب پښتو یا کمزورې یا ورکه شي چې څو پښتانه خپل هويت له لاسه ورکړي او افغانستان هغسې هېواد نه وي لکه چې و، یا ان چې دی. «د ایران په افراطي او حتی ځینو رسمي خلکو کې د پښتو ضد تمایل یو څرګند حقیقت دی. د ډېرو منابعو له مخې دغه افراطیون د پښتو اثار تر لاسه کوي او له منځه يې وړي. سربېره پردې چې د پښتو پر ضد تبلیغات کوي او ستمي ډوله افغانان د همدغه مقصد له پاره استخداموي او تمویلوي. د همدغو کوښښونو [له امله] د علومو په اکاډمي کې د پښتو اثار له منځه یووړل شول. پښتو ته بل خطر تردې لا ببخکی دا دی چې پښتانه د نورو کلتورونو سره په تماس سره خپله ژبه د نورو ژبو په ګټه هېروي. داسې چې که دوی د ډېر شمېر په منځ کې یو کس دري ویونکی هم وي، دوی پښتو پرېږدي، په دري ګړېږي او یا لکه چې د دري ویونکو نه ښځه په نکاح کړي، هغې ته موقع ورکوي چې اولادونه يې دري ویونکي کړي.»۱۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



که کومه پښتانه يو دري ويونکی په نکاح کړي، دغه ښځه د دې توان نه لري چې خپل اولاد ته مورنۍ ژبه ور زده کړي.

دا لا څه کوې ما ته داسي کورنۍ مالومې دي چې مور او پلار يې دواړه پښتانه خو د اولادونو سره دري وايي چې اولادونه يې پښتو زده نه کړي.

خو خبره د يو څو ورځو او ورځطايي نه ده. څنګه چې پښتو د افغانستان د ډېرو خلکو ژبه ده، دوی د دې توان لري چې هغه له ورکېدو وژغوري، خو چې ليکوالان او د فکر خاوندان دوی د خپلې ژبې حال ته متوجه کړي بې له دې چې د وطن د نورو ژبو نه توجه واړول شي يا هغوی ته د ميرې زوی په سترګه وکتل شي. د افغانستان د ټولو ژبو ويونکي افغانان او د وطن په ګټه او تاوان کې سره شريک دي. له دې امله د هغوی ژبې همغسې وړ دي، لکه په خپله چې دي. د هېڅ ولس ژبه نه سپېڅلې او نه د سپکاوي وړ ده. دا په خپله ويونکي دي چې ژبې جوړوي او وده او انکشاف ورکوي، نو د هر ولس قوت د هغه د ژبې قوت دی او پرعکس په دې ډول پښتانه خپله پښتو هغه وخت په ښه ډول ساتلی او غني کولی شي چې «پخپله قوي اوسي. ياني قوي اقتصاد ولري، د علم، پوهې او تکنالوژۍ لوړې سطحې ته رسېدلي او په مجموع کې غوړېدونکی او توليدونکی کلتور ولري.»۱۹

د پښتو ژبې د پرمختګ له پاره يوې اوږد مهاله ستراتيژي ته اړتيا ده. څرنګه چې ايران د خپلې ژبې د پرمختګ له پاره اغېزمنه ستراتيژي لري هغه دا چې د نړۍ د ژبو نه هر ډول علمي او د هنري ادب کتابونه په پارسو ژباړي. د دې لارې خپله ژبه شتمنوي او خپله هم په پارسو ژبه اثار ليکي. دوی د خپلې ژبې د پرمختګ د ستراتيژي په پلي کولو کې پوره بريالي دي.

پاکستان هم د ژبې اغېزمنه ستراتيژي لري هغه دا چې نړيوال مالوماتو ته د انګرېزي ژبې د زده کړې له لارې لاسرسی لري او اردو ژبې ته هم هر ډول اثار ژباړي. پاکستان هم د خپلې ستراتيژي په پلي کولو کې بريالي دي.

پښتانه اړ دي چې د نړيوالو علمي مالوماتو د لاسرسی په موخه انګليسي ژبه زده کړي او د انګليسي ژبې نه هرډول اثار په پښتو ژبه وژباړي او خپله ژبه شتمنه کړي. نن پښتانه ځوانان لګيا دي چې د کمپيوټر په مرسته داسي د ژباړې پروګرامونه جوړ کړي چې د انګليسي ژبې نه هر ډول کتاب د يوې تڼۍ په کښېکښلو سره د سترګې په رپ کې وژباړل شي او ژباړه بيا د مسلکي کسانو له خوا د سمون وروسته د چاپ له پاره تياره شي. په دې ترتيب به انګليسي د علم د لاسته راوړو او بهرنۍسوداګرۍ ژبه، پښتو شتمنول د ملي پېژاند د ساتنې او غښتلتيا له پاره اړينه وسيله وګرځي او پښتانه بايد په خپل وطن کې پښتو د زده کړې، اقتصاد او دفتر ژبه کړي.

اخځونه

۱-حسن کاکړ، زما غوره ليکنې ۵۰، کابل ۲۰۱۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲-زلمی هېوادمل، په هند کې د پښتو ژبې او ادبیاتو ایجاد ... ۵۲۲ لاهور۱۳۷۳
۳-هېوادمل، (۱۳۷۳، ۵۱۵)
۴-اشرف غني، د عادلانه نظام لار،۲۲۹
۵-غني، پاسنی اثر۲۳۰
۶-کاکړ، (۲۰۱۰، ۱۵-۱۶)
۷-اقبال وزیري، پښتو د تاریخ په بهیر کې، ۲۳۶ کابل۲۰۱۵
۸-وزیري، (۲۰۱۵، ۲۳۷)
۹-الفنستون، د کابل سلطنت، ۲۰۶ د کاکړ ژباړه کابل۲۰۰۸
۱۰-عبدالشکور رشاد، تقریظ شپږمه پاڼه هېواد مل (۱۳۷۳)
۱۱-رشاد، پاسنی تقریظ ۳۲
۱۲-وزیري، (۲۰۱۵، ۸۷)
۱۳-صدیق روهي، ادبي څېړنې ۳۲۸-۳۲۹ کابل ۲۰۰۷
۱۴-کاکړ، (۲۰۱۰، ۳۵)
۱۵-کاکړ، د امیر امان الله واکمنۍ ته نوې کتنه ۶۹، کابل۲۰۰۵
۱۶-کاکړ، (۲۰۱۰، ۴۷)
۱۷-کاکړ، (۲۰۱۰، ۴۷)
۱۸-کاکړ، (۲۰۱۰، ۴۸)
۱۹-کاکړ، (۲۰۱۰، ۴۹)

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمد اقبال وزیري
می، ۲۰۱۷

# د پښتو نړیواله ورځ

درنو او قدرمنو خوندیو او وروڼو غونډې ته ښه راغلاست

زه د افغان جرګې له خوا تاسو درنو حاضرینو او ټولو افغانانو ته د پښتو ژبې د نړیوالې ورځې له امله مبارکي وایم.

ژبه د انسانانو تر منځ د پوهاوي وسیله، د انسان د فکري ودې او د یوه قوم د هویت سرچینه ده. ژبه د مادي کلتور د ډېرو ابتدایي پرمختګونو نه د مخه موجوده وه. دا ژبه وه چې د انسان او ټولنې وده او پرمختګ یې شوني کړل. دا ژبه وه چې د هغې له برکته تاریخ هسک شو او دینونه منځ ته راغلل.

زه نن د دغې پرتمینې غونډې درنو حاضرینو پام دوو ټکو ته راګرزوم. لومړۍ دا چې موږ باید د مهاجرت په شرایطو کې کوښښ وکړو چې خپلو ماشومانو ته په مورنۍ ژبه لیک او لوست ورزده کړو تر څو دوی وکولی شي د هغې په مرسته د خپل هېواد او خلکو د ملي او دیني ارزښتونو، غوره ملي دودونو او تاریخ نه خبر شي او د خپل وطن او خلکو سره یې اړیکې ټینګې او مینه یې ورسره پیدا شي. د دې موخې د پلي کولو یوه لار دا ده چې موږ د مهاجرت په شرایطو کې په هر هېواد کې چې اوسېږو هلته د اوسېدلو په ځای کې د خپلو ماشومانو له پاره د مورنۍ ژبې د زده کړې کورسونه جوړ کړو. په دې برخه کې د دوردرېخت، زواېندرېخت او ریدرکرک د یو شمېر ماشومانو له پاره د ژبې کورس پرانېستل شوی دی. د دې کورس ماشومانو ته محترم انجنر زکریا پوپل د پښتو ژبې او محترم عزیزالحق د د قران شریف لوست او دیني اصولو درس ورکوي. په فیننډال کې محترم بخرکی او په هارلم کې محترم عبدالله احسان یو شمېر ماشومانو ته د مورنۍ ژبې د زده کړې کورسونه پرانیستي دي. افغان جرګه د دغو وروڼو د زیار ستاینه کوي او دا تجربه باید نورو ښارونو ته وغزېږي. برسېره پر دې په کورونو کې د مورني ژبې کارول او د پښتو ژبې د ټلویزیونو پروګرامونو کتل په دې کار کې ډېره مرسته کوي او دغه کار ته د درنو خوندیو ځانګړی پام راګرزوم ځکه چې په کور کې د ماشومانو سره د دوی تماس زیات دی.

دوهم ټکی دا دی چې د مهاجرت په شرایطو کې هغه خوندیې او وروڼه وهڅول شي چې د کتابونو د لیکلو او ژباړلو توان او وس لري تر څو د خپلې مورنۍ ژبې د علمي کولو او بډاینې په موخه د خپل مسلک په برخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې داسې علمي او ادبي کتابونه وژباړي چې د هغو په مرسته تر یوې کچې د یوویشتمې پېړۍ پوهه او ادبیات خپل هېواد او خلکو ته ولېږدوو او د دې لارې خپلې مورنۍ ژبې او خلکو ته تلپاتې چوپړ وکړو. افغان جرګه هوډ لري چې د دغو دوو ټکو په پلي کولو کې د یوه ځانګړي کمیسیون په مرسته د تاسو د خپلو ټولنو له لارې مرسته وکړي.

په درناوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمد اقبال وزيري
۲۰۱۸

# ملي ګټې

د ملي ګټو موضوع چې په نړیوال سیاسي-اقتصادي نظام کې زښته زیات اهمیت لري د ډېرې مودې راهیسي د سیاست پوهانو، فیلوسوفانو او نورو پام یې ځانته اړولی او د څېړنې لاندې یې نیولې ده. د مخه تر دې چې ملي دولتونه منځ ته راشي «ملي ګټو ته د شاهزاده اراده، سلطاني یا شاهي ګټې ویل کېدلې.»۱ خو ملي ګټې هغه وخت رامنځ ته شوې چې ملي دولتونه منځ ته راغلل او ملي دولتونه باید هرو مرو سیاسي پولې ولري.

ایټالوي فیلوسوف او سیاست وال مکیاویلي په دې نظر و چې ملي دولت باید د هېواد د ننه ټینګ او د بهر په وړاندې د خپل شتون نه ساتنه وکړای شي. په دې توګه مکیاویلي د ملي ګټو په ساتنه کې د زور په رول ټینګار وکړ او دا یې هم څرګنده کړه چې په هره وسیله سره وي د واکمن هدف باید د قدرت ساتنه وي.

ژان بودین فرانسوي سیاسي فیلوسوف خپل پام د حاکمیت موضوع ته واړاوه او ټینګار یې وکړ چې «فرانسویان دې د مذهبي تحمیل او جګړې پر ځای، خپل هېواد ته زیاته پاملرنه وکړي.»۲ د ژان بودین په اند په هره ټولنه کې باید یو داسي غښتلی قدرت وي چې د نورو ټولو له پاره قوانین جوړ کړي. دی زیاتوي چې دا قوانین که شوني وي د نورو سره دې د هوکړې له مخې او که شونې نه وي نو د هغوی د هوکړې نه دې پرته جوړ شي.

د منځنیو پېړیو نړیواله کلیسا د رنسانس یا د بیا ژوندي کولو غورځنګ له امله چې په څورلسمه پېړۍ کې په ایټالیا کې پیل شو کمزورې شوه. د رنسانس غورځنګ چې لومړی د هنر او ادب له لارې او وروسته د نوې سوداګرې طبقې په هسکېدو سره په اقتصادي چارو کې په فردي ازادۍ واوښت او هغه په خپل وار فرد پالنه او انسان پالنه واقعي کړه یاني دا چې په خپله انسان د هر څه منځ او سرچینه ده.

د رنسانس د غورځنګ بله غټه پېښه په شپاړسمې پېړۍ کې د مارتین لوتر په کوښښ د دیني سمون په پایله کې د پروټېستانیزم هسکېدنه ده چې فرد ته د وجدان په ازادۍ قایل و. دې مذهبي سمون د فکر ازادۍ په هڅولو سره د روم د سپېڅلي امپراتورۍ بنسټ ولړزاوه. د دې په پایله کې په نړیوالو اړیکو کې د قواوو انډولتوب او د دولت په ننیو چارو کې د قواوو وېش او د مشروطیت تفکر راڅرګند شو. د منځلارو کاتولیکانو او

(c) ketabton.com: The Digital Library



پروټېسټانټو له لیکو نه یوه سیاسي ډلګۍ راووتله چې د دوی په اند هېڅ ډول عقیده دومره اهمیت نه لري چې د پرله پسې جګړې سبب وګرځي. دوی په دې نظر وو چې انسان په کلیسا کې نه، بلکې په ټولنه کې ژوند کوي. له دې کبله باید یو داسې نظام رامنځ ته شي چې په مذهب کې د فرد په ازادۍ، د پاچا په اطاعت کولو او په سوله ایز ډول د خپل کار په کولو باندې ولاړ وي.

په دې توګه اروپايي دولتونو د خپل مشروعیت او اړیکو د تنظیمولو په خاطر د ملي ګټو اصل ته مخ واړاوه چې د قواوو د انډولتوب په مانا دی چې د رحمت ربي زیرکیار په وینا د اوسنۍ زمانې په سیاسي ژبه ورته «ملي ګټې» یا د «ملي امنیت ګټې» ویل کیږي. ملي ګټې: خپلواکي، د خاورې بشپړتیا، د دولت ځان ساتنه، عسکري امنیت، اقتصادي ښېګڼې، د دولت اعتبار، کلتوري او حقوقي پیرزوینې، دیني او ایډیالوژیکي ژمنې په غېږ کې نیسي.

فرانسوي کشیش ریشیلیو چې په فرانسه کې وزیر شو په اروپا کې یې د نوي سیاسي نظام بنسټ کېښود چې خپلې ګټې یې له بل هر هدف نه لوړې ګڼلې. دی په دې نظر و چې «هغه څوک چې قدرت لري ډېر ځلې حق لري»۳. په دې توګه دولت باید د خپلو ملي ګټو د خوندي کولو دپاره خپل قدرت زیات کړي تر څو د نورو سره یې قدرت انډول شي.

د پروس د ستر فریدریک په اند انګلستان او فرانسه یو د بل دښمن دي او له دې امله نوموړی کولی شي چې کله د یوه او کله د بل سره ډله جوړه کړي او خپل شتون خوندي کړي. پروس په کړو وړو کې هم داسې وکړل او یو ځل یې د فرانسې او بل ځل یې د انګلستان سره ټلواله جوړه کړه او خپل شته والی یې خوندي کړ. په دې ډول دولتونه اړ دي چې د قواوو په انډولتوب کې ځانونه وساتي.

ملي ګټې د واکمنۍ په ساتنه او کیفیت کې غټ رول لري. هر ډول حکومت چې وي «یوه ادعا یې دا چې مشروعیت لري او بله ادعا یې دا چې ملي ګټې پالي.» دولتونه له خپل ځان نه لوړ مقام نه مني او خپلې ګټې په خپله تعریفوي او ټاکي. په دې توګه د دولت ګټې په ملي ګټو اوړي او د ملي ګټو د خوندي کولو شېوه ته ملي پالیسي یا تګلاره ویل کیږي. په دې توګه دولتونه قدرت تمثیلوي او توپیر نه لري چې پانګوالي، سوسیالستي، فاشېستي، اسلامي او یا بل ډول وي. له همدې امله د ملي ګټو مقوله په زیاته اندازه تته او ناڅرګنده برېښي. دا په دې پورې اړه لري چې په دولت کې څوک یا کومه ډله یا ډلې ملي ګټې او د دولت دوست او دښمن ټاکي. دا موضوع «د دولت د مشرانو په پوهه، ربښتین والي، تجربه او د چارپوهانو سره په مشوره، د ملي ګټو د تګلارې په لرلو ... او په مناسبه موقع کې د هغوی په زړورتیا او نوښت پورې اړه لري.»۴

هانس مارګېنټو وايي چې د یوه هېواد ملي ګټې باید د خپلو ظرفیتونو سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



مناسبې وي. رحمت ربي زيرکيار سم وايي چې د کوچنيو هېوادو ملي ګټې لږ و ډېر ساده او محدودې وي خو د غټو دولتونو ملي ګټې ډېرې او پېچلې وي. هغه هېوادونه چې کمزوري وي او ملي ګټې يې د خطر سره مخامخ وي هغه د نورو ځواکمنو هېوادو سره د تړونونو له مخې ټلوالې جوړوي تر څو د قواوو انډول رامنځ ته کړي او خپلې ملي ګټې خوندي کړي. د نورو هېوادونو سره د ټلوالې جوړول په دې اړه لري چې د دولت ملي ګټې د نورو دولتونو د ملي ګټو سره همغږې وي. د هغو هېوادو سره ټلواله نه جوړيږي چې د دولت ملي ګټې ورسره په ټکر کې وي. د بېلګې په توګه په دوهمه نړيواله جګړه کې کله چې انګلستان او شوروي اتحاد چې يو د بل دښمن هم وو له دې کبله د هټلري جرمني په وړاندې ټلواله جوړه کړه چې د خپلو دولتونو شتون يې د خطر سره مخامخ و.

د حکومت ملي سياست هغه وخت اغېزمن وي چې د ملت له خوا يې ملاتړ وشي. د خپل ملت پېژند ګلوي او ملاتړ د دولت اغېزمنتوب او مشروعيت غښتلی کوي. لنډه دا چې هدفمند حکومت څرګندې ملي ګټې لري.

ستر دولتونه د خپلو ملي ګټو د خوندي کولو له پاره د نورو دولتونو ملي ګټې تر پښو لاندې کوي. موږ بايد د تاريخ نه دا زده کړو چې زور تل په نړيوالو بدلونونو کې ستر رول لوبولی دی. هر دولت چې زورور شوی دی بيا يې هاند کړی دی چې په نورو واکمن شي او خپل واک ته پراختيا ورکړي او خپله شتمني زياته کړي. په داسې حالت کې دولتونه اړ کيږي چې خپلې ملي ګټې د نورو دولتو سره چې ګټې يې ورسره همغږې ولري، ټلواله جوړه کړي تر څو د قواوو د انډول له لارې د ځان نه ساتنه وکړي.

د مخه مو يادونه وکړه چې هغه دولت د ملي ګټو په ساتلو کې ډېر رول لري چې په د ننه کې ټينګ او د بهر په وړاندې د خپلو ملي ګټو نه ساتنه وکړای شي.

امير شيرعلي خان د خپلې واکمنۍ په پای کې هېواد په داسې لارې، چې سياسي مرکزيت د دوديزې فردي ازادۍ سره ملګری و، روان کړی و تر څو افغانستان په ملي دولت بدل شي خو امير عبدالرحمن د دوديزې فردي ازادي پرته سياسي مرکزيت منځ ته راووړ.

امير عبدالرحمن لومړی واکمن و چې د غښتلي مرکزي دولت جوړولو ته يې ټينګه ملا تړلې وه او هغه پوهېده چې غښتلی او ټينګ دولت بايد سياسي پولې ولري. خو په پټه يې د لوی افغانستان ديني عالمان او قومي مشران دې ته هڅول چې د ډيورنډ کرښه ونه مني او د انګرېزانو سره دې په جګړه اخته وي او په دې توګه دې د دې تېل شوې کرښې واقعيت ړنګ کړي. نوموړي خپل زوی حبيب الله خان ته وصيت وکړ چې د انګرېزانو سره ځای ناستی په چلند کې د خپل پلار لار ونيسي خو خپله موخه ياني د افغانستان خپلواکي او ثبات له ياده ونه باسي او پوره پاملرنه ورته وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



امیر حبیب الله خان د لوېدیځي پوهي په لرلو سره د مدنیت، پوهني او پرمختګ پلوي و. امیر حبیب الله خان د وطن د ساتني په اړه د خپل پلار لار ونیوله افغانستان باید پیاوړی وسله وال پوځ ولري. پیاوړی وسله وال پوځ او د هېواد هر اړخیز پرمختګ د هېواد د خپلواکۍ غښ تضمین دی. د لومړۍ نړیوالي جګړې د پای ته رسېدو وروسته امیر حبیب الله خان د خپل هېواد د ناپیلتوب په بدل کې د هغه مهال برتانوي هند د وایسرا چېلمسفورډ نه د ۱۹۱۹ کال د فبروري په ۲مه په یوه لیک کې د پاریس د سولې د کنفرانس له خوا د افغانستان «د غوځې خپلواکۍ، د عملي ازادۍ او تلپاتې اسقلال» په رسمیت پېژندنه وغوښته او ورځخه یې وغوښتل چې د ورسالې د سولې په خبرو اترو کې باید افغانستان د خپلواک هېواد په توګه برخه واخلي. وایسرا د افغانستان د خپلواکۍ خواخوږی و او د هند په چارو کې د برتانیې وزیر اډوین مونتاګو ته یې ولیکل چې دا به ښه نه وي چې برتانیا په زور سره د افغانستان بهرنۍ چارې محدودې کړي او په دې موضوع کې جګړې ته لاړ شو. د چېلمسفورډ په وینا امیر حبیب الله خان بشپړه سیاسي خپلواکي، د ځمکې پراختیا، پیسې او په انګلستان کې د استازي درلودل غوښتل. ده د لندن نه خپلواکي او د ختیځو پښتنو د مځکو د ببرته ترلاسه کولو غوښتنې کولې.

د رحمت ربي زیرکیار په وینا په ۱۹۱۹ کې امان الله خان افغانستان خپلواک اعلان کړ. امیر امان الله خان نوی خپلواک شوی نیم افغانستان د نړیوال ګوښه توب نه وایست او د نورو هېوادو سره یې اړیکې ټینګې کړې. ډیپلوماتیکې اړیکې ټینګول د دولت اعتبار غښتلی کوي او دغه اعتبار په ملي ګټو کې شمېرل کېږي. خو د افغانستان خپلواکي چې د پښتنو د وینو په تویولو وګټل شوه د راولپنډۍ د تړون په اساس د سیاست له لارې وبایلل شوه. یاني د ډېورنډ د تړون له مخې غوڅ شوی افغانستان د خپلو عمومي ملي ګټو او په ځانګړې توکه د خاورې د بشپړتیا په خوندې کولو کې بې وسه پاتې شو.

د نادر خان مهمه لاسته راوړنه دا وه چې نسبي سوله یې هېواد ته راستانه کړه او د دولت او د هېواد د بیا جوړولو کوښښونه یې وکړل چې د ۱۹۲۹ کال کورنۍ جګړې له مخې پرې شوي وو. د علي احمد جلالي په وینا د ده رول د امیر دوست محمد خان او امیر عبدالرحمن خان غوندې و چې د افغانستان په یو کولو کې یې لوبولی وو.

نادرشاه غوښتل چې د هېواد د پوهنې ملي پراخ سیستم، اقتصادي ودې او سیاسي پرمختګ له لارې د ملي پیوستون پروسه په لار واچوي. نادرشاه د امنیتي ننګونو ته غبرګون او د پراخې اندازې د موډرنیزې کولو د پروسې د ملاتړ له پاره د اردو بیا تنظیمول او رغونه یو بنسټیز توکی ګڼله.

د کاکړ په وینا محمد داود، له خپلو ډېرو خدمتونو سره سره په افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library



کي د نظامي کودتا او د دې اوږدي ناارامۍ سر مؤسس دی. په اصل کي د همدغي کودتا او د دغو ناارامیو له امله ده چي د افغانستان راتلونکې د اندېښني وړ شوې ده. محمد داود د خپل واک د ساتني په موخه حاضر و چې د پښتنو او بلوڅو د سیاسي برخه لیک ټاکلو په اړه د پاکستان سره هوکړه وکړي خو کاکړ سم وایي چې «چا د دې ضمانت کولی شو چې پښتانه او بلوڅ به له خپل حق نه تېر شوي وای چې هغه د هغو د خلکو له خوا د خپل سیاسي برخلیک ټاکل دي.»۵

کاکړ وایي چې د افغانستان پخوانیو حکومتونو ادعا کوله، چې پښتانه او بلوچ د ازادي ولري، چې د خودارادیت د اصل له مخې خپل سیاسي برخه لیک په خپله وټاکي. امین د امو او اباسین تر منځ د افغانانو په یووالي ودرېد، تره کي او امین په دې ډول لوی افغانستان غوښته.

تره کي دغه مسله له بریژنف سره یاده کړې او ورته ویلي و، چې افغانستان باید د هند تر سمندر پورې ورسیږي. هغه وویل چې «موږ باید د پاکستان پښتانه او بلوڅان د امپریالستانو په لاسونو کې پرې نه ږدو. اوس دغه امکان برابر شوی دی، د دغو قومونو تر منځ د ژغورنې جګړه شروع کړو او د پښتنو او بلوڅو سیمې په افغانستان کې ورګډې کړو.»۶ امین لا د ۱۹۷۸ کال په اګست کې پوزانوف او ګوریلوف ته څرګنده کړې وه، چې «د افغانستان سیمه باید د عمان د خلیج او د هند سمندر غاړو ته ورسیږي. موږ غواړو سمندر په خپلو سترګو ووینو.»۷ ۷۴۹ امین امریکایي لیکوال هري سن ته هم په همدغه ډول غږېدلی و، چې «تاریخ موږ ته دا سپېڅلی رسالت راکوي چې له خیبر نه اخوا خپل ځپل شوي پښتانه ورونه ترک نه کړو.»۸ ۷۵۰ هغه دا هم ویل چې «هېڅوک انکار کولی نه شي چې د افغان انقلاب او د پښتونستان موضوع سره تړلي دي.»۹

کاکړ دا هم وایي چې پرچمیانو د عقیدې له مخې شوروي لویانو ته د تابعیت غاړه ایښې وه، د بل هېڅ افغان ډلې لویانو د بېګانه هېواد لویانو ته دغسې تابعیت نه و منلی، ځکه چې د دوی د واکمنۍ سرچینه شوروي لویان وو، نه افغان ولس. د دوی د همدغه تابعیت له امله وو چې شورویانو خلقي حکومت د دوی له پاره په خپل پوځ سره نسکور کړ.

زموږ ګاونډیو په تېره شوروي اتحاد او پاکستان د افغانستان لاندې کولو ته سترګې نیولې وې او په دې اړه یې دسیسې کولې. دواړو د خپلو نیواکګرو موخو د پلي کولو له پاره د خپلې خوښې افراطي ډلې پیاوړې کولې.

شوروي اتحاد دخپلو شوروي شوو ملګرو له لارې غوښتل افغانستان د بخارا غوندې د خپلې امپراتورۍ یوه برخه وګرځوي او بیا به د لاس لاندې رژیم له لارې له هغه له طبیعي زېرمو او شتمنیو نه ګټه پورته کړي او په هغو سره به خپل ځای په ځای درېدلی اقتصاد په حرکت راولي.

د کاکړ په وینا د شوروي اتحاد څلوېښتم یرغلګر پوځ چې «هغه شوروي

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوي، پراري او د افغانستان د تابعیت نه محروم شوي پرچمیان، کارمل او ملګري یې او داسې هم شوروي شوي او پراري شوي خلقیان- سروري او ملګري یې» هم ورسره وو په افغانستان یرغل وکړ. که څه هم دغه شوروي شوي او پراري شوي پرچمیان او خلقیان «په افغانستان کې پیدا شوي او د افغانانو په پیسو د عصري زده کړې خاوندان شوي وو، خپلو وطنوالو ته شا کړه او دولتي قدرت ته د رسېدلو له پاره یې د شورویانو مریتوب ته غاړه کېښوده. دوی په دغه ډول د خپلو وطنوالو د حاکمیت منل شوی حق تر پښو لاندې کړ او هغو او وطن ته یې خیانت وکړ.»۱۰

پاکستان د ژینو د خبرو په وخت کې نوې کشاله پیدا کړه هغه دا چې د کوردوویز نه یې وغوښتل چې د پرېکړې په وروستي متن کې دې د ډیورنډ کرښه نړیواله پوله وښودله شي. کاکړ وایي چې د کابل رژیم «حاضر و چې د دغې موضوع پر سر سوداګري وکړي، خو چې پاکستان یې په رسمي ډول وپېژني.»۱۱ کوردوویز وایي چې شاه محمد دوست راته وویل چې «... لکه هسې چې د اګست په وړاندیزونو کې ښودل شوي، دغه موضوع په ربښتیا د خبرو موضوع کېدلی شي. خو په مستقیم ډول د دواړو حکومتونو تر منځ او یوازې د پرېکړې له ختم نه وروسته.»۱۲ په دې توګه پرچمیان حاضر وو چې د پاکستان له لوري د دوی د رژیم د رسمي پېژندلو په بدل کې د ډیورنډ کرښه د نړیوالې پولې په توګه ومني. خو پاکستان دغه سوداګري ونه منله.

د افغانستان ملي ګټې د پاکستان سره د د ډیورنډ د کرښې له کبله په ټکر کې دي. د پاکستان واکمنو د محمد داود د جمهوریت پر مهال د افغانستان اسلامي تنظیمونو نه د افغانستان د بې ثباته کولو په موخه کار اخېستل پیل کړل. څنګه چې د افغانستان حکومت د پاکستان سره په یوې بنسټیزې مسلې یاني پښتونستان په سر اختلاف درلود، اسلام پالو ته اړینه نه وه چې په داسې شرایطو کې د خپل هېواد د ملي ګټو پر ضد د بوټو د پلانونو د پلي کولو وسیله شي. دوی په ۱۹۷۵ کال کې د بوټو د حکومت په هڅونې او مرستې د خپل وطن په ځینو ولایتونو کې وسله وال پاڅونونه وکړل. خو افغان حکومت هغه ټول وځپل او دوی بېرته پېښور ته پر شا شول.

د پاکستان پلان دا و چې د همدغو اسلامي تنظیمونو له لارې افغانستان تر خپل نفوذ لاندې راولي، تر څو خپل د ستراتیژیکي ژورتیا پلان خوب په کړو بدل کړي. ایران خو لا ډېر د مخه د افغانانو ناتوان کولو ته ملا تړلې ده. په دې توګه ټول مصیبتونه افغانستان ته اول د شوروي په یرغل سره او وروسته د همدغو ګاونډیو هېوادونو له خوا پېښ شوي دي.

د شوروي پوځ د وتلو او د نجیب الله د رژیم د نسکورېدو وروسته اسلامي تنظیمونو د دې پرځای چې د وران شوي ملک د بیا ودانولو او د ملي سیاست په کولو بوخت شي، د واک پر سر پخپلمنځي جګړو بوخت

(c) ketabton.com: The Digital Library



شول. د کابل ښار چې د نیواک په دوران کې لوی شوی او په امن کې و، په کنډواله بدل شو. په ټول ملک کې د سر، مال او ناموس خوندیتوب له منځه لاړ. په دغې دورې کې ابادي هېڅ ونه شوه. پاکستان، ایران او تر څه اندازې نور په دغه ناارام حالت کې خپلې ځانګړې ډلې پیاوړې کولې او په دې ډول یې په افغانستان کې یو ډول نیابتي جګړه کوله.

د طالبانو د واکمنۍ پر مهال ملا محمد عمر او سخت دریځو ملګرو یې د وطن د ملي ګټو په وړاندې د خپل وطن نه شړل شوي عرب ته ډېر ارزښت ورکړ. خو د سوډان واکمنو بن لادن د خپلو ملي ګټو د ساتلو په موخه د سوډان نه وشړلو. مشرف د پاکستان د ملي ګټو له پاره د امارت نه لاس واخېست او دا یې په ډاګه کړه چې «د پاکستان د ګټو نه بل څه لوړ نه دي» او «شرایط اوړي رااوړي خو ملي ګټې پر ځای وي،»۱۳ خو امارت ملي ګټو ته شا کړه او هېواد یې د ستر ناورین سره مخامخ کړ.

د امارت د نسکورېدلو وروسته په افغانستان کې د اساسي قانون له مخې یو لبرال ډموکرات ولسمشري نظام په پښو ودرول شو او د پنځه ویشتو کلونو وروسته د ډموکراسۍ نوې دوره پیل شوه. خو افغانانو هغه ګټوره موقع، چې د ۲۰۰۱ کال د سپتمبر د یوولسمې نېټې وروسته د دوی په ګټه منځ ته راغلې وه، د لاسه ورکړه. اوس له یوې خوا د طالبانو او امریکې تر منځ تړون لاسلیک شوی او د افغانستان د حکومت او طالبانو تر منځ د سولې خبرې پیل شوې دي چې پایله یې مالومه نه ده او د بلې خوا نړیوال ځواکونه د هېواد نه نږدې ټول ووتل. په دغه پېچلې وضعه کې چې جګړې زور اخېستی او د شلو کلونو لاس ته راوړنې د ګواښ لاندې دي موږ ته اړینه ده چې د هېواد ملي ګټو د ساتنې په خاطر د خپلو امنیتي ځواکونو ملا وتړو او د جمهوري نظام نه ملاتړ وکړو. د جمهوري نظام نه ملاتړ یو پرنسیپي موضوع ده هغه دا چې موږ د تاریخ په اوږدو کې یوازې اوس د داسې اساسي قانون څښتنان یو چې په هغه کې د لومړي ځل له پاره د دولت د سروال د ځای ناستي موضوع حل شوې او ولسمشر به یوازې د خلکو له خوا نوي ټاکل شوي ولسمشر ته واک سپاري او په دې توګه د هېواد پرمختګ تداوم مومي او د واک پر سر د جګړو مخنیوی کوي.

موږ ته مالومه ده چې د نړۍ له ټولنو نه هغه بریالۍ او پرمخ لاړې چې دولتي واک یې د اساسي قانون له مخې په اجرایه، مقننه او قضایه څانګو وېشلی، دولتي لوړو څوکیو ته رسېدل د ټاکنو له لارې ترسره کېږي، چارواکي غوره کوونکو ته مسؤل ګرزول کېږي او افرادو ته داسې حقونه او قانوني ازادۍ منلې شوې چې په هغو سره د خپلو ځانونو او په پای کې د ټولنې د ښېګڼو له پاره کار وکړي.

د دغه اساسي قانون په پلي کولو او د دولتي چارواکو په غوره کولو کې د وړتیا د اصل له مخې دغه شونتیاوې وار په وار ډېرېدلی شي چې قانون او

(c) ketabton.com: The Digital Library



موسسې ببخ ونیسي، د کودتا ګانو او جنګونو مخه ونیوله شي او امنیت او ملي پېوستون ټینګ شي. یوازې په دغسې حال کې خلک په ډاډه زړه کولی شي د مدني، صناعتي او کرنیز او داسې هم د پوهې، سیانس او تکنالوژي او د هنر او کلتور په لور په پراخ ډول مخه وکړي او وطن ودان او ژوند شتمن او ارزښتناک کړي.

**اخځونه**


۱-رحمت ربي ځیرکیار، د ناپوهی تیارې او د پرمختګ ډېوې ... ۷۵۵، کابل ۲۰۱۶

۲-ځیرکیار (۲۰۱۶، ۷۵۸)

۳-ځیرکیار (۲۰۱۶، ۷۶۱)

۴-ځیرکیار (۲۰۱۶، ۷۷۶)

۵-محمد حسن کاکړ، د سرطان کودتا، ۱۲۷، کابل ۲۰۰۹

۶- محمد حسن کاکړ، د ثور کودتا او د هغې ژورې پایلې، ۴۲۱، کابل ۲۰۱۰

۷-کاکړ، (۲۰۱۰، ۴۲۱)

۸-کاکړ، (۲۰۱۰، ۴۲۱)

۹-کاکړ، (۲۰۱۰، ۴۲۱)

۱۰-کاکړ، (۲۰۱۰، ۴۲۲-۴۲۱)

۱۱-محمد حسن کاکړ، افغان-شوروي جګړه، ۴۵۷، کابل ۲۰۱۵

۱۲-کاکړ، (۲۰۱۵، ۴۵۷)

۱۳-محمد حسن کاکړ، طالبان او اسلامي بنسټ پالنه، ۴۰۴، کابل ۲۰۰۴

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمد اقبال وزیري
۲۰۱۹

# د لوی افغانستان د جوړېدو مبارزې

زموږ لرغونی ټاټوبی اریانا چې بیا خراسان او وروسته افغانستان ونومول شو یو بسیا او ښېرازه هېواد و دا ځکه چې د یوې خوا د امو د رود شاوخوا مځکې د غنمو په مونډلو سره د کرنې وړ شوې چې په پایله کې یې کلیوالي او ښاري ژوند منځ ته راغی او د بلې خوا د ګاونډیو هېوادو«د سوداګرو، ګرځندویانو، سوبمنو او کډوالی لویه لار ګرزېدلې وه ... چې بیا په وروستنیو پېړیو کې یې د وریښمینې لارې باندې یاده شوه چې په پای کې یې چین، هند، پارس، او اروپا سره ونښلول»۱ او زموږ د هېواد د شتمنۍ سرچینه یې جوړوله . دغه لاملونه وو چې زموږ په هېواد کې مدنیتونه او دینونه منځ ته راغلل. «اریانا د ویدي مدنیت لومړنۍ ځانګو او د اوېستایي مدنیت اصلي ټاټوبی و.»۲ «په ویدي دوره کې ژغورنه طبیعي قوتونه ته په عبادت کې لټول کېده . په دې ډول هر طبیعي قوې ته په خدای لرلو باندې عقیده عامه وه او د خدایانو شمېر ډېر ګڼل کېده.»۳ په اوېستایي دوره کې د زردښتي دین بنسټ ایښودونکی پښتون زردښت «په نړۍ کې لمړنی مصلح یا د یو څو هغو مصلحانو څخه دی، چې د لومړي ځل له پاره یې د لوی څښتن د یو توب عقیده وړاندې کړه او نړۍ یې د بدۍ او نېکۍ د قوتونو د مقابلې هسې ډګر وګڼله چې په هغه کې د نېکۍ رب اهورا مزدا د بدۍ په رب اهریمن باندې غلبه کوي. د هغه په عقیده په اهورا مزدا باندې تکیه کول او د هغه دستورونه پرځای کول د انسان د ژغورنې سبب کېږي.»۴

زموږ په لرغوني هېواد کې د نورو هېوادونو څخه مدنیتونه او دینونه هم خپاره شول. د یونان اوهند څخه د ګریک او بودیک مدنیتونه راغلل چې « بیا دلته د افغانستان د هنرمندانو په لاس اخته شوی، ترکیب شوی او همدلته یې روزنه شوې وه»۵ او د ګریک-بودیک مدنیت وغوړېده چې د دواړو مدنیتونو او هم یې زموږ د هېواد د مدنیت ځانګړتیاوې درلودې او بیا د اسلام مدنیت په کې خپور شو .

زموږ په هېواد کې بودیزم هم خپور او ونمانځل شو چې بیا زموږ دهېواد د لارې چین، کوریا او جاپان ته هم ورسېد . بیا اسلام افغانستان ته لاره وموندله او اوس زموږ د هېواد رسمي دین دی چې زموږ د هېواد نه په هندوستان کې هم خپور شو.

خو وروسته دغه د وریښمو لار د قومي نښتو له امله نامصؤنه او هم په پنځلسمه میلادي پېړۍ کې د اروپا او هند تر منځ د سمندري لارې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرانېستلو له امله ورو ورو پرېښودل شوه چې د یوې خوا یې زموږ د هېواد مالي سرچینې وچې کړې او د بلې خوا یې زموږ کلتور « نه دا چې نه غوړېده بلکې شخېده او وچېده .» ۶

بله پېښه چې زموږ هېواد یې د ستر ناورین سره مخامخ کړ هغه زموږ په هېواد باندې د چنګېز خان تاړاکونه وو چې زموږ د وطن نړدې ټوله مادي او معنوي شتمني یې د خاورو سره برابره کړه او د سر زښت زیات زیان یې وروورساوه. «د چنګېز په تاړاکونو سره د اباد افغانستان ډېر ښاري مرکزونه په کنډوالو بدل شول، د کرنې سیستم یې تر ډېر حده پورې وران شو، د وګړیو ډېره برخه یې تباه شوه او له پاتې ژوندیو نه ډېرو یې د سلېمان غرو درو ته کډه وکړه.»۷ په دې ډول افغانستان په خپل ډېر اوږده تاریخ کې د لومړي ځل له پاره په یوه ستر معلوم انساني مصیبت واوښت. په دغه حال کې له دیارلسمې پېړۍ نه تر اتلسمې پېړۍ پورې د افغانستان تاریخ د پردیو تاریخ شو چې په وروستیو دوه نیمې پېړۍ کې د هېواد لوېدیځه برخه تر کندهار پورې د صفوي واکمنو، ختیځه برخه له اباسینه تر کابله او کلاته پورې د مغلو واکمنو او شمالي برخه یې د شیباني خانانو تر لاس لاندې وې.

**په ختیځ کې د لوی افغانستان مبارزې**

د ختیځو پښتنو مبارزو نه ستر احمد شاه بابا د خپل شعر په یوه بیت کې داسې یادونه کوي:

د «فرید» او د «حمید» دور به بیا شي    چې زه وکاندم په هر لوري تاختونه

احمد شاه بابا د حمید لودي او فرید خان چې د شیرشاه سوري په نوم نامتو شو دورو ته اشاره کوي. پښتنو د څلورمې هجري پېړۍ په دوران کې د هندوستان په یوه څنډه کې لومړی پښتني حکومت د شیخ حمید لودي په مشرۍ جوړ کړ چې د ملتان نه نیولې تر لغمانه پورې سیمې یې تر واک لاندې وې چې وروسته د سلطان محمود غزنوي له خوا د حمید وراره داود ته چې د ملتان پاچا و، ماته ورکړه او دا پښتني حکومت رانسکور شو.

د نهمې هجري پېړۍ په دوهمه نیمایي کې پښتنو بیا د بهلول لودي په مشرۍ په هندوستان کې د یوې پراخې امپراتورۍ بنسټ کېښود چې د پنجاب نه د بهار ایالت تر پولې پورې غزېدلې وه. د بهلول نه وروسته سکندر لودي واکمن شو چې یو غښتلی او مقتدر شخصیت او د ډېر تدبیر څښتن و. د سکندر لودي نه وروسته ابراهیم لودي واک ته ورسېد چې د خپلې واکمنۍ په وخت کې د پښتو امیرانو سره ناوړه رویه غوره کړه او د کورنیو بې اتفاقي یې منځ ته راوړه چې په پای کې د مغولي بابر له خوا د پاني پت په جګړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې مات او ووژل شو او بابر د هند واکمن شو. د بابر د مړینې وروسته د هغه زوی همایون د واک په ګدۍ کېناست.

په دغه وخت کې پښتنو بیا د خپل مدبر او زړور مشر فرید خان په مشرۍ سره راټول شول او د خپل پخواني برم د بېرته اعادې کولو له پاره یې ملا وتړله. هغه مهال چې همایون د خپل سیال ورور شاه زوی کامران سره په جګړه بوخت و شیرشاه بنګال، بهار او رهتاس چې د بهار تر ټولو ټینګه کلا وه، ونیول. همایون د شیرشاه سوري سره په یو شمېر جګړو کې ماتې وکړه او اړ شو چې په ۱۵۳۰ کې د پنجاب، سند او بلوچستان له لارې پارس ته وتښتي. په دې توګه د پښتنو واکمني بیا په هند کې د فرید خان سوري په مشرۍ چې د شیرشاه سوري لقب یې غوره کړ، ټینګه شوه. شیر شاه سوري د خپلې واکمنۍ په لنډه دوره کې په نسبي توګه د حکومت او ادارې اغېزمن اداري سیستم منځ ته راوړ چې د مخه لودیانو پیل کړی و. هغه څه چې ده نوي ورباندې زیات کړل هغه د مالیې او د قضایي ادارې سمون و. دغه لوړ اداري سیستم چې په هندوستان کې شیرشاه منځ ته راوړ وروسته د مغولو د ادارې بنسټ وګرځېد.

**روښاني غورځنګ**

په هند کې د لودي او سوري دولتو د نسکورېدو وروسته افغانانو په پښتونخوا کې د هند د مغولي واکمنو، چې د هېواد ختیځه برخه یې لاندې کړې وه، پر وړاندې خپل ملي ازادي بخښوونکی غورځنګ د روښان پیر، چې د سوویلي وزیرستان د کانیګرم و، په مشرۍ پیل کړ چې په تاریخ کې د روښاني نهضت په نوم یادیږي.

روښان پیر چې په کندهار کې په کندهاریانو د مغولو د انسانیت نه وتلي زور زیاتي راپارولی و، د هند دمغولي واکمنو په ضد د مبارزې بیرغ پورته کړ لکه چې وروسته میرویس خان هوتک هم په کندهاریانو باندې د ګورګین ظلمونو راپارولی و. روښان پیر د وزیریستان په کاني ګرم کې د عرفان او تصوف له لارې یو فکري نهضت پیل کړ او خپل مریدان یې راټول کړل. ده د مغولو د ظلم په وړاندې خلکو ته دا تبلیغ کاوه چې مذهب افغانانو ته دا اجازه ورکوي چې د دغو ظالمانو د ظلم نه ځان ازاد او وژغوري لکه چې وروسته میرویس نیکه د ګورګین د ظلمونو په وړاندې د مکې معظمې د دیني عالمانو نه فتوه واخېسته چې دغې فتوې د پردیو د ظلم په وړاندې د ازادۍ په لاره کې د افغانانو مبارزه روا وګڼله. روښان پیر د خپلو پلویانو په زیاتېدو سره د یوې خوا خپل مذهبي اغېز ته دوام ورکاوه او د بلې خوا یې سیاسي اغېز غښتلی کېده.

جان لیډن وایي چې د روښان پیر د پلویانو په زیاتېدو سره د مذهبي اړخ تر څنګ سیاسي اړخ هم غښتلی کېده. دی زیاتوي چې «روښاني نهضت چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خپل بنسټ اېښودونکي د ستر نبوغ او استعداد نه برخورداره په دوو اساسي ستنو ياني ملي او ديني اصولو ولاړ و نړدې يوه پېړۍ د مغلو د امپراتورۍ تر ټولو نه ښېرازه او اباده دوره کې د نفوذ نيلۍ وزغلاوه او سره له دې چې د اکبر مغل د واکمنۍ د پيل نه د شاه جهان تر وخته پورې يې د ځپلو له پاره هر ډول کوښښونه وکړل روښاني عقيدې خپلې ودې او پرمختګ ته دوام ورکړ.»٨

روښان پير د پښتنو د خپلواک دولت د جوړېدو اړتيا ته پام شو. ده نه يوازې دا اړتيا په ګوته کړه بلکې د هغه د پلي کولو له پاره يې عملي ګامونه واخېستل. ده او د ده کورنۍ په دې لاره کې دومره سترې سرښندنې ورکړې چې د پوهاند ډاکټر کاکړ په وينا «په شپاړسمه پېړۍ کې د ميا روښان کورنۍ ياني ده پخپله، زامنو او لمسيانو يې د خپلواکۍ په لار کې دومره سرښندنې کړې چې شايد په نړۍ کې د خپلواکۍ په لار کې بلې کورنۍ دومره سرښندنه نه وي کړې.»٩

روښان پير د دې سترې موخې د تر سره کولو له پاره د افغانانو په منځ کې يو ساده خو د قبيلو د کچې نه لوړ سازمان جوړ کړ او عشر يې د خراج په نامه په خپلو پلويانو وضع کړو او د جګړې د غنيمتونو پنځمه برخه يې هم اخېسته. په دې توګه يې يو بيت المال منځ ته راووړ چې د هغه په مرسته خپل پوځي ټولګي تمويل کړي او هم د بې وزلو او غازيانو سره مرسته وکړي.

بايزيد روښان همدارنګه د ځو زرو سوارو او پليو اردو جوړ کړ او اعلان يې وکړ چې «هند به فتح کړم هر څوک چې اس لرى راځي دې د اکبر پاچاهي زموږ ده.»١٠

روښان پير د خپلو فکرونو د خپروي په موخه د خپل ټاټوبي نه تيراه ته ولاړ او هلته ډېر اپريدي، اورکزي، بنګش او تيراهي د ده د لارې مله شول. بيا پېښور ته ولاړ او هلته يې ډېر خلک مريدان شول. روښان پير په جلال اباد باندې د جګړې پر مهال چې پوځي ډلې يې ماته وکړه جل وواهه او مړ شو. خو د روښان پير د مړينې وروسته د ده په لاس د اېښودل شوي ملي ازادي بخښوونکي غورځنګ بله شوې ډېوه د ده د زامنو او لمسيو روښانه وساتله.

د روښان پير د مړينې وروسته «د ده زامنو چې هر يوه يې ځان پاچا اعلان کړى و د پاځون بيرغ رپانده وساته. جلال الدين روښان، وروسته له دې چې ټول مشر ورونه يې په مبارزه کې له لاسه ورکړي وو، په ځوارلس کلنۍ کې د پلار په ځاى کښېناست. جلال الدين روښان د نړۍ د ډېرو فعالو مشرانو په ډله کې راځي. پيروان يې له کابل نه تر پېښور پورې فعال وو، يواځې يوسفزي ٢٣ ځله د مغولو پر ضد ولاړل شول. روښانيانو په مختلفو وختونو کې پېښور کلابند کړ او له کابل او غزني څخه يې حاکمان

(c) ketabton.com: The Digital Library



وشړل،.خو په پای کې ټول ناکام شول.»۱۱ په ۱۵۸۶ کال کې مومند د مغولو په وړاندې جګ شول او پېښور يې کلابند کړ او مغولي جنرال مان سنګ چې د پېښور د کلابندی د ماتولو او ازادي غوښتونکو د ځپلو په موخه استول شوی و هم خيبر پرمخ تړلی وليد او مات شو. په ۱۵۸۷ کال کې زين خان صوبه دار سوات او باجوړ ته لښکر وايست خو د يوسفزيو له خوا مات شو او په دغه جګړه کې د جلال الدين مشاور راجا بيربل د اتو زرو مغولي جنګياليو سره د کړپه په تنګي کې ووژل شو . په ۱۶۲۰ کې د مغولو يوه لويه قوه تېراه ته ننوتله چې کلکه ماته يې وکړه.

د روښان پير او د هغه روښاني غورځنګ پر ضد د مغلو پاچاهانو د غښتلي منظم پوځ جګړه ييز عمليات، د اخوند دروېزه او سيد علي ترميزي په مشرۍ د پيرانو او عالمانو پراخ تبليغ او هم هغه کسان چې خپل مالونه يې د لاسه ورکړي او د روښاني غورځنګ د نه ملاتړ له امله د مغولو سره همکاري کوله مبارزه کوله چې په پای کې د روښاني غورځنګ د ماتې لاملونه شول.

د روښانيانو د ناکامۍ وروسته په بله پېړۍ کې خوشال خان خټک هسک شو او په خپلو مبارزو او ملي شعرونو يې د مغولو امپراتوري ولړزوله.

خوشال خان د خپل پلار شاهباز خان د مړينې وروسته د خپل پلار پر ځای د خټکو د قبيلې خان وټاکل شو. ده د مغولو د واکمنو سره د خپل پلار غوندې همکاري پيل او خپله دنده يې په امانت داری سره تر سره کوله. خو خوشال خان د کابل صوبه دار له خوا د يوې دسيسې په ترځ کې ونيول شو لومړی په ډيلي کې بندي و او د هغه ځايه د رنتبهور بنديتون ته يووړل شو او دوه نيم کاله د رنتبهور په بنديتون کې ډېر کړاوونه وګالل. دی بيا د رنتبهور د بنديتون نه وايستل شو او اګرې ته يووړل شو او هلته له بنده ايله شو او په ډيلي کې نظر بند وساتل شو او وروسته پښتونخوا ته راستون شو او د مغلي واکمنۍ پر ضد يې مبارزه پيل کړه لکه چې وايي:

پس له بنده دی دا عزم
د خوشال د خاطر جزم
يا نيولی مخ مکې ته
يا مغولو سره رزم

خوشال بابا د مغولو پر ضد د خلکو د پارولو، د لښکرو د ټولولو له پاره د پښتنو ټبلو سيمو ته ډېرې دورې وکړې او ټول پښتانه يې د ملت په توګه د مغولو پر ضد مبارزې ته رابلل.

د افغان په ننګ مې وتړله توره
ننګيالی د زمانې خوشال خټک يم

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې ترتیب د هند د مغولو پر ضد د پښتنو د مقاومت وروستۍ مرحلې تمثیلوونکی د پښتون ناسیونالیزم پلار او د اوسنۍ پښتو ژبې بنسټ اېښودونکی ستر شاعر او مبارز خوشال خان خټک دی. د ده سره په دغه مبارزه کې ایمل خان مومند او دریا خان اپریدی ملګري وو.

دا مرحله په ربښتیا سره د یوسفزو په پاڅون سره پیل شوه. دوی په ۱۶۶۷ کال کې ان د اباسین د رود د هغې غاړې د مغولو پوځي موقیعتونه ونیول. د خوشال خان خټک په وخت کې یوسفزي، مومند او اپریدي د مغولو د حاکمیت پر ضد تر ټولو لا ټینګ ودرېدل.

**د ایمل خان مومند مبارزې**

ایمل خان مومند د خپلواکۍ په لار کې هغه جګړه کلونه توده وساتله چې د روښان پیر، د هغه زامنو او لمسیانو نږدې یوه پېړۍ د مغولو په وړاندې پرمخ بیولې وه. ایمل خان مومند اپریدي او مومند سره یو موټی کړل. کاکړ وایي چې د دغو قومونو ستراتیژیکي اهمیت په دې کې دی چې منځنۍ اسیا له سوویلي اسیا سره په لنډ ډول سره نښلوي. مغولي واکمنو ته د خیبر دره نه یوازې د سیاسي او سوداګرۍ له امله ځانګړی اهمیت درلود بلکې په روحي لحاظ هم مهمه وه چې دوی د دې لارې د خپل پلرني ټاټوبي فرغانې سره اړیکې درلودی شوې.

د خیبر دره چې د ډکې نه تر جمرود پورې غزېدلې ده د اپریدو سیمه ده. اپریدي هغه خلک دي چې په زیات ګومان د تاریخ پلار هیرودت د اپه ریتای په نوم یاد کړي دي. مومند د اپریدو ګاونډیان دي چې د کامې او پېښور تر منځ سیمې کې اوسیږي.

ایمل خان مومند د دریاخان اپریدي په ملګرتیا دغه دواړه قومونه یو موټی کړل او د مغولو امپراتوري یې وننګوله. د هند د تاریخ پوه سرکار په وینا ایمل خان په اصل کې یو ذاتي جنرال و، پاچایي یې اعلام کړه، سکه یې په خپل نامه ووهله او ټول پښتانه قومونه یې په دغه ملي غورځنګ کې د ګډون له پاره وبلل.۱۲ په ۱۶۷۲ کال مومند او اپریدي د ایمل خان مومند په مشرۍ د مغولو په وړاندې پاڅېدل او د کابل مغولي صوبه دار محمد امین خان ته چې د یوه لوی پوځ په مشرۍ یې غوښتل د خیبر دره پرانیزي کلکه ماته ورکړه. د برتانوي هند د حکومت د جغرافیایي سیند له مخې امین خان ټول پوځ چې شمېر یې څلوېښت زرو ته رسېده د پوځي وسلو او سامانونو سره د لاسه ورکړ. پښتنو هم په دې جګړې کې ډېر جنګیالي له لاسه ورکړل. کاکړ وایي چې په نړۍ کې به دغسې جګړه کمه وي چې دغومره انسانان په کې وژل شوي وي. په ۱۶۷۳ کال کې اپریدو په ګنداو کې د مغولو دوهم لښکر مات کړ او یو کال وروسته یې په ۱۶۷۴ کال کې د مغولو دریم پوځ په خاپش کې مات کړ.۱۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دغو ماتو له امله پاچا اورنګ زېب اړ شو چې ډیلی پرېږدي او په ابدال حسن کې دیره شي. اورنګ زېب د حسن ابدال نه د پښتنو پر ضد د جګړې لاربښوونه کوله او د ۱۶۷۴ کال نه د یو نیم کال په بهیر کې د خپلو وتلو جنرالانو اضغر خان او شجاعت خان په قوماندانۍ د پښتنو د ځپلو له پاره پوځونه واستول. خو دغو جنرالانو لږ بری او زیاته ماتې وخوړه او په خپله شجاعت خان په یوه جګړه کې ووژل شو. په پای کې اورنګ زېب پرته له دې چې په پوځي ډګر کې بریالی شي بېرته ډیلي ته ستون شو.

اورنګ زېب پوه شو چې د جګړې له لارې نه شي کولی چې خپلې موخې ته ورسیږي نو بیا یې د ډیپلوماسۍ لار ونیوله. ده پښتنو ته د سوغاتونو، تنخواګانو او جاګیردارونو په ورکولو پیل وکړ. ده پښتنو ته ننني خپلواکي ومنله تر هغو چې په څرګند ډول یاغي نه وي. نوموړې دغو قومونو ته د هندوستان او منځنۍ اسیا تر منځ د کاروانونو د ازاد تګ راتګ له پاره په کال کې شپږ لکه روپۍ ومنلې. برسېره پر دې هغه اپریدو، مومندو، شینوارو، یوسفزو، او خټکو ته په کاروانونو باندې د لارې د تېرېدو مالیي اخېستل ومنل. په دې توګه مغولي حکومت په تجربې سره پوه شو چې د پوځي زور پر ځای رشوت ورکول ارزانه تمامیږي. په پای کې یوسفزي، بنګښ، د تیراه قومونه او ان د خوشال خټک یو زوی ورو ورو مغولي حکومت ته تسلیم شول او د پېړۍ تر پایه پور ټول پاڅونونه ارام شول.۱۴

په دې توګه ختیځ پښتانه د خپلواک دولت په جوړولو کې نابریالي شول لامل یې دا و چې خپلواک دولت لرلو له پاره لازمه ده چې د زیاتي کرنیز حاصل نه مالیه ورکړل شي او هم تر یوې اندازې د دولت په ګټه د خپلې ازادۍ نه تېر شي. خو د کاکړ په وینا «دوی لومړنی نه درلود او د دوهم ورکولو ته حاضر نه وو.»۱۵ میا روښان چې غوښتل یې دولت د غنیمت له لارې تنظیم کړي په خپلو کوښښونو کې پاتې راغی. په پای کې ختیځو پښتنو د خپلواک دولت په جوړولو کې پاتې راغلل او دوی تر اوسه خپلواک دولت نه لري. خو د ختیځو پښتنو جګړو په لوېدیځو پښتنو لوی اغېز وشینده. لوېدیځو پښتنو د بلې پېړۍ یاني د اتلسمې پېړۍ په پیل کې د میروېس نیکه په مشرۍ په کندهار کې د افغان خپلواک دولت بنسټ کېښود او بیا د احمدشاه بابا په مشرۍ د امو نه تر اټکه خپلواک ملي دولت جوړ کړ. د کاکړ په وینا «د احمد شاهي دولت په رامنځ ته کېدو کې د ختیځو پښتنو ونډه اساسي وه. په دې ډول چې دوی په خپلو جګړو سره نه یوازې د احمد شاه له پاره ډګر هوار کړی و، بلکې له هغه سره یې د ملکونو په نیولو او د امپراتورۍ په جوړولو کې هم مرسته وکړه.»۱۶

**په لوېدیځ کې د لوی افغانستان مبارزې**

د مخه مو یادونه وکړه چې د هېواد لوېدیځه برخه تر کندهار پورې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



صفوي واکمنو تر واک لاندې وه. کندهار چې کوټه، ژوب او بلوچستان يې برخې وې او له کلات نه تر فراه پورې پراته سيمه وه دغه مهال هم تر زياتې اندازې يې خپل تاريخي اهميت ساتلی و. د کندهار ډېرې سيمې د هلمند، ارغنداو او ترنک د رودونو او د معتدلې هوا په لرلو سره تل ښېرازه او ابادې وې. همدغه لامل به وي چې په کندهار کې ان د تاريخ نه د مخه دوره کې خلک اوسېدلي او وروسته په هلمند او ارغنداو کې ميشتو ګندهاريو په هلمند کې د ګندهارا په نوم ښار جوړ کړ چې د کندهار اوسنی ښار د دغو ښارونو په لړ کې وروستی ښار دی.

د مغلو او صفويانو د واکمنۍ په مهال په کندهار کې د ابداليانو ټول خېلونه، د غلزيانو څه خېلونه، د دوی په څنګ کې تاجکان، ملتانيان او نور او د ښار د باندې ايرانيان پراته وو. په عمومي توګه د غلزيو خېلونه له کلاته تر کابله پورې د مغولو د کابل د واکمن او ابداليان د کندهار د صفوي واکمن تر لاس لاندې وو. خو دواړه قومونه په خپلو کورنيو چارو کې خپلواک وو او چارې يې خپلو مشرانو ور تنظيمولې. دغه مشران په اصل کې وروسته له هغه د زيات واک څښتنان شول چې ولسونه يې ميشته شول او کلي او ښارونه يې ودان کړل. د دغو مشرانو له نوميالیو نه يو سلطان خودکي (پوپلزی) او بل سلطان ملخي (توخي) وو او دوی په ۱۶۲۴ کال کې سره جوړه وکړه چې د هغې له مخې ګرم اب د دوی تر منځ ټاک (پوله) وټاکل شو. د دې ټاک لوېديځه خوا به د ابداليانو او ختيځه خوا به د غلزيانو وي. په دې ډول د دغو دوو قومونو تر منځ د شخړو مخه ونيول شوه. د سلطان خودکي سروالي د صفوي حکومت او د سلطان توخي سروالي د هند مغولي حکومت منلې وه.

د پوهاند ډاکټر کاکړ په وينا د دواړو قومونو مشران نه يوازې په ولسي چارو کې بلکې په نړيوال سياست کې او په ځانګړې توګه د کندهار په سر د دواړو امپراتوريو په سياليو او جنګونو کې د تجربې خاوندان شول.

د ګورګين د راتګ وروسته په کندهار کې سترې پېښې يو پر بل پسې وشوې. دغه مهال د صفوي واکمنو رسمي سياست دا و چې شيعه ګان وهڅوي او سنيان وځپي. د دغه سياست پر بنسټ ګورګين د کندهار سنيان تر فشار لاندې ونيول او د ياغيانو په ځپر چلند يې ورسره کاوه. دوی غوښتل چې د ابداليانو او غلزيانو دوديزې خپلواکۍ ته د پای ټکی کېږدي. برسېره پردې يې غوښتل چې د مغولو په وړاندې ټينګ مورچل جوړ کړي چې کندهار، چې پخوا څو ځلې د پارسيانو او مغولو له خوا لاس په لاس شوی و، بيا د مغولو لاس ته ونه لوېږي.

ګورګين د دې پلان د پلي کولو له پاره لومړی د ابدالي مشرانو پر ضد دسيسې وکړې. لومړی يې د دولت خان د سدوزو ځواکمن مشر د منځه وړلو په پلان کې بريالی نه شو بيا يې د پښتنو د هغه کمزوري ټکي نه ګټه پورته

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړه چې هغه د دوی ځان غوښتنه ده. د ګورګین لښکر یوه شپه د عزت خان سدوزي او اتل خان سدوزي په مرسته او لارښوونه په ښار صفا کې ناڅاپه د دولت خان ابدالي په کلا برید وکړ او دولت خان یې د خپل زوی نظرمحمد او فقیر نومي نوکر سره ووژل. د دولت خان د مړینې وروسته د ده زوی رستم خان د قوم مشر شو. بیا یې رستم خان بندي او وواژه. او د ده د مړینې وروسته یې د ده غښتلې ډله وځپله او بیا یې د هغه مخالفه ډله د عزت خان سدوزي او اتل سدوزي په مشرۍ اړه کړه چې ارغستان پرېږدي او د کندهار په ختیځه خوا کې میشته شي. لږ مهال وروسته یې ناڅاپه پرې ودانګل، ډېر یې ترېنه ووژل، ډېر لویان یې کرمان ته ورځخه وشړل او پاتې ابدالیان د شوراوک چاپېر دشتو او غرو ته وکوچېدل.

**هوتکیان او میروېس نیکه**

د ابدالیانو د ځپلو وروسته په کندهار کې غلجیان د یوه ستر قوم په توګه پاتې شول چې مشر یې میروېس خان هوتک و. د ابدالیانو د ځپلو وروسته ګورګین د هوتکو د ځپلو نیت وکړ. په دې منظور ګورګین د هوتکو مشر میروېس خان هوتک ته مراجعه وکړه چې د دوستی په پلمه د ده قوم هم وځپي. خو میروېس د تېرو پېښو نه عبرت اخېستی و او دې ته یې پورا پام و چې ګورګین یې تېر نه باسي. ده د خپلواکۍ غورځنګ د همکارۍ په جامه کې په پټه پیل کړ او د کندهار د ښار د کلانترۍ منصب یې ومانه.

خو کله چې ګورګین د میروېس خان د نفوذ د زیاتېدو نه په وېره کې شو نو هغه یې اصفهان ته وشړه. میروېس خان د خپلې پوهې او ځیرکۍ له کبله د دربار ځواکمن کسان د ځان پلویان کړل او د حج د ادا کولو نه وروسته یې چې د عربستان د عالمانو نه یې د خپلې خوښې سره سم اخېستې فتوا ورسره وه د صدراعظم اعتماد دوله له لارې اجازه تر لاسه کړه چې په کندهار کې د ګورګین د مشاور په توګه کار وکړي. د دوسرسو فرانسوي په وینا میروېس خان د پارس د دربار «د ټولو وزیرانو نه په یوازې توګه ډېر هوښیار و.»۱۷

میروېس خان د پخوا غوندې د ګورګین سره همکاري پیل کړه خو ګورګین پرې ډاډه نه و نو ده د خپل زوی له پاره د میروېس خان لور په نکاح وغوښتله. میروېس خان د دې موضوع له پاره د کوکران جرګه راوغوښته. جرګې پرېکړه وکړه چې د ګورګین د غافلولو له پاره د میروېس خپله وینځه د لور په نامه په نکاح ورکړي او همداسې وشول. لکن د میروېس په وړاندې اصلي مسله د خپلواکۍ وه. مګر د کاکړ په وینا د دې موخې د سر ته رسولو له پاره نه تنظیم و، نه وسله او نه پوځ او نه د وسله والې مقابلې توان. خو ګورګین نه یوازې شل زریز پوځ درلود بلکې شا ته یې یوه لویه امپراتوري ولاړه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



میرویس خان د خپل پلان د عملي کولو له پاره د مانجې تاریخي جرګه راوغوښته چې قومي مشران او روحانیون په کې شامل وو. د دې جرګې د غړو یادونه د پښتو ژبې په لومړۍ شاهنامه (محمودنامه) کې ریدي خان مومند کړې ده او دغه کسان په کې شامل وو: سیدال خان ناصر، بابوجان بابي، بهادرخان اندړ، ملا پیرمحمد میاجي، عزیزخان نورزی، یوسف خان هوتک، ګل خان بابړ، نورخان برېڅ، نورخان الکوزی، یحی خان هوتک، حاجي نور محمد هوتک، چې په حاجي انګو مشهور دی، یونس کاکړ او نور. ده د دې جرګې له لارې وکړای شول چې د کندهار ولسونه د ګډ عمل له پاره تیار کړي.

میرویس خان پلان درلود چې لومړی د ګورګین پوځ په څو برخو وویشي بیا د یوې برخې نه وسله واخلي او د نورو برخو د ځپلو له پاره یې وکاروي. جرګې د میرویس خان پلان تایید کړ او پرېکړه یې وکړه چې د بلوڅو، کاکړو او ترینو خانان به خپل ولسونه وهڅوي چې د مالیې د ورکولو نه سر وغړوي تر څو ګورګین اړ شي چې د خپلو پوځونو یوه برخه هلته واستوي. ګورګین چې خبر شو نو د کاکړ په وینا ده شپږ نیم زره سرتېري د میرزا سندل په قوماندنۍ او په خپله د زرو تنو جنګیالیو سره ور روان شو. ده د میرویس نه هم وغوښتل چې د خپلو ایله جاریو سره د ارغسان په ده شیخ کې ور سره یو ځای شي. په دې توګه د میرویس د پلان لومړۍ برخه پلې شوه هغه دا چې د ګورګین پوځ په څو برخو وویشي. په ده شیخ کې اوه سوه ناصرو او هوتکو د میرویس په قوماندنۍ د ګورګین په زر کسیز پوځ د شپې په تروږمي کې ناڅاپه برید وکړ او له منځه یې یووړ. په دې ګام سره د میرویس د پلان دوهمه برخه پلې شوه هغه دا چې د یوې برخې نه وسله واخلي او د نورو برخو د ځپلو له پاره یې وکاروي. میرویس خان د مخه درې نیم زره قومي ځوانان په وړو ټولیو کې منظم کړي او دنده ورکړ شوې وه چې د ښار اړیکه د بهر سره وشاري تر څو پارسیان د پېښې نه خبر نه شي. په خپله میرویس او د هغه ملګري چې د ګورګین او د هغه د پوځیانو جامې یې اغوستې وې او د هغوی په وسلې یې ځانونه سمبال کړي وو د شپې په تیاره کې ښار ته ننوتل او په بې ساري چټکۍ سره یې پارسیان تباه کړل. وروسته یې د هغو دوه نیم زره پوځیانو نه چې د بلوچستان نه کندهار ته راستانه شول څه یې له منځه یووړل او نور یې په منډه د تباهۍ خبر اصفهان ته ورسوه.

ده د نوي هېواد بهرني سیاست ته پوره پام وکړ. میرویس خان د ایران د دولت د غافلولو له پاره یو لیک د پارس د پاچا په نامه اصفهان ته په دې موخه ولېږه چې یو څه وخت وګټي تر څو د صفوي دولت د غچ اخېستونکو کړو وړو په وړاندې اړین دفاعي تدبیرونه ونیسي. بل لیک یې د هند مغولي پاچا ته ولېږه چې په کې ویل شوي و چې د کندهار خلکو د صفوي دولت پر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ضد بریالی پاڅون کړی او خپلواکي یې ګټلي ده. که چېرې د پارس پاچا د کندهار د خلکو پر ضد پوځ راواستوي او موږ اړ شو چې له تاسو مرسته وغواړو نو تاسو به مرسته وکړی که نه؟ د هند پاچا په ظاهري توګه د کندهار خپلواکي په رسمیت وپېژانده خو په پټه یې صفوي دولت ته پیغام ولیږه چې د دې پېښې مخه زر ونیسي تر څو د دې پاڅون لمبې د هند لمنې ته پراخې نه شي چې بیا د پښتنو تېر برم یاني د غوریانو، غلجیانو، سوریانو او لودیانو خاطرې را ژوندۍ نه شي.

میرویس خان دا اټکل هم وکړ چې پارسیان به د دې پېښې د غچ اخېستلو له پاره اړین ګامونه پورته کړي نو سمدلاسه یې د کورنیو سمونونو په څنګ کې په دفاعي تدبیرونو لاس پورې کړ. میرویس خان په لنډ وخت کې پوځ منظم او د پارسیانو نه یې په نیولو وسلو سمبال کړ او یو منظم توپچي قوه یې هم جوړه کړه.

صفویانو لومړی محمد جامي نومي سړی د ګواښ له پاره راولیږه چې د میرویس په امر بندي شو. بیا یې د هرات حاکم محمدخان چې د حج په سفر کې د میرویس ملګری و راواستوه چې د میرویس په امر د یوه درانه مېلمه په توګه په کندهار کې وساتل شو. کله چې صفوي واکمنان خبر شول نو په کندهار باند یې د پوځې یرغل ترتیبات ونیول. صفوي دولت په هرات کې میشته پوځ ته امر وکړ چې په کندهار یرغل وکړي. میرویس هم د پنځه زریز ازادي غوښتونکي پوځ سره وروړت او سخته ماته یې ورکړه.

بیا د پارسیانو منظم پوځ د اتلسو میاشتو په جریان کې څلور ځله یرغلونه وکړل او ماتې یې وکړه. د دې وروسته صفوي واکمنو د خسرو خان په قوماندانۍ یودېرش زره پوځ کندهار ته واستوه چې دې پوځ کندهار څو میاشتو کلابند کړ خو وروسته د میرویس خان د زړورو جنګیالیو له خوا کلابندي ماته او د خسرو پوځ د ده په شمول تباه شول. دوه کاله وروسته د رستم خان په مشرۍ پارسیانو پر کندهار یو بل یرغل وکړ چې هغه هم ناکام شو.

میرویس خان چې له دې ګواښونو نه هېواد وژغوره نو د خپلو نورو پلانونو د پلي کولو ته یې خپل پام واړاوه. خو د بده مرغه هغه څه چې دښمن د جګړې له لارې ونشو کړای چې میرویس خان د خپلې لارې ایسته کړي نو دا کار یې بیا زموږ افغانانو د هغې کمزورۍ له لارې تر سره کړ چې هغه د پښتنو ځان غوښتنه ده. د دې کار د پلي کولو له پاره یې د میرویس ورور عبدالعزیز ولمساوه چې په خپله پاچا او پاچاهي یې په کورنۍ کې نیکاتي شي. عبدالعزیز خپل مدبر، هوښیار او ځیرک ورور ملي مشر میرویس خان ته د پارس د دربار په لمسون زهر ورکړل او د ۴۱ کالو په منګ د دې نړۍ نه سترګې پټې کړې اروا دې ښاده وي. د عبدالعزیز له خوا میرویس خان ته د زهرو ورکولو پېښه د محمد معصوم هوتک په وینا

(c) ketabton.com: The Digital Library



عبدالغفار هوتک په خپل تاریخ کې چې هوتکنامه نومیږي او لطیف جان بابي په سپارښت او لګښت حبیب الله رفیع چاپ کړی دی بیان شوی دی. د دې پېښې تفصیل د هوتکنامې د ۱۳۶ بیت نه تر ۲۲۸ بیت پورې راغلی دی. عبدالغفار هوتک وایي:

په زهرو یې شهید حاجي میر خان که
حکومت یې برادر بیا عزیز خان که۱۸

د ده د مړینې وروسته د میروېس ورور عبدالعزیز د جرګې له خوا د میروېس پرځای وټاکل شو.

عبدالعزیز چې د ولس په مشورې د میروېس نیکه پر ځای وټاکل شو د خپل ورور په شان نه تورزن، نه پوه، نه مدبر او نه د درایت خاوند و. ده په لومړي سر کې د قوم مشران راوبلل او دوی ته یې د پارس د دولت پیاوړتیا او ځواکمنتوب او د ځان د ناتوانۍ په هکله خبرې وکړې خو د ولس د مشرانو د سخت غبرګون سره مخامخ شو او ده ته یې ګواښ وکړ چې دا خبرې باید ګرد سره په خوله رانه وړي که نه بل چا ته به ځای پرېږدي. خو میر عبدالعزیز چې خپل ورور یې د پارسیانو سره د پټ جوړ جاړي په پایله کې په زهرو وژلی و د قوم مشرانو د مشورې پرته خپل وړاندیزونه د پارس حکومت ته وړاندې کړل. دا وړاندیزونه دادي:

«له افغانانو دې باج نه اخېستل کیږي؛
کندهار ته صفوي عسکر نه راځي؛
د افغانانو پاچاهي دې د عبدالعزیز په کورنۍ کې میراثي ومنل شي.»۱۹

د عبدالعزیز دغه دریځ ته د ولس مشرانو په کرکه وکتل او د ولس په مشوره عبدالعزیز د میروېس د مشر زوی محمود له خوا ووژل شو او ټول په دې سلا شول او په یوه خوله او یوه اواز یې د شاه محمود هوتکي پاچاهي ومنله

**د شاه محمود هوتک واکمني**

شاه محمود هوتک په خلکو ګران او یو زړه ور او مېړنی جنرال و خو ځنګه چې یو تنکی ځوان و دومره سیاسي پوهه او تجربه یې نه درلوده چې د سیاست په ډګر کې یو بریالی مشر وي. نوموړی د مخه تر دې چې د خپل هېواد یووالی را منځ ته کړي د پارس د نیولو په فکر کې شو. د هغه وخت د تاریخ لیکوالان دا وایي چې د اصفهان نیول یې د پلار وصیت و. دا سمه ده چې پلار یې د ځنکدن په مهال د اصفهان د نیولو خبره کړې ده خو پلار یې ولې د خپلو اتو کالو په واکمنۍ کې دې کار ته اقدام نه کاوه؟ فکر کوم چې دې کار د پلي کېدو له پاره شرایط تیار نه و. هغه دا چې دې کار له پاره تر ټولو د مخه د پښتنو هېواد د امو نه تر اباسینه پورې باید یو موټی شوی وی

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د دې له پاره د ټولو پښتنو قبيلو او په تېره بيا د غلزيانو او ابداليانو د قبيلو يوالی اړين و.

په هر صورت شاه محمود هوتک د اصفهان د نيولو نه د مخه د کرمان د خلکو په غوښتنه هغې خواته روان شو. شاه محمود هوتک لښکر ته د سيستان په ريګستان کې د خوارکي موادو، غلې او وښو د نشتوالي له امله د سر او مال زيات زيان ورسېد. خو د دې سره سره هغه کرمان ته ورسېد او د کرمان خلک په خپله خوښه ده ته تسليم شول. خو په دغه مهال په کندهار کې بيجن سلطان لکزي د ملک جعفر خان په ملتيا چې بندي و، د کندهار د نورو پارسيانو په مرسته پاځون وکړ تر څو کندهار بيا د پرديو تر ولکې لاندې راولي. شاه محمود د کندهار د اړدوړ د ځپلو له پاره کندهار ته راستون شو. خو د ده تر رسېدو د مخه اړدوړ کوونکي د ده د کشر ورور مير حسين هوتک له خوا ځپل شوي او زندۍ شوي وو.

خو په هر حال وروسته زلمي مشر د يو باکفايته جنرال په توګه د ګلناباد د تاريخي جګړې په پايله کې اصفهان ونيو خو د سياسي مشر په توګه د دې هېواد د ادارې په سمبالولو کې پاتې راغی. د دې دورې څېړونکي نږدې ټول يوه خوله دي چې ځينې پېښې د دې سبب شوې چې د ده دماغي توازن د منځه ولاړ شي او په پايله کې ووژل شو. خو ماته دا فکر هم پيدا شو چې د دې پېښو د منفي اغېز تر څنګ شايد د داسې زهرو په ذريعه دی مسموم شوی وي چې سوکه سوکه اغېز شيندي. دا ګومان ما ته له دې نه پيدا شو چې يو د ده او د ده د صدراعظم امان الله مېرمنې سره خويندې او د شاه حسېن صفوي لونه وې او د دوی تر منځ د نفاق تخم هم د دغو خوندېو د فعاليت محصول دی او دغې موضوع ته اعظم سيستاني د کرونسکي د ليکنې په حواله داسې اشاره کوي. امان الله د شاه محمود هوتک نه د خفه کېدو نه وروسته په ظاهر کې «د خپلو قواوو سره د اصفهان نه د کندهار په نيت ووتو. امان الله هم د سلطان حسين د يوې لور سره واده کړی و او له دې اړخه هم د شاه محمود د ډېرو نږدې کسانو نه شمېرل کېده. کرونسکي د امان الله دا ګام د شاهزدګۍ، د امان الله د مېرمنې د لمسون پر بنسټ بولي چې د خپل مېړه او شاه محمود تر منځ د مخالفت نه خبره وه.» ۲۰ برسېره پردې دا چې ده به کله خپل ځان ته خوله اچوله دا هم شايد د زهرو اغېز وي. دا چې پارسيانو د دې توان درلود چې ميرويس خان په خپل کور کې د خپل ورور په ذريعه په زهرو د منځه يوسي نو په اصفهان کې به دا کار دومره ګران نه و چې د شاه حسين لونه يې د پلار غچ وانخلی. په هر صورت شامحمود د اشرف له خوا ووژل شو او د ده د مړينې وروسته د ميرويس ورارہ او د عبدالعزيز زوی اشرف د شاه محمود په ځای په اصفهان کې پاچا شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د شاه اشرف هوتک واکمني**

د معصوم هوتک په وینا شاه اشرف د عبدالعزیز زوی چې د یوې خوا د محمود نه د خپل پلار د وژلو له امله مانېجن و او د بلې خوا د خپل پلار د ملي ضد دریځ پلوي نه و څه خوابدی و. له دې امله د هوتکو مشران د اشرف په کور کې سره راټول شول چې د شاهي کورنۍ خپل منځي خوابدي لیرې کړي. دواړو خواو جرګې ته واک ورکړ چې دا ستونزه د پښتني دود سره سم هواره کړي. جرګې د دوی تر منځ زړه بدګی پای ته ورساوه او اشرف یې د پوځ د یوې برخې قوماندان وټاکه. اشرف چې د یوې خوا زړه ور قوماندان و او د بلې خوا د خپل تره میروېس بابا پوهه، ځیرکي او دپلوماسي هم په کې راټوله شوې وه، د کورنیو تربورۍ او ان د پښتنو د قبیلوي تفکر نه یې د فکر کچه ډېره لوړه وه. ده د شاه محمود سره یو ځای د اصفهان په نیولو کې تورې ووهلې.

شاه اشرف د شاه محمود د وژلو وروسته د ۱۷۲۷ کال د اپرېل د میاشتې په ۲۶ نېټه د شپږویشتو کالو په منګ د اصفهان پر تخت کښېناست. شاه اشرف تر پاچا کېدو وروسته ډېر زیار وکیښ چې د شاه محمود د وروستیو وختو د کړو وړو نه ځورېدلي خلک دلاسا او پخلا کړي او په دې برخه کې پوره بریالی شو. خو دی د یوې خوا د روسانو او ترکانو د سیخ یرغل سره مخامخ شو او د بلې خوا د پارس د کورنیو مخالفینو لکه شاه زوی طهماسب میرزا او نادر افشار سره مخامخ شو. برسېره پردې د شاه محمود وژل په کندهار کې د شاه حسین هوتک له خوا د عبدالعزیز د غچ اخېستلو په بڼه وګڼل شو او د کندهار نه هم ورسره مرسته ونه شوه. په دغو شرایطو کې هم ده وکولی شول چې د خپل جنګي مهارت او پخې دپلوماسۍ له مخې د پارس د خاورې د ساتنې په منظور روسیه او ترکیه دواړه په خپل ځای کښېنوي. نوموړي ترکانو ته د ماتې ورکولو په پایله کې د ۱۷۲۷ کال په همدان کې د دواړو لورو ترمنځ د سولې تړون لاسلیک شو د دعه تړون له مخې ترکانو اشرف هوتک د پارس قانوني پاچا په توګه وپېژندلو او شاه اشرف په پارس کې د ترکانو سوبې په رسمیت وپېژندلې او عثماني سلطان یې د خلیفه واقعي ځای ناستی او د مسلمانو د مشر په توګه ومانه. همدارنګه شاه اشرف روسانو ته هم ماتې ورکړه چې د هغې په پایله کې روسان اړ شول چې د دواړو لورو تر منځ د سولې تړون لاسلیک شي. دلته لازمه ګڼم چې د شاه اشرف د پخې ډپلوماسۍ د روښانولو له پاره د روسیې د حکومت او د پښتون شاه اشرف د نماینده ګانو تر منځ د سولې تړون چې د ګیلان د رشت په ښار کې د ۱۷۲۸ کال د فبرورې د میاشتې په دیارلسمه نېټه لاسلیک شو سریزه او دوې مادې لوستونکو ته وړاندې کړم چې متن یې د لیننګراد د ارشیف د روسي متن نه محمد ولي ځلمي تهیه کړی دی.

«د لوی او بخښونکي خدای په نامه دا لاندې موافقتنامه اعلانیږي:-

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اعلیحضرت دوهم پېتر چې د ټولې روسیې امپراتور او د خزر د سمندر په غاړه ایالاتو مالک دی له خپل مقابل لوري اعلیحضرت شاه اشرف چې د ایران [پارس] پاچا او د ډېرو مځکو خاوند دی د سولې دا تړون کیږي. څنګه چې موږ ګاونډیان یو او غواړو چې د نظامي شخړو د حل د پاره د وسلې پر ځای له خبرو څخه کار واخلو. د خبرو د اعلیحضرت دوهم پېتر د ټولې روسیې له خوا علي جناب ستر جنرال واسیلي لیواچوف د سنټ الکزاندر د نښان درلودونکی او د خزر سمندر ساحلي ولایاتو لکه ګیلان، مازندران او استر اباد د ټولو روسي قواوو قوماندان او د اعلیحضرت شاه اشرف د ایران [پارس] ستر پاچا او د ډېرو مځکو خاوند له خوا د افغاني اردو ستر سپاسالار او ډېر محترم سیدال خان بیګلر بیګي او ډېر درانه عالی جنابان مستوفي عالي خاصه میرزا محمد، اسمعیل عمر سلطان او حاجي محمد ابراهیم وټاکل سول، چې د دې سترو دولتو او د هغو د اتباعو له خوا یې په اتفاق سره سوله د دواړه خواوو تر منځ ګټوره بللې ده او دایمي او حقیقي یووالی لازم بولي، د دوستی دایمي تړون یې منلی دی.

۱-ټولې هغه مځکې او ښارونه له ټولو متعلقاتو سره یې چې په ایران[پارس] کې له طرفینو سره ضمیمه دي ، هغه ځایونه چې پخوا یې سرحد ټاکل شوی، څه هغه ځایونه چې اوس یې سرحد ټاکل شوی، د دریمې مادې سره سم تر ابده پورې له طرفینو سره تړلي دي.

۲-اعلیحضرت د ټولې روسیې امپراتور د خپل دولت له خوا اراده کړې ده چې د استر اباد، ګیلان او مازندران ولایتونه چې ساحلي ولایتونه دي، د هغې زړې دوستی له کبله چې امپراتور یې له ایران [پارس] سره لري ، ایران [پارس] ته ورپرېږدي په دې شرط چې دا ولایات به په هېڅ ډول بل دولت ته نه پرېښودل کیږي. او که له دې شرط سره بې اعتنایي وشوه نو یاد شوي ولایتونه به سره له ټولو متعلقاتو یې د دوهم ځل له پاره روسیه تصرف کوي، او تر ابده پورې به د روسیې نه بېلېدونکې برخې وګرځي او دا تړون به لغوه کیږي.»۲۱

محمد ولي ځلمی په خپل کتاب کې چې «د افغانستان او روسیې د سیاسي روابطو تاریخچه نومیږي» دغه تړون د افغانستان او روسیې تر منځ د دپلوماتیکو اړیکو پیل ګڼي.

شاه اشرف د روسیې او ترکیې سره په جګړو کې زیات افغانان د لاسه ورکړل او په پوځ کې پردي خلک زیات وو نو په پای کې یې ماتې وخوړه او دابراهیم بلوچ له خوا د دبرشو کالو په منګ ووژل شو او په پارس کې د پښتنو واک پای ته ورسېد. دا باید ووایم چې د یوې خوا شاه محمو هوتک او شاه اشرف هوتک په پارس کې حکومت کولو او د خپل مرکز کندهار پرېښودلو کندهار کمزوری کړ چې وروسته نادر افشار رانسکور کړ خو د بلې خوا د پارس نیول او په هغه حکومت کول د افغانانو هویت او نوم په

(c) ketabton.com: The Digital Library



نړۍ کې وځلاوه.

**د شاه حسین هوتک واکمني**

شاه محمود هوتک کله چې په ۱۱۳۸ کې د پارس د نیولو په موخه د کندهار نه روان شو نو د کندهار تخت یې خپل کشر ورور شاه حسین هوتک ته وسپاره. دغه مېړني، پوهنپال، او ادبپال پاچا له غزني نه تر سیستان او هراته د ژوب، ګومل او ډېره جاتو پورې په عدل او انصاف او پوهنپالنې او ادبپالنې واک وچلوه. د ده مېړنتوب د نادر د نیواک ګرو پوځونو سره د کندهار په ساتنه کې چې د یوه کال نه یې زیات وخت ونیو په ډاګه شو او تلپاتې نوم یې وګاټه. دی چې د ملا یارمحمد نه زده کړې کړې وې د پوهنې، شعر او ادب سره یې ډېره مینه درلوده. ده د خپلې پاچاهۍ په دوران کې د نارنج په ماڼۍ کې د پوهانو، شاعرانو او ادیبانو غونډې رابللې او یو کتابتون جوړ کړی و. د کندهار د نسکورېدو سره شاه حسین هوتک چې د یوه کال مقاومت نه وروسته نادر افشار ته تسلیم شو. د نادر افشار له خوا دی او د هوتکیانو نور نامتو کسان پارس ته ولېږل شول او هلته د نادر افشار په امر په زهرو ووژل شو. روح د ښاد وي. په دې توګه د هوتکیانو دېرش کلنه وکمني پای ته ورسېده.

**احمد شاه بابا**

درانیانو هغه مهال، چې په کندهار کې د میرویس خان هوتکي په مشرۍ د لومړي افغان دولت بنسټ کېښودل شو، په هرات کې ابدالي دولت جوړ کړو چې وروسته دواړه دولتونه د نادر افشار له خوا ړنګ شول او ټول افغانستان یې تر خپلې واکمنۍ لاندې راوست. خو کله چې نادر افشار د پارس په خبوشان کې ووژل شو نو احمد خان چې د نادر افشار د ګارد قوماندان و د نادر افشار د کورنۍ عزت یې د پارسیانو د تېري نه وژغوره. د نادر افشار مېرمنې د احمد خان د دې کارنامې د قدردانۍ په خاطر د «کوه نور» په نامه د نړۍ تر ټولو نامتو الماس ده ته ورکړ. محمد اعظم سیستاني د انجنر کهکدای د لیکنې پر بنسټ وایي چې دغه د کوه نور الماس مغولي بابر د ابراهیم لودي د مېرمنې او مور نه په زور اخېستی و. بیا نادر افشار د مغول واکمن محمدشاه ګورګاني نه واخېست او لکه چې د مخه مې یادونه وکړه د نادر افشار مېرمنې احمد خان ابدالي ته وبخښه چې وروسته د شاه شجاع نه رنجیت سنګ او د رنجیت سنګ نه انګرېزانو لاسته راوړ چې اوس د انګلستان مالکې تاج پرې ښکلې شوی دی.

د نادرشاه افشار د وژلو وروسته احمدخان بېرته د خپلو ملګرو سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



کندهار ته راوګرزېد. دلته پښتنو مشرانو چې د نادر افشار په واکمنۍ کې یې پوره سیاسي تجربه تر لاسه کړې وه پرېکړه وکړه چې خپل هېواد خپلواک کړي. دوی په ۱۷۴۷ کال کې د کندهار په شیر سرخ کې سره جرګه شول او د نهو ورځو نه وروسته د صابر شا پیر په وړاندیز احمد خان د افغانستان د پاچا په توګه وټاکل شو. په دې ترتیب د شیر سرخ جرګې د افغان حکومت بنسټ کېښود.

د احمدشاه بابا لومړۍ موخه دا وه چې د امو نه تر اباسینه د افغانستان خپلواک دولت جوړ کړي. د دې موخې د لاسته راوړلو له پاره غښتلي پوځ جوړولو ته اړتیا وه چې زیات لګښت پرته یې د جوړېدو شونتیا نه وه. هغه مهال د بې وزلې پښتنو نه دومره پیسې نه وې چې دا د اړتیا وړ مالیه ور ځخه راټوله کړي. خو د ښه مرغه هغه خزانه چې د هند نه پارس ته روانه وه احمدشاه خپله کړه او ده ته یې د دې توان ورکړ چې یو غښتلی پوځ تنظیم کړي. احمد شاه د دغه پوځ په مرسته په لنډه موده کې وکړای شول چې د امو او اباسین تر منځ د هېواد خاوره د پارس د صفویانو، د هند د مغلو او ازبکانو له منګلو خلاصه او خپلواک افغانستان جوړ کړي.

احمد شاه بابا د خپلو لښکر کښیو په پایله کې په کشمیر، پنجاب، سند، کشمیر او پارسي خراسان یا پخوانی پارتیا کې د واک په غزولو سره امپراتوري جوړه کړه چې دا د پښتنو وروستۍ امپراتوري وه.

احمد شاه بابا د ننه په هېواد کې خپلواک دولت تنظیم کړ چې په خپله یې د پاچا په توګه مشر شو. ایالتي اداره یې ولسي خانانو او مشرانو ته پرېښوده او دوی په کورنیو چارو کې ازاد وو. ځکه د ده د واکمنۍ په مهال د افغانستان په هېڅ سیمه کې د ده په وړاندې خلک پورته نه شول خو بیا هم ځینو جنرالانو غوښتل چې د ده په نشتوالي کې ګډوډۍ رامنځ ته کړي چې ځینې یې وځپل شول او ځینې پخلا کړای شول. د نور محمد خان علیزي، کدوخان او محبت خان پوپلزي دسیسه، د عبدالغني خان چې د احمدشاه بابا ماما و او د هغه د ملګرو دسیسه، په کندهار کې د سلطنت نایب لقمان خان د احمدشاه بابا وراره دسیسه، د هرات د والي درویش خان هزاره دسیسه او د نصیر خان بلوچ سرغړونه یې نمونې دي.

په دې ترتیب دی د پورته یادو شوو سترو کارنامو په پایله کې د خپلو خلکو له خوا د بابا په نوم یاد شو او تلپاتې درناوی یې وګاټه. احمد شاه بابا نه یوازې یو وتلی سیاسي شخصیت، د جګړې په ډګر کې تکړه او زړور جنرال، بلکې د پښتو ژبې شاعر و. چې موږ ته یې د شعر دیوان په میراث پرې اینښی دی.

د احمد شاه بابا په وخت کې کله کله ګاونډیو هېوادونو دا هڅه کوله چې خپلې سیمې او ملکونه د افغانانو د واکمنۍ نه ازاد کړي خو په خپله افغانستان مامون و. خو یوازې د احمد شاه بابا د لمسیانو په دوره کې چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیالو شاه زویانو په خپل منځ کې د واک په سر په جګړو بوخت وو، ګاونډیو هېوادونو له هغو نه په ګټې اخېستنې سره د افغانستان پر ځنډو وردانګل لکه چې د قاجار کورنۍ او د پنجاب سیکانو د نولسمې پېړۍ په سر کې وکړل. له هغې وروسته په نولسمه پېړۍ کې د یوې خوا د احمدشاه بابا د لمسیانو، د سدوزیو او محمدزیو او بیا د بارکزیو ورونو ترمنځ د تخت او تاج په سر د کورنیو جګړو او ناندریو او د بلې خوا د دوو سترو اروپایي امپراتوریو یاني د لویې برېتانیې او تزاري روسیې د سترې لوبې د سیالۍ له امله لومړی د افغانستان امپراتوري له منځه لاړه او بیا افغانستان کمزوری او کوچنی شو، د ډېورنډ کرښې نږدې نیم کړ. د دې سره سره د کاکړ په وینا د افغانانو د خپلواکۍ او ازادۍ غرور چې احمد شاه بابا په خپلو بریو او کارنامو نور هم ټینګ او پیاوړی کړی و تر اوسه دومره پیاوړی دی چې د وطن د ننګ او ناموس غښتلی ساتونکی ګڼل کېږي چې ښه بېلګه یې د پخواني شوروي اتحاد د تیري په وړاندې د افغانستان ژغورل دي.

پای

**اخځونه:**

۱-ډاکټر محمد حسن کاکړ ، د پاچا امان الله واکمنۍ ته یوه نوې کتنه، ۶ ، پېښور ۲۰۰۵

۲-کاکړ ، (۲۰۰۵، ۴ )

۳- کاکړ ، (۲۰۰۵، ۵ )

۴- کاکړ ، (۲۰۰۵، ۵ )

۵- استاد علي احمد کهزاد، افغانستان د تاریخ په رڼا کې ( د اورنګزیب ژباړه)، ۱۱۴ ، پېښور ۲۰۰۱

۶- کاکړ ، (۲۰۰۵، ۸ )

۷- کاکړ ، (۲۰۰۵، ۹ )

۸- حبیب الله تږی، د مشرق په اسمان کې د مغرب ستوري، ۳۱ ، پېښور ۱۳۸۴

۹-ډاکټر محمد حسن کاکړ، زما غوره لیکنې، ، ۱۲، کابل ۲۰۱۰

۱۰-محمد اقبال وزیري، پښتو د تاریخ په بهیر کې، ۸۴، کابل ۲۰۱۵

۱۱- ( کاکړ، ۲۰۱۰ ، ۶۶ )

۱۲-( کاکړ، ۲۰۱۰ ، ۹۳ )

۱۳-( کاکړ، ۲۰۱۰ ، ۹۴ )

۱۴-( کاکړ، ۲۰۱۰ ، ۹۵ )

۱۵-( کاکړ، ۲۰۱۰ ، ۹۵ )

۱۶-( کاکړ، ۲۰۱۰ ، ۹۶ )

۱۷-محمد اعظم سیستاني، ظهور افغانستان معاصر و احمدشاه ابدالي، ۱۵۱ پېښور ۲۰۰۷

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۸-محمد معصوم هوتک، سل پګړۍ یو پړونی،۴۲، پېښور ۲۰۰۷
۱۹-(محمد معصوم هوتک، ۲۰۰۷، ۱۴ )
۲۰-( سیستاني، ۲۰۰۷، ۱۸۵ )
۲۱-محمد ولي ځلمی، د افغانستان او روسیې د سیاسي روابطو لنډه تاریخچه، ۲۵ کراچي ۱۳۷۴

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمد اقبال وزیري
۲۰۲۰

# پښتونستان

د اتلسمې پېړۍ په پیل کې میروېس نیکه په کندهار کې د لومړي افغان دولت بنسټ کېښود. د میروېس نیکه زوی شاه محمود هوتک د پارس د صفوي امپراتورۍ پلازمینه اصفهان یې د ګلناباد د تاریخي جګړې په ترڅ کې ونیو. افغانانو په ګلناباد کې د خپل تاریخ یوه تر ټولو ستره جګړه وګټله. دغې جګړې شل کلن شاه محمود هوتک د زمانې د تر ټولو ځوانو سوبمنو په لیکه کې ودراوه.

په ۱۷۴۷ کال کې د ستر احمد شاه بابا په مشرۍ له امو نه تر اباسینه پورې ټول افغانستان د پردیو له واک نه خپلواک شو. بیا نوموړي په کشمیر، پنجاب، سند او پارسي خراسان ته په واک خپرولو سره دراني امپراتوري جوړه کړه چې دا د پښتنو په تاریخ کې د پښتنو وروستۍ امپراتوري وه.

د احمد شاه بابا د مړینې وروسته د ده زوی تیمورشاه د خپلې واکمنۍ پر مهال د هېواد د خاورې د تمامیت د ساتلو سره سره د دراني امپراتورۍ د زوال شرایط هم برابر کړل.

په نولسمه پېړۍ کې افغانانو د یوې خوا د احمدشاه بابا د لمسیانو، د سدوزیو او محمدزیو او بیا د بارکزیو ورونو ترمنځ د تخت او تاج په سر د کورنیو جګړو او ناندریو او د بلې خوا د دوو سترو اروپایي امپراتوریو یانې د لویې برېتانیې او تزاري روسیې د سترې لوبې د سیالۍ له امله ګام په ګام نه یوازې د خپلې امپراتورۍ د خاورې هغه برخې چې د نورو څخه یې نیولې وې، بلکې د امو او اباسین ترمنځ د خپل هېواد ځینې برخې هم د لاسه ورکړې.

د زمان شاه د واکمنۍ په مهال خراسان د کورنیو بې اتفاقیو او د انګلیس د توطیې په پایله کې د افغانستان له لاسه ووت. «شاید هغه [زمان شاه] د مشهد او نیشاپور نه په دې شرط تېرشوی وي چې ایران د ده د مشر ورور محمود د مرستې نه لاس واخلي. په دې ترتیب د انګلستان لومړۍ توطیې د افغانستان د ګټو په ضد میوه ورکړه.»۱

د افغاني سیستان یوه برخه انګلیسانو د امیر شېرعلي خان د واکمنۍ په وخت کې د ګولډ سمیت دغیر عادلانه منځګړیتوب په اساس ایران ته وبخښله او بیا یې د ماکموهن د پولې په راښکلو سره د هېرمند لوېدیځې برخې ایران ته ورکړې چې ترننه پورې د دواړو هېوادو په اړیکو یې سیوری اچولی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تزاري روسيې په منځنۍ اسيا کې د خپل پرمختګ په بهير کې په ۱۸۸۴ کال کې مروه، په ۱۸۸۵ کال کې پنجده او همدارنګه په لوی پامير کې د افغانستان ځينې ځمکې ونيولې.

انګليسانو د افغانستان څخه سند، پنجاب، کشمير، بلوچستان، غازي خان ډېره، اسماعيل خان ډېره او په پای کې پېښور ونيول. په ۱۸۹۳ کال کې «د ډيورنډ توافق ليک د برتانوي هند د حکومت په نېغ فشار او د تزاي روسيې په غير مستقيم فشار»۲ په امير عبدالرحمن باندې وتپل شو. انګليسانو په افغانستان باندې د ډيورنډ د کرښې په تپلو سره زموږ لرغونی هېواد ټوټې ټوټې کړ چې د افغانستان په راتلونکې سياسي، اقتصادي، کلتوري او ټولنيزې ودې باندې يې ډېر ناوړه اغېز وکړ.

د ډيورنډ هوکړه ليک نه انګرېزانو دوې موخې درلودې. د برتانوي هند لومړۍ موخه دا وه چې په ختيځو سيمو کې د امير عبدالرحمن پوځي او سياسي وړاندې تګ مخنيوی وکړي. امير د ډيورنډ د هوکړه ليک د مخه د دغو سيمو په قومونو باندې ډول ډول نفوذ خپروه. د برتانوي هند دوهمه موخه چې اساسي وه دا وه چې د هند په لوري د روسيې د پرمختګ په صورت کې به کابل، غزني او کندهار په بيړه نيسي او د روسيې د پرمختګ مخه به ډب کوي.

د ډيورنډ هوکړه ليک د برتانوي هند حکومت او د امير د نفوذ سيمې مالومې کړي. په خپله ډيورنډ د يوې مرکې په ترڅ کې ويلي و چې «د هندوستان دې خوا قومونه بايد داسې ونه ګڼل شي، چې د ننه د برتانيې په سيمه کې پراته دي. هغوی يوازې په تخنيکي لحاظ زموږ تر نفوذ لاندې دي، ياني دا چې تر هغه ځايه چې په امير پورې اړه لري او تر هغه ځايه، چې دوی زموږ نفوذ ته تسليميږي يا موږ په هغو باندې نفوذ کوو.»۳

سر اولوف کېرو په زياته روښانه توګه وايي چې «په توافق ليک کې هېڅ ځای د پولې (boundry) کليمه نه ده کارول شوې چې د ډيورنډ کرښه مشخصه کړي. تر يوې اندازې دا يوه کرښه وه چې دنده يې دا وه چې وښايي چېرته د امير نفوذ تم کيږي او چېرته د انګرېزانو د نفوذ سيمه ښودل کيږي.»۴

لکه چې د مخه مې يادونه وکړه د دې هوکړه ليک په اړه لومړی خبره دا ده چې د هند حکومت دغه هوکړه ليک ته رښتنی نه و ځکه چې د هغوی موخه دا وه چې د اړتيا په صورت کې به په افغانستان کې پوځي لاسوهنه کوي. مهمه دا ده چې امير عبدالرحمن د دغه هوکړه ليک فارسي متن او ورسره مله نقشه لاسليک کړي نه دي. کاکړ وايي چې ده د کابل، نوي ډهلي او لندن په ارشيفي مرکزونو کې د امير په لاس لاسليک شوی متن نه دی ليدلی. دی زياتوي چې که چا د دغه هوکړه ليک دغسې متن په فارسي يا انګريزي کې وښود چې امير او ډيورنډ دواړو لاسليک کړی وي، اعتبار به

(c) ketabton.com: The Digital Library



يي لږ تر لږه د تېل شوي هوکړه ليک په توګه تثبيت شي. تر هغې پورې موجود متن د اعتبار وړ کېدلی نه شي.

کاکړ وايي چې بل مهم ټکی د دې هوکړه ليک په اړه دا دی چې د همدغه هوکړه ليک د متن ځينې برخې د پلې کېدو په ډګر کې د امير له پاره د منلو وړ نه وې او انګرېزانو هم د هغه ځينې اعتراضونه ومنل. د بېلګې په توګه د پخواني کافرستان د باشګل دره د هوکړه ليک په متن کې د انګرېزانو د نفوذ په سيمه کې ښودل شوې ده، خو په ۱۸۹۶ کال کې چې د ډيورنډ کرښه هلته په نښه کېدله، امير په دې ټينګ شو چې باشګل د افغانستان برخه ده. د هندوستان وايسرا لارډ ايلګين د امير اعتراض ومانه او د باشګل موضوع يې «د خواشينۍ وړ تېروتنه» وبلله. امير په دې هم ټينګ ودرېد چې ټول مومند د افغانستان برخه ده. د هند حکومت د امير ادعا رد نه کړه، خو په اړه يې څه ونه کړل او امير ته يې ځواب هم ورنه کړ. د امير په فکر د هند د حکومت چوپ پاتې کېدل د هغو له خوا د ده د ادعا منل و. د مومندو سيمه په نښه نه شوه او امير بيا هلته د سړک جوړولو امر وکړ. د دغه سړک د جوړولو کار هم پيل شو چې د امير د مړينې وروسته يې کار په ټپه ودرېد. د امير د مړينې وروسته د امير حبيب الله خان د واکمنۍ پر مهال د مومندو سيمه دوې برخې وګڼل شوه، هغه برخه يې چې کوز مومند په نامه ياديږي او تر پېښور پورې رسيږي، د هند د نفوذ سيمه وګڼل شوه او بر مومند د پخوا په شان د افغانستان شو. داسې هم د تورخم برخه د امير عبدالرحمن د اعتراض له امله په نښه نه شوه. دغې کرښې لوی قومونه، کلي او ان کورونه سره بېلول. د بېلګې په توګه ترکلاني، وزير، شينواري، نورزي، اڅکزي، برېڅ، بلوچ او نور. دا هغه قومونه دي چې سره ګډه ژبه، ګډ دين، ګډ تاريخ، ګډ کلتور او ورسره ورته نړۍ ليد او همداسې يو راز اقتصادي، کرنيز او ټولنيز طرز لري. دوی نه سره بېليږي او نه هم د پرديو واکمني مني.

د ډيورنډ د هوکړه ليک په اړه بل مهم ټکی دا دی، چې نږدې ټول پښتني قومونه همدا چې پوه شول چې د انګرېزانو د نفوذ په ساحه کې راغلي دي د ملا نجم الدين اخندزاده، ملا فقير او ملا مانکي او نورو قومي مشرانو په سروالۍ په ۱۸۹۷ کال کې په يوه لوی پاڅون لاس پورې کړ او ځانونه يې تر شبقدر پورې ورسول. خو انګرېزانو د دوی پر وړاندې د اويا زريز پوځ نه کار واخېست چې په هغو کې ځوان ونستن چرچل هم و، هغوی يې خواره کړل خو د هغوی مخالفت يې د منځه يوولی نه شو. دوی په تېره وزيرو، مسيدو، اپريدو او مومندو تر هغه چې انګرېزان د هند څخه نه وو وتلي، د هغو پر ضد يې د غزا جنډه رپانده وساتله او ان په هند باندې يې يرغلونه وکړل.

د ډيورند د هوکړه ليک په اړه بل اساسي ټکی د هغه د ماهيت په اړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی، چې موقتي دی، نه تلپاتي. دا چې د هوکړه لیک د اعتبار موده ټاکل شوې نه ده، په اصل کې د همدغه موقتي توب له امله و. دا د دې دپاره و چې انګرېزان د پښتنو په ستراتیژیکو سیمو کې وسلې، لوژیستیکي وسیلې او مهمات زیرمه کړي او د اړتیا په صورت کې به له دغو ځایونو نه جلال اباد، کابل، غزني او کندهار نیسي او روسان به نه پرېږدي چې له هندوکش نه واوړي. انګرېزانو دغې موخې ته د رسېدو په نیت لا د مخه د لویو لارو سرونه لکه خیبر، کرمه، پښین او سیبي نیولي وو. دغه ځایونه یې د ګندمک د تړون له مخې لاسته راوړي وو او د سوویلي وزیرستان ګومل یې د ډیورنډ د هوکړه لیک سره ترلاسه کړ. دغه سیمې په اصل کې د هند او افغانستان تر منځ د بیلتون یا حایل په شان وې. برتانویانو تر پایه دغه سیمې د سرحد (Frontier) په نامه یادولې او اداره یې د هغو قومونو ته پرې ایښې وه. د ډیورنډ هوکړه لیک د دې له پاره نه و چې د افغانستان سره پوله (boundry) ولري. د هند وایسرا ایلیګین وایي: «د ډیورنډ هوکړه لیک دغسې یو هوکړه لیک و، چې د برتانوي حکومت او امیر د نفوذ ساحې مالومې کړي»۵ د ډیورنډ په هوکړه لیک سره دوی له دغو سیمو نه په نظامي او اداري لحاظ د افغانستان لاس لنډ کړ او په نورو ساحو کې افغانستان د پخوا په شان خپلې دودیزې اړیکې وساتلې او مشرانو ته یې د مواجب په نامه معاشونه ورکول. د دغو قومونو د مشرانو جرګې به په پرله پسې ډول کابل ته تللې او هلته یې امیر ته ویل چې دوی د افغانستان رعیت دي او دوی دی خپل امیر ګڼي. خو امیر د دوی غوښتنې په پلمو سره ردولې په دې چې دی د اپریدو په برخه کې د ګندمک په تړون سره او د نورو په برخه کې د ډیورنډ په هوکړه لیک سره د هغو له اداره کولو نه منع شوی و.

دا مهمه ده چې یادونه وکړو چې دا هوکړه لیک (agreement) د یوه واکمن او د یوه بهرني هېواد د یوه افسر تر منځ شوی دی او یو تړون (treaty) نه و. یو تړون هغه وي چې د دواړو لورو د دولت نمایندګان د خپلو خلکو په نماینده ګي تړون وکړي او بیا یې تصویب کړي.

د روستار تره کي د څېړنې له مخې نړیوال تړون باید د دواړو لورو د صلاحیت لرونکو استازو له خوا لاسلیک شي او بیا د خلکو د استازو له خوا تصویب شي. خو موږ داسې اسناد په لاس کې نه لرو چې د ډیورنډ هوکړه لیک دې د انګلستان د عوامو د مجلس له خوا تصویب شوی وي. افغانستان هغه وخت پارلمان نه درلود او امیر د خپلو خلکو د ویرې نه زړه ونه کړ چې په دې موضوع دودیزه لویه جرګه جوړه کړي او د ملت د استازو سره مخامخ شي. دا هوکړه لیک په رسمي جریده کې خپور او اعلام شوی نه دی چې ان نافذ شي. دا هوکړه لیک د ملګرو ملتونو په ارشیف کې ثبت شوی نه دی.

د نړیوالو حقوقو له مخې کله چې یو هېواد تحت الحمایه (پروتېکټوراټ)

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي، یوازې ساتونکی دولت د نړیوال تړون د کړلو حق او صلاحیت لري. د امیر عبدالرحمن په وخت کې افغانستان تحت الحمایه هېواد و. د هېواد بهرنی امنیت او باندني سیاست اداره د انګرېزانو په لاس کې وو. افغاني تحت الحمایه دولت د نړیوال تړون د کړلو نه بې برخې و. که د یو دولت په استازې باندې د ګواښ او فشار په وسیله وتړل شي هېڅ یو حقوقي اغېز درلودای نه شي او بلکل باطل دی.۶ د بېلګې په توګه په ۱۹۴۱ کال کې کمبودیا د فرانسې تحت الحمایه و. په فرانسه باندې د جاپان له خوا نظامي فشار نوموړی هېواد دې ته اړ کړ چې د تایلنډ سره د پولو د تثبیت په اړه یو تړون لاسلیک کړي. تړون د کمبودیا مځکني تمامیت ته ډېر زیان واړاوه. د جاپان د ماتې نه وروسته فرانسې اعلام وکړ چې تړون د پوځي ګواښ لاندې تړل شوی و او له تحت الحمایګي نظام سره یوځای ملغا اعلانیږي.

د امیر عبدالرحمن د مړینې وروسته امیر حبیب الله خان واکمن شو. د برتانوي هند حکومت په دې ټینګار کاوه چې د امیر عبدالرحمن سره د ډیورنډ تړون شخصي و او د هغه د ځای ناستي سره د بیا خبرو اترو وړ و. د هند د حکومت موخه دا وه چې د خبرو له لارې د امیر حبیب الله خان نه دا امتیازات تر لاسه کړي چې د پښتونخوا د سیمو په سیاست کې به لاسو هنه نه کوي او د افغانستان او برتانوي هند په منځ کې به د مومندو پوله ټاکي. برتانوي هند امیر حبیب الله خان د کلک فشار لاندې ونیو، مالي مرستې یې پرې بندې کړې او افغانستان ته یې د وسلو د راوړلو مخه ونیوله. خو امیر حبیب الله خان «تسلیم نه شو» هغه د برتانوي هند د بهرنیو چارو وزیر لویس ډین کابل ته راوغوښت. د دریو میاشتو خبرو نه وروسته د ۱۹۰۵ کال د مارچ د میاشتې په ۲۱ نېټه «د افغانستان او د مربوطاتو خپلواک پاچا» او لویس ډین د هند د بهرنیو چارو وزیر یو تړون لاسلیک کړ. د دغه تړون له مخې برتانیې امیر ته په کال کې یو میلیون او اته سوه زره روپۍ ورکولې او دا حق یې هم درلود چې د هند نه وسله وارده کړي. د خپلواکۍ د غوښتنې په اړه د امیر حبیب الله خان هغه هڅې هم د پام وړ دي چې د ۱۹۰۵ کال په تړون کې کړې دي. د لودویک ادامیک په وینا په دغه تړون کې امیر حبیب الله خان په ښکاره د افغانستان د دولت او مربوطاطو خپلواک پاچا په توګه ځان یاد کړ. په دې توګه په دغه تړون کې انګرېزانو هغه ته د اعلیحضرت خطاب او هم یې د افغانستان او په افغانستان پورې د اړوندو سیمو د خپلواک پاچا په توګه وپېژاند.

د لومړۍ نړیوالې جګړې د پای ته رسېدو وروسته امیر حبیب الله خان د خپل هېواد د ناپیلتوب په بدل کې د هغه مهال برتانوي هند د وایسرا چېلمسفورډ نه د ۱۹۱۹ کال د فبرورۍ په ۲مه په یوه لیک کې د پاریس د سولې د کنفرانس له خوا د افغانستان «د غوښې خپلواکۍ، د عملي ازادۍ او تلپاتې اسقلال» په رسمیت پېژندنه وغوښته او ورڅخه یې وغوښتل چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورسالي د سولې په خبرو اترو کې باید افغانستان د خپلواک هېواد په توګه برخه واخلي. وایسرا د افغانستان د خپلواکۍ خواخوږی و او د هند په چارو کې د برتانیې وزیر اډوین مونتاګو ته یې ولیکل چې دا به ښه نه وي چې برتانیا په زور سره د افغانستان بهرنۍ چارې محدودې کړي او په دې موضوع کې جګړې ته لاړ شو. د چېلمسفورډ په وینا امیر حبیب الله خان بشپړه سیاسي خپلواکي، د ځمکې پراختیا، پیسې او په انګلستان کې د استازي درلودل غوښتل. ۷

د هند حکومت وپاتېیله چې هغه وخت رارسېدلی چې باید اجازه ورکړو افغاني استازی په لندن کې حضور ولري او هم د جګړې نه وروسته د سولې کنفرانس ته استازی ولېږي. خو د هند د حکومت په ځواب کې د لندن حکومت په غوڅه سره وویل چې «هغه ته دومره موقع مه ورکوی چې غوښتنې یې زمونږ څخه لار او ګودر ورک کړي.»۸ په دې توګه لندن دا موضوع مهمه ونه ګڼله او د امیر لیک ته ځواب ورنه کړل شو. د دې لیک نه دوې اوونۍ وروسته امیر په لغمان کې ووژل شو. ایا د امیر حبیب الله خان وژنه په داسې مهال کې چې د یوې خوا یې مترقي سمونونه که څه هم محدود و پلي کول او د بلې خوا یې د بشپړې خپلواکۍ، د ځمکې د پراختیا، پیسې او په انګلستان کې د خپل نماینده د غوښتلو له پاره هڅې کولې یو پر ځای کار و؟ ایا دا به ښه نه وای چې په دغه مهال کې افغان روڼ اندو د امیر د یادو شویو موخو د پلي کولو له پاره د هغه ملا ټینګه تړلې وای؟

خو په هر صورت امیر امان الله خان د واک تر لاسه کولو وروسته د افغانستان د خپلواکۍ د ګټلو له پاره ملا وتړله او د افغان-انګلیس د دریمې جګړې په پایله کې په ۱۹۱۹ کال کې افغانستان د اسیا په زړه کې د یوه خپلواک هېواد په توګه سر را پورته کړ چې ځوان پاچا یې د هېواد د چټک او ګړندي پرمختګ له پاره ټینګ هوډ درلود. دا یادونه باید وکړو چې خپلواکي په زیاته اندازه د افغان پوځ په زور نه بلکې د ډېورنډ د کرښې هغې خوا پښتني قومونو د جګړو محصول دی. د هند له پاره انګلستان د حکومت وزیر د هند وایسرا ته لیکي: «زه په دې ډاډه یم چې تا به د تاریخ درسونه هېر کړي نه وي او هغه دا چې موږ د افغان له منظم پوځ نه دومره وېره نه لرو لکه د قومي ملیشاوو او زموږ په خورو کمپونو او مخابرو پر کرښو باندې د هغو د یرغلونو نه [یې] لرو.»۹

امان الله خپل د کورنیو چارو وزیر علي احمد په راولپنډي کې د سولې په کنفرانس کې د ګډون له پاره د پلاوي د مشر په توګه ونوموه چې د ۱۹۱۹ کال د جون په ۲۶مه پرانېستل شو. په کنفرانس کې د انګرېزانو نماینده ګي د هند پخواني د بهرنیو چارو وزیر سر هاملټون ګرانټ کوله. د ۱۹۱۹ کال د اګست په ۸مه پنځه ماده ییز د سولې تړون د خپلواک افغانستان د حکومت او برتانیې د حکومت تر منځ لاس لیک شو. د تړون متن پنځمه ماده په لاندې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډول وړاندې کيږي:
پنځمه ماده.
د افغان حکومت هغه د هند-افغان سرحد (frontier) مني چې پخواني امير منلی و. همدارنګه دوی (د افغانستان حکومت) برتانيې د کميسيون له خوا د مخه په نښه شوي کرښه مني او د کرښې (line) هغه برخه چې د خيبر په لوېديځ کې په نښه شوې نه ده چېرته چې د افغانستان اوسنی تيری وشو او داسې پوله (boundary) مني چې د برتانيې کميسيون يې ټېره کړي. برتانوي ځواکونه به د پولې د ټاکلو تر مهاله په خپله خوا کې پاتې کيږي.
د رحمت ربي زيرکيار په وينا په ۱۹۱۹ کې امان الله خان افغانستان خپلواک اعلان کړ. د افغانستان خپلواکي چې د پښتنو د وينو په تويولو وګټل شوه د راولپنډۍ د تړون په اساس د سياست له لارې وبايلل شوه. ياني د ډيورنډ د تړون له مخې غوڅ شوی افغانستان د خپلو عمومي ملي ګټو او په ځانګړې توکه د خاورې د بشپړتيا په خوندې کولو کې بې وسه پاتې شو. خو امير امان الله خان نوی خپلواک شوی نيم افغانستان د نړيوال ګوښه توب نه وايست او د نورو هېوادو سره يې اړيکې ټينګې کړې. ډپلوماتيکې اړيکې ټينګول د دولت اعتبار غښتلی کوي او دغه اعتبار په ملي ګټو کې شمېرل کيږي.
د افغانستان د لاسه وتلې خاورې داعيه د هند په نيمه وچه کې د انګليسانو د شته والي له مهال نه موجوده وه او دا موضوع د افغانانو په وړاندې زموږ د هېواد يوه تاريخي داعيه ده چې د انګليسانو له خوا په امير عبدالرحمن باندې د ډيورنډ تش په نامه کرښې د تپلو له امله منځ ته راغلې وه او د هند څخه د وتلو وروسته يې د افغانانو تاريخي خاوره د دې سيمې خلکو ته د خپل سرنوشت د ټاکلو حق د نه ورکولو له مخې په پاکستان پورې وتړله.
روستار تره کی وايي چې يو تړون د يو ثالث له پاره وجيبه او حق نه زيږوي. د ډيورنډ هوکړه ليک د تحت الحمايه افغانستان او حامي انګلستان تر منځ او نه د افغانستان او پاکستان تر منځ تړل شوی و. پاکستان د ډيورنډ د هوکړه ليک د کړلو په وخت کې شتون نه درلود. له دې کبله د ډيورنډ هوکړه ليک د پاکستان دولت ته هېڅ حق يا وجيبه نه په برخه کوي۱۰
په دې توګه د بولان نه تر چتراله او اباسينه پورې د ډيورنډ د کرښې هغه خوا ته د پښتنو ټاټوبی چې د افغانستان څخه د ډيورنډ د تش په نامه کرښې په ذريعه جلا شوی دی د بنو په تاريخي جرګه کې، چې د ۱۹۴۷ د جون د مياشتې په ۲۱ نېټه جوړه شوه، د پښتونستان په نوم ونومول شوه.
باچاخان چې د خدايي خدمتګارو د ګوند د جوړولو ( ۱۹۲۹ ) نه وروسته په پښتنو کې يو غټ لوی تنظيم را منځ ته کړ اول کوښښ وکړ چې د ازادۍ په لار کې د هندوستان له مسلمان ګوندونو سره ائتلاف وکړي. کله

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې دغه کوښښ کوم ځای ونه نیوه بیا «... د خدایي خدمتګارو د جرګې له پرېکړې سره سم دوی د هند د ملي کانګرس سره د کوم شرط [ نه ] پرته یو ځای شول.» په دغه اتحاد سره د خدایي خدمتګارو ګوند په خپل مقصد یاني د پښتنو په خپلواکۍ بریالی نه شو. د دغه نابریالیتوب غټ دلیل دا و چې خدایي خدمتګارو « د راتلونکي له پاره کوم ټاکلی مرام نه درلود.» او دهند له ملي کانګرس سره بې له کوم شرط او قید نه یوځای شول . محمدافضل خان لا وایي چې « زما په خیال بنیادي غلطي دا اوشوه چې پښتنو د فرنګي نه خپله ازادي د پښتون د قامي وحدت په بنا ونه غوښتله چې د احمدشاه بابا افغانستان بیا قایم شوی وای. دې ټولو مشرانو د پښتنو ازادي د هندوستان په ازادۍ پورې وتړله.» کاکړ وایي چې دوی ځکه دغسې وکړل چې دوی د «عدم تشدد» د فلسفې له مخې د کانګرس سره په اتحاد دغومره ټینګ ودرېدل چې د حکومتي چارواکو وعدې ته یې هم اهمیت ورنه کړ. د باچاخان په وینا کله چې دی د خپلو ملګرو سره بندي و، حکومتي چارواکو ورته وعده ورکړه چې هغه «... څه [چې] هندوستان ته ورکوو د هغو نه زیات به تاسو له درکړو. کانګرس پرېږدئ، زموږ سره جوړه وکړئ.» غفارخان وایي چې موږ د ټولو بندیانو ورونو سره مشوره وکړه. «د بعضې خلکو دا خیال و چې موږ له ډپلوماسي په کارده. ما ورته ووې چې ډپلوماسي منافقت دی، او زه خو منافق نه یم.» دغه وعده مهمه ده خو له «جوړې» نه به مقصد پښتنو ته خپلواکي منل وي. هر څه چې و د کانګرس مشران له خدایي خدمتګارو سره د پښتنو د خپلواکۍ په برخه کې رښتیني او ملګري پاتې نه شول.

د هند اخیري وایسرای لارډ مونټ بېټن په وخت کې چې د هند لویه وچه په هند او پاکستان وېشل کېدله کانګرس له سرحد صوبې یاني پښتونخوا نه تېر شو او دا یې ومنله چې هلته به دغسې ریفرنډم یا ټولپوښتنه کیږي چې د هغې له مخې به خلک له هند یا پاکستان سره یوځای کیږي. په دې ډول د پښتونخوا له خلکو نه دغه مسلم حق واخېستل شو چې یا خپلواک وي، یا د خپل هېواد افغانستان سره یوځای شي، چې دغه سیمه تر اټکه پورې د افغانستان برخه وه، او په پښتونخوا یادېده چې د هرودوتس پکتیک به په غالب احتمال د پښتونخوا یوناني شوی نوم وي. دلته دغه وینا پوره صدق کوي چې وایي «پښتنو هر وخت په سیاست او ډپلوماسی کې بایللي ده.»

د ۱۹۴۷ کال د جون د میاشتې په ۲۱ نېټه د بنو تاریخي جرګې دهغې وروسته، چې لارډ مونټ بېټن او د مسلم لیګ ګوند د سرحد په صوبې کې په ټولپوښتنې ټینګار وکړ، پرېکړه وکړه چې د ټولو پښتنو خپلواک دولت دې جوړ شي. دغې جرګې په دې ټینګار وکړ چې که هرومرو د سرحد په صوبه کې ټولپوښتنه کیږي نو باید د هند او یا پاکستان سره د یوځای کېدو برسېره دې د ازاد پښتونستان په جوړېدو باندې هم پښتنو ته د رایو حق

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکړ شي.

غفارخان لیکي: «موږ خو ازاد شوي وو، او پېرنګیان زموږ د ملکه تلونکي وو، خو د لارډ مونټ بېټن او سردار پټیل په سازش د غلامو غلامان شوو.... خپه په دې یم چې د خدایي خدمتګارۍ هغه تحریک چې په ډېرو خوارو، مصیبتونو، تکلیفونو او قربانو جوړ شوی وو، هغه یې تس نس کړو او جوړ شوی انتظام یې ورله خراب او ګډ وډ کړو.

د غفارخان په وینا انګرېزان د خدایي خدمتګارو نه په دې کلک خفه وو چې دا سل میلیونه مسلمانان د دوی سره دومره مخالفت نه دی کړی لکه چې خدایي خدمتګارو کړی دی او د دوی په ضد د کانګرس سره یوځای شول. نو دوی وپتیله چې پښتنو ته داسې جزا ورکړي چې د دوی د زامنو هم په یاد وي. غفارخان لیکي چې د سرحد د صوبې ګورنر سر اولف کیرو لارډ مونټ بېټن ته وویل چې: «دې پښتنوته داسې سزا ورکول په کار دي چې د دوی بچي یې په یاد ولري. ولې چې په هندوستان کې لس کروړه مسلمانان وو، هغوی زموږ مخالفت ونه کړو او دوی زموږ مخالفت کې د کانګرس سره ملګري شول، لارډ مونټ بېټن دا ټولې خبرې په زړه کې واچولې او ډیلي ته روان شو ....

موږ ته به پېرنګیانو ویل چې د کانګرس ملګرتیا پرېږدئ نو موږ به چې هندوستان له څه ورکوو د هغې نه زیات به تاسو له درکړو. لکن موږ کانګرس پرې نه ښود خو دوی موږ پرې ښودو.»١١ په دې ترتیب دا ناخوالې چې نن موږ او زموږ بچیان یې زغمي یو لامل یې د باچا خان د دې تېروتنې پایله ده.

خو کله چې پاکستان جوړ شو بیا نو باچا خان او ملګرو یې پاکستان ومانه. کاکړ وایي چې باچاخان او ملګرو یې لومړنۍ ادعا د پښتونستان خپلواکي وه او وروسته یې په پاکستان کې د ننه خپلواکي غوښته.»١٢

د پاکستان د جوړېدو وروسته په ١٩۴٨ کال کې حاجي میرزاعلي خان د خپلواک پښتونستان جنډه په ګوروېک کې پورته کړه او د افغانستان لوری یې ونیو او د افغانستان د حکومت له خوا ورسره مرسته کېده. په همدې کال بیا اپریدو هم په تیراباغ کې د پښتونستان بیرغ جګ کړ. خو ګوروېک د پاکستان په وړاندې د مبارزې په عملي سنګر واوښت.

ډېرو افغان دولتي شخصیتونو هیله درلوده چې یو ځل برتانویان لاړ شي د سرحد موضوع به د نویو خبرو له پاره خلاصه شي. افغان واکمنو نه غوښتل چې دا موضوع بیا پرانیزي په داسې حال کې چې د برتانیې حکومت د هند د مشرانو او سیاسي ګوندونو سره د ازادۍ په اړه خبرې کولې، د افغان حکومت په دې کې پاتې راغی چې د پښتنو قومونو چې افغانستان یې د خپل ملت برخه بولي چې د زړو امیرانو نه په زور بیله شوې ده، د راتلونکې په اړه یوه فعاله ډپلوماسي تعقیب کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په افغانستان کې په پراخه اندازه باور پر دې دی چې پاچا ظاهرشاه د نامالومو دلیلونو له مخې په دې کې پاتې راغی چې د شمال لوېدیځ سرحد په اړه د ویش نه د مخه او د ویش په جریان کې په پوره ځواک سره د افغانانو د داعیې ملاتړ وکړي. خو زه فکر کوم چې لامل یې شاید دا وي چې باچا خان چې ځان یې د امان الله خان پلوي باله په هغه مبارزه کې لاس درلود چې د محمد نادر شاه او د هغه د ورونو د واکمنۍ پر ضد د امان الله خان پلویانو پرمخ بیوه. زما په اند باچا خان او پلویانو یې د نادرخان د رژیم په وړاندې دښمنانه دریځ نیول یوه تېروتنه وه. د نادر خان کورنۍ د افغانستان سره د پښتنو د لاسه وتلې خاورې د بېرته یوځای کولو نه وېره درلوده چې د دوی کورنۍ واکمنۍ ته به ګواښ رامنځ ته کړي. د ولي خان په اند دا کار [د افغانستان نه د ډیورنډ د کرښې په ذریعه بیله شوې خاوره په پاکستان پورې تړل] ځکه انګرېزانو وکړ چې: «که چېرې دا علاقې افغانستان ته وسپارلې شي نو دا به په صوبه سرحد کې د پیرنګیانو دښمنان د افغانستان په قومي وروروله کې ځان له داسې مقام پیدا کړي چې هم به د افغانستان حکومت او هم به پیرنګي ته مشکلات پیدا کړي.»۱۳

افغان حکومت په ځنډ سره یو ډیپلوماتیک برید پر مخ واچاوه او غواړي چې پښتنو ته یوه موقع ورکړل شي چې د افغانستان سره په مشوره کې خپل سرنوشت په خپله وټاکي. د ۱۹۴۷ کال په اګست کې د برتانیې حکومت شاه محمود خان صدراعظم ته، چې په لندن کې په رسمي سفر بوخت و، ډاډ ورکړ چې د شمال لوېدیځ سرحد د افغانانو او پښتنو کلتوري تړاو به حتمي شي او ورته پیغام یې په هند کې د برتانیې د وروستي وایسرا لارډ مونټ بېټن نه هم لاسته راوړی و چې د هند د وېش په خبرو لګیا و. هغه افغان سفیر نجیب الله ته ډاډ ورکړی و چې په یوه ښه وخت کې به د پښتنو د راتلونکي موضوع په پام کې ونیول شي.

د افغانستان حکومت د ۱۹۴۷ کال د جولای د میاشتې په ۳۱ نېټه خپل دریځ په یوه لیک کې د هند د بهرنیو چارو وزارت ته وړاندې کړ. په همدې کال د پاکستان د جوړېدو وروسته په هغه تړون کې چې د پاکستان د ولسمشر جناح او«د افغانستان د استازي نجیب الله توروایانا ترمنځ په کراچۍ کې لاسلیک شو، د ازادو قبایلو سیمه له صوبه سرحد او بلوچستان څخه جلا وپېژندل شوه.»۱۴ خو د جناح د مړینې وروسته د پاکستان واکمنو د پورتنۍ تړون نه سرغړونه وکړه. د پاکستان ګورنر جنرال خواجه نظام الدین په پېښور کې په یوې وینا کې «ازاد سرحد» د پاکستان د خاورې نه بېلېدونکې برخه وبلله چې د دواړو هېوادو اړیکې یې خړې پړې کړې.

د پاکستان د واکمن د دې وینا په وړاندې د افغانستان حکومت کلک غبرګون وښود. ډاکټر محمد حسن کاکړ د لویې دوپرې له قوله لیکي چې « د ۱۹۴۹ کال د جولای په شپږویشتمه نېټه صدراعظم شاه محمودخان په بلنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کابل کې لویه جرګه جوړه شوه. جرګې د پښتونستان سره خپل ملاتړ اعلان کړ ، د ډیورنډ توافق لیک، د ۱۹۰۵ کال د افغان- انګلیس تړون، د ۱۹۱۹ کال د راولپنډۍ تړون، او د ۱۹۲۱ کال د افغانستان-انګلیس تړون غیرقانوني او لغو شوي اعلان کړل. دا یې هم څرګنده کړه چې هر هغه تړون چې د پښتنو په اړه شوی وي، باطل دی.»۱۵ په دې چې «هر دولت د خپلو ګټو د تشخیص او ملاتړ قاضي ګڼل کیږي. یو دولت کولی شي په خپل مسؤلیت په یوه اړخیزه توګه بل لوري ته د یوه یادښت په استولو کې هغه تړون ملغا اعلان کړي، چې ورڅخه تاواني کیږي» له دې وروسته تر ننه هېڅ افغان حکومت د ډیورنډ د کرښې اعتباري توب په رسمیت نه دی پیژندلی، چې د افغانستان او پاکستان تر منځ (دې فکتو) سرحد جوړوي. د پورتنیو حکومتي کړنو برسېره په ۱۹۴۹ کال کې د هېواد پارلمان د اوومې دورې شورا د ډیورنډ د کرښې پر ضد دریځ ونیو او هغه یې رد کړه.

افغانستان په ۱۹۴۸ کال کې چې پاکستان په ملګرو ملتو کې د هغې ټولنې د غړیتوب له پاره ځان نوموولی و د پاکستان د غړیتوب په اړه د رای ورکولو نه ډډه وکړه ځکه چې «سره له دې چې وروسته د بهرنیو چارو وزا رت افغاني پلاوي ته لارښوونه وکړه چې د خپلې پرېکړې په اړه د دې سره کتنه وکړي او د پاکستان د نوموولو څخه د ملاتړ وکړي خو وخت له وخته تېر و او د افغاني پلاوي پرېکړې بدلون ونه کړ.

دا افغاني دریځ د ملي پلوه مثبت او په ځای و خو د مذهبي او اسلامي پلوه یې د اسلامي هېوادو د ډېرکي ملاتړ ترلاسه نه کړای شو. همدا لامل و چې افغانستان په خپلې پرېکړې نوې کتنه وکړه خو افسوس چې ډېر ناوخته و.»۱۶

د افغانستان حکومت د پاکستان د یو یونټ په پرېکړې،چې موخه یې د ډیورنډ د کرښې د هغې خوا سیمې په پاکستان کې شاملول و، هم کلک غبرګون وښود. د افغانستان صدراعظم محمد داود د پاکستان د دې کړنې په وړاندې سخته وینا وکړه چې د هغې په پایله کې په کابل کې د پاکستان سفارت ، په کندهار او جلال اباد کې د پاکستان قونسلګرۍ د لاریون کوونکو له خوا چور او تالا شوې او همدارنګه په پېښورکې افغان قونسلګري هم د هغه ځای د لاریون کوونکو له خوا چوراو لوټ شوه. داود خان د سفربرۍ اعلان وکړ . د افغانستان خلکو په عمل کې د ده د دغه ملي اقدام سره خپل ټینګ ملاتړ وښود او د افغانانو ملي یووالي واقعي نندارہ یې بیا تازه کړه. د پاکستان حکومت د افغانستان د ترانزیتي مالونو په وړو او راوړو باندې بندیز ولګاوه. خو وروسته د یوه او بل هېواد ته د دواړو هېوادو د مشرانو رسمي سفرونو په پایله کې د دواړو هېوادو ترمنځ اړیکې عادي شوې.

موسی شفیق هوډ کړی و چې د پاکستان سره د پښتونستان د کشالې په سر د افغانستان اساسي ستونزې په سر پوهاوي ته ورسیږي او د هغه هېواد

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره د افغانستان اړیکې ښې کړي. ده په همدغه وخت کې د شوروي اتحاد سره د افغانستان دوستۍ ته دوام ورکاوه او د څلورم اقتصادي پلان د پلي کولو له پاره د هغه سل میلیونه روبله پور ومانه. ده د افغانستان دودیز ناپېیلی سیاست د چلولو په څنګ کې کوښښ وکړ چې د لوېدیځې نړۍ او عربي هېوادو سره د افغانستان د دوستۍ اړیکې وار په وار ټینګې کړي. خو د بده مرغه د حکومت نه ګوښه شوي سردار محمد داود دغه پروسه په پوځي کودتا سره ودروله او په افغانستان کې یې د اوږدې بې ثباتۍ پیلامه کېښوده چې تر ننه دوام لري.

محمد داود د سرطان له کودتا وروسته کله چې یې د شوروي اتحاد سره اړیکې ترینګلې شوې له پاکستان سره د اړیکې عادي کول او پراختیا ورکول یې د باندني سیاست مهم ټکی شو.

د ۱۹۷۶ کال د جون په میاشت کې بوټو کابل ته د ولسمشر محمد داود په بلنه افغانستان ته رسمي سفر وکړ. د دغو خبرو زړی د پاکستان له خوا د بلوڅو او پښتنو د حقونو منل او د ډېورنډ د کرښې په اړه پوهاوي ته رسېدل موضوع ګاڼي جوړولو. د خبرو اترو نه وروسته دواړه خواوې ډاډه شوې چې دواړه لوري غواړي چې دا موضوع ګاڼي د خبرو له لارې هوارې شي. دواړو خواوو روغ نیتي وښوده چې د «د کابل روحیه» ونومول شوه.

د همدې کال د اګست په میاشت کې محمد داود د بوټو په بلنه پاکستان ته رسمي سفر وکړ. په دې سفر کې په یادو شوو موضوع ګانو خبرې وشوې او د هغو د هوارولو له پاره بیا علاقه وښودل شوه او دا ځل د خبرو په پای کې یوه ګډه اعلامیه خپره شوه چې په هغې کې د کابل روحیې له مخې پرېکړې ته د رسېدلو ژمنه وشوه. بل کال د جون په میاشت کې بوټو د تهران نه پاکستان ته د تګ په لار کې په کابل کې د لږ وخت له پاره تم شو او د محمد داود سره یې ژمنه وکړه چې په پاکستان کې د وضعې په عادي کېدلو سره به د پښتنو او بلوچو ټول سیاسي بندیان ازاد شي ترڅو د نورو لانجمنو کشالو د هوارولو له پاره لار هواره شي. خو د جولای په ۵ مه نېټه د جنرال ضیاء الحق په کودتا سره نسکور او دی بندي او وروسته زندۍ شو.

د جنرال صیاء الحق نوي حکومت له افغنسان سره د لانجو د هوارۍ له پاره د بوټو تر حکومت نه لا ډېره روغ نیتي وښوده. جنرال ضیاءالحق د ۱۹۷۷ کال په اکتوبر کې کابل ته راغی او له داود سره یې دوه ځله په ځانګړې توګه وکتل او دواړه خواو د لانجو د هوارولو له پاره ټینګه اراده وښودله او د «کابل روحیه» یې تائید کړه او د لا پیاوړي کولو له پاره یې تیاری وښود.

محمد داود د ۱۹۷۸ کال د مارچ په میاشت کې پاکستان ته سفر وکړ او د ضیاء الحق سره وکتل. د دوی په لیدنه کې محمد داود وویل چې ځیني

(c) ketabton.com: The Digital Library



هېوادونه هغې تودوخې ته په ښه سترګه نه ګوري چې د افغانستان او پاکستان تر منځ په اړیکو کې پیدا شوې وه. ده دا هم څرګنده کړه چې «دغه دوه هېوادونه په یوه موټي کېدو او وروروۍ سره وکولی شي له دغو خطرونو سره مقابله وکړي او خپلې خپلواکۍ خوندي وساتي.»۱۷

جنرال ضیاء الحق هم یادونه وکړه چې اوس د دواړو هېوادونو د پخلاینې له پاره پوهاوی پیدا شوی او د هغه په رڼا کې به یو وخت وروستۍ پرېکړه وشي. محمد داود د پښتنو، بلوچو او د پاکستان له نورو قومي مشرانو سره هم وکتل. محمد داود بیا د لاهور د شالیمار په پارک کې د پاکستان ملت ته په خطاب کې وویل: «ستاسې قوت زموږ قوت دی، ستاسې هوساینه زموږ هوساینه ده او سیاسي ثبات زموږ ثبات دی.»۱۸

په بله ورځ د پاکستان د بهرنیو چارو سکرتر اغا شاهي افغان پلاوي ته دا متن وسپاره چې په کې راغلي و چې: «افغانستان به د ډېورنډ کرښه د دواړو هېوادونو تر منځ د نړیوالې پولې په توګه وپېژني او د پښتونستان له مسلې نه به تېر شي او دواړه هېوادونه به د یوه بل هېواد په کورنیو چارو کې له لاس وهنې ډډه وکړي او دواړه خواوې ژمنه کوي چې د یوه بل پر ضد به د دښمنۍ پروپاګنډ نه کوي او دواړې خواوې به د اقتصادي او کلتوري پروګرام له پاره سره همکاري کوي او پراخوي به یې.»۱۹ کاکړ وایي چې؛ «وحید عبدالله د متن وروستي ټکي ومنل، خو د دوو لومړیو ټکو په اړه وویل چې افغانستان په دغه ډول د ډېورنډ کرښه منلی نه شي او د پښتونستان له مسلې نه تېرېدای نه شي. هغه دا هم وویل چې دغه مسلې به یوه ورځ د دواړو خواوو له خوا په قناعت لرونکي ډول حل شي او دغه اوسنۍ خبرې د همدغو موضوع ګانو د حل له پاره د لارې هوارول دي»۲۰

وحید عبدالله د بلې خوا پام دې ټکي ته هم واړوه چې د پاکستان حکومت د پښتنو او بلوچو مشرانو سره د دوی د راتلونکې په اړه تر اوسه غږېدلی هم نه دی. افغانستان به وروسته له دې د دغه متن په اړه به ګام واخلي چې پوه شي چې د هغو او په ځانګړي ډول د پښتنو سره څه منل شوي دي. محمد داود په یوه مطبوعاتي مرکه کې وویل چې «په هر څه باندې بحث وشو او د وخت په تېردلو سره به هر څه په خپل ځای وی او وخت به د هر څه غمه وخوري.»۲۱ داود خان دا هم وویل چې د خبرو بل دور به په اوړي کې په کابل کې وشي خو بله میاشت د محمد داود حکومت نسکور شو.

صمد غوث په دې نظر دی چې دغو مشرانو به د خپلو هېوادونو تر منځ د یوازیني اختلاف [پښتونستان] له پاره د حل یوه معقوله لار پیدا کړې او په دریو یا څلورو کلونو کې به یې له منځه وړی وای.۲۲ محمد داود د خپل واک د ساتنې په موخه حاضر و چې د پښتنو او بلوڅو د سیاسي برخه لیک ټاکلو په اړه د پاکستان سره هوکړه وکړي خو کاکړ سم وایي چې «چا د دې ضمانت کولی شو چې پښتانه او بلوڅ به له خپل حق نه تېر شوي وای چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه د هغو د خلکو له خوا د خپل سياسي برخليک ټاکل دي.»۲۳

په دې توګه د محمد داود د ولسمشرۍ په اخر وخت کې د افغانستان او پاکستان د اړيکو د ښه کېدلو په لور اساسي ګامونه اخېستل شوي و.

د ثور د انقلاب وروسته دافغانستان ډموکراتيک حکومت د پښتونستان د موضوع په اړه ټينګ ملي دريځ درلود. کاکړ وايي چې د ثور کودتا د پاکستان واکمن جنرال ضياءالحق انديښمن کړ. ضياءالحق د سپتمبر په ۹مه د تره کي او امين سره په پغمان کې وليدل خو کتنه ګټوره نه وه او ضياءالحق د ۱۹۷۹ په مۍ کې افغانستان د شوروي لاس لاندې هېواد وباله او وويل، چې افغانستان نور نو حايل هېواد نه دی.۲۴ له بلې خوا کابل د پښتونستان داعيه په عمل کې ټينګه ونيوله. د افغانستان پخوانيو حکومتونو ادعا کوله، چې پښتانه او بلوچ د ازادي ولري، چې د خودارادیت د اصل له مخې خپل سياسي برخه ليک په خپله وټاکي. امين د امو او اباسين تر منځ د افغانانو په يووالي ودرېد، تره کي او امين په دې ډول لوی افغانستان غوښته.

په دغه وخت کې د شوروي اتحاد وزن او حيثيت تر هر بل وخت نه لوړ شوی و. تره کي دغه مسله له بريژنف سره ياده کړې او ورته ويلي و، چې افغانستان بايد د هند تر سمندر پورې ورسيږي. هغه وويل چې «موږ بايد د پاکستان پښتانه او بلوڅان د امپرياليستانو په لاسونو کې پرې نه ږدو. اوس دغه امکان برابر شوی دی، د دغو قومونو تر منځ د ژغورنې جګړه شروع کړو او د پښتنو او بلوڅو سيمې په افغانستان کې ورګډې کړو.»۲۵ امين لا د ۱۹۷۸ کال په اګست کې پوزانوف او ګوريلوف ته څرګنده کړې وه، چې «د افغانستان سيمه بايد د عمان د خليج او د هند سمندر غاړو ته ورسيږي. موږ غواړو سمندر په خپلو سترګوووينو.»۲۶ امين امريکايي ليکوال هري سن ته هم په همدغه ډول غږېدلی و، چې «تاريخ موږ ته دا سپېڅلی رسالت راکوي چې له خيبر نه اخوا خپل ځپل شوي پښتانه ورونه ترک نه کړو.»۲۷ هغه دا هم ويل چې «هېڅوک انکار کولی نه شي چې د افغان انقلاب او د پښتونستان موضوع سره تړلي دي.»۲۸ خوضياءالحق بيا له خلقي حکومت سره په دغه اړه جوړې ته نږدې شو» چې د شوروي يرغل له امله پاتې شوه.

په افغانستان باندې د شوروي يرغل وروسته پاکستان نيت وکړ چې په افغانستان کې د شوروي اتحاد د پوځ د وتلو وروسته د اسلامي تنظيمونو په مرسته دوی ته تابع او کمزوری حکومت په پښو ودروي. پاکستان د خپل منځ ته راتګ نه وروسته د افغانستان په اړه زيات وخت ښه نيت ندی څرګند کړی اوتل يې هڅه کړې ده چې د افغانستان او هند سره اړيکې خرابې پرې کړي او د پښتنو او بلوڅو حقوق تر پښو لاندې کړي.

پاکستان د «ملي حاکميت په مانا د پښتون نېشنليزم مخالف و نو ځکه د مغولي حکومت په شان کوښښ کوي چې د ملايانو او روحانيونو له لارې يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وځيږي»۲۹ همدا لامل و چې په افغانستان باندې د شوروي وسله وال تيري وروسته يې د « ستراتيژيکي ژورتيا پلان» جوړ کړ.

«د ستراتيژيکي ژورتيا پلان د پاکستان هغه نظامي پلان دی، چې د هغه له مخې افغانستان بايد تل د پاکستان د نفوذ سيمه وي لکه هسې چې افغانستان د نولسمې پېړۍ په دوهمه نيمايي کې د برتانوي هند د نفوذ سيمه ګرځول شوې وه. په داسې حال کې، چې د برتانوي حکومت د افغانستان له لارې د تزاري روسيې د احتمالي يرغل د دفع له پاره افغانستان تر خپل نفوذ لاندې نيولی و، پاکستاني نظاميان غواړي په پاکستان باندې د هند د نظامي يرغل د دفع له پاره افغانستان تردې حده پورې د خپل نفوذ سيمه وګرزوي چې د هند د يرغل په وخت کې خپل پوځونه هلته په شا کړي او بيا له هغه ځايه ګوريلايي جنګونه پيل کړي. د دې له پاره يې بايد پښتون نېشنلېزم ځپلی او افغانستان يې تر خپل نفوذ لاندې نيولی وي.

پاکستان ته د هند له خوا خطر لکه برتانوي هند ته د روسيې خطر د وېرې زېږنده دی. پاکستاني نظاميانو د دغې وېرې له امله د ستراتيژيکي ژورتيا پلان ايستلی، لکه هسې چې انګرېزانو د روسيې له وېرې د هند د دفاع له پاره ايستلی و او په هغه يې د « علمي سرحد» نوم ايښی و. پاکستاني نظاميانو دغه پلان په افغانستان باندې د شوروي يرغل نه وروسته وايست.»۳۰

د افغان د ملي مقاومت په مهال د افغانستان ښوونځي، اقتصادي موسسې، تاريخي او فرهنګي شتمنۍ او نورې ابادۍ د منځه وړل او د ائ پس ائ په دستور د خپل نفوذ لاندې اسلاميستي ډلګيو په زريعه د افغاني روښنفکرانو ترور او نور ورانوونکي فعاليتونه د دې ستراتيژيکي ژورتيا د پلان له مخې و. «نواز شريف د همدغه پلان له مخې د افغان منظم او په مډرنو وسلو سنبال پوځ ړنګ کړ. د جهاد په لس کلنې دورې کې ډېر افغان وتلي تکنوکراتان او قومي مشران چې د مشرۍ او حکومت کولو صفتونه يې لرل د ائ ايس ائ په دستور او همکارۍ د افغان اسلاميستي تنظيمونو له خوا ترور شوي نږدې ټول پښتانه وو.»۳۱

د پاکستان واکمنو د جهاد په لاس کلنه دوره کې د امريکا متحده ايالاتو، لوېديځو هېوادو، اسلامي هېوادو او نورو نه زياتې پيسې او وسلې په لاس راوړې. د طالبانو د نسکورېدو وروسته پاکستان د يوې خوا له دې کبله چې، د القاعدې او طالبانو په وړاندې د امريکا متحد دی زياتې وسلې او پيسې ترلاسه کړې، او د بلې خوا يې همدغه پيسې او وسلې د القاعدې او طالبانو د روزلو، تمويلولو او تنظيمولو له پاره وکارولې. دوی غواړي چې«د ډېورنډ د دواړو خواو پښتانه بايد بېرته پاتې، ناتوان او د پاکستان تر سيوري لاندې وي. ايران خو لا ډېر د مخه د پښتنو سياسي ناتوان کولو له پاره بډې وهلې»۳۲ دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاکستان د ژینو په خبرو کې د کوردویز نه وغوښتل چې د ژینو تړون په متن کې دې د ډیورنډ کرښه د نړیوالې پولې په توګه ومنل شي. د کابل رژیم «حاضر و چې د دغې موضوع پر سر سوداګري وکړي، خو چې پاکستان یې په رسمي ډول وپېژني.» ۳۳ کوردوویز وايي چې شاه محمد دوست راته وویل چې «... لکه هسې چې د اګست په وړاندیزونو کې ښودل شوي، دغه موضوع په رښتیا د خبرو موضوع کېدلی شي. خو په مستقیم ډول د دواړو حکومتونو تر منځ او یوازې د پرېکړې له ختم نه وروسته.»۳۴ په دې توګه پرچمیان حاضر وو چې د پاکستان له لوري د دوی د رژیم د رسمي پېژندلو په بدل کې د ډیورنډ کرښه د نړیوالې پولې په توګه ومني. خو پاکستان دغه سوداګري ونه منله. اوس به د پښتونستان په اړه د اسلامي تنظیمونو دریځ ته لنډه کتنه وکړم.

د محمد داود د واکمنۍ پر ضد د اسلامي بنسټ پالو پاڅون د پاکستان د حکومت په لمسون او مرسته وشو چې ناکام شو چې یو شمېر یې بندیان شول او نور یې بېرته پاکستان ته پر شا شول. د ذوالفقار علي بوټو په صدراعظمۍ کې د پاکستان حکومت د افغان اسلام پالو نه د سیاسي ګټې اخېستلو په فکر شو او د دغه مقصد له پاره یې د افغانستان د جمهوري نظام پر ضد د هغو په روزلو او وسله وال کولو فکر وکړ. بوټو دغه کار د دې له پاره کاوه چې د افغانستان په حکومت باندې فشار راوړي چې د پښتونستان له دعوې نه تېر شي. څنګه چې د افغانستان حکومت د پاکستان سره په یوې بنسټیزې مسلې یاني پښتونستان په سر اختلاف درلود، اسلام پالو ته اړینه نه وه چې په داسې شرایطو کې د خپل هېواد د ملي ګټو پر ضد د بوټو د پلانونو د پلي کولو وسیله شي. کاکړ وايي چې «دا یو تریخ حقیقت دی، چې افغان اسلام پالو له خپل حکومت سره د مخالفت په موضوع کې خپل ځانونه د پاکستان د حکومت ارادې ته وسپارل او د هغه په لمسونې سره یې د ننه په هېواد کې د امنیت ګډوډولو ته ملا وتړله په داسې حال کې چې افغانستان له پاکستان سره په یوې ملي بنسټیزې کشالې کې ګیر و.»۳۵ د افغان اسلام پالو د دغه ملي ضد دریځ لامل شاید د دوی په ایډیالوژیکې دریځ کې وموندل شي هغه دا چې دوی په ملي ګټو ایډیالوژیکې ګټې لوړې بولې لکه پرچمیانو د ملي ګټو نه د شوروي ګټې لوړې بللې. کاکړ وايي چې «د ضیاءالحق بل خوب د شوروي پوځ ایستل کېدو نه وروسته د افغان اسلامي تنظیمونو له لارې د جهاد او اسلام په نامه افغانستان د تحت الحمایه دولت په شان د پاکستان تر اثر لاندې راوستل و.»۳۶ هغه د دغې موخې د پلي کولو له پاره د ای اس ای له لارې د افغانستان له ډېرو سیاسي ډلو، ګوندونو او شخصیتونو نه هغه تنظیمونه غوره او مخکښان کړل چې د ده له فکر سره موافق وو.

د نجیب الله د واکمنۍ د نسکورېدو وروسته اسلامي تنظیمونو مشرانو بیا

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا ځل د پېښور د والي په مانۍ کې غونډه وکړه چې په یوه ماښام کې پیل او تمامه شوه. په دې غونډه کې چې اجنډا یې د افغانستان له پاره د حکومت تنظیم و، په ګډونکوونکو کې یې د افغانانو په پرتله پردي زیات وو. په غونډه کې د پاکستان صدراعظم نواز شریف، د پاکستان د پوځ لوی درستیز، د ای اس ای مشر، د عربستان د استخباراتو رییس، په اسلام اباد کې د عربستان سفیر، په اسلام اباد کې د ایران سفیر، د ملګرو ملتو استازی بینان سیوان او دوه تنه نور د پاکستان او عربستان نه او شپږو تنو افغان تنظیمونو مشرانو د حکمتیار پرته ګډون کړی و. کاکړ وایي چې «د دغې پرېکړې په متن کې د افغان او ملت نوم هېڅ یاد شوی نه دی.»۳۷ دغه حکومت د نهو تنو باندینیانو او شپږ تنو افغانانو له خوا تنظیم شو او دوی لوړ حکومتي مقامونه یوازې تنظیمي لویانو ته ځانګړي کړل لکه چې د دوی شخصي ملکیت وي.

کاکړ وایي څنګه چې د دغې پرېکړې اصلي نوښتګر د پاکستان صدراعظم نواز شریف و او هغه د یوه باتجربه سیاستمدار په توګه په دغه طرح کې د افغانستان له پاره یوه بده راتلونکې په نظر کې نیولې وه. هغه وروسته په ویاړ سره ویل چې ده د افغانستان پوځ منحل کړ. په افغانستان کې د اسلامي تنظیم واکۍ دوره چې طالبانو د«شر او فساد» دوره بلله د طالبانو له لوري د واک نه ولوېده.

د طالبانو په واکمنۍ کې د هغوی افراطي کړۍ د هغو بهرنیو تروریستانو تر اغېزلاندې راغلې چې د رباني-مسعود د واکمنۍ په وخت کې یې په هېواد کې ځاله کړې وه او د افغانستان د تابعیت تذکرې ورکړی شوې وې هېواد نور هم ناتوانه کړ. دغو ترهګرو د اسامه بن لادن په مشرۍ د ۲۰۰۱ کال د سپتمبر په یوولسمه نېټه د نیویارک د ښار د نړیوالې سوداګرۍ جګې مانۍ رانسکورې کړې. دوی امریکا یا کوم دریم هېواد ته اسامه بن لادن د سپارلو څخه د مېلمه توب تر پلمې ډډه وکړه . د امریکا متحده ایالاتو د ملګرو ملتو او نړیوالو په ملاتړ د طالبانو واکمني رانسکوره کړه او د افغانستان د تاریخ نوې پاڼه پرانېستل شوه او د بن پروسه پیل شوه.

د بن په غونډه کې که څه هم د هغې ګډونکوونکي د خلکو واقعي استازي نه وو د زیاتو نیمګړتیاوو سره سره یې د یوه مشروع دولت د جوړېدو له پاره لار پرانېسته. د بن د پرېکړو پر بنسټ د برهان الدین رباني څخه د لنډ مهالې اداري مشر حامد کرزي ته واک ولېږدول شو، بیا لویه جرګه جوړه شوه او د لویې جرګې د پرېکړې له مخې حامد کرزی د انتقالي دورې د رییس په توګه وټاکل شو، ورپسې د اساسي قانون جرګه جوړه او اساسي قانون تصویب شو، د اساسي قانون پر اساس د ولمشرۍ ټاکنې وشوې او حامد کرزی د خلکو د پټو او نېغو رایو په بنسټ د جمهور رییس په توګه وټاکل شو، د ولسي جرګې او د مشرانو جرګې ټاکنې ترسره شوې او بیا د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولسمشرۍ د ټاکنې په پایله کې حامد کرزی له یوې بلې پنځه کلنې دورې له پاره د جمهوررییس په توګه وټاکل شو.

په دغو کلونو کې د پوهنې، د بیان د ازادۍ، مخابراتو، د لارو د جوړولو، روغتیا، د دولتي اداري د جوړولو، د ښځو د حقوقو د تامین او ځینو نورو برخو کې د پام وړ کارونه سر ته رسېدلي دي. مهمه دا ده چې د امریکا د متحده ایالاتو، انګلستان، اروپایي اتحاد او ناټو سره ستراتیژیک تړونونه لاسلیک شوي دي. دا لاسته راوړنې به ځو ځله نورې هم زیاتې وای که د لومړي سره ځینې تېروتنې نوای شوې.

په دغه موده کې زموږ بدنیتو ګاونډیانو هم د هېواد په کورنیو چارو کې د لاس وهنې په موخه طالبان او القاعده تنظیم، وسله وال، تمویل او وروزل او د ورانې په موخه یې زموږ هېواد ته راولېږل. د دغو کورنیو او بهرنیو لاملونو په پایله کې بې امني لا زیاته شوه، په دولت کې فساد لوړې کچې ته ورسېد او د نشه یي توکو د کښت،قاچاق، سوداګرۍ او انتقال مافیا رامنځ ته شوه چې هېواد یې د سترو ننګونو سره مخامخ کړ. همدارنګه بهرنۍ مرستې چې تر اتیا په سلو کې د مرسته کوونکو هېوادو له خوا په خپله لګول کیږي هم زیاته درغلي شوې ده. حامد کرزي د ولسمشرۍ په دوهمه دوره کې د امریکا متحده ایالاتو سره اړیکې ترینګلې کړې چې په پایله کې هېواد زیانمن کړ. خو د نېکه مرغه په ۱۹۱۴ کال کې ټاکنې اشرف غني وګټلې او د امریکې سره اړیکې ورغول شوې او د نړیوالې ټولنې مرستې دوام ومومند.

د ولسمشر اشرف غني په پنځه کلنه دوره کې د ملي وحدت د حکومت په تېلو سره سره د ننه په هېواد کې د ټولنې په بیلو بیلو برخو کې یو څه پرمختګ رامنځ ته شو. اوس د ولسمشرۍ ټاکنې ترسره شوې او خلک یې پایلو ته سترګې په لاره دي. د سولې په اړه د امریکې د متحده ایالاتو او طالبانو تر منځ بیا پیل کیږي چې د امریکې ولسمشر یې په بګرام کې اعلام وکړ.

په اوس وخت کې افغانان د خپل نوي ولسمشر تر لارښوونې لاندې د اوږد مهالې سولې ته لومړیتوب ورکوي چې د تېرو اتلسو کلونو لاسته راوړنې وساتل شي او هېواد د پرمختګ په لور ګړندي ګامونه پورته کړي.

**اخځونه**


۱-سیستاني، ظهور افغانستان معاصر و احمدشاه ابدالي، ۳۶۶ پېښور۲۰۰۷

۲-کاکړ، ډیورنډ، د واحد ملت د بیلتون کرښه،۱۷ کابل ۲۰۰۷

۳-کاکړ، د افغانستان سیاسي او ډپلوماتیک تاریخ، ۱۷۹، لایډن ۲۰۰۶

۴-کاکړ،(۲۰۰۶، ۱۸۰-۱۷۹)

۵-کاکړ، (۲۰۰۶، ۱۸۶)

(c) ketabton.com: The Digital Library



۶-ر. تره کي، ډیورنډ، د واحد ملت د بیلتون کرښه، ۱۲۱ کابل ۲۰۰۷
۷-ادامک، د شلمې پیړۍ تر نیمایي د افغانستان د بهرنیو اړیکو تاریخ، ۸۳-۸۴ پېښور ۱۹۹۹
۸-ادمک (۱۹۹۹، ۸۴)
۹-کاکړ، د پاچا امان الله واکمنی ته یوه نوې کتنه، ۲۴۰ پېښور ۲۰۰۵
۱۰-تره کي، (۲۰۰۷، ۱۲۴)
۱۱-غفارخان، زما ژوند او جدوجهد، ۷۸۲-۷۸۴ پېښور ۲۰۰۸
۱۲-کاکړ، (۲۰۰۷، ۳۳)
۱۳-ولي خان، باچا خان او خدایي خدمتګاري،دوهم ټوک، ۲۷۶ پېښور ۱۹۹۴
۱۴-تره کي، (۲۰۰۷، ۱۱۳)
۱۵-کاکړ، (۲۰۰۷، ۲۳)
۱۶-عبدالحکیم طبیبي، خاطرات چهار دهه زندګي دیپلوماتیک من در خدمت افغانستان و جهان، ۵۶
۱۷-کاکړ، د سرطان کودتا د افغانستان د اوږدې بې ثباتۍ پیلامه، ۱۲۴ کابل ۲۰۰۹
۱۸-کاکړ، (۲۰۰۹، ۱۲۵)
۱۹-کاکړ، (۲۰۰۹، ۱۲۵)
۲۰-کاکړ، (۲۰۰۹، ۱۲۶)
۲۱-کاکړ، (۲۰۰۹، ۱۲۷)
۲۲-کاکړ، (۲۰۰۹، ۱۲۷)
۲۳-کاکړ، (۲۰۰۹، ۱۲۷)
۲۴-کاکړ، زما غوره لیکنې، ۴۲۰ کابل ۲۰۱۰
۲۵-کاکړ، (۲۰۱۰، ۴۲۱)
۲۶-کاکړ، (۲۰۱۰، ۴۲۱)
۲۷-کاکړ، (۲۰۱۰، ۴۲۲)
۲۸-کاکړ، (۲۰۱۰، ۴۲۲)
۲۹-کاکړ، (۲۰۰۷، ۳۴)
۳۰-کاکړ، (۲۰۰۷، ۳۵)
۳۱-کاکړ، (۲۰۰۷، ۳۷)
۳۲-کاکړ، (۲۰۰۷، ۴۹)
۳۳-کاکړ، افغان-شوروي جګړه، ۴۵۷ کابل ۲۰۱۵
۳۴-کاکړ، (۲۰۱۵، ۴۵۷)
۳۵-کاکړ، (۲۰۰۹، ۸۷)
۳۶-کاکړ، (۲۰۱۵، ۲۰۵)
۳۷- کاکړ، (۲۰۱۵، ۵۶۶)

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیکواله: نازنین سالارزۍ
هالنډ، دوردرېخت، ۲۰۲۱

# د جمهوري نظام نه د ملاتړ اړتیا

د افغانستان سیاسي تاریخ ډېر ډینامیک، ډېر ورانوونکی او لږ ودانوونکی دی. دا به ځکه دغسې وي چې د افغانانو کلتور په تشدد او فزیکي زور ولاړ دی. دغه کلتور چې د پېړیو په بهیر کې جوړ شوی دی، ریښې یې له جګړو او وژنو نه خړوبې شوې دي.

له ویدي دورې راهیسې دغه هېواد د خونړیو جنګونو ډګر شوی دی، دلته یوازې زردشتي دین او بودیزم په تبلیغ سره خپاره شوي دي، په نورو ټولو دورو کې جنګونه شوي، چې په بهیر کې یې ورانۍ ډېرې او ودانۍ لږ شوې دي. هغه لږې ودانۍ هم چې د سمندري لارو د موندلو نه د مخه د هېواد په ځینو سیمو کې شوې وې د بهرنیو یرغلګرو په تیره د چنګیز خان له خوا ونړول شوې.

د دغه وطن خلکو د ویدي دورې نه تر دوو پېړیو د مخه پورې په ځانګړې توګه په شمالي هند باندې یرغلونه کړي دي، له هغې خوا نه هم زموږ په خلکو یو وخت بل وخت یرغلونه شوي دي. د نړۍ نامتو قوماندانان لکه سکندر، چنګیز خان، امیر تیمور او بابر دلته زموږ د خلکو سره جنګېدلي دي. په معاصر مهال کې زموږ په هېواد باندې د نړۍ درې زبرځواکونو یو وخت بل وخت دنګلي دي.

برسېره پردې افغانان د واک په سر د خپل منځي جګړو، تربورۍ او ګوندیمارۍ اوږده مخینه لري. په افغانانو کې د واک ګټلو میلان به له دې امله هم پیاوړی وي چې په دوی کې د دولت د سروال د ځای ناستي موضوع حل شوې نه ده. په معاصر افغانستان کې هر وخت چې د دولت مشر د میروېس نیکه او احمدشاه بابا نه نیولې چې د منځه تللي، د هغه د ځای ناستي په سر جګړې شوې او ټولنه او خلک ورسره ناارام شوي دي.

په افغانستان کې د شلمې پېړۍ په بهیر کې له یوه اساسي قانون (۱۹۳۳) نه پرته چې پر ځای یې یو بل قانون (۱۹۶۴) غوره شو نور شپږ یې ټول په زور او تشدد له منځه وړل شوي دي. خو اساسي قانون د یوې ټولنې د نظام تمثیل کوي د هغه د منځه وړل ښیي، چې افغانان د قانون او قانوني ژوند پروا نه کوي. دولتي چارواکي چې یوه دنده یې د قانون پلي کول دي په خپله یې ماتوي.

په دې توګه د دغې خاورې خلک له یوې خوا په خپل ډېر اوږده تاریخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې له بهرنیو یرغلګرو سره مخامخ شوي دي تر څو د هغو په وړاندې له خپل وطن، خپلواکۍ، ناموس او نورو ارزښتونو نه ساتنه وکړي او د بلې خوا د خپل منځي جګړو، تربورۍ او ګوندیمارۍ له امله دغه جنګي کلتور خپل کړی دی. دا لاملونه دي چې زموږ هېواد وروسته پاتې شوی او زموږ د وطن او خلکو دښمنان زموږ د وطنوالو د بې سوادۍ او بې وزلۍ نه ناوړه ګټه پورته کوي او زموږ د هېواد د تباهۍ په موخه یې کاروي.

زموږ ګاونډیو په تېره شوروي اتحاد او پاکستان د افغانستان لاندې کولو ته سترګې نیولې وې او په دې اړه یې دسیسې کولې. دواړو د خپلو نیواکګرو موخو د پلي کولو له پاره د خپلې خوښې افراطي ډلې پیاوړې کولې.

شوروي اتحاد دخپلو شوروي شوو ملګرو له لارې غوښتل افغانستان د بخارا غوندې د خپلې امپراتورۍ یوه برخه وګرځوي او بیا به د لاس لاندې رژیم له لارې له هغه له طبیعي زېرمو او شتمنیو نه ګټه پورته کړي او په هغو سره به خپل ځای په ځای دربدلی اقتصاد په حرکت راولي.

پاکستان د خپل جوړېدو راهیسې د افغانستان په اړه روغ نیتي نه درلوده. د پاکستان واکمنو د محمد داود د جمهوریت پر مهال د افغانستان اسلامي تنظیمونو نه د افغانستان د بې ثباته کولو په موخه کار اخېستل پیل کړل. څنګه چې د افغانستان حکومت د پاکستان سره په یوې بنستیزې مسلې یاني پښتونستان په سر اختلاف درلود، اسلام پالو ته اړینه نه وه چې په داسې شرایطو کې د خپل هېواد د ملي ګټو پر ضد د بوټو د پلانونو د پلي کولو وسیله شي. دوی په ۱۹۷۵ کال کې د بوټو د حکومت په هڅونې او مرستې د خپل وطن په ځینو ولایتونو کې وسله وال پاڅونونه وکړل. خو افغان حکومت هغه ټول وځپل او دوی بېرته پېښور ته پر شا شول. دوی هلته د شوروي تر یرغل پورې د ای اس ای او ځینو اسلامي تنظیمونو په مرسته د بې نومی په حالت کې ژوند کاوه.

شوروي یرغل د دې لامل شو، چې په عمومي ډول د افغانستان اسلامي حرکت او په ځانګړې توګه اسلامي تنظیمونه د ولسواکو او وطنپالو ګوندونو په تاوان د پاکستان د ای اس ای له لارې په ځانګړې توګه د امریکې او عربستان په پیسو او وسلو پیاوړي او د جګړې او سیاست په ډګر کې مخکښان وګرزول شي. د پاکستان پلان دا و چې د همدغو اسلامي تنظیمونو له لارې افغانستان تر خپل نفوذ لاندې راولي، تر څو خپل د ستراتیژیکي ژورتیا پلان خوب په کړو بدل کړي.

د افغان د ملي مقاومت په مهال د افغانستان ښوونځي، اقتصادي موسسې، تاریخي او فرهنګي شتمنۍ او نورې ابادۍ د منځه وړل او د ای ایس ای په دستور د خپل نفوذ لاندې اسلامیستي ډلګیو په ذریعه د افغاني روښنفکرانو ترور او نور ورانوونکي فعالیتونه د دې ستراتیژیکي ژورتیا د پلان له مخې و. «نواز شریف د همدغه پلان له مخې د افغان منظم او په

(c) ketabton.com: The Digital Library



مدرنو وسلو سنبال پوځ ړنګ کړ. د جهاد په لس کلنې دورې کې ډېر افغان وتلي تکنوکراتان او قومي مشران چې د مشرۍ او حکومت کولو صفتونه يې لرل د ای اېس ای په دستور او همکارۍ د افغان اسلامیستي تنظیمونو له خوا ترور شول. ایران خو لا پخوا د افغانانو ناتوان کولو له پاره بدې وهلې دي. په دې توګه ټول هغه مصیبتونه چې افغانستان ته اول د شوروي په یرغل سره او وروسته د همدغو ګاونډيو هېوادونو له خوا پېښ شوي دي

د شوروي پوځ په وتلو او د کابل رژیم په نسکورېدو سره جګړه باید پای ته رسېدلې وای، خو داسې ونه شول. اسلامي تنظیمونو د دې پرځای چې د وران شوي ملک د بیا ودانولو او د ملي سیاست په کولو بوخت شي، د واک پر سر پخپلمنځي جګړو بوخت شول. د کابل ښار چې د نیواک په دوران کې لوی شوی او په امن کې و، په کنډواله بدل شو. په ټول ملک کې د سر، مال او ناموس خوندیتوب له منځه لاړ. په دغې دورې کې ابادي هېڅ ونه شوه. پاکستان، ایران او تر څه اندازې نور په دغه ناارام حالت کې خپلې ځانګړې ډلې پیاوړې کولې او په دې ډول يې په افغانستان کې يو ډول نیابتي جګړه کوله.

په دې لړ کې د جوماتونو ملایان او طالبان د تنظیم واکۍ پر ضد جګ شول او له يو لړ نښتو او جګړو وروسته يې په ۱۹۹۶ کې دغه دوره، چې دوی «د شر او فساد دوره» بلله، پای ته ورسوله. دوی هم واک ځان ته منحصر کړ. د دوی غړي له قدري، خلاصې، کنز او قران مجید نه اخوا په نور څه نه پوهېدل او په اداري او حکومتي چارو کې يې هېڅ تجربه نه لرله. د طالبانو د سیاست له امله و چې د افغانستان نوم له تروریزم سره يو ځای اخېستل کیږي. دوی يو پردي عرب اسامه بن لادن، چې د نړیوالو ترهګرو مشر و، تر خپل وزر لاندې ونیو چې د افغانستان د خاورې نه د ترهګرۍ له پاره ګټه پورته کړي. دغو ترهګرو د اسامه بن لادن په مشرۍ د ۲۰۰۱ کال د سپټمبر په یوولسمه نېټه د نیویارک د ښار د نړیوالې سوداګرۍ جګې ماڼۍ رانسکورې کړې. دوی امریکا یا کوم دریم هېواد ته اسامه بن لادن د سپارلو څخه د مېلمه توب تر پلمې ډډه وکړه. د امریکا متحده ایالاتو د ملګرو ملتو او نړیوالو په ملاتړ د طالبانو واکمني رانسکوره کړه او د افغانستان د تاریخ نوې پاڼه پرانېستل شوه او د بن پروسه پیل شوه.

د بن په غونډه کې که څه هم د هغې ګډونکوونکي د خلکو واقعي استازي نه وو د زیاتو نیمګړتیاوو سره سره يې د یوه مشروع دولت د جوړېدو له پاره لار پرانېسته. په دغه دوره کې له یوې خوا د پوهنې، د بیان د ازادۍ، مخابراتو، د لارو د جوړولو، روغتیا، د دولتي ادارې د جوړولو، د ښځو د حقوقو د تامین او ځینو نورو برخو کې د پام وړ کارونه سر ته رسېدلي دي او د بلې خوا د يو زیات شمېر فاسدو او ټګمارو واکمنو او ځینو بهرنیو د ناسم مدیریت، او د سیمې د هېوادو په تېره د پاکستان د لاس وهنو له امله په

(c) ketabton.com: The Digital Library



هېواد کې بې امني لا زیاته شوه، په دولت کې فساد لوړې کچې ته ورسېد او د نشه يي توکو د کښت، قاچاق، سوداګرۍ او انتقال مافيا رامنځ ته شوه چې هېواد يې د سترو ننګونو سره مخامخ کړ. د شلوکلونو په موده کې د طالبانو د چريکي او د باندنيو پوځونو په مقابله کې له دواړو خواوو نه په زرګونو افغانان او باندنيان هم ووژل شول.

اوس له يوې خوا د طالبانو او امريکې تر منځ تړون لاسليک شوی او د افغانستان د حکومت او طالبانو تر منځ د سولې خبرې پيل شوې دي چې پايله يې مالومه نه ده او د بلې خوا نړيوال ځواکونه د هېواد نه وځي. په دغه پېچلې وضعه کې چې جګړې زور اخېستی او د شلو کلونو لاس ته راوړنې د ګواښ لاندې دي موږ ته اړينه ده چې د خپلو امنيتي ځواکونو ملا وتړو او د جمهوري نظام نه ملاتړ وکړو. د جمهوري نظام نه ملاتړ يو پرنسيپي موضوع ده هغه دا چې موږ د تاريخ په اوږدو کې يوازې اوس د داسې اساسي قانون څښتنان يو چې په هغه کې د لومړي ځل له پاره د دولت د سروال د ځای ناستي موضوع حل شوې او ولسمشر به يوازې د خلکو له خوا نوي ټاکل شوي ولسمشر ته واک سپاري او په دې توګه د هېواد پرمختګ تداوم مومي او د واک پر سر د جګړو مخنيوی کوي.

موږ ته مالومه ده چې د نړۍ له ټولنو نه هغه بريالۍ او پرمخ لاړې چې دولتي واک يې د اساسي قانون له مخې په اجرايه، مقننه او قضايه څانګو وېشلی، دولتي لوړو څوکيو ته رسېدل د ټاکنو له لارې ترسره کيږي، چارواکي غوره کوونکو ته مسؤل ګرزول کيږي او افرادو ته داسې حقونه او قانوني ازادۍ منلې شوې چې په هغو سره د خپلو ځانونو او په پای کې د ټولنې د ښېګڼو له پاره کار وکړي. په افغانستان کې هم د امارت د نسکورېدلو وروسته د اساسي قانون له مخې يو لبرال ډموکرات ولسمشري نظام په پښو ودرول شو او د پنځه ويشتو کلونو وروسته د ډموکراسۍ نوې دوره پيل شوه.

د دغه اساسي قانون په پلي کولو او د دولتي چارواکو په غوره کولو کې د وړتيا د اصل له مخې دغه شونتياوې وار په وار ډېرېدلی شي چې قانون او موسسې ښېخ ونيسي، د کودتا ګانو او جنګونو مخه ونيوله شي او امنيت او ملي پيوستون ټينګ شي. يوازې په دغسې حال کې خلک په ډاډه زړه کولی شي د مدني، صناعتي او کرنيز او داسې هم د پوهې، سيانس او تکنالوژي او د هنر او کلتور په لور په پراخ ډول مخه وکړي او وطن ودان او ژوند شتمن او ارزښتناک کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دریمه برخه

## لیف تولستوی؛ انا کارېنینا

ژباړونکی: محمد اقبال وزیري

(c) ketabton.com: The Digital Library



ليکوال: لېف تولستوی
ژباړونکی: محمد اقبال وزيري

# انا کارينينا
## (۱)

ټولې بختورې کورنۍ يوې او بلې ته ورته وي، هره بې بخته کورنۍ په خپل ډول بدمرغه وي.
د اوبلونسکي په کورنۍ کې هر څه ګډ وډ وو. ښځه يې پوهېده چې مېړه يې د دوی د کورنۍ د پخوانۍ فرانسوي ښوونکې سره اړيکه درلوده او مېړه ته يې وويل چې نوره د ده سره په يوه کور کې اوسېدلی نه شي. د درې ورځې را هيسې په کور کې دې حالت دوام لاره او هغه په خپله ښځې او مېړه، د کورنۍ نورو غړو او نوکرانو احساساوه او ورنه ځورېدل. د کورنۍ ټولو غړو او نوکرانو احساسوله چې د دوی ګډ ژوند بې مانا وو او په هر مېلمستون کې چې په ناڅاپي توګه خلک ورته راغلي وي، د دوی ياني د ابلونسکي د کورنۍ د غړو او نوکرانو په پرتله د هغوی اړيکې يو د بل سره نږدې وي. ښځه د خپلې کوټې څخه نه راوتله او د مېړه يې دريمه ورځ وه چې په خپل کور کې نه و. ماشومانو يې ټوله ورځ لکه چې ورک وي، په کور کې منډې رامنډې وهلې. انګرېزې ښوونکې د اقتصادي چارو د مسؤلې سره جنجال وکړ او خپلې ملګرې ته يې د کاغذ ټوټه واستوله چې کار ورته پيدا کړي؛ اشپز لا پرون د غرمې د ډوډۍ په وخت کې د ماڼۍ نه لاړ؛ تورې اشپزې او ګاډۍ چلوونکي خپل حسابونه غوښتل.
د شخړې نه درې ورځې وروسته ستيپان ارکاديچ ابلونسکي چې خلکو ستيوا بللو په عادي وخت ياني د سهار په اتو بجو د ښځې د خوب په کوټه کې نه، بلکې د خپل کارخونې په مراکشي سيټ کې له خوبه راويښ شو. هغه د خپلې پېړې او ښې ساتلې تنې سره په فنري سيټ کې په اړخ داسې راوواښت چې ګويا غوښتل يې چې تر ډېره بيا بيده شي، د بل پلو نه يې بالښت ټينګ په غېږ کې ونيو او خپل باړخو يې ورباندې زور کړ؛ خو ناڅاپه يې له ځايه ټوپ کړل، په سيټ کې کېناست او سترګې يې پرانيستې.
«هو، هو، دا څنګه و؟-فکر يې کاوه، کله چې يې خوب په زړه کاوه. هو، دا څنګه و؟ هو، البين په دارمشتاد کې د غرمې ډوډۍ ورکوله؛ نه، په دارمشتاد کې نه، بلکې په امريکا کې. هو، خو هلته دارمشتاد په امريکا کې و. هو، البين په شيشه اي مېزونو ډوډۍ ورکوله، هو مېزونو- ll mio tesoro (زما خزانه) سندره يې ويله؛ نو د ll mio tesoro سندره، بلکې

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر دې ښه کومه یوه وه، او هلته کومې وړې کوزې وې، خو هغوی ښځې وې»، ـهغه خوب ورياده وه.

د ستيپان اركاديچ سترګې خوشاله ځلېدې، هغه بيا فكر وكړ، موسكی شو. «هو، ښه و، ډېر ښه و. هلته نور ډېر ښه شيان وو، هو په كليمو او فكرونو بيانېدای نه شي، ان په ويښه انځورېدای نه شي. » كله چې يې د رڼا ليكه وليده چې د ماغوتو د درنو پردو له څنګه تېرېده، هغه په خوشالۍ سره د سيټ نه پښې كوزې كړې چې د هغو په كشولو سره هغه طلايي رنګه د مراكشي څرمنې نه جوړ شوي سليپر ومومي چې ښځې يې د تېر كال د زيږېدنې د كاليزې د سوغات له پاره ورته اوبدلي و، د زاړه نهه كلن عادت له مخې پرته له دې چې ودرېږي لاس يې هغه ځای ته وغزاوه چېرې چې د خوب په كوټه كې يې خپله چپنه ځوړنده وه. او هلته يې ناڅاپه ور په زړه كړل چې څنګه او ولې د خپلې ښځې د خوب په كوټه كې نه بلكې د خپل كار په خونه كې بيديږي. د هغه د مخ نه موسكا وركه شوه او تندی يې ګونځې كړ.

«اخ، اخ، اخ! آ!..» ـهغه فرياد كاوه او ټول هغه څه چې شوي وو ور په زړه شول. او د هغه په خيال كې د ښځې سره د شخړې ټول جزيئات، د هغه ټول د ناهيلی حالت بيا مخې ته ودرېدل او تر ټولو زياته دردونكې دا وه چې دا ټوله د ده خپله ګناه وه.

«هو! هغه ما نه بخښي او نه مې بخښلی شي. او تر ټولو وحشتناكه دا ده چې د دې هر څه ګناهكار په خپله زه يم، ګناه زما ده، او ګناهكار زه يم. ټوله ډرامه په دې كې ده – ده فكر كاوه. –اخ، اخ، اخ!» ـهغه دا په مايوسۍ سره ويل او د دغې شخړې نه يې د ځان له پاره تر ټولو ترخې يادونې ور په زړه كړې.

تر ټولو بده هغه لومړۍ شېبه وه كله چې دی د تياتر نه خوشاله او راضي راستون شو، د خپلې مېرمنې له پاره يې غټ ناک په لاس كې راوړی و، هغه يې د ناستې په كوټه كې ونه مونده، د حيرانتيا خبره دا وه چې د كار په خونه كې يې هم پيدا نه كړه او په پای كې يې هغه د خوب په كوټه كې وليده، چې بدمرغي يې له ورايه مالومېده او په لاس كې يې د كاغذ ټوټه نيولې او په هر څه پوهېدلې وه.

ده داسې ګڼله چې هغه تل انديښمنه. بوخته او ساده وه، دولي (Doli) چې د كاغذ ټوټه يې په لاس كې وه او هغې ته يې په وحشيت، مايوسۍ او غم سره كتل، بې حركته ناسته وه.

ـ دا څه دي؟ دا؟ ـ هغې پوښتنه كوله او د كاغذ ټوټې ته يې اشاره كوله. او په دې يادونو كې لكه چې زيات وخت داسې پېښيږي، ستيپان اركاديچ په خپله دې پېښې دومره نه ځوراوه څومره دې چې ده څنګه د خپلې مېرمنې دغو كليمو ته ځواب وركړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه چې د ده سره په دې شېبه کې پېښ شول هغه څه وو چې د خلکو سره پېښيږي کله چې دوی ناڅاپه په یوه ډېر شرموونکي شي ونیول شي. هغه نه شول کولی چې خپل مخ داسې وضعیت ته تیار کړي چې د ده د ګناه د ښکاره کېدو وروسته د خپلې ښځې په مخ کې ودریږي. د دې پر ځای چې سپک شي، انکار وکړي، عذر وغواړي، بخښنه وغواړي، ان بې توپیره پاتې شي – دا هر یو به تر دې کار ډېر ښه و چې ده تر سره کړو! د هغه په څېره په پوره بې اختیارۍ («د مغزو غبرګون» - ستیپان ارکادیچ فکر کاوه چې فیزیولوژي یې خوښېده) سمدلاسه موسکا را ښکاره شوه چې دا موسکا د ده د عادت، ښه زړي توب له مخې وه او ځکه د بې عقلی موسکا وه.

د دې بې عقلي موسکا له امله هغه خپل ځان نه شو بخښلی. کله چې دولي د ده موسکا ولیده لکه د فزیکي درد نه ټکان یې وخوړ او د خپل خوی له مخې د ډېره قهره وایشېده او د سېلاب په شان یې سختې کلیمې قطار کړې او د کوټې نه په منډه ووتله د هغې راهیسې دې نه غوښتل چې مېړه ووینې.

«دا بې عقلانه موسکا د دې خطا لامل شوه» - ستیپان ارکادیچ فکر کاوه.

د خپل ځان سره یې په نا امیدۍ ویل: «نو څه وکړم؟ څه وکړم؟» او ځواب یې نه موندہ.

٢

ستیپان ارکادیچ د خپل ځان په اړه رښتینی سړی و. هغه نه شو کولی چې خپل ځان تېر باسي او ځان ډاډه کړي چې د دغه خپل عمل نه پښېمانه دی. هغه نه شي کولی اوس په دې پښېمانه شي چې شپږ کاله د مخه په هغه څه پښېمانه و چې د خپلې ښځې سره یې لومړۍ بې وفایي کړې وه. هغه نه شو کولی په دې پښېمانه شي چې هغه دېرش کلن، ښایسته، مینه ناک سړی دی، په مېرمنې مین نه و چې د پنځو ژوندو او دوو مړو ماشومانو مور وه او د ده نه یو کال ځوانه وه. هغه یوازې په دې پښېمانه و چې نه یې وکړای شول د مېرمنې نه دا راز په ښه توګه پټ کړي. خو هغه د خپل وضعیت ټول دروندوالی احساساوه او په مېرمنې، ماشومانو او په ځان یې زړه سوی کاوه. شونې وه چې هغه خپل ګناهونه له ښځې نه په ښه توګه پټ کړي وای. ښکاره وه چې ده پر دې پوښتنې هېڅکله فکر نه و کړی، خو ده ته په ناڅرګند ډول ښکارېده چې ښځې یې د پخوا نه ګومان کاوه چې دی ورته وفادار نه دی او هغې دا د هغه د حالت نه لیدل. هغه ته ان مالومېده چې هغه د کاره لوېدلې، زړه، او نوره ښایسته ښځه نه ده، او نه په زړه پورې څه په کې شته، ساده، یوازې د کورنۍ مهرابانه مور ده، د انصاف د احساس له مخې باید ښکلې وي. بیخي کرکجنه ښکاري.

«اخ، ډارونکې ده! ای، ای، ای! ډېره بده ده!» -ستیپان ارکادیچ

(c) ketabton.com: The Digital Library



تکرارول او هېڅ پلمه یې نه شوه جوړولی. څنګه هر څه تر اوسه ښه و، موږ څنګه ښه ژوند کاوه! هغه په خپلو ماشومانو خوشاله او نېکمرغه وه، ما په هېڅ شي کې هغې ته تکلیف نه جوړاوه، هغې ته مې د ماشومانو، اقتصادي چارې سپارلې وې چې په خپله خوښه یې پر مخ بوزي. رښتیا، ښه نه وه، چې هغه زموږ په کور کې ښوونکې وه. ښه نه وه! د خپلې ښوونکې په مینه کولو کې یو څه بې ارزښته، پست شته. نو څنګه ښوونکې! (هغه په ژوندی توګه د اغلې رولانډ (Roland) تورې مستې سترګې او د هغې موسکا په یاد راوړل.) خو اخر تر څو پورې چې هغه زموږ په کور کې وه، ما د هېڅ شي اجازه ځان ته نه ورکوله.خو تر ټولو بده دا ده چې هغه اوس ... اړتیا وه چې دا هر څه قصدي و. ای، ای، ای! ایایای! خو څه، څه وکړم؟»

ځواب نه و، پرته د هغه عمومي ځوابه چې تر ټولو پېچلو او ناحل شوو پوښتنو ته یې په خپله ژوند ورکاوه. دا ځواب دی: باید د ورځې د اړتیاوو سره ژوند وکړو یاني نور هېر شي. اوس او په زیاته اندازه تر شپې پورې د خوب د هېرتیا اجازه نه شته ، اوس اجازه نه شته چې هغه موزیک ته راوګرزو چې ...- ښځو به سندرې ویلې؛ په هر صورت باید د ژوند خوب هېر شي.

«هلته به ولیدل شي»، -ستیپان ارکادیچ د ځان سره وویل او ودرېد، خړه چپنه یې چې اسماني زري رنګه استر یې درلود، واغوسته، د رسامی بورسو غوټه یې لیرې واچاوله، په پوره اندازه هوا یې د خپلې سینې په پراخ صندوق کې را ټوله کړه.، په عادي زړور قدم په خلاصو پښو چې په اسانۍ سره یې د هغه پېړه تنه وړه، کړکۍ ته ورغی پرده یې جګه کړه او په زوره یې زنګ وواهه. د زنګ نه وروسته سمدلاسه زوړ ملګری نوکر ماتوې (Matve) راننوت، جامې، بوټان او تلګرام یې راوړل.د ماتوې تر شا سلماني راننوت چې د ږیرې د خریلو سامان ورسره و.

- په دفتر کې کاغذ شته؟ ستیپان ارکادیچ وپوښتل تلګرام یې واخېست او اینې ته مخامخ کېناست.

- په مېز باندې دی. – ماتوې ځواب ورکړ، د پوښتنې په توګه او په خوشبینۍ سره یې خپل بادار ته وکتل، د لږ ځنډ نه وروسته یې د خپلې چالاکې موسکا سره زیاته کړه: د مالک نه ګاډیوان راغلی دی.

ستیپان ارکادیچ هېڅ ځواب ور نه کړو او یوازې یې په اینه کې ماتوې ته وکتل؛ ښکاره وه چې دوی په اینه کې د لیدلو نه سرې پوهېده چې دوی یو د بل په نظر پوهیږي. د ستیپان ارکادیچ نظر داسې و لکه چې پوښتنه یې کوله: «ته دا ولې وایې؟ ایا ته نه پوهېږې؟»

ماتوې د خپل کوچني جاکټک په جیبو کې څه ننه ایستل، پښه یې شا ته کړه او غلی شو، په خوشالی سره ، لږ لږ موسېدو، او خپل بادار ته یې کتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ما ور ته ویلي و چې په بله اونۍ کې راشي، او دوی ته مې ویلي و چې تا او ځان هسې نا ارامه نه کړي،- ده وویل، ښکاره وه چې جمله یې تیاره کړې وه.

ستیپان ارکادیچ پوه شو چې ماتوې غواړي ټوکه وکړي چې ځان ته د دوی پام راوړاوي. ټلګرام یې خلاص کړو او هغه یې ولوست، د کلیمو په سمو مانو یې فکر کاوه چې نیمګړې وې او مخ یې سور شو.

- سبا ته مې خور انا کارینینا راځي.، - هغه وویل، یوه شېبه یې د سلماني ځلېدونکی او پړسېدلی وړوکی لاس ونیو چې د ده د اوږدو ګوړګوتو برېتو تر منځ یې ګلابي لاره پاکوله.

- د خدای شکر دی، - ماتوې وویل، په دې ځواب ده دا ښودله چې دی د دغه راتګ په اهمیت هغه شان پوهیږي، چې د ده بادار پرې پوهیږي یاني انا ارکادیونا (Ana Arkadevna) د ستیپان ارکادیچ ګرانه خور به د مېړه او ښځې په پخلاینه کې مرسته وکړي.

- یوازې یا د مېړه سره راځي؟- ماتوې وپوښتل.

ستیپان ارکادیچ خبرې نه شوای کړای، ځکه چې سلماني په پاسنۍ شونډه باندې بوخت و او یوه ګوته یې پورته کړه. ماتوې په اینه کې سر وښوراوه.

- یوازې. پاس ځای تیار کړو؟

- داریې الکساندرېونې ته خبر ورکړه، چېرې چې درته ووایي.

- داریې الکساندرېونې ته؟ - په شک سره دا خبره ماتوې تکرار کړه.

- هو، خبره یې کړه. او دا ټلګرام واخله، ور یې کړه، چې هغه څه وایي.

«چې غواړې وبه یې ازمایم»، - ماتوې پوه شو، خو هغه یوازې وویل:

- اورم.

ستیپان ارکادیچ ځان مینځلی، سر یې ږمنځ کړی او تیارېده چې دریشي واغوندي چې ماتوې ورو ورو د چغېدونکو بوټو سره په پاسته قالینه را روان و، چې ټلګرام یې په لاس کې و، کوټې ته راوګرځېد.

داریا الکساندرې راته وویل چې تاسو ته ووایم چې هغه ځي. پرېږده چې څه یې خوښه وي هغه دې وکړي، - هغه وویل او یوازې یې په خپلو سترګو سره خندل، او لاسونه یې په جیبونو کې ونیول او سر یې یوې خوا ته ټیټ کړ او بادار ته ودرېد.

ستیپان ارکادیچ غلی شو. وروسته د هغه په ښکلي مخ خوشالي او یو څه غمجنه موسکا ښکاره شوه.

- ا؟ ماتوې؟ -هغه وویل او سر یې ښوراوه.

توپیر نه کوي، ښاغلیه،جوړیږي، ماتوې وویل.

- جوړیږي؟

- هو هر څه به ښه شي.

- ته داسې فکر کړې؟ دا هلته څوک دی؟- ستیپان ارکادیچ وپوښتل، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



دروازې شا ته یې د ښځینه جامو زوږ واورېد.

- دا زه یم، ښځینه ټینګ او خوږ اواز وویل، او د دروازې نه د ده د نیا ماترینې فیلیپونې، جدي مخ راښکاره شو.

- مورجانې دا څه دي؟- ستیپان ارکادیچ ور نه پوښتنه وکړه، چې هغه د دروازې نه ورننوتله.

سره له دې چې ستیپان ارکادیچ په خلکو کې د خپلې ښځې په وړاندې ملامت و او ملامتیا یې احساسوله، په کور کې نږدې ټول د نیا جانې په ګډون، چې د دارېې الکساندرې اساسي ملګرې وه، د ده په خوا وو.

- خو څه دي؟- هغه په خواشینۍ سره وویل.

- ته باید هغې ته ورشې، ښاغلیه، بیا بخښنه وغواړه. خدای به مرسته وکړي.

هغه ډېره ځورېږي، زړه سوی باید ووینې، په کور کې هر څه ګډوډ دي.ښاغلیه، په ماشومانو باید زړه سوی وشي. ښاغلیه بخښنه وغواړه. څه وکړو! چې مزې کوې بیه به یې پرېکوې....

- خو هغه ما نه مني...

- تاسو خپله دنده تر سره کړئ، خدای مهربان دی، خدای ته دعا وکړه، ښاغلیه، خدای ته دعا وکړه.

- نو ښه ده درځه،- ستیپان ارکادیچ وویل، ناڅاپه یې رنګ سور شو. — نو، دربېشي راکړه، هغه ماتوې ته وویل او په جدیت سره یې چپنه وغورځوله.

ماتوې خت په لاس کې د اس د غړوندي په شان نیولی و وغورځاوه، کوم څه چې د لیدو وړ نه و، او د بادار ښه ساتلي وجود ته یې په ښکاره خوشالی سره کرتي ورواغوستله.

## ۳

وروسته له دې چې دریشي یې واغوسته ستیپان ارکادیچ عطر په ځان ووهل، د خت لستوني خولې یې سمې کړې، په عادي حرکت سره یې سګرټ، بټوه، اورلګیت، د دوو زنځیرونو ساعت او ټاپې په جیبو کې کېښودل، د جیب دسمال یې ځنډ وهلو، ځان یې پاک، خوشبویه، روغ او په فزیکي توګه خوشاله احساساوه، سره له دې چې بد مرغه و، په داسې حال کې چې هرې پښې ته یې نرم ټکان ورکاوه، د ډوډۍ خونې ته ور روان شو، چې هلته ده ته قهوه، او د قهوې په څنګ کې د دفتر نه لیکونه او دوسیې سترګې په لاره وو.

ستیپان ارکادیچ کېناست او لیکونه یې ولوستل. یو یې ډېر خپه کوونکی و، چې یوه سوداګر ورته رالیږلی و، چې د ده د مېرمنې په ځنګله کې یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لرګي رانیولي و. دغه لرګي باید پلورل شوی وای؛ خو اوس د ښځې سره تر پخلاینې د مخه په دې اړه سوال نه پیدا کېده. تر ټولو بده دا وه چې د ښځې سره د پخلاینې په موضوع کې مادي ګټې ګډیدلې. او دغه فکر دی، ډېر ځوراوه. چې ګویا دی د دغو ګټو په خاطر یاني د دغو لرګیو د خرڅلاو له پاره به د ښځې سره د پخلاینې په لټه کې وي.

کله چې یې لیکونه خلاص کړل د دفتر دوسیې یې ور نږدې کړې د دوو دوسیو پاڼې یې واړولې راواړولې، په غټ پنسل یې یو څو نښې پرې وکړې او دوسیې یې هغې خوا ته کړې، په قهوه څښلو لګیا شو؛ په قهوې پسې یې هغه سهارنۍ نمجنه ورځپاڼه خلاصه کړه او په لوستلو یې پیل وکړ.

ستیپان ارکادیچ په افراطي اخبار کې نه بلکې په لیبرال اخبار کې ګډون کړی و او هغه یې لوستلو، چې زیاترو خلکو ورته میلان درلود. سره له دې چې هغه په خپله نه د علم، نه د هنر او نه د سیاست سره دلچسپي لرله هغه په ټینګه د دغو موضوعاتو په اړه د هغو نظریاتو پلوي کوله چې زیاتو خلکو او د هغه ورځپاڼې یې پلوي کوله، هغه مهال یې نظریاتو ته بدلون ورکاوه کله چې ډېرو کسانو بدلون ورکاوه یا بهتره ده چې ووایو هغه یې نه بدلولې او هغه په خپله په ده کې ناښکاره بدلېدې.

ستیپان ارکادیچ نه خپل تمایلونه (لوري) او نه نظریې ټاکلې. دا لوري او نظریې ده ته په خپله راتلې، ټیک داسې لکه چې هغه د خپلې خولۍ یا د کرتۍ بڼه نه ټاکله او هغه یې رانیولې چې موډ وې. د هغه له پاره چې په یوه ټاکلې کړۍ کې اوسېده او د اړتیا له مخې یې ځینې فکري فعالیتونه پرمخ بیول چې د ده د عمر د پوخوالي سره سم یې وده کوله، د نظریو درلودل ورته داسې اړین و لکه چې خولۍ ولرې. که چېرې دلته یو لامل هم و چې ولې هغه د محافظه کار لوري په نسبت لبرال ته برتري ورکوله (هغه چې د ده د چاپېر ټولنې درلود) خو دا له دې امله نه و چې هغه لبرال لوری تر ټول معقول ګڼلو، بلکې ځکه چې هغه د ده د ژوند د لارې سره سمون درلود. لبرال ګوند ویل چې په روسیې کې هر څه خراب دي او په واقعیت کې ستیپان ارکادیچ ډېر پوروړی و او پیسې لږې لاس ته ورتلې. لبرال ګوند ویل چې واده یو زاړه موسسه ده او باید سمون په کې راشي، اوپه رښتیا سره ستیپان ارکادیچ ته کورني ژوند لږ خوشالي ورکوله او هغه یې اړ کاوه چې دروغ ووایي او پلمه وکړي چې دا د ده د طبعیت سره مخالفه وه. لبرال ګوند ویل یا بهتره ده چې ووایو په نظر کې درلوده چې مذهب یوازې د خلکو د بربرې برخې دپاره قیزه ده، او په واقعیت کې ستیپان ارکادیچ نه شي کولی د لنډ وخت دپاره په پښو کې د درد پرته د لنډ عبادت له پاره ودرېږي او نه شي کولی د هغې نړۍ په اړه په دغو ټولو ډاروونکو او باشکوه کلیمو پوه شي، کله چې په دې نړۍ کې ژوند کول به داسې خوشالونکی وي. سره له دې چې د ستیپان ارکادیچ خوشالوونکې ټوکې خوښېږي، ورته په زړه پورې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وه چې کله کله ساده سړی په دې وډاروي چې که تاسو غواړی چې د خپل پښت په ویاړونو باندې وویاړی نو ولې په ریوریک (Rurik)۱ ودرېږو او د لومړي نیکه-بیزو نه انکار وکړو؟ په دې ترتیب لبرال لوری د ستیپان ارکادیچ په عادت بدل شوی و، او هغه د خپلې ورځپاڼې سره مینه درلوده، لکه د ډوډۍ نه وروسته یې چې د سګرټ سره درلوده چې لږه ستومانتیا یې د هغه په سر کې تولیدوله. هغه د ورځپاڼې اساسي مقاله ولوسته، چې په هغې کې وېل کېده چې زموږ په وخت کې بېخي اړتیا نه شته چې دا ناره پورته شي چې ګویا رادیکالیزم یو ګواښ دی چې د محافظه کارۍ ټول توکي د ستوني تیروي او ګویا حکومت اړ دی د انقلابي هایدرا د ځپلو د پاره تدبیرونه ونیسي، خو پرعکس«زموږ په نظر خطر د خیالي انقلابي هایدرا کې نه، بلکې په سرسخته راډیکالیزم کې پروت دی چې د پرمختګ مخه نیسي» او نور. هغه یوه بله مقاله د مالي وضعې په اړه هم ولوسته چې په هغې کې د بتنهام او میل په اړه ویل شوي و او په وزارت باندې یې ښه غشي ویشتلي وو. دی د فکر په چټکتیا سره د هر غشي په مانا پوهېده: د چا له خوا په چا او په کومه موقع ښه نیولې ده، او دې د تل په څېر هغه ته خوشالي ورکوله. خو نن دا خوشالي د ماترینې فیلیمونونې د پند د یاد او په دې اړه چې په کور کې بدمرغي ده، زهرجنه شوې وه. هغه په دې اړه هم ولوستل چې ګراف بېسټ، لکه چې اورېدل کېږي، و بېسبادېن ته راغلی، او د سپینو وېښتو د پای، د سپک لېږدونکی خرڅلاو او د یوه ځانګړې ځوانې وړاندیز په اړه یې هم مالومات ولوستل؛ نو دغو مالوماتو ده ته د پخوا غوندې غلې خندونکې خوشالي نه ورکوله.

کله یې چې ورځپاڼه ولوسته، د قهوې دوهمه پیاله او کوچو سره کالاچ یې خلاص کړ، هغه ودرېد، د خپل واسکټ نه یې خځوکي پاک کړل، خپله پراخه سینه یې سمه کړه، په خوشالۍ سره و موسل، نه له دې کبله چې د هغه په زړه کې کومه ځانګړې خوشالي وه، خو خوشاله موسکا ښه هاضمه راوپاروي.

خو دغې خوشالې موسکا اوس هغه ته هر څه ورپه زړه کړل او په فکر کې لاړو.

د ماشومانو دوه غږونه (ستیپان ارکادیچ د کوچني هلک ګریښا او د مشرې جینۍ تانیې غږونه وپېژندل) د دروازې تر شا اورېدل کېدل. هغوی یو څه وړل او چپه یې کړل.

- ما ویل چې په چت باندې مسافر مه کېنوی، جینۍ په انګریزي ناره وهلې،- دا دي ټول یې کړه.

«هر څه ګډوډ شول، - ستیپان ارکادیچ فکر وکړ،- دغه دي ماشومان ځانته منډې وهي». او چې دروازې ته ور نږدې شو، هغوی ته یې ږغ وکړ. هغوی صندوق وغورځولو چې د اورګاډي مخې ته پروت و او پلار ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورغلل.

جینۍ، د پلار ګرانې، په زړورتیا سره ورمنډه کړل، غېږ یې ور بدله کړه، خندل یې، د هغه په اوږه پورې ځوړنده شوه، د تل په څېر، د عطرو د اشنا بوی نه یې خوند اخیسته چې د هغه د بریتو نه خپرېدل. په پای کې یې هغه ښکل کړ، د کړېدلي حالت او د ځلېدونکې نرم مخ نه یې رنګ سور شو، جینۍ لاسونه خلاص کړل او غوښتل یې چې په څټ وتښتي، خو پلار بېرته ونیوه.

- مور څنګه ده؟ - پلار وویل، کله چې یې د لور په ښوی او نرم باړخو لاس تېراوه. – سلام، هغه وویل، کله چې یې د زوی سره روغبړ کاوه.

هغه پوهېده چې د هلک سره یې مینه لږه وه، او تل یې هڅه کوله چې برابر وي؛ خو هلک دا احساساوله او د پلار سړي موسکا ته یې په موسکا سره ځواب ور نه کړ.

- مور؟ جګه شوه،- جینۍ ځواب ورکړ.

ستیپان ارکادیچ ساه وایسته. «مانا دا چې بیا یې ټوله شپه خوب نه دی کړی.»،- ده فکر وکړ.

- څنګه، هغه خوشاله ده؟

جینۍ پوهېده، چې د پلار او مور تر منځ شخړه شوې ده، او مور نه شو کولی خوشاله واوسي، او پلار په دې باید پوه شي، او هغه داسې ښیي، او په دې اړه داسې په اسانۍ سره پوښتنه کوي. او د پلار له پاره یې رنګ سور شو. هغه سمدلاسه په دې پوه شو او همدارنګه یې رنګ سور شو.

- نه پوهېږم، هغې وویل. – هغې مور ته وویل چې نن درس ته مه ځئ او وویل چې د اغلې هول سره نیا ته لاړ شئ.

- نو، لاړه شه، زما تانچوروچکا. اه، هو، ودرېږه، هغه وویل، خو هغه یې ونیوله او د هغې په نرم لاس یې خپل لاس تېراوه.

هغه د بخارۍ د تاخچې نه د خوږو قطی راواخیست چې پرون یې هلته ایښې و او هغې ته یې دوه د خپلې خوښې خوږه، چې یو د شاکالادو او بل یې د کریم و، ورکړل.

- ګریشا ته؟ - جینۍ وویل، او د شاکالادو خواږه ته یې ګوته ونیوه.

- هو، هو. - بیا یې د هغې په اوږه لاس تېر کړ، ده د هغې وېښته او اوږه ښکل کړل او پرېښوده.

- ګاډۍ تیاره ده، - ماتوې وویل. – هو هلته یوه ښځه ده چې غوښتنلیک(عریضه) ورسره دی او غواړي د تا سره وګوري، - هغه زیاته کړه.

- ډېر وخت کېږي چې دلته ده؟ - ستیپان ارکادیچ پوښتنه وکړه.

- د نیم ساعت راهیسې.

- څو ځله مې تا ته ویلي چې سمدلاسه مې خبراوه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



- زه اړ یم چې تا ته د قهوې د چښلو وخت درکړم، - ماتوې په دوستانه زیږ غږ، چې سړی ورباندې خپه کېدای نه شي. وویل.
- نو زر د هغې نه پوښتنه وکړه، - ابولونسکي، چې د قهره یې تندی ګونځې کاوه، وویل.
دا ښځه اغلې کالینینا د درستیزوال تورن مېرمن ده چې یوه ناشوني او بې مانا غوښتنه لري؛ خو ستیپان ارکادیچ د خپل عادت له مخې هغه کېنوله او په غور یې پرته له دې چې خبرې یې پرې کړي، غوږ ورته نیولی و او هغې ته اوږده مشوره ورکړه، چې چا ته او څنګه ورسره وغږیږي. او ان هغې ته یې په چټک روان ډول په خپل غټ، کشونکي، ښکلي او څرګند خط هغه چا ته چې د هغې سره یې مرسته کولی شوه، د کاغذ ټوټه ولیکله.کله چې ستیپان ارکادیچ د تورن مېرمن رخصت کړه خپله خولی یې واخېسته او یو شېبه ودرېد چې فکر وکړي چې څه به یې هېر کړي نه وي. مالومه شوه چې هغه هېڅ نه و هېر کړي، پرته له دې چې هغه غوښتل خپله مېرمن هېره کړي.
«اه، هو!» هغه سر ټیټ کړو، او د هغه ښکلي مخ غمګین حالت ونیو. «لاړ شي یا لاړ نه شي؟» - هغه د ځان سره ویل. او نني غږ ده ته ویل چې تګ مناسب نه دی، چې د درواغو پرته، هلته هېڅ بل شی نه شته، چې سم یې کړو، د هغوی اړیکې بیا جوړول ناشوني دي، ځکه چې ناشوني ده چې هغه بیا زړه وړونکې او مینه راوپښوونکې کړو، او د هغه نه زوړ جوړ کړو، چې د مینې کولو وړتیا نه لري. پرته د غولوني او درواغو هېڅ شی له دې نه اوس نه جوړیږي؛ او غولونه او درواغ د د طبعیت سره مخالف دي.
«خو کله نا کله اړینه وي؛ اخر نه شي کېدای دا داسې پاتې شي»، - هغه وویل، هڅه یې کوله چې زړور واوسي. هغه سینه سمه کړه، سګرټ یې راوخېست، ویې څکوه، دوه ځله یې پوف کړ، هغه یې په صدفي سګرټ دانۍ کې واچاوه، په چټکو ګامونو په سالون کې تېر شو او بله دروازه یې خلاصه کړه او د ښځې د خوب کوټې ته ننوت.

۴

داریا الکساندروني جاکټ اغوستی و، هغې خپلې نرۍ کوڅۍ د سر د پاسه په سیخ بندې کړې وې، که څه هم یو وخت یې کمیابه، ګڼ او ښکلي وېښته درلودل، د هغې مخ ډنګر او ننوتی و، د هغې سترګې غټې، د مخ د ډنګروالي له کبله وتلې او ویرېدونکې وې، د کوټې په منځ کې هر راز شیان تیت او پرک پراته و، هغه د یوې خلاصې کوچنۍ روک لرونکې الماریٔ مخ ته ولاړه وه او یو څه یې را اخېستل. کله یې چې د مېړه د ګامونو اواز واورېد، ودرېده. دروازې ته یې کتل او ښځایه هڅه یې کوله چې خپلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



څېرې ته جدي او توهين کونکی رنګ ورکړي. هغې احساس وکړ چې له هغه او د هغې ليدنې نه چې دا اوس کېدونکې ده، ويرېږي. هغه اوس يوازې هڅه کوي هغه څه وکړي چې لس ځله يې په دې درو ورځو کې کړي و؛ د ماشومانو او خپل هغه شيان را ټول کړي چې د خپلې مور کره يې وړي، - او بيا يې نه شو کولی چې داسې وکړي؛ نو اوس لکه د مخکې په څېر هغې ځان ته ويل چې دا موضوع بايد داسې پاتې نه شي، هغه بايد يو څه وکړي، هغه جزايي او وشرموي، د هغه نه د هغه درد د يوې کمې برخې چې دې ته يې ورکړی دی غچ واخلي. هغې لا اوس ويل چې له ده نه ځي، خو احساس يې کاوه چې دا شونې نه ده؛ دا ځکه ناشونې وه چې هغې د ده سره عادت نيولی و او ورسره يې مينه لرله او نه شو ويلی چې مېړه يې نه دی. برسېره پردې هغې احساس کاوه چې که چېرې دې دلته، په خپل کور کې، په څه خواری کولی شول د خپلو پنځو ماشومانو چارو ته ورسيږي، نو هلته به د دوی دپاره وضع تر دې بده شي، او د هغوی ټولو سره به چېرې لاړه شي. په دې درې ورځو کې کوچني ماشوم لږ له دې نه هم ناروغه شو چې خرابه شوروا يې ورکوله او نور پاتې ماشومان پرون نږدې بې ډوډۍ پاتې شول. هغې احساس کاوه چې تګ يې ناشونی دی؛ خو هغې ځان غولوه، خو هغې بيا هم شيان ټولول او داسې ښکاره کوله چې ځي.

کله يې چې مېړه وليد، هغې لاس د الماری روک ته کوز کړ، ګويا يو څه لټوي، ، يوازې هغه وخت چې دی هغې ته ښځي نږدې ورغی، هغه ته يې وکتل. خو د هغې مخ، چې غوښتل يې هغه جدي او غوڅه ښه ونيسي. ځان ورکونه او درد ښوده.

- دولي! – هغه په ورو او ډارن اواز وويل. هغه د اوږو په لور سر کښته کړ او غوښتل يې چې ځان عاجز او تابع وښيي، خو هغه بيا هم تازه او روغ ځلېده.

هغې د سر نه تر پښو پورې د ده تازه او روغ شکل ته په بيړه وکتل. «هو، هغه بختور او خوشاله دی! – هغې فکر وکړ، او زه؟! او دغه خوشالي کرکجنه ده، چې د هغې له امله دی په ټولو داسې ګران دی او ستاينه يې کوي؛ زه د ده د دې خوشالۍ نه کرکه لرم»، - هغې فکر کاوه. هغې دواړه شونډې راټولې کړې، د هغې د زيړ او عصبي مخ د باړخوګانو عضلې ښې لورې ته لړزېدې.

- ته څه غواړې؟ - هغې په بيړه، په غير طبيعي او په ژور اواز وويل.

- دولي! – هغه په نرې اواز سره تکرار کړو. – نن انا راځي.

- خو زما پرې څه؟ زه د هغې هرکلی نه شم کولی! – هغې چيغه کړه.

- خو اړينه ده، دولي ...

- ووزه، ووزه، ووزه! – ده ته يې نه کتل، هغې چيغه کړه، لکه چې دا چيغه د فزيکي درده وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستیپان ارکادیچ باید ارامه وي کله یې چې د مېرمنې په اړه فکر کاوه، کولی یې شول چې هیله وکړي چې هر څه سمیږي، د ماتوې په وینا کولی شي په ارامۍ ورځپاڼه ولولي او قهوه وچښي؛ خو کله چې هغه د دې ستړې شوی او ربړېدلی مخ ولید، د هغې غږ چې مطیع او مایوسوونکی و، واورېد، د هغه ساه بندېده، په ستوني کې یې کوم شی راپورته شو او په سترګو کې یې اوښکې ځلېدې.

- زما خدایه، ما څه وکړل! دولي! د خدای دپاره!... خو... – هغه نه شو کولی دوام ورکړي، د ده ستونی سلګۍ نیولی و.

هغې الماری پورې کړه او هغه ته یې وکتل.

- دولي، زه څه ویلی شم؟.. یوه خبره، ومې بخښه، ومې بخښه... په یاد یې کړه، ایا نهه کاله ژوند نه شي کولی یوه شېبه جبران کړي...

هغه ولاړه وه، سترګې یې ټیټې کړې، او غوږ یې ونیو، هغه دې ته په لاره وه، چې اوس به دی ووایي، هغې ته به زارۍ وکړي، چې هغه په یو ډول باوري کړي.

د یوې شېبې سرګرمي... - هغه وویل او غوښتل یې چې ادامه ورکړي، خو په دې کلیمې سره یې، لکه د فزیکي درد نه، بیا یې شونډې کښېکښلې او بیا یې د باړخوګانو عضلې د مخ ښي لوري ته ولړزېدې.

- لاړ شه، د دې ځایه لاړ شه! – هغې لا تېزې چیغې وهلې، - ما ته ستا د سرګرمۍ او ناوړتوب په اړه مه وایه!

هغې غوښتل ووځي، خو وتمبېده او د چوکۍ شا یې ونیوه، چې پرې تکیه شي. د ده مخ پراخ شو، شونډې یې وپړسېدې او سترګې یې د اوښکې نه ډکې شوې.

- دولي! – هغه وویل، پرنګ پرنګ یې کاوه. – د خدای د پاره، د ماشومانو په اړه فکر وکړه، دوی ملامت نه دي. زه ګرم یم، ما ته جزا راکړه، ما ته ووایه چې دا ګناه جبران کړم. زه چې څه کولی شم ، ټولو ته چمتو یم! زه ګرم یم، په کلیمو بیانېدی نه شي، څومره چې زه ګرم یم! خو، دولي ما وبخښه!

هغه کېناسته. ده د هغې درانه او غټه ساایستنه اورېدله، او په دې یې ډېر زړه وسوځېد. هغې څو ځله وغوښتل چې خبرې وکړي، خو نه شوې کولی. هغه انتظار کاوه.

- ته ماشومان هغه وخت یادوي، چې ورسره لوبې وکړې، او زما په یاد دي او پوهېږم چې هغوی اوس مړه شول، - هغې وویل، ښکاري، چې یوه جمله یې د هغو نه وویله، چې دا درې ورځې یې څو ځله د ځانه سره ویلې وې.

هغې ده ته د «ته» کلیمه وکاروله او هغه په مننې سره هغې ته وکتل او ور رهي شو، چې د هغې لاس ونیسي، خو هغه په کرکې د ده نه لرې شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- زما ماشومان په یاد دي، او ځکه به مې په نړۍ کې هر څه کړي وای چې دوی وژغورم؛ خو زه په خپله نه پوهېږم، چې څنګه یې وژغورم؛ په دې توګه چې د پلار نه یې بوزم، یا چې د دغه فاسد پلار سره یې پرېږدم، - هو، د فاسد پلار سره ... خو راته ووایه وروسته له هغې ... څه چې وشول، ایا شوني ده چې یو ځای ژوند وکړو؟ ایا دا شوني ده؟ ووایه چې شوني ده؟ - دې تکرارولو او اواز یې لوړاوه، - وروسته له هغې چې زما مېړه او زما د ماشومانو پلار، د خپلو ماشومانو د ښوونکې سره د مینې اړیکې جوړوي...

- نو څه ... نو څه وکړو؟ - هغه په افسوسناک اواز ویل، په خپله نه پوهېده، چې څه وایي او سر یې وار په وار کښته کاوه.

- تاسې زما دپاره پلیت او د کرکې وړ یاست! – هغې چیغې وهلې او ورو ورو تاودېده. – د ستا اوښکې اوبه دي! تاسو هېڅکله زما سره مینه نه درلوده؛ په تاسو کې نه زړه شته او نه ښېګڼه! تاسې زما د پاره پست،پلیت او پردی یاست، هو، پردی! – هغې د خپل ځان له پاره دا ربړونکې کلیمه «پردی» د درد او غم نه ویله.

ده هغې ته وکتل او هغه قهر چې د هغې په مخ کې لیدل کېده، دی یې وډار او حیران کړ. دی په دې نه پوهېده، چې هغې ته د ده زړه سوی هغه په قهر کړې ده. هغې په ده کې ځان ته زړه سوی ولید او مینه نه. «نه، هغه زما نه کرکه لري. هغه مې نه بخښي، - هغه فکر وکړ.

- دا ربړونکې ده! ربړونکې ده! – هغه ویل.

په دغه وخت کې په بله کوټه کې ماشوم چیغې وهلې، شاید لوېدلی وي؛ داریا الکساندرونا ژاړه واورېده، او مخ یې ناڅاپه نرم شو.

ښکارېده چې هغه څو ثانیې وروسته په سد راغله، لکه چې نه پوهېده، چې چېرته ده او څه وکړي، او زر پورته شوه او د دروازې په لور رهي شوه.

«اخر په هغې زما ماشوم ګران دی، - ده فکر وکړ، کله چې یې د ماشوم د چیغې په مهال د هغې په مخ کې بدلون ولید، - زما ماشوم؛ هغه څنګه کولی شي زما نه کرکه ولري»؟

- دولي، یوه بله خبره، - هغه ویل، کله چې په دې پسې روان و.

- کچېرې تاسې په ما پسې راځې، زه خلکو او ماشومانو ته غږ کوم.

پرېږده چې ټول پوه شي چې تاسو یو پست یاست! زه نن ځم او تاسې دلته د خپلې معشوقې سره ژوند وکړی.!

او هغه ووتله او دروازه یې په زور بنده کړه.

ستیپان ارکادیچ اسوېلی وکړ، مخ یې پاک کړ او په ورو ورو د کوټې نه ووت. «ماتوې وایي: سمېږي؛ خو څنګه؟ زه یې شونتیا نه وینم. اه، اه، څنګه ربړونکې ده! او هغې څنګه بې ارزښته چیغې وهلې، - هغه د ځان سره ویل، کله یې چې د هغې چیغه او کلیمې: پلیت او معشوقه په زړه کولې. – او

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېدای شي چې جونو اورېدلي وي! بې ارزښته ربړونکې ده، ربړونکې ده». ستيپان ارکاديچ يو څو ثانيې يوازې ولاړ و، سترګې پاکې کړې، اسوېلی يې وکړ، سينه يې سمه کړه او د کوټې نه ووت.

د پنجشنبې ورځ وه او په خوړنځي (د ډوډۍ خوړلو خونه) کې الماني ساعت جوړونکي ساعت جوړاوه. ستيپان ارکاديچ د دغه کره، کوندي ساعت جوړونکي په اړه خپله ټوکه ور په زړه کړه، چې الماني «په خپله ټول ژوند کوک شوی دی، چې ساعتونه کوک کړي»، - او موسکی شو. د ستيپان ارکاديچ ښه ټوکه خوښېده. «او کېدای شي چې سمه شي! ښه کليمه ده: سميږي، - هغه فکر وکړ. – دا بايد زيات تکرار کړم».

- ماتوې! – هغه ورته غږ وکړ، - هلته د ماري سره د ناستې په خونه کې هر څه د انې ارکادېونې دپاره چمتو کړی. – هغه وويل او ماتوې راننوت.

- ښه ده.

ستيپان ارکاديچ بالاپوش واغوست او برنډې ته ووت.

- ډوډۍ په کور کې مه خورئ؟ - هغه وويل کله چې يې ماتوې بدرګه کاوه.

- څنګه چې کيږي. دغه د لګښت دپاره درواخله، - هغه وويل او د بټوې نه يې لس روبله ورکړل. – دا به بس شي؟

- بس دي يا نه، ښکاري، بايد چاره وکړو، - ماتوې وويل، دروازه يې پورې کړه او برنډه ته ووت.

داريا الکساندروني چې ماشوم يې ارام وه د ګاډۍ د غږ نه پوهه شوه چې هغه لاړ، بيا د خوب کوټې ته راستانه شوه. دا د دې د کور د غمخوارۍ نه يوازينۍ د تېښتې ځای و، چې د باندې وتلو سره يې هغه چاپېرولې. اوس لا په دغه لږ وخت کې کله چې د کوچنيانو کوټې ته لاړه، انګرېزې ښوونکې او ماترينا فيليمونونې وکولی شول د هغې نه څو پوښتنې وکړي، چې بايد ځنډ نه شي او دا يې يوازې ځواب کړي: ماشومان د چکر وهلو له پاره څه واغوندي؟ شيدې ورکړو؟ په بل اشپز پسې څوک ولېږو؟

- اه، ما پرېږدی، ما پرېږدی! – هغې وويل او د خوب کوټې ته راستانه شوه، بيا په همغه ځای کېناسته، چېرې يې چې د مېړه سره خبرې کولې، خپل ډنګر لاسونه يې چې د ګوتيو نه ډک وو کښېکښل، او د هډوکو غوندې ګوتو نه يې ايستلې ؟ او د تېرو خبرو په زړه کولو ته يې ځان چمتو کړ. «لاړو! خو هغه څنګه دا د دې سره پای ته ورساوه؟ - هغې فکر وکړ.ايا دی اوس د هغې سره ګوري؟ ولې مې د ده نه پوښتنه ونه کړه؟ نه، نه، موږ بيا يو ځای کېدای نه شو. که موږ په يوه کور کې هم پاتې شو- موږ پردي يو. د تل دپاره پردي يو!» - دې بيا دا د ځان دپاره ډارونکې کليمه په ځانګړې مانا تکراروله. «او څنګه په ما ګران و؟ زما خدايه، څنګه په ما ګران و!.. څنګه

(c) ketabton.com: The Digital Library



راباندې ګران و! او اوس ایا زه د هغه سره مینه نه لرم؟ تر پخوا نه لا زیاته مینه ورسره لرم؟ ربړونکې ده، اساسي دا ده، چې...» - هغې پیل کړه، خو خپل فکر یې پای ته ونه رساوه،ځکه چې مارتینا فیلیمونونا د دروازې نه راننوته.

- اوس ووایه چې یو څوک په ورور پسې واستوم. — هغې وویل، - هغه به د غرمې ډوډۍ تیاره کړي؛ او پرون ماشومانو تر شپږو بجو څه خوړلي نه و.

- نو، ښه ده، زه اوس درځم او تنظیموم یې. په تازه شیدو پسې مو څوک لیږلي دي؟

او داریا الکساندرونا د ورځې په غمونو کې ډوبه شوه او د لږ وخت له پاره یې خپل غمونه هېر کړل.

۵

ستیپان ارکادیچ د خپلو ښو وړتیاوو له کبله په ښوونځي کې ښه زده کړه کوله، خو ټنبل او شوخ و او ځکه په پای کې د وروستیو کسانو په ډله کې فارغ شو. خو سره له دې چې تل یې خپل د عیاشی ژوند تېراوه، لوړ مقام ته ونه رسېد او د عمر په لحاظ ځوان و، هغه د مسکو په یوه حکومتي دفتر کې د رییس په حیث ټاکل شوی و. دا مقام د درناوي وړ و او تنخواه یې ښه وه. ده دا پوست د خپلې خور انې د مېړه الکسي الکساندرویچ کارینین نه تر لاسه کړی و، چې په وزارت کې یې په یوه تر ټولو مهم مقام کار کاوه چې دا اداره ورپورې تړلې وه؛ خو که چېرې کارینین خپل اخشی په دې پوست نه وای ټاکلی، بیا به هم ستیوا ابلونسکي دغه یا هغه ته ورته مقام د سلګونو نورو کسانو، ورونو، خوندیو، خپلوانو: ماماګانو، ترونو. خاله ګانو له خوا لاسته راوړی وی چې شپږ زره روبله تنخواه به یې اخیسته، چې د ده دپاره ډېره اړینه وه، په دې چې د ده کارونه، سره له دې چې مېرمن یې پوره شتمنې درلوده، وېجاړ وو.

نیم مسکو او پتربورګ د ستیپان ارکادیچ خپلوان یا ملګري وو. هغه د داسې خلکو په چاپېریال کې زیږېدلی و، چې په دې نړۍ کې زیات ځواکمن وو یا شوي وو. د دولتي شخصیتونو دریمه برخه زاړه کسان وو چې د ده د پلار ملګري وو او دی یې د وړوکتوب نه پېژانده؛ بله دریمه برخه یې هغه کسان وو چې د ده ډېر نږدې ملګري وو. او وروستۍ دریمه یې ښه اشنایان وو؛ په پای کې د پوستونو، اجارې، امتیازونو او دې ته ورته د ښونو، د مځکې د نعمتونو وېشونکي ټول د ده ملګري وو چې د ده نه تېرېدای نه شول؛ او ابلونسکي اړ نه و ځانګړې هڅه وکړي، چې ګټور مقام تر لاسه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي؛ یوازې اړینه وه، چې انکار ونه کړي، سیالي ونه کړي، نه جګړه وکړي، نه خپه شي، چې د خپلې خوشاله ځانګړتیا له مخې یې هېڅکله داسې نه دي کړي. هغه ته به دا خبره د خندا وړ ښکاره شوې وه که چېرې یې هغه ته ویلې وای چې دی داسې څوکۍ چې د هغې تنخواه دومره وي چې ورته اړه لري لاس ته نه شي راوړی، سره له دې چې ده کوم لوړ مقام نه غوښته؛ هغه یوازې دومره څه غوښتل چې د هغه همزولو غوښتل، او دا ډول دنده ده د نورو څخه بده نه اجرا کوله.

په ټولوکسانو کې، چې ستیپان ارکادیچ یې پېژانده، دی نه یوازې د ده د خوشاله، ښو اخلاقو او د شکه وتلې رښتین والی له کبله ورباندې ګران وو، بلکې د هغه په ښایسته، روښې څېرې، ځلانده سترګو، په تورو ورېځو، وېښتانو، په سپین او سور مخ کې داسې څه وو، چې په فزیکي توګه یې په هغو خلکو دوستانه او خوشاله کونکی اغېز شینده، چې د ده سره یې کتل. «اهاا! ستیوا! اوبلونسکي! هغه دلته دی!» - نږدې ټل هر چا په خوشاله موسکا سره ویل، چې د ده سره یې لیدل. که چېرې کله داسې پېښېده، چې د ده سره د خبرو وروسته مالومېده چې کوم ځانګړي خوشالونکي څه نه دي شوي، -په بله ورځ او دریمه بیا هم هغسې د ده سره د بیا لیدنې نه خوشالېدل.

د درو کالو راهیسې چې په مسکو کې د یوې موسسې رییس دی، ستیپان ارکادیچ د مینې برسېره، د همکارانو درناوی هم تر لاسه کړ چې د ده تر لاس لاندې خدمت کوي، یا یې مشران دي او ټول هغوی چې د ده سره سرو کار لري. د ستیپان ارکادیچ اساسي ځانګړتیاوې چې د دندې په وخت کې ده ته د عمومي درناوي سبب کیږي دا دي: لومړی د ده تر ټولو لویه ځانګړتیا د خلکو سره د ده نرم سلوک و، چې بنسټ یې د ده د خپلو نیمګړتیاوو په پوهېدو کې پروت و. دوهمه ځانګړتیا د ده بشپړ لېبرالیزم و، خو نه هغه لېبرالیزم چې ده په ورځپاڼو کې لوست، بلکې هغه چې د ده په وینه کې و، چې د هغه له مخې هغه د هر چا سره په برابره توګه او یو ډول سلوک کاوه، پرته له دې چې د هغوی اقتصادي حالت او مقام په نظر کې ونیسي. دریمه او اساسي ځانګړتیا دا وه چې هغه په بشپړه توګه هغه کار ته بې توپیره و، چې ده پر مخ بیوه چې ورته زړه وړونکې نه و او تېروتنې یې نه وې کړې.

ستیپان ارکادیچ د خپلې دندې ځای ته راغی، چې محترم دروازه ساتونکي بدرګه کاوه او د هغه لاسي بکس ورسره و. خپلې کوچنۍ خونې ته راغی، رسمي یونیفورم یې واغوست او دفتر ته ننوت. کاتبان او مامورین ټول ودرېدل په خوشالۍ او درناوي سره ټیټ شول. ستیپان ارکادیچ په بېړه د تل په څېر خپل ځای ته تېر شو د کمیسیون د غړو سره یې روغبړ وکړ او کېناست. هغه ټوکې او خبرې چې څومره مناسبې وې وکړې او په کار یې پیل وکړ. که سم ووایو، هېڅا نه شو کولی چې د ستیپان ارکادیچ په کچه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ازادی، ساده ګی او رسمیاتو هغه پوله وموميې، چې د چارو د په زړه پورې اجرا کولو دپاره اړینه ده. منشي د ستیپان ارکادیچ په شتون کې د نور ټولو غوندې په خوشالۍ او درناوي سره هغه ته د کاغذونو سره ورغی او په اشنا لبرال غږ یې خبرې کولې چې ستیپان ارکادیچ دود کړی و:

- موږ دا ټول مالومات د پېنزا ایالتي دفتر نه لاس ته راوړي دي. دلته، که تاسو مهرباني وکړی...

اخر مو لاس ته راوړل؟ ستیپان ارکادیچ وویل او په کاغذ یې ګوته کېښوده. – ښه ښاغلو...، - او کار پیل شو.

«که چېرې دوی پوهېدای، - فکر یې وکړ، هغه خپل دروند سر زیات ټیټ کړ،کله یې چې رپوټ اورېدو، - نیم ساعت د مخه زموږ رییس ځومره یو ګناه کار سړی و!» - د راپور د لوستلو په مهال د ده په سترګو کې خندا ښکارېده. د دوی کار باید تر دوو بجو پورې پرله پسې روان وي او بیا د غرمې ډوډۍ له پاره تفریح وي.

تر اوسه دوې بجې لا نوې شوې کله چې د دفتر د سالون دوې لویې شیشه اي دروازې خلاصې شوې او یو ځوک راننوت. د تزار د عکس لاندې او د زېرځال (zertsalo) تر شا د کمیسیون ټول غړي د ساعت تیري نه خوشاله او دروازې ته یې وکتل؛ خو دروازه ساتونکي چې د دروازې سره ولاړ و سمدلاسه یې هغه سړی وایستلو او شیشه اي دروازه یې ورپسې بنده کړه.

کله چې دوسیه ولوستل شوه ستیپان ارکادیچ ودرېد، نېغ شو او د وخت لبرالیزم سره مناسب یې په دفتر کې سګرټ راواخېست او خپل شخصي دفتر ته لاړ. د ده دوه ملګري زوړ مامور نیکیتین او د دفتر سنبالونکی ګرینېویچ د ده سره ووتل.

- د غرمې ډوډۍ نه وروسته یې خلاصوو، - ستیپان ارکادیچ وویل.

- موږ یې خلاصولی شو! – نکیتین وویل.

- دا فومین باید منظم یو چلباز سړی وي، -ګرینېویچ د یوه چا په اړه وویل، چې هغه دوسیه، چې دوی سپړلی ده، هغه په کې شریک و.

ستیپان ارکادیچ د ګرینېویچ په خبره ځنده ګونجې کړه، چې احساس کړي چې مناسبه نه ده د مخه د وخته حکم وکړو او هغه ته یې هېڅ ځواب ور نه کړ.

- دا ځوک راننوت؟ - هغه د دروازه ساتونکي نه وپوښتل.

- تاسې عالیجناب، یوازې مې چې مخ واړاوه، یو ځوک بې پوښتنې راننوت. د تاسو پوښتنه یې کوله. ما ورته وویل کله چې د کمیسیون غړي ووزي هغه وخت...

- هغه چېرته دی؟

-.لکه چې مخکیني سالون ته ووت، که نه اوس به دلته ګرځېده. دا په

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپله دی.- دروازه ساتونکي وویل کله یې چې یوه غښتلې او پراخې اوږې لرونکي سړي ته اشاره کوله چې ګوړګوتي رېږه یې درلوده چې د پسه خولی یې په سر کړې وه زر او په اسانه د تیږو د زینې په زړو پاټکو پورته په منډه راختلو. یو ډنګر مامور چې لاسي بکس ورسره و ودرېد او منډې وهونکي سړي پښو ته یې په منفي توګه وکتل او بیا یې د پوښتنې په توګه ابلونسکي ته نظر واچاوه.

ستیپان ارکادیچ پاس په زینه ولاړ و. د هغه ښه زړی او ځلېدونکی مخ د یونیفورم ګنډلي یخن نه لا ځلېده کله چې یې منډه وهونکی وپېژاند.

- داسې دا هغه دی! بلاخره لېوین! هغه د ملګرتیا او خندېدونکي موسکا سره وویل، کله چې ده نږدې ورتلونکي لېوین ته کتل. دا څنګه دې پام نه شو چې ما په دغه غار کې پیدا کړې؟ -ستیپان ارکادیچ وویل دی د لاسو روغبړ راضې نه کړ او خپل ملګری یې ښکل کړ. دلته دې ډېر وخت کیږي؟

- زه اوس راغلم او ډېر مې غوښتل چې تا ووینم، -لېوین ځواب ورکړ، چې په شرمېدونکې او د دې سره سره په غمجنې او نا ارامې سره یې چاپېر ته نظر اچاوه.

- نو، دفتر ته ځو، -ستیپان ارکادیچ وویل، چې د خپل اشنا، ځان خوښونکې، او قهرېدونکي شرمناکې باندې پوهېده؛ او هغه یې له لاس نه ونیو او هغه یې لاس نیولی د ځان سره روان کړو لکه چې د خطر نه یې ژغوري.

ستیپان ارکادیچ د خپلو نږدې ټولو اشنایانو: د شپېته کلنو زړو، د شل کلنو ځوانانو، د هنرمندانو، وزیرانو، د سوداګرو او عمومي یاورانو له پاره د «ته» کلیمه کاروله، داسې چې د ده د پخوانیو اشنایانو نه ډېر زیات یې چې ده ورته د «ته» کلیمه کاروله د ټولنیزې زینې په دوو مقابلو څنډو کې واقع وو او دوی به ډېر حیران شوي وای چې پوهېدلي وای چې د دوی تر منځ د ابلونسکي له نظره یو څه ګډ شته. هغه د ټولو سره د «ته» کلیمه کاروله، د هغه چا سره چې ده شمپاین ورسره څښل، او هغه د ټولو سره شمپاین څښل، او ځکه ده د خپلو لاس لاندې مامورینو په شتون کې د کتنې په وخت کې په ټوکو ډېر خپل اشنیان شرمېدونکی «ته» بلل، هغه په خپل ځانګړي نزاکت سره کولی شوای د خپلو لاس لاندې مامورینو له پاره د دې خیال ناخوښي لرې کړي. لېوین شرمېدونکی «ته» نه و خو ابلونسکي د خپل نزاکت له مخې احساس کړ چې لېوین فکر کوي چې هغه د خپلو مامورینو په شتون کې غوارې خپل نږدېوالی د هغه سره څرګند کړي، او ځکه یې بیړه وکړه چې هغه دفتر ته بوزي.

لېوین نږدې د ابلونسکي همزولی و او د هغه سره یې د «ته» کلیمه یوازې د شمپاین له پاره نه کاروله. لېوین د هغه د ځوانۍ ملګری او اشنا و. سره له دې چې د دوی خویونو او څکو توپیر درلود، دوی یو پر بل ګران

(c) ketabton.com: The Digital Library



وو، لکه هغه ملګري چې په لومړی ځوانۍ کې یو او بل ته نږدې وي. خو د دې سره سره لکه چې زیات وخت د خلکو تر منځ پېښېږي چې بیل ډول چارې پر مخ بیایي، هر یو د دوی نه کله چې خبرې اترې کوي که څه هم د نورو کارونه تاییدوي خو په زړه کې هغو ته سپک ګوري. هر یوه ته داسې ښکارېده چې هغه ژوند چې دی یې تېروي هغه واقعي ژوند دی، او هغه چې د ده اشنا یې تېروي هغه خیالي دی. ابلونسکي د لېوین په لیدو نه شو کولی چې نرمه خندونکې موسکا ودروي. هغه دی ډېر وارې چې مسکو ته د کلي نه راغلی و، لیدلی و، چې هلته یې کوم کار کاوه، په هغه کار کټ مټ ستیپان ارکادیچ هېڅکله نه شو کولی ښه پرې پوه شي، هو دلچسپي یې ورسره نه درلوده. لېوین تل چې مسکو ته راتلو مشوش، بیړه کوونکی، او لږ نا ارامه او عصبي و. او دغې ناکراري مشوش کاوه او زیاتره وخت یې شیانو ته په بشپړه توګه د نویو او غیر منتظره نظریو سره کتل. ستیپان ارکادیچ په دغو نظریو پورې خندل او مینه یې ورسره نه لرله. لېوین په کره توګه همداسې د خپل ملګري د ښاري ژوند شېوې، ته په خپل زړه کې په سپکه سترګه کتل، د هغه دنده یې بې ارزښته ګڼله او په هغه باندې یې خندل. خو توپیر په دې کې و چې ابلونسکي هغه څه کول چې ټول یې کوي، په باوري او خوشالی سره یې خندل بلکې لېوین په بې باوری او کله کله په خفه کونکې توګه.

- موږ تا ته د پخوا نه سترګې په لاره وو، -ستیپان ارکادیچ وویل، کله چې دفتر ته ننوت او د لېوین لاس یې ایله کړ، ګویا په دې سره یې دا ښودله چې خطر خلاص شو. – ډېر. ډېر خوشاله یم چې تا وینم، هغه اوږده کړه. – ښه ته څه کوې؟ څنګه یې؟ کله راغلې؟

لېوین غلی و او د ابلونسکي دوو ملګرو ته چې د دوی خبرې ورته اشنا نه وې کتل او په ځانګړې توګه د فېښني ګرېنیویچ لاسونو ته چې داسې سپینې نرۍ ګوتې درلودې، داسې اوږدې زېړې چې د نوکانو اخري څوکې یې کږې وې او داسې لویې ځلېدونکې تنۍ یې په خت لکې وې، ښکاره ده چې دې لاسونو د هغه ټول پام جلبولو او هغه ته یې د فکر ازادي نه ورکوله. ابلونسکي سمدلاسه ورته پام شو او ویې موسل.

- اه هو، اجازه راکړی چې تاسو وروپېژنم، هغه وویل. –زما ملګري: فېلیپ ایوانیچ نیکیتین، میخایل ستانیسلاویچ ګرینېویچ، -او لېوین ته مخ راواړاوه: -د ځېمستوا د فعالینو نه دی، د ځېمستوا نوی غړی، جمناستیک کوي چې په یو لاس یې پنځه پودونه جګ کړي، شپون او ښکاري او زما ملګری کانستانتین دمتریچ لېوین، د سرګېی ایوانیچ کوزنیشېف ورور دی.

- ډېر خوشاله شوم، زاړه وویل.

- ویاړم چې د ستا د ورور سرګې ایوانیچ سره مې وپېژندل، -ګرینېویچ وویل. خپل نرم لاس چې نوکان یې اوږده وو ورکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لېوین تندی تریو کړ، او سوړ روغبړ یې ور سره وکړ او سمدلاسه یې مخ ابلونسکي ته واړاوه. که څه هم هغه خپل ناسکه مورني ورور ته زیات درناوی درلود چې یو لیکوال و او ټولې روسیې پېژانده، خو اوس هغه نه شو کولی دا وزغمي چې ورته د کانستانتین لېوین په نوم نه بلکې د نامتو کوزنیشېف ورور په نوم یاد شي.

- نه، زه نور د زېمستوا د فعالینوځخه نه یم. ما د دوی سره شخړه کړې ده او نور غونډو ته نه ورځم، -هغه وویل او ابلونسکي ته یې مخ واړاوه.

- بیړه دې کړې ده! – ابلونسکي په یوه موسکا سره وویل. نو څنګه؟ ولې؟

- اوږد تاریخ لري. کله به یې درته ووایم، -لېوین وویل، خو دا اوس یې کیسه پیل کړه. – خو که لنډه یې ووایم، زه باوري شوم چې د زېمستوا فعالیت هېڅ نه شته او نه به وي، -هغه ویل، لکه چې دی اوس کوم چا خفه کړی وي، -د یوې خوا نانځکه په پارلمان کې لوبې کوي، او زه په پوره اندازه نه ځوان یم او نه پوره زوړ یم چې په نانځکو ساعت تېر کړم؛ او د بلې (هغه ژبه بنده شوه) خوا ، دا د ولسوالی باند دی چې د پیسو د ټولولو له پاره وسیله ده. د مخه قیمومیتونه، محکمې، او اوس زېمستوا... نه د رشوت په بڼه بلکې د ناحقه تنخواه په بڼه، -هغه داسې ګرمې خبرې کولې چې ګویا یو څوک د حاضرینو نه د ده په نظر نیوکه کوي. (اعتراض کوي).

- اهې-هې! هو ، زه وینم، چې ته بیا د ساتنپالنې په نوې مرحله کې یې، ستیپان ارکادیچ وویل. خو نور به په دې اړه وروسته وغږېږو.

- هو، وروسته. خو ما ته اړینه وه چې تا ووینم، لېوین وویل او د ګرینېویچ لاس ته یې په کرکې سره وکتل.

ستیپان ارکادیچ یو څه ښکاره موسکا وکړه.

- تا څنګه ویل چې هېڅکله به اروپایي درېشي وانه غوندې؟ -هغه وویل، کله چې یې د هغه نوې فرانسوي درېشي ته کتل چې مالومېده فرانسوي ګنډونکي ګنډلې وه. -داسې! زه یوه نوې مرحله وینم.

لېوین ناڅاپه سور شو، خو نه دومره، څومره چې د پاخه عمر کسان سره کیږي چې په خپله وربانديې نه پوهیږي.خو کله چې کوچني ماشومان سره کیږي او احساساوي چې دوی د خپلې شرمیندګی له کبله د خندا وړ دي او د هغې په پایله کې شرمیږي او لا زیات سره کیږي ان د ژاړه تر پولې. او عجیبه وه چې دا هوښیاره او نرینه څېره د داسې ماشومتوب په حالت کې وګوري چې ابلونسکي د هغه نه سترګې واړوي.

- هو، چېرې سره وګورو؟ اخر ما ته ډېره ډېره اړینه ده چې د تا سره خبرې وکړم، -لېوین وویل.

ابلونسکي لږ څه فکر وکړ.

- داسې به وکړو چې ګورین ته به لاړشو سباناری به وکړو او هلته به

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبرې وکړو. تر درو بجو زه وخت لرم.
- نه، لېوین فکر وکړ او وویل، -زه باید لاړ هم شم.
- نو ښه ده یو ځای به سبانارې وکړو.
- د غرمې ډوډې؟ هو زه خو ځانګړې څه نه لرم چې ووایم یا پوښتنه وکړم، یوازې دوې خبرې کوو، او وروسته به یې توضیح کړو.
-چې داسې ده نو دوې خبرې دې وکړه، او د غرمې د ډوډۍ په مهال به خبرې اترې وکړو.
-دوې خبرې دادي، لېوین وویل، ام ځانګړي څه نه شته.
د هغه مخ ناڅاپه داسې خپه کونکی حالت ونیو چې د دې هڅو نه راوتلی وه چې خپله شرمنده ګي پټه کړي.
-شېرباتڅکیان څه کوي؟ ټول د پخوا په شان؟ -هغه وویل.
ستیپان ارکادیچ لا د پخوا نه پوهېده، چې لېوین د هغه په ښینه کیتي مین و، یو څه ښکاره موسکی شو، او د هغه سترګې د خوشالی نه وځلېدې.
-تا دوې خبرې وکړې خو زه په دوو کلیمو کې ځواب نه شم درکولی، ځکه چې ... بخښنه غواړم یوه شېبه ...
منشي د اشنا د درناوي سره سره، چې د ټولو منشیانو ګډه ځانګړتیا ده چې د کار په پوهاوي کې یو څه د رییس نه دوی زیات پوهیږي، راننوت او ابلونسکي ته د کاغذونو سره ورغی او د پوښتنې په بڼه ودرېد او کومه ستونزه یې تشریح کوله. ستیپان ارکادیچ تر پایه خبرې نه واورېدې، د منشي په لستوني یې په نزاکت سره لاس کېښود.
- نه، تاسې اوس داسې وکړئ څه مې چې درته ویلي و. هغه وویل، خپله یادونه یې په موسکا سره نرمه کړه او په لنډ توګه یې هغه ته تشریح کړه چې هغه څنګه په کار پوهیږي او کاغذونه یې ور هغې خوا ته کړل او وویل، - مهرباني وکړئ داسې یې اجرا کړئ.مهرباني وکړئ داسې، زاخار نیکیتیچ.
خجالت شوی سکرتر لاړ. لېوین د منشي سره د مشورې په وخت کې په بشپړه توګه خپله پریشاني وموندله دواړو څنګلې یې د چوکۍ په شا تکیه کړې وې او د هغه په مخ یوه خندونکې پاملرنه وه.
- نه پوهېږم، نه پوهېږم، -هغه وویل.
- په څه شي ته نه پوهېږې؟ -داسې په خوشالۍ سره موسکی شو او کله یې چې سګرټ راواخېست، ابلونسکي وویل. هغه د لېوین نه د یوې عجبې ناوړې رویې انتظار کاوه.
- نه پوهېږم چې تاسو څه کوئ، -لېوین وویل، اوږې یې کښېکښلې. –ته څنګه کولی شې دا په جدي توګه تر سره کړې؟
- ولې نه؟
- هو دا ځکه چې دلته څه نه شته چې ویې کړم.
- ته داسې فکر کوې، خو موږ په کارونو کې ډوب یو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د کاغذونو کار. نو هو، ته د دې وړتیا لرې، لېوین زیاته کړه.
- یانې ته فکر کوې چې زه کومه څه نیمګړتیا لرم؟
- کېدای شي، او هو، لېوین وویل. –خو بیا هم د تا په لېوي (Levi) مین یم او ویاړم چې داسې ستر انسان زما ملګری دی. خو تا زما پوښتنې ته ځواب رانه کړ، -هغه زیاته کړه او د مایوسۍ د هڅې سره یې نبغ د ابلونسکي سترګې ته کتل.
- نو، ښه ده، ښه ده. لږ صبر وکړه او ته دې شي ته راځې. ښه ده، په کارازینسکي ولسوالۍ کې د تا درې زره دیسیاتین مځکه څنګه ده، هو داسې عضلې، هو تازه ګې، لکه د دولس کلنې جینۍ، -او ته موږ ته هم راځې. هو، داسې تا چې د څه شي په هکله پوښتنه وکړه: بدلونونه نه شته، خو افسوس دی، چې ته د پخوا نه دلته نه وې.
- او څه شوي دي؟ -لېوین په ډار پوښتنه وکړه.
- نه هېڅ، ابلونسکي ځواب ورکړ. –موږ به خبرې وکړو. خو ته ولې په ځانګړې توګه راغلې؟
- اه، د دې په هکله هم وروسته خبرې کوو.، بیا یې مخ تر غوږو سور شو، لېوین وویل.
- نو ښه ده. پوه شوم، ستیپان ارکادیچ وویل. –ته وینې:ما به کور ته بللی وې، خو ښځه مې پوره جوړه نه ده.او داسې ده چې که ته غواړې دوی ووینې، شونې ده چې دوی نن په ژوبڼ کې د څلورو نه تر پنځو پورې هلته وي.کیتي سکیټ کوي. په سکیټ ځغلي.؟ ته هلته لاړ شه، زه درځم او کوم چېرته به د غرمې ډوډۍ وخورو.
- ډېره ښه ده. نو، تر لیدو پورې.
- وګوره، زه خو تا پېژنم، هېر به دې شي یا به کلي ته لاړ شې! ستیپان ارکادیچ په خندا سره وویل.
- نه، سمه ده.
او د ابلونسکي ملګرو ته یې د درناوي کول هېر شول، هغه وخت په دې اړه ورياد شول کله چې په دروازې کې و، لېوین د کوټې نه ووت.
هغه باید یو با انرژي ښاغلی وي، -ګرینبویچ وویل، کله چې لېوین ووتلو.
- هو، زاړه سړیه! ستیپان ارکادیچ وویل، خپل سر یې وخوځاوه، - څومره بختور دی! د کارازینسکي په ولسوالۍ کې درې زره دیسیاتین مځکه لري، هر څه یې په وړاندې دي، او څومره تازه دی! زموږ غوندې نه دی.
-تاسو ستیپان ارکادیچ څنګه شکایت لرۍ؟
-هو، د افسوس وړ ده، بده ده، ستیپان ارکادیچ وویل او ژور اسویلی یې وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۶

کله چې ابلونسکي د لېوین نه پوښتنه وکړه چې هغه څنګه راغلی دی، هغه سور شو او په خپل ځان له دې کبله په قهر شو چې ولې سور شو، ځکه ده نه شو کولی هغه ته ځواب ورکړي: «زه راغلی یم چې د تا ښیني ته د واده وړاندیز وکړم»، که څه هم هغه یوازې د دې دپاره راغلی و. د لېوینو او شیربیڅکو کورنۍ د مسکو زړې درباري کورنۍ وې چې یو د بل سره یې نږدې او د ملګرتیا اړیکې درلودې. دا اړیکه لا د لېوین د محصلی په وخت کې په زیاته اندازه ټینګه شوه. هغه د ځوان کنیاز شیرباتڅکي سره چې د دولي او کیټي ورور دی یوځای پوهنتون ته تیاری نیولی او یوځای ورداخل شول. په دغه وخت کې لېوین زیات وخت د شیرباتڅکیانو په کور کې و او د شیرباتڅکیانو کور یې خوښ و. شاید دا څه عجیبه درته ښکاره شي، خو کانستانتین لېوین کټ مټ په دې کور، کورنۍ او په ځانګړې توګه د شیرباتڅکیانو د فامیل د ښځو نیمایي برخې باندې مین و. په خپله لېوین ته خپله مور په یاد نه وه او یوازینۍ خور یې تر ده مشره وه. په دې صورت کې هغه د شیرباتڅکیانو په کورنۍ کې د لومړي ځل له پاره په خپله زوړ درباري، پوهنیز او ریښتینی کورنۍ چاپېریال ولید چې دی د مور او پلار د مړینې وروسته ور نه بې برخې و. د دغې کورنۍ ټول غړي او په ځانګړې توګه د ښځې اړخ ده ته په کومې پټې، شاعرانه پردې کې پټ مالومېده، او هغه نه یوازې په دوی کې هېڅ نیمګړتیا نه لیدله، بلکې د دغې شاعرانه پردې تر شا، چې دوی یې پوښلي دي تر ټولو لوړو احساساتو او ټولو شونو لوړتیاوو اټکل کاوه. د څه دپاره دا درې اغلې ته اړینه وه چې یوه ورځ وروسته په فرانسوي او انګلیسي خبرې وکړي؛ د څه دپاره دوی په ټاکلي وخت کې په وار سره فارتېپیانو غږوله، چې اواز یې تل پاس د ورور په کوټه کې اورېدل کېده، چې هلته زده کړیالو زده کړې کولې؛ د څه دپاره دا د فرانسوي ادبیاتو، موزیکي، رسم او نڅا ښوونکي رادرومي؛ د څه دپاره په ټاکلي وخت کې دا درې اغلې د مادمازېل لینون سره په خپلو ایټالوي اطلسي کوټو [بالاپوشونو] کې: دولي په اوږده، ناتالي په نیمه اوږده او کیټي په پوره لنډ کې داسې چې د هغې ښکلې پښېګۍپه هغو کلکو برابرو سرو جرابو کې پوره ښکارېدې، د توېرسکي واټ ته په ګاډۍ کې ځي؛ د څه دپاره دوی د نوکر په بدرګې چې په خوالۍ یې سره پټۍ لګېدلې ده، باید د توېرسکي په واټ کې وګرځي. دا ټول او ډېر نور څه چې د دوی د راز نه ډکه دنیا کې کېدل، هغه پرې نه پوهېده، خو په دې پوهېده هرڅه چې هلته کیږي ډېر ښایسته دي او کټ مټ په دغه د راز نه ډکې نړۍکې کېدل، پرې مین و. د خپلې محصلی په وخت کې نږدې و چې په دولي مین شي خو هغې زر د ابلونسکي سره واده وکړ. بیا یې د دوهمې سره مینه پیل کړه. هغه لکه چې دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



احساس کاوه چې ده ته اړینه ده چې د خوندیو نه په یوې مین شي خو په دې یې سر نه خلاصېده چې کټ مټ په کومې یوې مین شي.خو ناتالي چې ځنګه ځوانه شوه د لوو ډیپلومات سره یې واده وکړ. کیتي لا ماشومه وه چې لېوین د پوهنتون نه خلاص شو. ځوان شیرباتځکي سمندري پوځ کې شامل شو او د بالتیک په سمندرګي کې ډوب شو خو د لېوین تړاو د شیرباتځکیانو سره، سره له دې چې د ابلونسکي سره یې ملګرتیا درلوده لږ شو. خو کله چې سږ کال د ژمي په پیل کې لېوین یو کال وروسته د کلي نه مسکو ته راغی او شیرباتځکیان یې ولیدل، هغه پوه شو چې د دوی درو نه په کومه یوه په واقعیت کې د ده په نصیب وه چې پرې مین شي.

ده ته هېڅ شی نسبت تر دې اسانه نه شو مالومېدی چې یو سړي چې ښه زېرمه ولري ،تر یوې اندازې بډای او دوه دېرش کلن وي، کنیازې شیرباتځکي ته وړاندیز وکړي؛ د ټولو شونتیاوو له مخې به یې هغه ښه جوړه منلې وای. خو لېوین مین و او ځکه ده ته داسې مالومېده چې کیتي د هر اړخه یوه داسې بشپړه هستي ده چې د ځمکې د ټولو هستیو نه لوړه ده، او دی داسې ځمکنۍ نه بدلېدونکې هستي ده چې په دې اړه یې باید په فکر کې تېر نه شي چې نور او په خپله دا به دی د دې وړ وګڼي.

وروسته له دې چې په مسکو کې یې دوې میاشتې په حیرانتیا کې تېرې کړې، نږدې هره ورځ یې د کیتي سره د هغې چاپېر نړۍ کې لیدل چې دی هلته ورتلو، چې د دې سره ووینې، لېوین ناڅاپه پرېکړه وکړه چې دا نه شي کېدای او کلي ته لاړ شو.

د لېوین دا باور چې دا نه شي کېدای پردې بنسټ ولاړ و،چې د دې د خپلوانو په نظر دی د ښکلې کیتي له پاره وړ نه دی او بې ګټې جوړه ده او په خپله کیتي نه شي کولی د ده سره مینه ولري. د دې د خپلوانو په سترګو کې ده هېڅ عادي، ټاکلی کار او په ټولنه کې مقام نه درلود، کله چې د هغه په ملګرو کې، اوس کله چې دی دوه دېرش کلن دی، یو ډګروال او د امپراتور یاور، یو پوهاند، یو د بانک رییس او د اورګاډي د لارو مشر او یا د ابلونسکي غوندې د موسسې رییس دی؛ هغه (هغه ډېر ښه پوهېده چې هغه نورو ته څنګه مالومیږي) د مځکې څښتن و چې د غواو روزنه کوي، د اوږد مېښوکو مرغانو ښکار کوي او شیان جوړوي، یاني یو بې استعداده سړی چې هېڅ ور نه جوړ نه شول، او د ټولنې د پوهاوي له مخې هغه څه کوي چې د خلکو په کار نه ورځي.

اساسي خبره دا ده چې په خپله دا اسرار لرونکې ښکلې کیتي نه شي کولی د داسې بدرنګ سړي سره، لکه چې خپل ځان یې داسې ګڼلو او د داسې ساده او هېڅ ډول لوړ سړی سره مینه وکړي. برسېره پردې د کیتي سره د هغه پخوانۍ اړیکې داسې وې لکه د لوی اړیکې د ماشومې سره چې د هغې د ورور سره د ملګرتیا له امله جوړې شوې وې او دغه اړیکې ده ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مینې دپاره لا یو نوی خنډ مالوم شو. د ده غونډې بدرنګ، خو مهربان سړی چې ځان یې داسې باله او هغه داسې ګڼله چې د ده سره د ملګري په څېر مینه وشي خو چې د ده سره داسې مینه وشي چې دی یې د کیټي سره لري نو باید ښکلی او ځانګړی سړی وي.

ده اورېدلي و چې ښځې زیات وخت بدرنګ، اوساده سړي خوښوي، خو باور یې وربانده نه کاوه، ځکه چې د خپل ځان په شان یې قضاوت کاوه، داسې چې ده یوازې ښکلې اسرارلرونکې او ځانګړو ښځو سره مینه درلوده.

خو کله یې چې دوه میاشتې په کلي کې تېرې کړې هغه باوري شو چې دا د هغو مینو نه یوه نه ده چې ده د ځوانۍ په لومړیو وختو کې احساسوله؛ دا داسې احساس و چې دی یوه شېبه هم ورنه ارام نه و؛ چې هغه پرته له دې چې دا مسله یې نه وي حل کړې ژوند نه شي کولی: چې هغه به د ده ښځه شي یا نه؛ او د ده مایوسي یوازې د خپل خیاله سرچینه نیوله او هېڅ داسې ثبوت یې نه درلود چې د ده وړاندیز نه به ډډه وکړي. او اوس مسکو ته د ټینګ هوډ سره راغلی چې هغې ته د واده وړاندیز وکړي که چېرې یې ومني. یا ... هغه نه شو کولی په دې اړه فکر وکړي چې په ده به څه وشي که چېرې دوی انکار وکړي.

٧

لېوین مسکو ته په سهارني اورګاډي کې راغی او د مور له خوا خپل ناسکه ورور کوزنیشېف کره لاړو او دریشي یې بدله کړه. د هغه دفتر ته ورغی، نیت یې درلود چې ورور ته کیسه وکړي چې د څه دپاره راغلی او مشوره ورسره وکړي، خو ورور یې یوازې نه و. د هغه سره د فلسفې نامتو پوهاند ناست و، چې د خارکوف نه راغلی و، په ځانګړې توګه د دې دپاره چې هغه سوء تفاهم لرې کړي چې د دوی تر منځ په ډېرې مهمې فلسفي مسلې باندې منځ ته راغلی و. پوهاند د ماتریالستانو پر ضد توده مباحثه پر مخ بیوله، او سېرګې کوزنیشېف دا مباحثه په دلچسپۍ سره تعقیبوله او کله چې یې د پوهاند وروستۍ مقاله لوستې وه، هغه ته یې په لیک کې خپل مخالفت څرګند کړی و؛ هغه پوهاند په دې ملامت کاوه چې ماتریالستانو ته یې ډېر ګذشت کړی و. او پوهاند د دې دپاره راغلی و چې توضیحات ورکړي. خبره د اصولي پوښتنې په اړه وه: چې ایا د انسان د اروایي او فیزیولوژیکي فعالیت د پدیدو تر منځ پوله شته او هغه چېرته پراته ده؟

سرګې ایوانویچ ورور د ټولو غونډې په خپلې عادي او مهرابانه او سړې موسکا سره ملاقات کړ او هغه یې پوهاند ته ور وپېژاند او خبرو ته یې دوام وکړ.

کوچنی زېړ رنګه سړي چې شیشې یې په سترګو دي او تنګ تندی لري

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه شېبه یې خبرې پرېښودي چې روغبړ وکړي او بیان ته یې ادامه ورکړه او لېوین ته یې پام ونه کړ. لېوین انتظار وکړ چې کله پوهاند لاړ شي خو زر یې د بحث د موضوع سره دلچسپي پیدا شوه.

لېوین په مجالو کې د دغو مقالو سره چې د هغو په اړه خبرې کېدې مخامخ کېده او هغوی یې لوستلي، د هغوی سره یې د طبیعي پوهنو د پوه په ځېر دلچسپي لرله، چې د طبیعي علومو د ودې بنسټ جوړوي چې دی په پوهنتون کې د مطالعې په وخت کې ورسره اشنا و، خو هغه هېڅکله د دغو پوهنو علمي پایلې په دې اړه چې د انسان پیدایښت د ژوو نه دی، غبرګونونه، بیولوجي او ټولنپوهنې او د هغو پوښتنو لکه د ژوند او مړینې مانا چې زیات وخت د ده فکر ته راتلل، سره نه یوځای کولې.

کله چې یې د پوهاند سره د ورور خبرې اورېدې، هغه ته مالومېده چې هغوی علمي مسلو ته د روحي مسلو سره تړاو ورکاوه، نږدې څو ځله دغو مسلو ته ورنږدې شول، خو هر ځل کله چې تر ټولو اساسي ټکي ته نږدې ورتلل، لکه چې ده ته ښکارېده، دوی سمدلاسه د هغه نه ګام په ګام لیرې کېدل او بیا د نازکو وېشونو، تېروتنو، اخېستنو، کنایې، په نومیالیو حواله ګانو ته ژور ورتلل، او هغه په متې پوهېده چې د څه په اړه غږېږي.

زه نه شم کولی اجازه ورکړم، -سېرګی ایوانویچ د خپل عادت له مخې په څرګند او ښکاره بیان او په ظریفانه تلفظ سره وویل، -زه نه شم کولی په هېڅ ډول کې د کېس سره سر وخوځوم چې زما ټول خیالونه د بهرنۍ نړۍ په اړه د تصوراتو نه راوځي. تر ټولو اساسي مقوله هستي ما د احساساتو نه لاسته نه ده راوړې، ځکه چې د دې مفهوم د انتقال له پاره کوم ځانګړی ارګان نه شته.

- هو، خو دوی، ورست، او کناوست او پریپاسوف تاسو ته ځواب درکوي چې د ستاسې د هستۍ شعور د ټولو احساساتو د مجموعې نه راوځي، دا د هستۍ شعور د احساساتو پایله ده. ورست په نېغه توګه وایي چې چېرته احساس نه وي، نو هلته د هستۍ مفهوم نه شته.

- زه پرعکس وایم،-سرګی ایوانویچ پیل کړه...

خو دلته بیا لېوین ته ښکاره شوه چې دوی کله اساسي مسلې ته ورنږدې شي بیا یو د بل نه لیرې کیږي او پرېکړه یې وکړه چې د پوهاند نه پوښتنه وکړي.

که زما احساسات له منځه لاړ شي، که زما وجود مړ شي دلته به نور شتون وجود ونه لري؟ -هغه پوښتنه وکړه. پوهاند پریشانه شو او د خبرې د پرېکېدو نه لکه چې دماغي درد ورته پیدا شوی وي او دغه حیرانونکي سوال کونکي ته یې وکتل چې په زیاته اندازه د فیلوسوف په پرتله پنډي ته ورته و، او سترګې یې سرګی ایوانویچ ته واړولې لکه چې ورنه پوښتنه کوي چې دا څه وایي؟ خو سرګی ایوانویچ چې د پوهاند غوندې یې جدي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوا ړخېزه خبرې نه کولې، او په سر کې یې د فکر دومره پراخوالی درلود چې پوهاند ته ځوابونه ووایي او د دې سره سره په هغه ساده او طبیعي نظریه پوهېده چې د هغې له مخې پوښتنه ورځخه شوې وه، ویې خندل او وویل:

- د دې پوښتنې د حل حق موږ نه لرو...

- ارقام نه لرو، -پوهاند ته یې کړه او خپلو دلیلونو ته یې ادامه ورکړه، - نه، -هغه وویل، زه دې ته اشاره کوم چې که چېرې په نېغه پرېپاسوف وایي چې احساسات خپل اساسي خیالات لري نو موږ باید دغه دوه مفهومونه په جدي توګه یو د بل نه بیل کړو.

لېوین نور غوږ ونه نیو او دې ته سترګې په لاره و چې پوهاند کله ځي.

۸

کله چې پوهاند لاړو سرګی ایوانویچ ورور ته مخ واړاوه او وویل:

- ډېر خوشاله یم چې ته راغلې. د ډېر وخت دپاره؟ پیداوار څنګه دی؟

لېوین پوهېده چې مشر ورور یې د پیداوار سره دومره دلچسپي نه لري او هغه یوازې ده ته د امتیاز په توګه په دې اړه پوښتنه وکړه او ځکه ده یوازې د غنمو د خرڅلاو او پیسو په اړه ورته وویل.

لېوین غوښتل چې ورور ته د خپل نیت په اړه ووایي چې واده کوي او د هغه نه مشوره وغواړي او دې ته یې ټینګه پرېکړه هم کړې وه؛ خو کله چې هغه ورور ولید، د پوهاند سره یې د هغه خبرې واورېدې، کله چې یې وروسته دا غیر ارادي ملاتړ کوونکی لحن واورېد چې ورور یې د پیداوار په هکله وپوښتل، (مورنی کور یې نه و وېشلی او دواړه برخې لېوین سمبالولې) لېوین احساس کړه چې نه شي کولی چې د ورور سره د واده د پرېکړې په اړه خبرې پیل کړي. ده احساس وکړ چې ورور یې دې ته به هسې ونه ګوري لکه چې د ده ارزو ده.

- نو د تاسو زیمستوا څنګه ده؟ -سرګی ایوانویچ پوښتنه ورنه وکړه چې زیمستوا ورته په زړه پورې وه او ډېر اهمیت یې ورته درلود.

- او رښتیا، نه پوهېږم...

- څنګه؟ ته خو د بورډ غړی نه یې؟

- نه، اوس یې غړی نه یم؛ زه ورنه ووتلم، -کانستین لېوین ځواب ورکړ، - نور غونډو ته نه ورځم.

- متاسف یم! –سرګی ایوانویچ په تریو تندي وویل.

لېوین د ځان د سپینوي دپاره کیسه وکړه چې زموږ د ولسوالی په غونډو کې څه کېدل.

- دا خو تل همداسې ده! –سرګی ایوانویچ د هغه خبره پرې کړه، -موږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



روسان تل داسې یو. شاید دا زموږ ښه ځانګړتیا وي یاني ورته چې خپلې نیمګړتیاوې ووینو، خو موږ بیا مالګه وراچوو، په مسخره کېدو ارامېږو، چې تل زموږ په ژبه ده. زه تا ته یوازې دا وایم چې که چېرې دوی نورو اروپایي خلکو ته همدا حق ورکړي لکه چې زموږ کلیوالو موسسو ته ورکړ شوي - المانیانو او برتانویانو به د دوی نه ازادي لاس ته راوړې وای او موږ دا دی یوازې وربانديې خاندو.

- خو څه وکړو؟ ملامت یم لېوین وویل. –دا زما وروستی تجربه وه. ما پوره د زړه نه هڅه کوله. نه شم کولی. ورته نه لرم.

- ورته نه لرې، سرګی ایوانویچ وویل، -ته داسې کار ته سم نه ګورې. شاید، په خواشینی لېوین ځواب ورکړ.

- او ته پوهېږې ورور نیکولای بیا دلته دی.

ورور نیکولای د لېوین سکه او مشر ورور او د سرګی ایوانویچ ناسکه ورور و چې یو غورځېدلی سړی وچې د خپلې شتمنی زیاته برخه یې له ستوني تېره کړې، د ډېرو عجیبو او بدو خلکو سره ګرځي او د ورونو سره یې شخړه کړې ده. ته څه وایې؟ -په قهر لېوین چیغه وکړه. –ته څنګه پوهېږې؟ پراکوفي په کوڅه کې لیدلی دی.

- دلته، په مسکو کې؟- هغه چېرته دی؟- ته پوهېږې؟ -لېوین د چوکی نه پورته شو چې ته به وایې چې سمدلاسه ورپسې ځي.

- زه متاسف یم چې دا مې تا ته وویل، -سرګی ایوانویچ وویل، د کشر ورور د ناکراری سره یې سر وښوراوه. –ما څوک ورپسې ولېږه چې چېرې ژوند کوي، هغه ته مې د حوالې یو لیک ولېږه چې د تروبین پیسې مې تادیه کړې. ما ته هغه دا ځواب راکړو.

او سرګی ایوانویچ د خپلې دوسیې نه کاغذ راواخېست او ورور ته یې ورکړ.

لېوین دا ولوست چې په عجیب او اشنا خط یې لیکلی و: «زه د تا نه په ادب سره غواړم چې ما په ارام پرېږده. دا یواځینی شی دی چې زه یې د خپلو مهربانو ورونو نه غواړم. نیکولای لېوین».

لېوین دا ولوست او سر یې ټیټ نیولی و د کاغذ ټوټه یې په لاسو کې کې نیولې او د سرګی ایوانویچ په وړاندې ولاړ و.

د ده په ارواکې دا هیلې په مبارزه کې وې چې اوس دا بدمرغه ورور هېر کړي یا دا پوهاوی چې که داسې وکړم دا ناسم کار دی.

- هغه غواړي چې ما ته سپکوی وکړي، - سرګی ایوانویچ اوږده کړه، - خو ما ته سپکوی نه شي کړای، خو زه غواړم د زړه له کومې مرسته ورسره وکړم، خو پوهېږم چې دا کار ناسم دی.

- هو، هو، لېوین تکرار کړه. –زه پوهېږم او ده ته د تا اړیکه ارزوم؛ خو زه ده ته ورځم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- که چېرې ته غواړې ورشه، خو زه مشوره نه درکوم، -سرګی ایوانویچ وویل. – یانې زه له دې اندېښنه نه لرم، زه له دې نه وېرېږم، هغه زما سره تا په جنګ نه شي اچولی، خو د تا دپاره زما مشوره دا ده چې ښه دا ده چې ورنه شې. مرسته باید ورسره ونه شي. بیا هم هغسې وکړه چې د تا خوښه وي.

- شاید، چې زه مرسته ورسره ونه کړم،خو په ځانګړې توګه په دې شېبه کې زه احساسوم، – خو دا بله خبره ده، - زه احساس کوم چې زه نه شم کولی چې ارام واوسم.

- خو په دې نه پوهېږم، -سرګی ایوانویچ وویل. –په یوه شي پوهېږم، - ده زیاته کړه، دا د پخلاینې سبق دی. که نه زه دې ته په نرمۍ سره ګورم چې ورته پستي وایي، وروسته له دې چې ورور نیکولای څنګه و هم هغسې پاتې شو... ته پوهېږې چې هغه څه کړي دي...

- اه، دا ډارونکې ده، ډارونکې ده! –لېوین تکرار کړه.

لېوین کله چې د سرګی ایوانویچ نه ادرس واخېست، پرېکړه وکړه چې ده ته ورشي، خو بیا یې فکر وکړ او پرېکړه وکړه چې دا تګ تر مازدیګره وځنډوي. تر ټولو د مخه د دې دپاره چې په روحي توګه ارام وي ، اړینه ده لومړی هغه کار وکړي چې د هغه د پاره مسکو ته راغلی دی. د ورور نه لاړ شو او لوین د ابلونسکي په ملګرتیا کله چې د شیرباڅکو په اړه خبر شو هلته لاړ چېرې چې ده ته ویل شوي و چې هلته به کیټي ومومي.

## ۹

لېوین، چې د زړه درزا یې احساسوله، په څلورو بجو د ژوبڼ سره د ټانګې نه کوز شو او هغو غرونو ته روان شو چې هلته سکیټ کیږي. شونې ده کیټي هلته وموموي ځکه چې د شیرباټڅکو ګاډۍ یې ولیده چې د دروازې خوا ته ولاړه وه.

روښانه یخه ورځ وه. په دروازه کې ګاډۍ، ټانګې، د واورو ښویېدنې بګۍ، چوکۍ او ژاندارم په قطارونو ولاړ وو. سوتره او پاکیزه خلک چې په لمر کې ځلېدل او خولۍ یې په سر وې، په دروازه او پاکو شوو لارو کې یې ګڼه ګوڼه وه، د روسي کورګوټو تر منځ، د بامونو راز راز منتبري شوي مټو سرۍ (ژۍ)، د زړو تاوشوو ناجو بنونه، چې ځانګې یې د واورو نه ځانګېدې، چې ته به وایې په نویو شاندارو جامو سینګار شوې دي.

دی د کنګل د لوبې ډګر ته په لاره روان شو او د ځان سره یې ویل: «باید ناارامه نه شم، باید ارمه اوسم. ته د څه په اړه؟ ته د څه دپاره؟ غلئ شه، بې عقله»، -خپل زړه ته یې وویل. څومره یې چې هڅه کوله ځان ارامه کړي دومره یې ساه لنډېده. یوه اشنا ولیدو او غږ یې پرې وکړ خو لېوین ان

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه ونه پېژندلو چې څوک و. هغه غره ته ورغی چې په هغو کې د کښته کېدونکو او پورته کېدونکو وسیلو د زنځیرونو زوږ و، د سکیټ کولو بګۍدرابه وه چې کښته ښوییدې او خوشاله اوازونه اورېدل کېدل. هغه یو څو ګامه لاړ او د ده په وړاندې د سکیټ ډاګر راښکاره شو او سمدلاسه یې د سکیټ کوونکو په منځ کې هغه وپېژندله.

دی پوه شو چې دا هغه وه چې خوشالۍ او وېرې یې د ده زړه کې ځای نیولی و. هغه د سکیټ د ډګر پورې خوا ته ولاړه وه او د ښځې سره یې خبرې کولې. توپیر نه کوي، ښکارېده چې د دې په جامو او ښې نیولو کې کومه ځانګړتیا نه شته؛ خو لېوین هغه په دغه ګڼه ګوڼه کې دومره په اسانۍ وپېژانده لکه د نېټل په بوټو کې د ګلاب ګل. دې هر څه رڼا کول. دا هغه موسکا وه چې چاپېر ټولو شیانو باندې وېره وه. «ایا هغې خوا ته په کنګل لاړ شم او دې ته ورشم؟» -هغه فکر وکړ. په هغه ځای کې چې دا هلته وه ده ته سپېڅلې ښکاره شو چې د پوهېدو وړ نه و او داسې شېبه وه چې نږدې و چې لاړ شي. دا ده ته ډارونکې وه. ده ته اړینه وه چې په ځان زور راولي او فکر وکړي چې د دې څنګ ته راز راز خلک تېرېږي چې دی کولی شي په خپله هغه ځای ته په سکیټ ورشي. هغه کوز لاړ چې د لمر غوندې دې ته زیات ونه ګوري، خو ده هغه د لمر په شان لیدله او ورته یې نه کتل.

د اونۍ په دې ورځ او د ورځې په دې مهال د یوې کړۍ خلک چې ټول یو د بل سره اشنا دي په کنګل باندې راټولیږي. په دوی کې د سکیټ کولو ماهرین وو چې خپل مهارت ننداري ته وړاندې کړي، داسې کسان چې د چوکیو تر شا ولاړ سکیټ زده کوي او بېرېدونکي او ناماهرانه حرکتونه کوي، هلکان او زاړه خلک هم د روغتیایي موخو د پاره سکیټ کوي؛ لېوین ته دوی ټول انتخاب شوي بختور دي ځکه چې دوی ټول هلته دې ته نږدې وو. لېوین ته داسې مالومېده چې ټول سکیټ کونکي په پوره بې توپیرۍ د دې نه وړاندې کېدل او ورپسې رسېدل، ان د دې سره یې خبرې کولې او خپل ځانونه یې خوشالول چې په هغې پورې یې هېڅ اړه نه لرله او د ډېر ښه کنګل او ښې هوا نه یې ګټه اخیسته.

نیکولای شیربیتڅکي د کیتي ناساکه وررور چې لنډ جاکټ او تنګ پتلون یې اغوستی او د سکیټ بوټونه یې په پښو او په چوکۍ باندې ناست و، لېوین ولید او هغه ته په زوره غږ کړ:

- آاو ، لومړی لمبر روسي سکیټ ځغلېدونکی! پخوا راغلی یې؟ ډېر ښه کنګل دی، د سکیټ بوټان دې په پښو کړه.

زه د سکیټ بوټونه نه لرم، لېوین ځواب ورکړ، د هغې په شتون کې دې زړورتیا او ازادۍ ته حیران شو او یوه شېبه یې هم د هغې نه نظر نه اړولو که څه هم هغې ته یې نه کتل. هغه احساس کاوه چې لمر ور نږدې کیږي. هغه هم په کونج کې راوچورلېده، جګ بوټونه یې په خپلو وړوکو پښو کې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښو کړي و، ښکارېده چي ببرېده، ده ته ورغله. یو هلک، چي روسي درېشي یې اغوستې وه، په مایوسۍ سره یې لاسونه ښورول او مځکې لور ته ټیټ شوی او د دې نه وړاندې شو. هغې په پوره توګه ډاډمن سکیټ نه شو کړی؛ د څرمنو کوچنیو لاس ماغو نه یې لاسونه راوایستل، چې په سیمي نازک مزي ځوړند وو، په لاس کې تیار نیولي وو او لېوین ته یې کتل، چې دې وپېژاند، هغه او خپل ډار ته یې خندل. کله چې راوګرځېده هغې د ځغاستې په حال کې پښې ته حرکت ورکړ او نیغه شیرباتڅکي ته ورغله؛ او هغه یې د لاس نه ونیو، ویې خندل او لېوین ته یې د سر په اشاره سلام ورکړ. هغه تر دې ډېره ښکلې وه چې هغه یې تصور کاوه.

ده هغه مهال چې د دې په اړه یې فکر کاوه کولی شول چې هغه ټوله د خپل ځان په وړاندې په ځانګړې توګه د هغې ښکلا، چې د دې په سپین کوچنی ښکلی سر، چې په کې د ماشوم توب ځلا او خوشالي ښکارېده چې په داسې اسانۍ سره د دې په اوږو پروت و. انځور کړي. د دې په مخ کې هغه مینه پراته وه، چې د هغې د مخ د ماشومتوب ځلا چې د دې د نازک وجود د ښکلا سره ګډېده، د دې ځانګړې ښکلا جوړوله، چې د هغه ښه په یاد وه؛ خو هغه څه چې تل ناڅاپه سړی حیرانوي په هغې کې د دې د سترګو ځلا ده چې مهرباني، ارامي او رښتیني دي، او په ځانګړې توګه د هغې موسکا چې تل یې لېوین سحره امېزه نړۍ ته بیوه، چې په هغې کې هغه تل ځان نرم او ارام احساساوه او د لومړني وړوکتوب په کمیابو شپو کې یې ځان ورپه زړه کاوه.

- ته دلته پخوا راغلی یې؟ هغې وویل، او ده ته یې لاس ورکړ. دې ورڅخه مننه وکړه کله چې ده هغه دسمال پورته کړ چې د دې د لاس ماغو نه ولوېد.

- زه؟ زه ډېر وخت نه کیږي، زه بېګاه... یاني نن... راغلم، -لېوین ځواب ورکولو، ناڅاپه د نارامۍ نه د هغې په پوښتنه پوه نه شو. – ما غوښتل چې تاسو ته راشم، -هغه وویل او سمدلاسه ورپه یاد شول چې په کوم نیت یې هغه لټوله، وشرمېد او سور شو. – زه نه پوهېدم چې تاسو سکیټ کوی او ډېر ښه سکیټ کوی. هغې په پام سره ده ته وکتل لکه چې غوښتل یې د ده د شرمېدو په لامل پوهه شي.

- د تاسو له خوا زما ستاینې ته باید ارزښت ورکړل شي. دلته وایي چې ته ډېر ښه سکیټ کوونکی یې، - هغې وویل، کله چې یې په تور لاس ماغو کې وړوکی لاس چې د کنګل دانې پرې لوېدلې وې، څنډ وهلو.

- هو، ما یو وخت په شوق سره سکیټ کاوه؛ زما زړه وه چې پوره مهارت په کې پیدا کړم.

- ښکاري چې تاسې هر شی په شوق سره کوی، -هغې وویل او موسکۍ شوه. زه غواړم چې ووینم چې تاسو څنګه سکیټ کوی. سکیټ په پښو کړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



او راځی چې یو ځای سکیټ وکړو.

«یو ځای سکیټ وکړو! ایا دا شوني ده؟»، - لېوین فکر کاوه او دې ته یې کتل.

- اوس یې په پښو کوم، - هغه وویل.

او هغه لاړ چې سکیټ په پښو کړي.

-ښاغلیه، تاسو د ډېر وخت راهیسې دلته نه وی، - یوه سکیټ کوونکي وویل چې د لېوین پښه یې تکیه کړې چې د سکیټ د پوندې مېخونه ټینګ کړي. دلته د تاسو د تګ نه وروسته د دغو ښاغلو په منځ کې هېڅوک د سکیټ ماهر پاتې نه شو. داسې به ښه وي؟ هغه ویل او کمربند یې کشولو.

- ښه، ښه، مهرباني وکړه، بیړه وکړه، -لوین ځواب ورکاوه، او په مشکل یې د نېکمرغۍ موسکا ټینګوله، چې د هغه په مخ په غیر ارادي ډول راتله. «هو، -هغه فکر کاوه، -دا ژوند دی، دا نېکمرغي ده! «یو ځای»، دې وویل، «راځی چې یو ځای سکیټ وکړو». دې ته اوس ووایم؟ خو زه ولې د ویلو نه ډارېږم، چې زه اوس نېکمرغه یم، خو سره له دې د نېکمرغۍ هیله مند یم... او بیا؟ ... خو زه باید! باید! باید! کمزورۍ لیرې شه!»

لېوین په پښو ودرېد، بالاپوش یې وایستو او هغې او دې خوا یې کورګي ته نږدې په زیږ کنګل منډې کړې، بیا یې په ښوی کنګل وځغاستل او بې ستونزې یې سکیټ کولو، ته به وایې چې یوازې په خپلې ارادې سره د ځغاستې چټکتیا، لنډوالی او سمونه کوي. دی هغې ته د وېرې سره ور نږدې شو خو بیا د هغې موسکا ارامه کړو.

هغې ده ته لاس ورکړ، او دوی څنګ په څنګ روان شول، او چټکتیا یې زیاتوله، او څومره چې ګړندي کېدل په همغې اندازې یې د ده لاس ټینګ نیولو.

-د تاسو سره به سکیټ زر زده کړم، زه په تاسو باور لرم، -هغې ده ته وویل.

-زه په ځان باور لرم، کله چې تاسې په ما تکیه کوې، هغه وویل، خو سمدلاسه د هغه څه نه چې ویې ویل وډار شو او رنګ یې سور شو. او په واقعیت کې څنګه چې ده دا کلیمې وویلې، ناڅاپه لکه چې لمر په وریځ کې پټ شي، د هغې مخ خپل ټول لطافت د لاسه ورکړ، او لېوین د دې د مخ اشنا لوبه باندې پوه شو، د فکرونو د کوښښ کولو مانا یې درلوده: د دې په ښوی تندي ګونجه ښکاره شوه.

-په تاسو خو کومه خبره بده ونه لګېده؟ که څه هم حق نه لرم چې پوښتنه وکړم، هغه په بیړه وویل.

-ولې؟ نه، هر څه ښه دي، -هغې سوړ ځواب ورکړ او زیاته یې کړه: - تاسو اغلې لینون ونه لیده؟

-تر اوسه نه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغې ته ورشی، تاسو په هغې ډېر ګران یاست.

«دا څه وشول؟ ما هغه خپه کړه. خدایه مرسته راسره وکړی!» -لېوین فکر وکړ او زړې فرانسوۍ ته چې سپین ګوړګوټي وېښتان یې درلودل او په چوکۍ کې ناسته وه. په منډه ورغی. هغې خندل او خپل مصنوعي غاښونه یې ورښکاره کول او دی یې د خپل زوړ اشنا په شان ومانه.

-هو، دا ده غټېږو،-هغې وویل او په سترګو یې د کیټي په لور اشاره وکړه،- او زړېږو. کوچنی لېوه اوس اوس غټ شو! –فرانسوۍ اوږده کړه، او خندل یې او ده ته یې د ده خپله کیسه د درو پېغلو په هکله ورپه زړه کړه چې ده درې لېواني د انګلیسي کیسې نه بللې.- په یاد د دې چې تا به داسې ویل.

د هغه په کلکه دا په یاد نه وه، خو هغه د لسو کالو راهیسې په دې کیسې خاندي او خوښه یې ده.

-نو، لاړ شی، لاړشی سکیټ وکړی. زموږ کیټي هم ښه سکیټ کوي، اي رښتیا نه وایم؟

کله چې لېوین بیا کیټي ته په منډه ورغی، د هغې مخ نور جدي نه و، سترګې یې همداسې رښتیني او نازنیني وې خو لېوین ته داسې ښکارېده چې د دې په ناز کې ځانګړی او شعوري ارام اهنګ شتون لري. او دی غمګین شو. هغه د خپلې پخوانۍ ښوونکې او د هغې د حیرانتیاوو په هکله خبرې کولې، دې د هغه د ژوند په هکله پوښتنې کولې.

-ایا تاسو په ژمي کې په کلي کې خپه نه یاست؟- هغې وویل.

- نه، خپه نه یم، زه ډېر بوخت یم، -هغه وویل، او احساس یې وکړ چې هغې څنګه یوې ارامې فضا ته یووړ، چې هغه نه شو کولی په خپل زور ځان ورڅخه ازاد کړي، لکه د ژمي په وخت کې همداسې وشول.

-تاسې د ډېر وخت دپاره راغلي یاست؟-د هغه نه کیټي پوښتنه وکړه.

- زه نه پوهېږم،-هغه ځواب ورکړ او په دې هکله یې فکر نه کاوه چې څه وایي. ده دا فکر وکړ چې کله د دې د دغه دوستانه فضا تر اغېز راشي دی به بیا پرته له دې چې کومه پرېکړه وکړي، بېرته لاړ شي، هغه پرېکړه وکړه چې په قهر شي.

-څنګه نه پوهېږۍ؟

-نه پوهېږم. دا په تاسو پورې اړه لري او سمدلاسه د خپلې خبرې نه وډارېده.

هغې یا د ده خبرې نه واورېدې یا یې نه غوښتل چې یې واوري، خو د هغې لکه چې پښه ولګېده، دوه ځله یې پښې ته ټک ورکړ او په بیړه له ده نه څنګ ته شوه. هغه د اغلې لینون خوا ته ورغله، یو څه یې ورته وویل او کوچني کور ته روانه شوه، چې هلته مېرمنو د سکیټ بوټونه ایستل.

«زما خدایه، ما څه وکړل! زما لویه خدایه! زما سره مرسته، ما ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



رازده کړه»،-لېوین ویل، دعا یې کوله او د دې سره سره یې د غښتلي حرکت اړتیا احساسوله، هرې خوا ته یې ځغاستل او ننني او بهرني دایرې یې انځورولې.

په دې وخت کې یو تن د ځوانانو نه چې نوی په کنګل ځغاسته زده کړې، چې سګرټ یې په خوله کې و، د سکیټ بوټونه یې په پښو وو، د کافي نه راووت او هرې خوا ته یې ځغستل او د سکیټ په بوټو کې په زینو را کوز شو او ټوپونه یې وهل.هغه لاندې والوت، او د لاسونو ازاد وضعیت ته یې ان بدلون ور نه کړ او په یخ ځغلېده.

-اخ، دا نوی شی دی!- لېوین وویل او سمدلاسه یې پورته منډه کړل، چې دی دا نوی شی هم وکړي.

-ځان ما خوږ.اوه، دا تمرین غواړي!- نیکولای شیرباڅکي پرې غږ وکړ.

لېوین په زینو وخوت او یوه داسې منډه چې څومره یې کولی شوی لاندې راوځغاست او په غیر عادي ډول یې لاسونه نیولي وو چې انډول وساتي. په وروستی زینه کې هغه څه شی ونیو او نږدې و چې لاس یې په یخ ولګیږي، غښتلی حرکت وکړ، نېغ شو، ویې خندل او ځغاستې ته یې دوام ورکړ.

«ویاړمن، او په زړه پورې سړی»،-کیټي فکر وکړ کله چې د کوچني کور نه د اغلې لینون سره راوتله او هغه ته یې په موسکا سره چې غلې مهرباني په کې وه، د ګران ورور په څېر کتل. «او ایا زه ملامته یم، ایا ما کوم بې عقله کار کړی دی؟ هغوی وایي: ناز. زه پوهېږم، چې زه د هغه سره مینه نه لرم، خو بیا هم زه د هغه سره خوشاله یم، او هغه ښنګه ویاړمن دی. یوازې هغه دا ولې وویل؟...»،-هغې فکر کاوه.

کله چې یې تلونکي کیټي او مور چې هغه یې په زینو کې ملاقات کړه، لېوین د چټک حرکت نه یې وروسته رنګ سور شو ودرېد او فکر یې وکړ. د سکیټ بوټان یې وایستل او د بڼ نه د وتلو دروازې سره په مور او لور پسې ورسېد.

-ډېره خوشاله شوم چې تاسو مې ولیدلی،-شهزادګۍ وویل،-موږ تل د پنجشنبې په ورځ مېلمانه منو.

-نن شونې ده؟

-ډېر به خوشاله شو چې تاسو ووینو،-شهزادګۍ په سوړوالي سره وویل. دغه سوړوالي کیټي خپه کړه، او هغې نه شو کولی چې د مور دا سوړوالی وزغمي. دې مخ راواړاوه او په موسکا سره یې وویل:

-په مخه دې ښه.

په دې مهال ستیپان ارکادیچ چې خولی یې په ښنک کې نیولې وه، مخ او سترګې یې ځلېدې، بڼ ته چې خوشاله او بریالی ښکارېده راننوت. خو کله چې خوښې ته ورغی، هغه چې په مخ کې یې غم او ملامتیا ځرګندېده، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغې پوښتنو ته د دولي په هکله ځواب وایه. کله چې یې د خواښې سره په زړه تنګې او ارامه سره خبرې وکړې، سینه یې سیخه کړه او لېوین یې د لاس نه ونیو.

-نو ځنګه، ځو؟ -هغه پوښتنه وکړه. –ما ټول د تاسو په هکله فکر کاوه او زه ډېر، ډېر خوشاله یم چې ته راغلې، -هغه وویل او د هغه سترګو ته یې په ارزښتمنه توګه کتل.

-راځه چې ځو، راځه چې ځو، -نېکمرغه لېوین ځواب ورکاوه، او تر اوسه یې د هغې د غږ اواز اورېدو او د هغې موسکا یې لیده، چې ویلي و «په مخه دې ښه».

-«انګلستان» ته یا «ارمیتاژ» هوټل ته؟

-ما ته بې توپیره ده.

نو «انګلستان» ته،-ستیپان ارکادیچ وویل، «انګلستان» یې ځکه غوره کړ چې دی هلته د «ارمیتاژ» پر تله زیات مهم مالومېده. ځکه د هغه دغه هوټل نه خوښېده. د تاسو ګاډی شته؟ نو زه به خپله ګاډی رخصت کړم.

په ټوله لار کې انډیوالان غلي وو. لېوین فکر کاوه چې د کیټي په څېره کې بدلون څه مانه لرله، او کله به یې ځان باوري کاوه چې هیله شته، او کله مایوسه کېده او په ښکاره یې لیدل چې دا هیله بې عقلي ده، او د دې سره سره یې ځان بل ډول سړی احساساوه، چې هغه ته ورته نه و چې د مخه تر موسکا او د «په مخه دې ښه» د خبرې نه و.

ستیپان ارکادیچ په لاره کې د ډوډۍ لېست جوړاوه.

-د تاسو خو تیوربو خوښیږي؟-هغه لېوین ته وویل، چې د ګاډي نه کوز شول.

-څه شی؟ لېوین بیا پوښتنه وکړه،-تیوربو؟ هو، زما تیوربو ډېره خوښه ده.

## ۱۰

کله چې لېوین د اوبلونسکي سره هوټل ته ننوت، هغه نه شو کولی د ځینو ځانګړتیاوو څرګندونه ونه ویني، چې د ستیپان ارکادیچ په مخ او ټول وجود کې د محدودې ځلا غوندې مالومېده. ابلونسکي بالاپوش وایست، خولۍ یې په سر کړه اینبي او رستورانټ ته ورغی او ده په لمن کې ولاړ تاتار ګرسون ته چې د لاس دسمال یې په اوږه ایښی و، فرمایش ورکړ. دی کیڼي او ښي خوا ته خپلو اشنایانو ته چې هلته وو، سلام کاوه او هر چا د ده سلام په خوشالۍ سره ځوابوه او بوفېټ ته ورغی، د وودکا یو ګیلاس یې واخېست او د ماهي یوه ټوټه یې وخښله او رنګېدلې، په پټۍ، جال اوکړی کې فرانسوۍ ته چې په دفترګي کې ناسته وه، یو څه وویل چې دې فرانسوۍ د

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړه له کومې وخندل. لېوین یوازې د دې له پاره وودکا نه وڅښله چې دا فرانسوۍ د ده له پاره سپکاونکې وه، داسې ښکارېده چې ټوله د پردیو وپښتانو، د وریجو اوړو او د سینګار سرکې نه جوړه ده. دی په بیړه لکه د چټل ځای نه ، د دې نه لاړ.د ده ټوله اروا د کیتي د یادونو نه ډکه وه او د ده په سترګو کې د خوشالۍ او نېکمرغۍ موسکا ځلېده. تاسو علیجناب دلته کېنی مهرباني وکړی، دلته مو څوک نه نااراموي، تاسې علیجناب،-په یوه ځانګړي ډول ټیټېدونکي زاړه زېړ تاتار چې غټ کوناټي او په هغو باندې د کوټ لکۍ ځړېده. -مهرباني وکړی د تاسو خولۍ علیجنابه، -هغه لېوین ته ویل، مېلما یې بدرګه کاوه چې د ستیپان ارکادیچ ته درناوی وشي.

سمدلاسه یې په ګرد مېز چې په دسترخوان پوښل شوی و، تازه دسترخوان هوار کړ چې د پاسه په مسي چوکاټ کې یو دېوالي څراغ رڼا کاوه، هغه بخملي چوکۍ ور وړاندې کړې او د ستیپان ارکادیچ په وړاندې ودرېد، چې په اوږه یې دسمال او په لاسو کې کارتونه وو، فرمایش ته سترګې په لاره و.

-که چېرې امر وکړې علیجنابه بیله کوټه اوس خالي کیږي؛ شهزاده ګولیڅین د اغلې سره. سمندري صدف تازه رارسېدلي دي.

-اه! سمندري صدف.

ستیپان ارکادیچ بیا فکر یووړ.

-ایا پلان بدل نه کړو لېوینه؟-هغه وویل او په کارت یې ګوته کېښوده. د هغه مخ د جدي حیرانتیا څرګندوله. –ایا سمندري صدف ښه دي؟ ته وګوره!

-تاسو علیحنابه فلېنسبورګي دي او اوستیندیسکي نه شته.

-فلېنسبورګي دي فلېنسبورګي، هو ایا تازه دي؟

-بېګاه راوړي دي.

-چې داسې ده، نو ایا د سمندري صدف نه یې پیل نه کړو، او بیا ټول پلان بدل کړو؟ ا؟

-زما دپاره بې توپیره ده. زما له پاره د شي سوپ او د شیدو اوګره (شیر برنج)؛ خو دا دلته نه شته.

-kasha a la russe، امر وکړه- تاتار وویل، په لېوین باندې داسې ورټیټ شو لکه چې دایه مور پر کوچني ور کږه شي.

-نه، ټوکې نه کوم؛ ته چې څه غواړې، هغه هم سم دي. ما په کنګل ځغاستي دي او غواړم خواړه وخورم. او فکر مه کوه،-ده زیاته کړه، کله یې چې د اوبلونسکې په څېره کې ناراضي توب ولید، چې ما د تا انتخاب ته ارزښت نه دی ورکړی. زه به په خوشالۍ سره ډوډۍ ښه وخورم.

**یادونه**

ما د انا کارینینا د رومان ژباړه تر دې ځایه کړې وه چې یوه ملګري

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټلیفون راته وکړو چې محترم بهاند دا رومان ژباړلی لکه چې د مخه یې د جګړې او سولې رومان هم ژباړلی و. بیا ما د دغه ادبي شاهکار ژباړه ودروله. دا لړ ژباړه د لوستونکو په واک کې ورکوم هیله من یم چې لوستل به یې بې ګټې نه وي.

پای

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د لیکوال ژوند لیک

محمد اقبال وزیري په ۱۳۲۶ کال کې په سوویلي وزیریستان کې زیږېدلی دی. په ۱۳۳۵ کال کې د خوشحال خان په لیسه کې په دریم ټولګي کې شامل او په ۱۳۴۴ کال کې د خوشال خان د لیسې نه په لومړۍ درجه فارغ شو. په ۱۳۴۵ کال کې د کابل پوهنتون د طب پوهنځي کې شامل شو. په همدې کال کې د لوړو زده کړو له پاره شوروي اتحاد ته ولېږل شو. ده په ۱۳۵۲ کال کې خپلې زده کړې د مسکو په دولتي پوهنتون کې د فیلولوژۍ په څانګه کې پای ته ورسولې او د ماسټرۍ ډیپلوم یې لاسته راووړ او هېواد ته راستون شو. نوموړي په همدې کال کې د کابل په پولیتخنیک انستیتوت کې د روسي ژبې د استاد په توګه دنده پیل کړه.

په ۱۳۵۵ کال کې د محمد داود د واکمنۍ په مهال د سیاسي فعالیت له کبله بندي شو. د ثور انقلاب د بریالیتوب وروسته په ۱۳۵۷ کال کې د دهمزنګ د بندیتون نه خوشی شو او د افغانستان د وسله وال پوځ د سیاسي چارو د عمومي رییس په توګه وټاکل شو. په همدې کال کې د افغانستان د خلک ډموکراټیک ګوند د مرکزي کومیټې او د افغانستان د ډموکراټیک جمهوریت د انقلابي شورا غړی شو. برسېره پر دې د وطن د دفاع د عالي شورا غړی، د افغانستان د خلک ډموکراټیک ګوند د مرکزي کومیټې د تیوري د کمیسیون غړي او د افغانستان د خلک ډموکراټیک ګوند د مرکزي کومیټې د عدل د څانګې مسؤل هم شو.

د ۱۳۵۸ کال د جدي په شپږمه نېټه په افغانستان باندې د شوروي یرغل سره جوخت بیا بندي شو او د لسو کالو او درې میاشتې بند تېرولو وروسته د څرخي پله د بندیتون نه ایله شو. اوس د هالنډ په ښکلي هېواد کې د خپلې کورنۍ سره د دوردرېخت په ښار کې اوسیږي. د ده لاندې شپږ اثار د مخه خپاره شوي دي.

۱- د ثور پاڅون، د کې جي بې دسیسې او شوروي یرغل

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲- د باچا خان اندونو او مبارزې ته لنډه کتنه

۳- د چخوف داستانونه: «د سراچې کور»، «د واړه سپي مېرمن» او «نومولې» سپړنه (تحلیل) او ژباړه

۴- د ادبیاتو تیوري

۵- پښتو د تاریخ په بهیر کې

۶- د نومیالي تاریخپوه پوهاند ډاکټر محمد حسن کاکړ تاریخي-علمي نیکات (میراث) ته کتنه

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**